# دشرق نابغه

## (سید جمال الدین افغانی)

## دده ژوند، د ده جهاد او د ده ارزښتناکه افکار

لیکوال : دکتور سعید افغانی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: د شرق نابغه (سید جمال الدین افغان)
لیکوال: دکتور سعید افغانی
د لومړی چاپ مهتممین:
عبدالرزاق «فهیم» او امین الدین سعیدی
کمپیوټر چارې: عبدالمنان «حکیمي»
د پښتی ډیزاین: محمد زمزم
لومړی چاپ: د کب میاشت 1355 لمریز کال
**دسید جمال الدین افغانی دنمانځنی غونډه دده داتیایم تلین په ویاړ**
دویم چاپ: ۱۳۹۴ ل ۲۰۱۵ م
خپرندوی : په مصر کښې د افغانستان داسلامی جمهوریت سفارت – فرهنګی څانګه .
**نشراتی لړی : اته دیرشم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لوی خدای په نامه**

## سریزه

لکه چې پوهېږو د شلمي پېړۍ په دویمه نیمایې کښې، افغانستان د ازهرپوهنتون ته محصلین د زدکړو لپاره لیږل پیل کړل، که په دقیقه توګه د هغو محصلینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ بررسي ترسره شې، د همغه محصلینو په ډله کښې د دکتور محمد سعید افغاني نوم په سر کښې راځي، چې د زدکړې په وخت کښې پدې هېواد کښې په عربي ژبه د ده لیکنی هم چاپ شوئ.

د لیږل شوي محصلینو ترمنځ ځینې نومورو هم شتون درلود چې وروسته د افغانستان په سیاسي او علمي ډګرونو کښې ښه و ځلیدل چې پوهاند غلام محمد نیازي، استاد برهان الدین رباني، استاد عبد رب رسول سیاف، حضرت صبغت الله المجددي، پوهاند عبدالسلام عظیمې، پوهاند وفی الله سمیعې، محمد موسی شفیق، محمد صدیق سیلانې، عبدالقیوم رهبر، سیف الرحمن سایف، عنایت الله رشید، پوهاند محمد کبیر، پوهاند غلام صفدر پنجشیرې، جوهر صدیقې، پوهاند نعمت الله شهرانې، ډاکټر سیدجان بیان، محمد ګلاب بشار، پوهاند عبدالعزیز، پوهاند غلام محی الدین دریز او په لسګونو نور چې د خپلې دورې لایق محصلین ؤ. ددی ځلیدلی کسانو په جمله کښې راځې، مګر د خپلې تحصیلې دورې په موده کښې چې په مصر کښې اوسیدل د عربي او مصري مخاطبانو ترمنځ یې د خپلو آثارو او تالیفاتو نشر کولو ته پاملرنه ونه کړه.

څیړنی څرګندوي چې یوازې دکتور سید محمد موسی توانا خپله د دوکتورا رساله یا تیزس په ۱۹۷۱م کال کښې د ( الإجتهاد ومدی حاجتنا الیوم في العصر الحاضر) تر عنوان لاندی او همدا رنګه دکتور عنایت الله ابلاغ خپله رساله د (امام أبوحنیفة المتکلم) تر عنوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)
لاندی په قاهره کې د زدکړی پای ته رسولو وروسته چاپ کړئ، دوه کتابونه چې په عربې نړی کښې خاص شهرت لرې او آن تر دی چې د ۱۹۷۱م کال څخه راپدیخوا چې چا د (اجتهاد) په هکله کتاب لیکلی هرومرو د پوهاند دکتور سید محمد موسی توانا اثر یې د عمده مرجع او سرچینې څخه شمیرل کېږي.

ولې دکتور محمد سعید افغانې له دوي نه د مخه خپل مهم کتابونه لکه ( نابغة الشرق) په ۱۹۶۷م کال کښې او همدارنګه (شیخ الإسلام عبد الله الأنصاری الهروي، مبادئه وآراؤه الکلامیة والروحیة) په کال ۱۹۶۸م کښې په قاهره کښې چاپ کړل، چې پدی لړ کښې د نورو څخه مخکښ دي. که څه هم د شلمې پیړی په وروستیو او د یوویشتمی پیړی په لومړیو کښې خدای بخښلي دکتور محمد امان صافی خپل څو اثار په قاهره کښې چاپ ته ورسول، ولې د ده ګټور کتابونه د هغه دوري وروسته چاپ شول چې په مصر کښې هستوګنه غوره کړه او د عربي هېوادونو په پوهنتونونو کښې د استاد په توګه وظیفه ترسره کوله، مګر د دکتور سعید افغانی ښوالی پدی کښې و چې د تحصیل په دوره کښې یې خپل کتابونه چاپ کړل او د زدکړو پای ته رسولو وروسته، افغانستان ته ولاړ.

د یادونې وړ ده چې هغه کسان چې مصر ته د زدکړو لپاره راتلل لکه استاد برهان الدین ربانې او داسی نور، دوې په هېواد د ننه د مجلو او ورځپاڼو سره د لیکنو او د همکارئ تجربه درلوده ولې د دوي ترمنځ یوازینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس سعيد افغاني ؤ چې قاهری ته د تګ څخه مخکې د نجم المدارس مديريت په غاړه درلود او په هغه مدرسه کښې د (النجم) په نوم جريده په ۱۳۳۷ هجری لمريز کال کښې د زدکوونکو د پوهې له پاره تاسيس کړه، همدارنګه يې د (اخلاق) په نوم نشريه هم د حبيبيې په ليسه کښې د تدريس په وخت کښې د اساس ډېره ايښې وه تر څو زدکوونکې ليکنی او شاعری ته تشويق کړي.

په هر ترتيب ( دشرق نابغه) کتاب چې نن يې درنو لوستونکو ته وړاندې کوو د سيد جمال الدين افغاني د پېژندنی، افکارو او نړيوالو کړنو په ډګر کښې د مهمو آثارو څخه بلل کېږي. د دې کتاب عربی متن هغه وخت په قاهره کښې خپور شو، کله چې د لطف الله خان جمالي د کتاب ژباړه ددی عنوان لاندی (جمال الدين الأسد آبادی المعروف بالافغانی كما يقدمه ابن أخته ميرزا لطف الله خان) خپور شو، دغه کتاب د صادق نشأت (ايراني) او دکتور عبد المنعم حسنين (مصريې) له خوا د فارسي څخه عربی ته وژباړل شو او ددی ژباړې څخه هدف دا وه ترڅو په سيد جمال الدين حمله وکړي او د ده افغانيت د پوښتنې لاندی راوړي او همدارنګه دده اصلي عقيده او مذهب باندی ګوزارونه وکړي، دا هغه څه وو چې وروسته په اتيايمه لسيزه کښې ډاکټر لويس عوض هغې ته ادامه ورکړه.

ما کله چې د دکتور محمد سعيد افغاني ژوندليک د هغه نږدې دوست او ملګري پروفيسور عبدالله بختيانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)
خدمتګار په کتاب ( څو دینې ستوري) کښې مطالعه، کړ په هغه ځای کښې چې وایې ((مولوي ولاړ او دکتور راستون شو)) داسې ښکاري چې هغه په دوه څلويښت کلنې کښې مصر ته د زدکړو لپاره تللی، چې پدی عمر کښې هرڅوک چې وې باید ډېر زيات لوړ همت ولرې چې د زدکړی یوي مرحلی د انقطاع څخه وروسته، یوځل بیا تحصیل ته مخ واړوي او د زده کوونکې په چوکی کینې، لکه څنګه چې پوهیږو دکتور سعید افغاني لا د مخه خپله کورنی تشکیل کړی وه، چې څو بچیان یې هم درلودل، خو د ده لوړ همت دئ دې ته تیار کړ چې د ۱۳۴۲ څخه تر ۱۳۴۷ هجرې لمریز کال کې مصر ته راشي تر څو په اسلامي فلسفه کښې ماسټرې او دکتورا تر لاسه کړې.

دلته د یادونی وړ بولم هغه کسان چې د کابل د عربی دارالعلوم څخه فارغ وو، د دوی شهادت نامې په افغانستان کښې د بکلوریا سره معادله وی، مګر په مصر کښې د ازهر پوهنتون شرعی پوهنځېو سره مقایسه او لیسانس ته معادله کیدلی، له همدی کبله د دکتور سعید افغاني او د خدای بخښلي محمد موسی شفیق، شهادت نامي هم د لیسانس سره معادله او دوي په ماسټرې دوره کښې شامل شول.

د افغانستان د دینې مدرسو د تحصیل کچه د هغه څخه څرګندیږي چې دکتور سعید افغاني د کابل دارالعلوم کښې مخکې له دی چې په پنځم ټولګي کښې شامل شې، د هغه څخه د نحوی په علم کښې د (شرح

(c) ketabton.com: The Digital Library



جامي) په کتاب کښې امتحان و اخيستل شو او د برياليې کيدو وروسته د کابل دارالعلوم په پنځم ټولګې کښې شامل شو، نو هغه ځوګ چې د شرح جامي کتاب امتحان ورکړي تر څو د کابل عربی دارالعلوم په پنځم ټولګې کښې شامل شې او اته ۸ کاله نور هم درس ووايې، نو څرګنديري چې په هغه وخت کښې د درسې نصاب کچه په عربی دارالعلوم کښې کوم حد کښې وه.

دغه معادله چې د عربی دارالعلوم شهادت نامه په ازهر کښې په ليسانس معادله کېږي د ځينو خوښه نه وه، له همدی کبله په هغه وخت کښې په قاهره کښې د افغانستان سفارت رسماً د ازهر پوهنتون څخه غوښتنه وکړه چې د افغانستان د دينې مدرسو شهادتنامی دې په ليسانس نه معادله کوي، بلکه هغه دې د بکلوريا سره برابر معادله کړې او برابر وګڼې. نو کله چې دکتور سعيد افغانې د دکتورا سند سره کابل ته لاړ او غوښتل يې چې د شرعياتو په پوهنځی کښې استاد او علمي کدر وټاکل شې د کابل پوهنتون اداري هيئت د مخالفت سره مخامخ شو، ورځخه وغوښتل شول ترځو د ماسټري او دکتورا شهادت نامې ترڅنګ د ليسانس شهادت نامه هم راوړي، د دکتور سعيد افغانې له خوا داسی منطقي استدلال چې ګني د ازهر مشهور او لوی پوهنتون د ده دعربی دارالعلوم شهادت نامه په ليسانس معادله کړه، کار ورنکړ او دی پيښې د دکتور سعيد افغاني په روحيه باندی منفي تاثير وکړ چې غوښتل يې د کابل پوهنتون په چوکاټ کښې خدمت وکړې، د ټولو نه مهمه دا وه

(c) ketabton.com: The Digital Library




چې د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځۍ د یو هغه وتلي کس د تجربي څخه چې هېواد په دینې مدارسو کښې روزل شوی ؤ او درس یې ویلی ؤ او مولوي ؤ چې دکتورا یې هم واخیسته، او کولئ شول ترځو نورو طالب علمانو له پاره نمونه وي، ولی بدبختانه داسی ونه شول او خلک د هغه کس د تجربی نه چې هغه د لغمان د خیر آباد د عمرزیو د زدکړی مرکزونو څخه ځان د نړۍ مشهور او وتلې پوهنتون یعنی الازهر ته ورسؤ، محروم پاتي شو.

زه په خپله د دکتور سعید افغاني د نوم سره د شپږ ځلویښتو کلونو راپدیخوا آشنا وم او د نن څخه ځلویښت کاله په خوا د دکتور سعید کور چې زما د مشر ورور شهید استاد سایف د کرایې کور سره نژدی ؤ او د جمعي لمونځ به مو په یو مسجد کښې ادا کولو، ډېر ځله مي دکتور سعید افغاني لیدلی همدا رنګه مې دده زامنو هر یو دکتور امین الدین سعیدی او دکتور صلاح الدین سعیدی چې د ابوحنیفه په مدرسه کښې ز ما څخه دوه کاله مخکې وو پیژندل او یو ځل یې د اروانښاد ډاکتر صاحب سعید افغاني لیدو او زیارت ته هم ورغلم او زه یې د یو ځوان په توګه ډېر تشویق کړم، د ۱۳۵۶ لمریز کال په پسرلي کښې چې د ژمي رخصتیو څخه له بدخشان نه کابل ته را وګرځیدم (د شرق نابغه) کتاب می ولید چې د سید جمال الدین د اتیایمې کلیزي په مناسبت د ۱۳۵۵ لمریز کال د کب میاشت کښې د بیهقي د چاپولو مؤسسي له خوا د چاپ څخه راوتلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی کتاب د چاپ دواړه مهتممان زما دوستان ؤ، یو یې د دکتور صاحب سعید افغاني زوې ښاغلی امین الدین سعیدی او بل مهتمم چې د ابوحنیفه د مدرسی د مبارز او په علم مین خدای بخښلی عبدالرزاق فهیم و، چې زما له پاره د دوی نومونه د کتاب د مهتممانو په توګه بله جاذبه هم درلوده.

(د شرق نابغه) په افغانستان کښې د لوستونکو له پاره ډېر په زړه پورې او په خاص ډول یې هرکلی وشو، چې ډېر ژر یې نسخي خرڅی او بیدرکه شوی، تر دی ځایه چې لیکوال یې مجبور شو ترڅو په خپل مصرف د کتاب زر ۱۰۰۰ټوکه نوری نسخي هم چاپ کړي.

مخکې ددې چې دا کتاب په دویم ځل په قاهره کښې چاپ شې د کتاب په مراجعه کولو کښې راته څرګنده شوه چې نومړی کتاب لا هم ډېر نوي او بکر مطلبونه لرې او د لوړئ علمي څیړنی څخه برخمند دی.

که چیرته پدی کتاب نیوکه وشي هغه نکتی ته به اشاره وشي چې د دی کتاب زیاتی مراجع په عربی ژبه دې، او شاید د لیکوال د وطن څخه لریوالئ لامل ګرځیدلی وي، چې د سید جمال الدین آثار په فارسی ژبه د څیړونکې او عالیقدر مؤلف سره نه وو، په خاصه توګه د سید هغه مهمی رسالئ اصلي متن یعنی ( نیچریه) چې مرحوم سعید افغانې د هغه رسالی په عربی ژباړل شوي نسخې څخه ګټه پورته کړئ.

په هرترتیب دا کتاب هم د افغانستان د فکرې پانګې څخه دی، چې په قاهره کښې د افغانستان سفارت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سيد جمال الدين افغانی)

دکتور سعيد افغاني قدرمن زوي ښاغلې دکتور امين الدين سعيدی څخه يوه نړۍ مننه کوې چې د کتاب کامل او ټيپ شوی متن يې د افغانستان سفارت ته ليږلی دی او موږ هم پدی وياړو چې ټولو هېوادالو او په خاصه توګه د مصر په پوهنتونونو کښې ځوانو محصلينو ته دا کتاب وړاندی کوو.

مخکې د دې چې دا سريزه پاي ته ورسوم لازمه ګڼم چې د خدای بخښلي دکتور سعيد افغاني يوي بلی ښيګڼې ته اشاره وکړم، هغه هم دا چې خدای بخښلي خپل کتاب "نابغة الشرق" چې په عربي ليکلئ ؤ، يوه لسيزه وروسته يې د خپلو خلکو په ژبه يعنې پښتو ته وژباړلو، ترڅو د کتاب څخه لا زياته ګټه پورته شي، دا پداسې حال کښې چې په زرګونه افغان محصلينو د ماسټرئ او دکتورا رسالئ يا (تيزس) په بهرنيو ژبو ليکلي دي، ولي د خپلو خلکو د ګټې اخيستنی لپاره يې خپلو ژبو ته ندي ژباړلي، که چيرته دوي ټولو د دکتور سعيد افغاني په لاره قدم ايښئ وای او خپل آثار يې د خپلو خلکو په ژبو ژباړلي وو، نن ورځ به د افغانستان علمي کتابونو ته په زرګونه نور علمي کتابونه هم ورزيات شوي وو.

(د شرق نابغه) د ليکوال سعيد افغاني او د عالي مقام ويښوونکې (سيد افغاني) اروا وې دی ښادې وي!

فضل الرحمن فاضل – قاهره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# مولوي داکتر سعيد افغاني

خداي بخښلی مولوي داکتر محمد سعيد ( سعيد افغاني ) ( ۱۳۰۰ ) هجری شمسی کال کی دلغمان ولايت دخير آباد په کلي کی وزيږ يده ، هغه دخپل پلار مولوي عبد المجيد ساپي چه دخپل وخت له مشهور و مدرسونو ښخه وو دتير ګړوی دجامع جومات خطيب او امام وو ، او هم يی دنورومخورو روحانيونونه خپلی لو مړني زده کړې وکړی او ښايسته ښه ملا شو .

وروسته بيا محمد سعيد دکا بل عربي دارالعلوم کی شامل شو ، کله چه په ( ۱۳۲۵ هجری شمسی ) کال کی ددغی مدرسې نه فارغ شو ، په سر يی دمولوي پګړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وټرله شوه ، سمدستي په همدغه مدرسه کی داستاد په حیث مقرر شو ، او بیا په کال ۱۳۳۷ کښی دننګر هار دنجم المدارس دمدرسی دمدیر په حیث وټاکل شو .

یو څو موده دپو هنی او روزنی دوزارت دمسلکي تدریساتو غړی شوو او بیا بیرته دنجم المدارس مدیر او وروسته دحبیبی لیسی ته ددینی علومو دښوونکي په حیث وټاکل شو .

سعید افغانی په ( ۱۳٤۲ ) هجري شمسي کال مصر ته ولاړ او تر (۱۳٤۷ هجری شمسي ) کاله پورې په ( جامع الازهر ) کښی دفلسفي او الهیاتو په زده کړه بوخت و .

کله چی دوکتور مولوی سعید افغاني وطن ته را ستون شو ، نو لو مړی دعالي دارالمعلمین داستاد په توګه دنده تر سره کړه او بیا وروسته دکابل پو لتخنیک ته لاړ او هلته دوخت دمحصلانو او استادانو دډموکراتیکو مبارزو له لړی سره دخپل دینی او مذهبی مقام ساتلو سره سم یو ځای شو او د کابل پو هنتون داستادانو له خوا دهغه وخت داستادانو اتحادي غړی او بیا دپو هنتو نونو داستادانو د اتحادیی رئیس مرستیال په تو ګه انتخاب شو .

مولوی سعید افغانی له بشري ټولنی سره له هر ډول توپیر او تبعیض پرته مینه درلوده او دنړی والی سولې یو پیژندل شوی مبارز وو، په زیاتو نړیوالو هغو سیمینارونو کی برخه واخیسته چی سولې ته وقف شوی وي او پدی مبارزی کی یی دابو علي سینا زرمی کالیزی جایزه تر لاسه کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعید افغاني آن دروانی پیړی څلورمې لسیزې په پیل کی ځانکړی هڅی وکړی چی په هیواد کی دملی یو والی لپاره دیو پراخه ملی جبهی ضرورت خلکو ته په گوته کړي او هغه یو داسې ټولنیز پر مختگ او ټولنیز بدلون سره چی دبیعدالتی کمبله ټوله کړي مینه درلوده ، په همدې وجه ( ۱۳۵۲ هجری شمسی ) کال کښی دقضا عالي شورا غړی او ورپسی دتمیز د عالي محکمې رئیس ( قاضی القضات ) شو ، وروسته داسلامي شئونو وزارت په راس کی وټاکل شو ، او بیا دوخت دملی جبهی مر ستیال او هم دی علما ؤ او روحانیون عمومی مشر شو .

سعید افغانی د ( اوه دیرش ) ټوکه کتابونه او د دوه زرونه زیات مذهبی ، فلسفي ، اجتماعي ، او ادبي مقالې لیکلی چه دانیس ، هیواد ، پامیر ، کاروان ، ننگر هار ، دکابل مجله ، پیام حق ، قضا ، او دهیواد په نورو ورځپاڼو او مجلو کښی خپاره شوی دي .

آثار او تالیفات

- شیخ الااسلام عبد الله الانصاري په عربي ژبه ، دچاپ کال : ۱۹٦۷ مصر- قاهره
- نابغة الشرق سید جمال الدین الافغاني ،په عرپي ژبه ،دچاپ کال ۱۹٦۷ قاهره – مصر
- دشرق نابغه سید جمال الدین افغاني ، په پښتو ژپه چاپ کال : ۱۳۳۵ داطلاعات او کلتور وزارت .
- افغانستان ، تاریخآ وحضارتآ وکفاحآ په عربي ژبه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

- العقيدة الاسلاميه وآراء المعتزلة والاشاعرة والماتريدية واختلافاتهم
- الاشارت والتنبيهات ابن سينا ، په پښتو ژپه ، دچاپ کال: ۱۳۵۹کابل – افغانستان داطلاعاتو او کلتور وزارت .
- درسي کتابونه :

1- تفسير ديولسم ټولگي دشاگردانو لپاره په پښتو او دري ژپه

2- عقايد درسي کتاب ( دتعليم او تربيه دوزارت لخوا )

3- منطق درسي کتاب( دتعليم او تربيه دوزارت لخوا )

4- اساسات اسلام به نگاه علم وفلسفه ددارالمعلين محصلينو ته درسي کتاب .

5- کلتور اسلام از نگاه علم وفلسفه ، په دري ژبه ، دچاپ کال :۱۳٤۹ کابل افغانستان .

6- مختصر تاريخ افغانستان ودول متمدن اسلام . درسی کتاب دپولتخنيک دمحصلين درسي کتاب .

- محمد صلی الله عليه وسلم رهبر بزرگ اسلام ، دچاپ کال ۱۳٦۳ هجری شمسی کابل – افغانستان
- پلاروطنه ملی جبهه او يا دلته دټولنيزو ستونزو دحل لاره ، دچاپ کال ۱۳٦۲ کابل –افغانستان
- خطر جنگ هستوی ، په دري ژبه ، دچاپ کال : ۱۳٦۳ کابل-افغانستان .
- اندرز ها په دری او پښتو ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- آداب قاضی په دری ژبه دقضا دکورس د محصلینو لپاره دعدلی وزارت لخوا چاپ شوی .
- والصلح خیر ، صلح و آرامش از دیدگاه اسلام دچاپ کال :۱۳٦۲ کابل – افغانستان.
- تاریخ تمدن اسلام ، په دری ژبه ، دچاپ کال : ۱۳٦۰هجری شمسي کابل- افغانستان.

مولوي داکتر سعید افغاني د دوه زرونه زیات مذهبی ، فلسفی ، اجتماعی ، او ادابی مقالی لیکلی چه د انیس ، هیواد ، کاروان، پامیر ، کابل مجله ،دپیام حق مجله ، دقضا او نورو داخلی او خارجی نشراتو کنبی په نشر رسیدلی دی .

مولوي داکتر محمد سعید ( سعید افغاني ) د « 1364 »دحوت په اوومه د(1985 فبروری ۲۵ مه ) ددری شپیتو کالو په عمر دافغانستان دطبی علومو اکادمی په روغتون کنبی ، مهربان ، خوا خوږی او تپاند زړه ودرید .

په سبا یی په کابل کنبی ، دجابر انصار علیه الرحمة دمزار تر څنگ ، دشهدای صالحین په هدیره کنبی په در ناوی خاورته وسپارل شو.

**انا لله وانا الیه راجعون**

**( روح دې ښاد وي )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

من احب الحیاة فلیمت فی سبیل حیاة أمته. »
څوک که دژوند سره مینه لری نود خپل ملت دژوند په لیاره کی دی مړشی.
«مامات احد فی حب أمته الا و أحیته»
هیڅوک دخپل ملت په مینه کی نه دی مړ شوی مګر چی ملت ئی بیرته ژوندی کړی دی.
سید جمال الدین افغانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تذکرة للشیخ الفاضل محمد عبده یتذکر بها ماحوته الصدور واستقرت علیه القلوب. سنة ۱۸۸۵

ژباړه دفاضل شیخ محمد عبده یادونی دپاره دا ددی له امله چی په دی به خپل تسل کوی.

## د لیکوال سریزه

**نحمد الله ونستعینه ونصلی علی سیدنا محمد واله واصحابه والتابعین الابرار، الذین نهجوا منهجه القویم وایدوا المسلمین بالهدایة الی الصراط المستقیم.**

اما بعد:

په جهاد او مجاهد باندی فخر کول دا ددی معنی لری چی خلک د حق او حقانیت په لیاره کی رښتینی جهاد او مجاهد غواړی په دغه سلسله کی سید جمال الدین افغانی هغه میړنی مجاهد دی چی خپل ټول ژوندئی داسلام او بشر دخدمت دپاره وقف کړی ؤ په دغه لیاره کی دده عزم او اراده داسی اندا زی ته رسیدلی وه چی دهیڅ منفی تاثیر لاندی نه راته اونه دده په عزم او تصمیم باندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

مادی اعراضو او اغراضو تاثیر اچولی شو همداوجه وه چی دی په هرځای کی چی ګوری دحق تائید کوی او دخلکو دآرا می او آزادی دپاره داستعمار او ناروا استفادو دټولو پردو او دسیسو په مقابل کی جنګیږی، حقیقت دادی چی دده فکر، ثقافت، عمل، سیاحت خطابی، مجلسونه، خپرونی، کتابونه، ملګری، دښمنی، ښودنه، تعلیم، دیوځای ځخه بل ځای ته قصدی تګ دده فکری انقلابونه،قهر او غصه، سیاست او روابط دا ټول ددی دپاره ؤچی د جامعی دروحی او نفسی امراضو علاج وکړی او دټول جهان او په خاص ډول دشرق ځخه دظلم او زور زیاتی کمبله ټوله کړی، دده سره بهترین علاج داښکاره کیده چی دفرد او جامعی دا مراضو علاج هم دی کی دی چه دقران کریم اود اسلام په اصلی دساتیرو او تعلیماتو عمل وشی او داعمل باید دعقل اوفکر په رڼا کی په عالمانه او عاقلانه تو ګه رهبری شی.

شک نشته چی دی په خپل وخت کی دشرق نابغه،دخپل عصر فیلسوف، دډیرو ښو موقفونو او مجاهدو خاوندؤ او دا واقعی حقیقت دی چی دده دلیارښو نو او ښی رهبری په وسیلی دانسانی کرامت دژوندی کولو دپاره یو زبردست فکری انقلاب بلکه ډیر عملی انقلابونه هم منځ ته راغلل.

**رحمة الله علیه وعلی اتباعه واعوانه.**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دسید جمال الدین افغانی د عصر خصوصیات

دده دپیدایښت په زمانه کښی دافغانستان پاچایان او قبائل په سختو جګړو اختلافاتو او اضطراباتو مبتلا ؤ، هغه وخت امپریالیستی دسیسو چی کوم د بدبختی تخم کرلی ؤدهغی په وجهی افغانی قبیلی او قومونه د فردی او شخصی وړو اهدافو (بدقدرت دلاس ته راوړ او او ناروا لېمال پیدا کولو) دپاره یوتربله جنګیدل او اکثر په دی نه پوهیدل چی دوی څوک جنګوی او دپردی آخوا لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی په حیاتی مقدراتو څنګه لوبی کوی؟دوی ښه نشوه تحلیلولی چه څه باید وکړی؟ددوی ملی رهبری کمزوره وه ا ودملی دښمنانو لمخول او تعبیر مؤثر واقع کیدی.

هغه وخت د افغانستان دخلکو حال کټ مټ دعربانو دجاهلیت دوری ته ورته ؤ دوی به په خپلو نسبونو او ظلمونو فخر کولو اود خپلو وروڼو په وژلو هیڅ ډیل نه ؤبلکه دخپل ملی ورور انسان وژل او څیری کول ورته شجاعت اومیړانه ښکاره کیدله باید ووا یم چی هغه وخت په ټول شرق کښی امپریالستی دسیسو خلک دناپوهی په وجهی دژوند دښه سمبا لولو څخه ګیچ کړی ؤ دوی لکه دیو مزمن مریض په شانی په سلها ؤ اجتماعی مرضونو مبتلاؤ مګر نه په خپل مرض او علاج پوهیدل اونه یی معالج ډاکتر ته رجوع کوله.

افسوس ! هغه وخت اکثر دقدرت خاوندان دشرق دا صلاحاتو څخه غافل ؤ، ددوی دغرور او مستی داستانونه ډیر دی او اکثریی لکه دبنګو او شرابو په نیشه کی دو مره بی حاله شوی ؤ چی دوطن په اساسی او بنیادی افکارو او حرکاتو یی سوچ نشو کولی ترداسی اندازه چی په سیاسی بیداری اوشعور کی کمزوری ؤ او دخپلو ولسونو ماضی، حال او مستقبل برم او جریان یی مقایسه او مقارنه نشو کولی اونه یی هغه اسباب او عوامل درک کولی شول چی دمسلمانانو او شرقیانو دبدبختی موجب ګرځیدلی ؤ ددوی ټوله هڅه او تمایل ناروا ساعت تیریو اوتباه کوونکو استراحتونو په خواوه، دوی به دخپلو ساعت تیریو دپاره نقشی جوړولی حتی ددوی رسمی وخت هم دخندا او ټوقو صحنه وه، ددوی سره دانسانیت او دفضل دمقام اومنزلت

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرنه ؤ حتی چی بی له ځانه بل څوک ورته انسان نه ښکاره کیده مګر سره له دی هم له خلکو څخه یی جبرآ او قهرآ غوښتل چی ددوی په فجائعو اوملی او انسانی خیانتونو باندی دخوښی اظهار وکړی او ورته محکم سیاست اونیک عمل ووایی. دوی دحق داظهار په مقابل کی حساسیت او دښمنی درلودله او دعمومی منفعت دتامین اوازئی د خپلو ناروا استفاده په مقابل کښی ملی خیانت تعبیر وه او خلک به لکه دمال په شانی ددوی دپاره استعمالیدل.

په ډیر افسوس باید ووایم چی دسید جمال الدین افغانی په عصر کی دمسلمانانو او شرقیانو دقدرت واګی دداسی کسانو په لاس کښی ؤ چی دهر اصلاحی، انکشافی او پرمختګ حرکت څخه ډاریدل او دخلکو دژوند ښه کیدل یی دخپلو مطلق العنانه او ناروا قدرتونو خاتمه ګڼله.

حقیقت دادی چی سید افغانی صاحب دتنګسو په عصر کی لوی شوی دی او دده ټول ژوند دتکالیفو، مشقاتو او ناوړه تصرفاتو مجموعه ده په دی سلسله کی هغه وخت چی دی وړوکی ؤ دسلطنتی دربارڅخه امر صادرشو چی پلار او ترونه یی کابل ته راوستل شی او په وطن کی دی ددوی ټول مالونه ضبط شی ددی وجه داوه چی دده پلار او ترونه په کنړونو کی د ډیر اعتبار خاوندان ؤ نو د وخت حکومت ددوی قدرت او اعتبار دخپل تسلط خاتمه ګڼله.

په کوم وخت کی چی سید جمال الدین افغانی دځوانی او رشد مرحلی ته رسیږی نود زمانی مشکلاتو اوبی نظمیو په ده کی زیات دبدلون راوستلو تصمیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقویه کړی ؤ حتی چی په دی اساس یی عزم اوتکل وکړی چی ټول مسلمانان ټول شرقیان بلکه ټول انسانان داستعمار او استثمار دطوفانی دسیسو څخه خلاص کړی واقعآ ده دخلکو د ژوند دښه کیدو او ظلمونو،بندیزونو او فشارونه دلیری کیدو دپاره سخت فولادی تصمیم ونیوه او په داسی بدوشرایطو کی چی دا امیدواری هیڅ لیاره نه لیدل کیدله خوبیاهم ده داصلاحاتو دسخت ضرورت او د خلکو دبیچارګی په اساس دهمت ملاوتړله او په اسلامی، شرقی او انسانی جهاد یی پیل وکړه.

**دسید جمال الدین افغانی جنسیت اوملیت**

دا ثابته شوی ده چی سید جمال الدین افغانی په رښتیا چی وا قعآ دافغانستان دکنړ د ولایت د (اسعد آباد) دقریی څخه دی ځکه چی ده په خپله په وارو وارو ویلی دی چی اصیل افغان دی اود ی هر چیرته چی تلی او چیرته چی رسیدلی دی په دی دوه حسینی او افغانی صفتونو یی فخر کړی دی لکه چی ده په خپله ویلی دی.

«استوقفتنی الافغان وهی اول ارض مس جسمی ترابها »

افغان بیداره کړه او دا اوله هغه ځمکه ده چی زما وجود ددی خاوره مسه کړی ده.

همداشانی ده ویلی دی: «انی اضطررت لترک بلادی الافغان مضطربة تتلاعب بها الاهواء و الاغراض »

زه مجبوره شوم چی خپل افغان وطن په داسی حال کی ترک کړم چی په دی وطن باندی شخصی اغراضو او تمایلو نو لوبی کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوسره ددی هم دسید جمال الدین افغانی دښمنانو کوم چی د آزادی او اجتماعی مصالحو دښمنان ؤ وغوښتل چی دده په ژوند کی اود مرگ څخه ئی هغه څه وویلی کوم چی دوا که ئی وشول حتی چی دده ملیت او جنسیت په حقله ئی هم صرفه ونه کړه.

هو ! هغه وخت چی دده او دایران دپاچا – (ناصر الدین) ترمنځه د ایران دمصالحو په حقله اختلاف پیدا شو او سید جمال الدین افغانی دا بده گڼله چی په ایران کی دایران پاچا انګلیسانو ته دتنباکو په (ایجی) شرکت کی دایران دخلکو په تاوان خاص احتکاری امتیازات ورکړی، دا اختلاف ددی موجب شو چی سید جمال الدین افغانی به د پاچا بده ویلی او خلک به ئی ورباندی تحریکول لکه چی ده دهغه وخت د ایران د مجتهدینو مشر – (میرزامحمد حسن شیرازی) دیته حاضر کړه چی عمومی فتوا صادره کړی چی ترڅو دغه شرکت دانګلیسانو په لاس کی وی هیڅوک به تنباکو نه سکوی په دی اثر خلک ټول له پاچا څخه واوښتل اوله ډیری غصی ئی دده دمرگ او وژلو تکل کړی ؤ همدا وجه وه چی دایران حکومت مجبوره شو چی دغه شرکت دنیم ملیون پونډو په تاوان لغوه کړی نو ځکه دایران پاچا په سید جمال الدین افغانی باندی زښت زیات قهر وه خوځنگه چی سید جمال الدین افغانی دا وخت په ایران کی نه ؤ ؛ نو دخپل حکومت په ژبه یی ویلی چی سید جمال الدین افغانی په اصل کی ایرانی دی ترڅو په دی وسیلی دی ایران ته راولی او په سزایی ورسوی.

لکه چی استاد (عبدالقادر) مغربی په خپل کتاب (جمال الدین افغانی) کی په لاندی ډول لیکی:هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



چى دايران لوى مامور (محمد حسن خان) چى په اعتماد الدوله ملقب ؤ او پا چاته ډير نزدى ؤ په خپل كتاب (الماثر والاثار) كى وليكل چى سيد جمال الدين افغانى دايران د (اسد آباد) دقريى څخه دى يوه لويه هنګامه پيدا شوه داوخت د(طرابلس) يو لوى شخصيت دتأثر په حالت كى ماته راغى راته يى وويلى: داچى وايى سيد جمال الدين افغانى ايرانى دى، په ايران كى پيداشوى دى او د ايران اولاد دى دايوه افتراء ده چى د (ناصرالدين شاه) حكومت افتراء كړى ده ترڅوپه دى وسيلى له ده څخه انتقام واخلى او يقينى خبره هغه ده چى ماته زما دوست شيخ (عبدالحميد رافعى) دبصرى قاضى ويلى ده، قاضى صاحب ماته دخپلى مشاهدى څخه حكايت وكړه وويلى: كوم وخت چى سيد جمال الدين افغانى دايران څخه وشړل شو او بصرى ته راغى دبصرى والى چى ډير لوى شخصيت او پرهيزګاره انسان ؤ او (هدايت پاشا) نوميده ده او ددى ولايت نورو لويو كسانودده ښه اعزاز او استقبال وكړه خويو ناڅا په د (المابين) څخه[1]دبصرى والى ته شفرى تلګرام راغى او په هغى كى دسيد جمال الدين افغانى دمليت اواصل اونسب څخه معلومات غوښتل شوى ؤ اوپو ښتنه شوى وه چى آيا دا رښتيا ده لكه چى دايران پاچا دعوى كوى چى سيد جمال الدين افغانى په اصل كى

[1]. په دى وخت كى بصره دتركيى پورى مربوطه وه او "المابين" په هغه وخت كى دتركيى دپاچا دقصر نوم ؤ المابين په اصل كښى هغى كوټى ته وايى چى دوه دروازى ولرى يو ه دروازه يى د نوكارانو په خوا او بله دروازه يى حرم سراى ته وى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایرانی دی؟ قاضی صاحب وایی چی دبصری والی دا غوره کړه چی ددی خبری دکشف دپاره ما وګماری او زه دده دملیت او اصل اونسب څخه له ده څخه په داسی ډول معلومات لاس ته راوړم چی دی په دی رمز پوه نشی؛ خود سید جمال الدین افغانی خارق العاده ذکاوت زما دپوښتنی په مطلب پوه کړه او سم دستی ئی وویلی: زه په اصل او نسب کښی افغان یم دایران د تابعیت او جنسیت سره کومه علاقه او رابطه نه لرم دا چی دایران پاچا په ماادایرانی دعوی کوی هغه غواړی چی په دی وسیلی ما ایران ته کش کړی او خپل انتقام را څخه واخلی او په سزامی ورسوی.سید جمال الدین افغانی دخپل افغانی ملیت دتائید دپاره ویلی دی چی دی کوم وخت په کال ۱۲۸۷ هـ ۱۸۷۰ م کی چی په ترکیی کی ؤ هغه وخت دترکیی دمعارف وزیر (صفوت پاشا) په دی اساس چی زه په اصل کی افغانی یم د معارف په اعلی مجلس کی دعضو په حیث وګمارلم نو که دچا خوښه وی اومعلومات لاس ته راو ړی ددغه وزارت څخه دی پو ښتنه وکړی[1] له دی څخه معلومیږی چی سید جمال الدین افغانی لکه څنګه چی دی په خپله اقرار کوی په اصل کښی افغان دی اوهغه څه چی دده په حقله ویل شوی دی چی ایرانی دی بی له افتراء څخه بل کوم اصل نه لری. دسید جمال الدین افغانی د افغانی ملیت داثبات دپاره د (الوطن جریده) هغه خپرونه تائیدوی کومه چی په کال ۱۹۲۴ م د اګست د

---

[1]. د عبدالقادر المغربی له کتابه د ۸۴ نه تر ۸۶ صفحی پوری استفاده شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مياشتی په ۳۰ په ترکی ژبه په (استانه) کښی نشر شوی ده په دی جريدی کی ليکل شوی دی (دنوی افغانی بيداری رهبر او د رڼا په خوا د شرقيانو بلونکی او غوښتونکی هغه شيخ او پيشوا جمال الدين افغانی دی دا جريده ليکی چی شيخ جمال الدين کال ۱۲۵۴ هجری ۆ چی په افغانستان کی پيدا شوی او دنسب سلسله ئی دکنړ مشهورو ساداتو ته نسبت کيږی).

همداشانی په کتاب (تاريخ الاستاذ الامام الشيخ محمد عبده) د محمد رشيد رضا په تاليف کی دامام محمد عبده څخه ددی عنوان (السيد جمال الدين الافغانی) لاندی داسی روايت دی:

سيد جمال الدين دسيد (صفدر) زوی دی، په افغانستان کښی ديوی لوئی کورنی څخه دی او دنسب سلسله يی سيد علی ترمذی ته رسيږی چی انتها يی په سيدناالحسبن بن علی بی ابی طالب کرم الله وجهه باندی راځی په افغانستان کښی دسيد جمال الدين افغانی کورنی يوه لويه کورنی ده چی دافغانستان شرقی خوا د کنړ په منطقه کی اوسيږی، دا کورنی دسيادت په وجهی زيات محبوبيت اواحترام لری لکه چی يو وخت ئی په خپله منطقه کی پوره اقتدار په لاس کی درلوده خو دامير دوست محمد خان په وخت کښی ددوی دلاس څخه قدرت واخستل شو او دده پلار او څه ترونه ئی کابل ته را وستل شول سيد جمال الدين افغانی په کال ۱۲۵۴ هجری کی دکنړ داسعد آباد په قريه کی پيداشوی دی او دپلار سره يو ځای کابل ته راغلی دی.( دکتاب «تاريخ الاستاذ الامام محمد عبده » درشيد رضا تاليف صفحی (۲۷)څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



استفاده ده شوی ده) ددی کتاب په (۳۸-۳۹) صفحه کی د سید جمال افغانی شاگرد او د حزب ملگری مشهور لیکوال (ادیب اسحق) څخه روایت دی چی د سید جمال الدین په حقله وایی. «هوالحکیم الخطیب البالغ الحجة النبیلة، المتوقد الذکاء، الجری الذی لایعرف الخوف » النسیب، السید «جمال الدین » الافغانی ولد بـ (کابل) فی بیت شرف وعلم، وعمره الان نحو ۴۵ عاماً » ژباړه: دسید جمال الدین افغانی په حقله وایی چی دی حکیم، خطیب دقوی استدلال خاوند،پاک سپیڅلی انسان، د روښانه ذکاوت صاحب،زیات زړور ؤ چی هیڅ نه ډاریده، دی دښه نسب خاوند نوم ئی سید جمال الدین افغانی دی چی په کابل کی د علم او شرافت په کورنی کی پیدا شوی دی او اوس ئی عمر تقریباً ۴۵ ته رسیږی .

همدا شانی په کتاب (تاریخ الاستاذ الامام محمد بعده) په (۴۲) صفحه کی ددی عنوان (ترجمة سلیم بک العنحوری للسید جمال الدین) لاندی راغلی دی: افغانی هغه سید جمال الدین مشهور عالم او فیلسوف دی چی په افغانستان کی ټوکیدلی او د نبوغ مرتبی ته رسیدلی دی له دی څخه وروسته دی دسید جمال الدین افغانی د ژوند د یو څه هغو حالاتو څخه یادونه کوی کوم چی ده ته په خپل وطن افغانستان او نورو ځایونو کی پیښ شوی دی.

ددی ټولو اسنادو او د نورو ډیرو اسنادو څخه ثابتیږی چی په دی کی هیڅ کوم شک نشته چی سید جمال الدین افغانی په اصل کښی افغان دی او د ده ټول شاگردان،ملگری، مخلصان او پیژندونکی ئی په دی متفق

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

دی چی دی د افغانستان د ساداتو څخه دی، حتی چی هیڅوک د ده په عصر کی او دده د مرګ څخه وروسته هغه ثوک چی په وینا ئی اعتماد کیدی شی نه پیدا کیږی چی ووایی: سید جمال الدین، افغان نه دی ایرانی دی خو سره ددی هم په دی او اخرو کی یوتن چی د خپلی سستی او بی دلیله وینا څخه حیا نکوی خپل ځان ئی په (میرزا لطف الله خان) نو میالی کړی دی وایی: زه سید جمال الدین خوریه یم ده په ټولی ګمراهی او په دروغویو څه نشر کړی دی وایی: سید جمال الدین ، افغانی نه دی بلکه شیعه ایرانی دی. د میرزا لطف الله خان او دده دپیروانو په رد کښی دصیحة جمال الدین الافغانی) دکتاب مؤلف استاد (محمود ابوریه)[1] داسی لیکی: دا هسی چټی دروغ اولویه بیحیایی ده چی دټولو حقیقتونو سره سره وویل شی سید جمال الدین، افغان نه دی ایرانی دی، دا استاد لیکی:

«وقد کان لنا الانعرض لهذا الکتیب الذی لایستحق المداد الذی کتب به،ولانعنی بهذه التلفیقات التی سودت صحائفه،ولکنا رأینا ان نکتب هذه السطور الموجزة لنفضح هذیانه، وترهاته، ولنمتلخ بعد ذلک عرق الشک الذی قد یخامر نفوس بعض من یقرؤون مفتریات هذا الکذاب الا شر، ویطلعون علی سخافاته وترهاته.

ژباړه مونږ ته داسی مناسبه وه چی دغه شانی چټی نوشتو ته چی دلیکلو د سیاهی او رنګ په قیمت هم نه ارزی اشاره قدری هم نه وه کړی اودغه شانی تورو موهومو او لیمکړی شوو پاڼو ته متوجه شوی نه وی خو

---

1. ص (۱۵-۱۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیاهم دا مو وغوښتل چی دایو څو لنډی کرښی ددی دپاره ولیکو چی دده چټیات او لیونتوب په کی رسواکړو او له دی څخه وروسته دشک اوتردد هغه ریښی قطع کړو؛ کوم چی ددغه بد او مضر دروغجن دافتراؤ دلوستنی څخه په ځینی نفسونو کی پیداکیږی ترڅو په دی وسیلی هغوی ددغو لیکونو په واهیاتو، ضعف او خطایی پوه شی.

له دی څخه وروسته استاد محمود ابوریه په خپل کتاب کی ددی عنوان لاندی (لماذا انغص بغض الانجلیر قلب السید) ژباړه د څه دپاره دانګلیسانو په مقابل کی دسید جمال الدین په زړه کی د بغض او حسد هسته او نیالګی پیدا او خښ شو؟ داسی مطلب لیکی: هغه وخت چی انګلیسی استعمار کوښښ کولو چی دنورو وطنو دنیولو په شانی دافغانستان آزادی سلبه او دخپل استعمار دسلطی لاندی ئی راولی دا هغه وخت ؤ چی خپل په زرګونو لښکرئی دخپل عسکری قومندان (مکناتن) په مشری دافغانستان خائن شړل شوی پاچا سره یو ځای کړه او دکابل څخه نیولی ترکنړه پوری یی جګړه او ناآرا می پیداکړه نو دغو بی نظمیو او ناروا لاس وهنو په انګلیسانو باندی دسید جمال الدین افغانی قهر او غضب وپاروه او دده قهر نور هم په دی ناروا دولت باندی په دی وجه زیات شو چی دوی په شرق او اسلامی وطنو کی دخپل قدرت دلاس ته راوړلو دپاره ناروا هیلی درلودلی.

دا استاد وایی: دا ټولو اوضاعو دی په دی مصمم کړه چی خپل ټول عمر دیته وقف کړی چی دانګلیس په مقابل کی جهاد وکړی او ترڅو یی توان ورسیږی په شرق کښی هر چیرته چی وی دانګلیسانو شان اوشوکت او قدرت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاتمه ورکړی لکه چی ده خپله دا فیصله خپل لوی شاګرد استاد محمد عبده ته ویلی ده.

له دی څخه وروسته استاد محمود ابوریه دخپل کتاب «صیحة جمال الدین» په ( ۱۸-۲۲)صفحو کښی لیکی: له دی څخه معلومیږی چی میرزا لطف الله دانګلیسانو سره علاقه لرله ترڅو دده د رحلت څخه وروسته هم انګلیسان دخپل عمیل په واسطی دده دشهرت او اعتبار په مقابل کی مجادله وکړی نو میرزا لطف الله خان ته یی تحریک ورکړه چی سید جمال الدین یو ریا کاره شخص، منافق او دسیسه باز معرفی کړی داسی یو شخص چی ایرانیانو ته یی ویلی چی دی شیعه او ایرانی دی او افغانانو، عربانو او ترکانو ته یی ویلی چه دی سنی افغان دی ګویا دی لکه دیو منافق په شانی لکه دیهودانو او استعمار د جوا سیسو په ډول لوبی کولی.

په پاک الله باندی له شره دهغو کسانو څخه چی دخدای پاک په دوستانو افتراء کوی پناه غواړو.

که څه هم په سید جمال الدین افغانی باندی داسی بی اساسه افتراءات وشول خو بیاهم حقیقت دادی چی دده ټول ژوند د صداقت، شجاعت او صراحت محصول دی. دی دټولو هغه ویناؤ څخه پاک دی کوم چه د اسلام د نوا میسو او مقدساتو خائنان یی په اصیل صریح او شجاع سید پوری تپی دمیرزا لطف الله په شانی کسان وایی: سید جمال الدین شیعه ایرانی دی، ده په ځان باندی د افغانیت او سنیت پرده په دروغو او ناحقه اچولی وه ترڅو دعالم اسلامی دپاره ایران اساسی مرکز وګرځوی مګر دا افتراء دحیران تیاوړ ده ځکه چی څنګه به دا عقل قبوله کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی یو څوک دی وکړی شی چی دخپل ولس شان دعزت لویی مرتبی ته په داسی حال کښی ورسوی چی دی خپل ملیت پټوی او ویریږی چی خلک یی خپل دین او اصل ته منسوب کړی؟

حقیقت دا دی چی په نفاق او په جاسوسی ډول واړه مطالب ترسره کیدی شی مګر لوی او عالی مطالب او اهداف نه شی ترسره کیدی او نه دغه شانی حرکت دلوړو اوصافو خاوندان کوی شی. حقیقت دادی چی سید جمال الدین رحمة الله علیه په خپل وخت کی په داسی حال کی چی افغان ؤ دټول اسلامی عالم، شرق، غرب، عجم او عرب، افغان ایران، ترک او هند دپاره چی ورسره یی د ورور ولی علاقه درلودله لوی زعیم از رهبر ؤ. دا واضحه ده چی ده هر چیرته ویلی او ټولو شاګردانو او پیروانو یی په دی اعتراف او اقرار کړی دی چی افغان دی حتی چی دمیرزا لطف الله په شانی کسان هم له دی څخه انکارنه کوی چی سید په خپله په خپل ټول ژوند کی ویلی دی چی دی سنی او افغان دی خو وایی چی سید دغه اقرار او وینا دتقیی[1] او نفاق په ډول کړی ده او دا ددی دپاره چی دی العیاذ باالله وروسته دمرګه په دروغو او افتراء متهم اوبی اهمیته کړی او دا اوښیی چی دمسلمانانو لوی رهبر دروغجن. منافق او ریا کاره ؤ.

دا ثابته ده چی دمیرزا لطف الله څخه په خوا چی دسید جمال الدین په ضد کوم ناروا په کګو لیارو فعالیت

---

[1]. تقیه دنفاق په ډول هغی رویی ته وایی چی دزړه اوخوله کار یی یونوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان ؤ دهغو علائم او آثار له منځه تلی ؤ او امپریالست په ټول قوت او طاقت ونه کړی شول چی دده د اساسی لوړو اهدافو په مقابل کی څه وکړی شی حتی چی ددوی ټول مساعی د نا امیدی او دخدای پاک دغضب سره مواجه شول ښه نو د میرزا لطف الله د پیرانو داسی پست اوسست ناروا فعالیت به دسید جمال الدین افغانی په ضد چی په دی وروستیو وختونو کی په کار ولیدلی دی څخه وکړی شی؟

دا ګمراهان وایی: سید جمال الدین افغانی چی دسنیانو په شانی کالی اغوستل هغه ددی دپاره ؤ چی دجامع ازهر رهبری لاس ته راولی. ځواب: دمخکښی تیرو تحلیلو نو څخه واضحه شوی ده چی باید داسی واهیاتو ته هیڅ ځواب ونه ویلی شی اونه داعتنا وړ وګرځی اونه ددی ارزښت لری چی یاد قدری شی خوبیاهم ددوی د رسوایی دپاره همدومره کفایت کوی چی ووایو سید جمال الدین په مصر کی دټولی استوګنی په موده کی ازهرته یی د خالی کتنی څخه نه دی ننوتی او هلته په ازهر کی یی یو درس قدری هم نه دی ورکړی.

استاد ابوریه وایی: که سید جمال الدین که چیری ایرانی اوشیعه وی نو دایران ائمه ؤ ولی دده څخه هغه وخت دفاع او نه یی دتأثر اظهار قدری وکړه کله چی دایران پاچا ناصرالدین شاه دی ځنځیر او ځولانه کړه اوعسکرو یی دناجوړتیا په حالت کی په پوره فضاحت او رسوایی له یوی قریی څخه بلی قریی ته کشوه؛ سره له دی چی دی حسینی او دپیغمبر داولادی څخه هم ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که دی ایرانی وی هغه وخت چی دایران حکومت دترکیی څخه دایرنیانو دغوښتنی مطالبه وکړه سلطان عبدالحمید به د نورو ایرانیانو به ضمن کی دی هم ایران ته سپارلی وی ترڅو له ده څخه یی انتقام اخستی وی.

دصیحة جمال الدین افغانی کتاب مؤلف په دی ډول پوښتنه کوی: اصل او اساس ددی بدی اوناوړه افتراء اوپرو پاګنډی (سید جمال شیعه او ایرانی دی) څه دی؟ چی یو وار په تیر تاریخ کی دا افتراء او پروپاګنډه وشوه اوبیا ډیر وخت غلی او وروسته بیا بیر ته په دی دا مؤلف صاحب په خپله ددی پوښتنی ځواب وایی چی حاصل یی دادی:

په اول کی ددی ناوړه او خبیثی پرو پاګنډی اصلی علت او منشاء داوه چی هغه وخت سید جمال الدین افغانی دایران دپاچا سره په دی دښمن او وران ؤ چی ده دانګلیسانو سره دوستی درلوده (سید جمال الدین افغانی دامپریالستی دحرکتونو په مقابل کی سخته عقده پیداکړی وه او استعمار یی د خلکو دآزادی او پرمختګ عائق ګڼه همدا وجه ده چی امپریالستانو دده داهدافو او نقشو په مقابل کی په سختی مجادلی حتی په افتراء او بهتان هم لاس پوری کړه او دده په زورولو، شړلو، بدنا مولو او وربانډی په رنګارنګه تهمونو تپولو هیڅ ډیل نشول) داچی دده دمرګ څخه وروسته په موجوده عصر کی دسید جمال الدین افغانی دجنسیت اوملیت په حقله پروپاګنډی پیداشوی ددی اصلی وجه دا ده چی سید جمال الدین افغانی چی په خپله په ټول شرق کی د لوړو اهدافو دپاره بنیادی او اساسی کوم تخمونه او نیالګی کرلی ؤ او دروزنی دپاره یی په ټول ژوندکی اهتمام او پالنه کړی وه حتی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

په دی لیاره کښی شهید هم شو هغه ترداسی اندازی پوره میوه او حاصل ته رسیدلی ؤ چی ورځ په ورځی ښه زړه پوری نتیجی ورځخه اخستل کیدی حتی چی مصر خپله آزادی لاس ته راوسته، هند آزاد شو او شرقی ممالک خپل واکی ته ورسیدل، په ټول شرق کی دبریطانیا داستعمار بیرغ ټیټ شو او رټل شوی استعمار په ورو ورو بلکل له منځه لاړه او یا دتلو په حالت کی دی، دی حالت څه موده مخکښی دشرق او عربی ملت اواسلامیت دیووالی دښمنان دسید جمال الدین افغانی دلوی تحریک په مقابل کی وپارول او دده دلوړ شخصیت په مقابل کی یی دشک اوتر دد دوړی پورته کړی ترڅودده عظمت او کرامت ته صدمه ورسوی او په دی وسیلی دده د آزادی اجتماعی هغه لوی تحریک مخنیوی وکړی کوم چی تر اوسه چلیږی نو په دی اساس لری نه ده چی دامپریالست پټه دسیسه به تر اوسه هم دسید جمال الدین افغانی د افکارو په ضد روانه وی ځکه ددوی کینه همیش دسید جمال الدین افغانی دجهش په مقابل کی دهیریدو، نه ده بلکه دا کینه دلمبو وهلو په حالت کی په ده باندی دافتراء او فریب کاری صرفه نه کوی خو دسید جمال الدین افغانی دلویی مقام اومنزلت داسی مرتبی ته رسیدلی دی چی دا ناپاک ګردونه دده پاکو پښو ته نشی رسیدلی. عربی متل دی:

وریځو ته دسپو د آوازونو رسیدل څو مره لری دی؟ یعنی څه ضرر ورته نشی رسولی. ددی متل مطلب دادی چی باطل دحق مخنیوی نشی کولی او په دغه لیاره کی ناروا کوښښونه اخر دناکامی سره مخامخ کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دی څخه وروسته استاد محمود ابوریه په خپل کتاب کښی لیکلی دی چی دسید جمال الدین افغانی په تاریخ کی څلور حقیقتونه لکه دغره په شانی قوی پاخه او ثابت پاتی دی چی هیڅوک هرڅوک چی وی نشی کولی چی هیڅ دبدلیدو کوم نقص اوتاوان ورته ورسوی.

اول: سید جمال الدین دنبوی دشریفی اولادی څخه غوره شخصیت دی.

دوم: دی په واضح، ښکاره او ثابت ډول افغان اوسنی دی.

دریم: دده لویه کورنی په افغانستان کی دشجاعت، سخاو عزت لویه سلسله لری او دزیات اعتبارخاونده ده.

څلورم: ټول په دی متفق دی چی سید جمال الدین افغانی دشرق بیدارونکی او په نوی عصر کی دپرمختګ باعث او موجب دی.

دده په شانی هیڅا دده په عصر کی اجتماعی مؤثر تحریک نه دی کړی اونه دده په شانی په معقول، اساسی او بنیادی جهاد موفق شوی دی حتی چی دازهر لوی استاد او شیخ «مصطفی عبدالرزاق» دده په حقله داسی وایی:

«حسب جمال الدین من عظمة ومجد انه فی تاریخ الشرق الحدیث اول داع الی الحریة و اول شهید فی سبیل الحریة»

ژباړه دسید جمال الدین دعظمة، مجد او لویی دپاره دا کفایت کوی چی دی دشرق په نوی تاریخ کی د آزادی او خپل واکی له امله اول بلونکی اود آزادی په لیاره کښی اول شهید دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

حقیقت دادی چی دسید جمال الدین افغانی په متعلق دا ځلور حقایق ثابت اومنل شوی دی هیڅ ځوک بی دناپوه، کینی خاوندانو او دعربو او شرق له دښمنانو څخه بل ځوک په کی شک نه کوی. سره ددی که په دی حقائقو دښمنان متأثره کیږی خو بیاهم د شرق او غرب ټول هغه لیکوال چی له ده څخه یادونه کوی په دی ځلورو حقائقو متفق دی. باور دی چی دسید جمال الدین افغانی په حقله به داځلور حقایق دتل دپاره پاتی شی ولو که هره ورځ دده په ضد زرګونه کتابونه نشر شی.

استاد محمود ابوریه وایی: دسید جمال الدین نیک جهانی شهرت تر داسی اندازی رسیدلی دی چی هرچیری او هرکله چی دسید جمال الدین نوم مطلق یاد شی خلک یی ورڅخه دی په فکر کښی راولی او همدا چی زمونږ د حکیم جمال الدین یوازی نوم قدری وویل شی خلک ورڅخه بی له افغانیت نه بل فکرنه کوی.

دلته دسید جمال الدین دملیت او جنسیت دثبوت دپاره دومره هم کفایت کوی چی مونږ دده کتاب «تتمة البیان فی تاریخ الافغان » مطالعه کړو ځکه داکتاب دده په افغانیت باندی لوی دلیل کیدی شی هغه داچی علاوه له دی چی دا کتاب دده دعلم، سیاست، کیاست، او فراست ښکارندوی دی په دی کتاب کښی دده افغانی عواطف او احساسات هم ښه ترسیم شوی دی.

خصوصآ ددی کتاب هغه برخی چی په کی دی دخپل سخت دښمن «وزیر محمد رفیق لودی » څخه یادونه کوی، دی هغه ځوک دی چی دسید جمال الدین افغانی داصلاحاتو مخالف ؤ او دافغانی کابینی دهغی مشهوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



لایحی دتشکیل معارض ؤ کوم چی سید جمال الدین افغانی په کی داجرائیی، تقنینی او قضایی قواؤ تفکیک راوستی ؤ.

محمد رفیق لودی هغه څوک دی چی امیر شیر علی خان ته یی دسید جمال الدین افغانی بدی ویلی  او دخپل وطن افغانستان څخه یی دده دفراریدو کوښښ کولو.

په دی کتاب کی لیدل کیږی چی سید جمال الدین افغانی په خپل پوره نفرت او قهرد محمد رفیق لودی دغدر اوخیانت ته دقلم په ژبه کافی سزا او جزا ورکړی ده.

له دی څخه ښکاره معلومیږی چی سید جمال الدین افغان دی او افغانان لکه چی په خپله دی په همدی کتاب کی یادوی داسی صفات لری: «یحفظون الحقد ولاسیما اذا کان فی سبیل الحق والفضیلة »

ژباړه افغانان کینه ساتی اوکوی یی خصوصآ دحق او فضلیت په لیاره کی. واقعآ دحق او فضیلت دضایع کیدو په وخت کی کینه او مجادله ښه کاردی.

(سید جمال الدین افغانی په خپل تتمة البیان فی تاریخ الافغان کتاب کی دافغانانو د رویو، عرف اوعاداتو او خاص هغو ارتباطاتو او تمایلونو څخه یادونه کړی ده کوم چی دهغو دلوستلو څخه په قطعی ډول دا معلومیږی چی دده په ملیت او جنسیت کی اشتباه کول لویه ګناه اوسرتنبه ګی ده).

ددی ټولو سره سره او داهم چی زه دلوی ننګرهار څخه یو تن او دسید جمال الدین افغانی دټبرد اوسیدونکو سره نزدی او سیرم او زما منطقوی معلومات په واضح ډول دسید جمال الدین افغانی، افغانی جنسیت او ملیت

(c) ketabton.com: The Digital Library





بی له کوم شک اوترDDه ثابتوی خوبیا هم کله چی ما د میرزا لطف الله خان او دده دملگرو او داستعمار او استثمار دایجنټیا نو افتراء ګانی ولوستی ددوی دروغجنی او افتراء ته حق حیران شوم، هغه وخت می قلم راوا خیست ددوی دښکاره دروغو او افتراء درد اودفع په مقابل کی می څه ولیکل او خپل اسناد او تحقیقات می په مخکښی ډول را ټول کړل دادی ددی په علاوه کوښښ کوم چی ددوی څه پاتی دروغ او افتراء آت هم صراحتآ په لاندی ډول رد او یو څه نور اسناد او مدارک ورباندی زیات کړم ترڅودبیا دپاره دغه شانی دروغجن او مفتریان دخپلو دروغو افتراء څخه حیاء وکړی.

۱- دوی لیکلی دی چی دسید جمال الدین دپلار نوم (صفدر) دی او دا نوم دایرانیانو دنومونو څخه دی اوپه دی نوم باندی په افغانستان کی څوک نومیالی شوی نه دی.

ځواب: زه وایم ډیرو زیاتو تائیداتو ته حاجت نه شته چی ووایم د افغانستان په ولایت ننګرهار کی اوس هم دا نوم زیات شته دی حتی چی اوس هم دیوه سید نوم صفدر دی ځکه چی په افغانستان کی ټول خلک پوهیږی چی صفدر دایران د اختصاصی نومونو څخه نه دی او که دافغانستان څخه دباندی خلک شک لری را دی شی افغانستان ته چی اوس هم په افغانستان کی څومره خلک په صفدر نامه یادیږی حتی هغه وخت چی په ننګرهار کی دنجم المدارس مدرسی مدیر وم زما یو کاتب دچپرهار دعلاقی څخه صفدر نومیده.

شک نشته چی دصفدر نوم په ننګرهار، کنړ اوافغانستان کښی اوس هم شته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – دوی لیکی چی دسید جمال الدین یو خاص خادم په (ابوتراب) یادیده او دانوم دحضرت علی کرم الله وجهه دالقابو څخه دایرانیانو له نومونو څخه دی.

ځواب: زه اول وایم چی په دی نوم باندی په افغانستان کی هم څه خلک یا دیږی.

دوم وایم: چی ابوتراب عربی کلمه ده ایرانی نه ده او شک نشته لکه چی ایرانیان علی کرم الله وجهه دوست ګڼی افغانان هم حضرت علی کرم الله وجهه دوست لری صرف همدو مره ده چی افغانان د علی کرم الله وجهه په محبت کښی غلو او افراط نه کوی.

دریم وایم: که فرضا دسید جمال الدین دنوکر نوم ابو تراب شی او ابو تراب دایران څخه وی او دنوکر څخه دصاحب جنسیت تخمینوی دا به معقول کارنه وی ځکه کیدی شی چی نوکریی له یوه ځای او صاحب یی له بل ځایه څخه وی او د دوی ترمنځه جنسیتونه هم متفاوت وی.

۳- دوی وایی دسید جمال الدین فارسی لیکنه ایرانی فارسی ته ورته وه.

ځواب: که دا خبره رښتیا هم شی دا حقیقت واضح دی چی سید جمال الدین په پښتو، فارسی، هندی، عربی، فرانسوی، انګلیسی او روسی ژبو باندی خبری کولی او دده د ذکاوت څخه وه چی په عربی ژبی باندی لکه دعربانو په شانی غږیده لکن هیڅا دا ونه ویلی چی دی عرب دی او عربی جنسیت لری سره ددی چی سید جمال الدین عربان دوست ګڼل او دمصر دپاره یی دایران څخه زیات خدمت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

دوم داچی لکه څنګه چی سید جمال الدین افغانی په مصر عربی ممالکو کی زیات او سیدلی ؤ عربی یی دعربانو په شانی ویلی همدا ډول په ایران کی هم دی زیاته موده اوسیدلی دی نو کیدی شی فارسی یی دایرانیانو فارسی ته ورته شوی وی) (باید ووایم چی داسی سست اوبی اساسه دلائل نشی کولی چی دسید جمال الدین څخه ایرانی جوړ کړی اونه دایران دپاره هم کوم ضرورت شته دی چی هسی په چټیاتو سید جمال الدین باندی دایرانی دعوی وکړی خصوصاً په دی عصر کی چی موږ یو تر بله د روابطو دتقویه کولو دپاره کارکوو او دښه ګاونډی توب هیله او امیدواری ددواړو خواؤ څخه ورځ په ورځی زیاتیږی.

څنګه چی د سید جمال الدین افغانی جنست او ملیت یو تاریخی حقیقت دی، او داسی بحثونه ډیر په خوا مثبتی واقعی نتیجی ته رسیدلی دی دا دی چی یو څه نور اسناد هم د پوره تائید د پاره په لاندی ډول راوړم:

1 - مستر (بلنت) په خپل کتاب (التاریخ السری) ۷۷ صفحه کښی لیکی: سید جمال الدین افغانی په خواله دی چی مصر ته نه ؤ راغلی دده جهانی تجربو د منځنی اسیا د دائری څخه تجاوز نه کولو دده تولد افغانی (د افغاستان اولاد) دی او دینی تربیه یی په بخاری کښی اخستی ده.[1]

2 - (شارلز آدمس) په خپل کتاب (الاسلام و التجدید) کی لیکی:

[1]. معلومیږی چی د مستر (بلنت) معلومات دسید جمال الدین د دینی تربیی په حقله ناقص دی ځکه چی بخاری ته دی د تحصیل د پاره نه دی للی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمال الدین افغانستان کابل ته نزدی په (اسعد آباد) کښی پیدا شوی دی.

3 - (جرجی زیدان) په خپل کتاب (مشاهیر الشرق) په ۲ ج ۵۲ ص کی لیکی: سید جمال الدین د سید صفدر زوی د افغان په وطن د کابل په مربوطاتو د کنړ په قریی اسعد آباد د کی د علم او شرف په کورنی کښی پیدا شوی دیړ

4 - (عبدالرحمن الرافعی) په خپل کتاب (تاریخ الحرکة القومیة عصر اسماعیل) ۲ج کی لیکی: سید جمال الدین د افغانستان د مرکز کابل د مربوطاتو د کنړ د ولایت د توابعو په یوی قریی اسعد آباد د کی پیدا شوی دی.

5 - (رشید رضا) په خپل کتاب (تاریخ الاستاذ الامام) ا‌ج ۲۷ ص کی لیکی: سید جمال الدین د کنړ د ولایت د قریو څخه په یوی قریی (اسعدآباد) کښی پیدا شوی دی او بیا کابل ښار ته د خپل پلار سره راغلی دی.

6 - وایی: د سید جمال الدین په عصر کی د کنړ ځینی ساداتو دی په دی ملامتونه چی د توری جهادی لکه د پلرو د میراث په شانی پری ایښی دی ځکه چی دی په ژبه او قلم جهاد کوی او د کفار و سره د قلم د سیاهی په وسیلی جګړه کوی(یعنی دده جهاد عقلی،استدلالی او منطقی دی) مګر دده پلرونو به ددښمنانو په مقابل کی په وینو جهاد کوه(یعنی د هغوی جهاد عملی او دوینو په قیمت ؤ). دا وینا ما په خپله په کنر کښی له دیرو څخه اوریدلی ده ، او ماورته ویلی جی د هغوی اعتراض مورد نه لری؛ ځکه هره زمانه او هر وخت او شرایط جدا علیحده خصوصیات لری او که دقیق و ګورو ثابتیږی چی د عقلی، استدلالی او منطقی حرکت تاثیرات ډیر او متین وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

همداوجه ده چی د سید جمال الدین د جهاد تاثیرات دده د پلرو د جهاد څخه تر اوسه پوری پاتی دی او په ټول شرق کی د آزادی د پاره دده بنیادی حرکت تر اوسه روان دیږ مقصد دا چی له دی وینا او روایاتو څخه معلومیږی چی سید جمال الدین افغانی د کنر د ساداتو څخه دی او د ده په عصر کښی او دده د عصر څخه وروسته تراوسه پوری د کنر خلک دی به قطعی او واضح ډول دکنړ دساداتو څخه شمیری.)

7 - دکنړ په ولایت کی ما دیوه معتمد سپین ږیری څخه واوریدل هغه دخپل پلار څخه حکایت کوه چی هغه ویلی: کوم وخت چی دسید جمال الدین افغانی پلار کابل ته بیول کیده هغه وخت سید جمال الدین وړوکی ؤ دا ورځ یخه ورځ وه او دشپی له خوا سخت باران وشو.

8 - په کابل کی می دیوه زوړ سړی څخه دکابل دلاهوری دروازی په منطقه کی اوریدلی دی هغه وخت چی دسید جمال الدین پلار کابل ته راوستل شو دی دکابل په «لاهوری دروازه ګدری کوڅه » کی اوسیده.

9 - له دی ټولو دلائلو څخه پورته دسید جمال الدین افغانی جنسیت او ملیت په بین المللی سویه هغه وخت ښه ثابت شو کوم چی په کال ۱۹۴۴م کی دده خاوره دترکیی څخه دافغانستان مرکز کابل ته نقل شوه او دکابل دپوهنتون ترڅنګه دعلی آباد په منطقه کی خښ او وربانډی جګه لوړه او مجلله مناره ودرول شوه.

اوس نو په دی اساس هیڅ شک پاتی نه دی چی سید جمال الدین افغانی دننګرهار په ولایت دکنړ په منطقه کی پیداشوی او یو سید افغان دی، په کنړ کی اوس هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دساداتو کورنی ډیری اوزیات شهرت لری، ډیری ځمکی ددوی په لاس کی دی او خلک یی دسیادت په وجهی زیات احترام او عزت کوی، په دوی کی پوه، عالم اووطن پالونکی خلک هم زیات تیر شوی اوشته دی، خصوصاً دسید جمال الدین اصلی کورنی په فضیلت او جهاد کی شهرت لری، دسید جمال الدین افغانی دتره زوی (حسین پاچا)د افغانستان دلویو شخصیتونو او مجاهدینو څخه حسابیږی.

حسین پاچا دمرحوم لوی مجاهد او مشهور عارف دهډی نجم الدین اخندزاده صاحب مریدؤ (دی مرحوم نجم الدین اخندزاده صاحب ته ډیر منلی ؤ او دلنگر واک دارؤ) دده او د مرحوم نجم الدین اخندزاده صاحب رحمة الله تعالی علیه دجهاد قصی دافغانستان په تاریخ کی ثبتی دی حتی چی تر اوسه پوری دانگلیسانو په مقابل کی ددوی دجهادونو اویرغلونو قصی کیږی او دهیریدو نه دی دسید جمال الدین افغانی دتره لمسیان سید عباس او بابا پاچا نومیدل دا دواړه هم د زیات اعتبار خاوندان ؤ ،ما دا دواړه لیدلی ؤ او زیات مجلسونه می ورسره کړی دی واقعاً چی ښه میړنی ؤ او لکه دسید جمال الدین افغانی په شانی دافغانیت اوسیادت اصلی خواص په کی زیات لیدل کیدل ددی دواړو اولاده اوس هم په ښیوه دره نور دکنړ په علاقه کی شته ده اود یاد خلک دی. (حقیقت دادی چی دمشرقی، لوی ننگرهار او دکنړ ټول سیدان دخپل گران وطن افغانستان سره قوی مینه لری او دخپلو نورو افغانی او پښتنی ورو ڼو سره همیش اوږه په غم او ښادی کی میړنی ولاړ دی او دتل دپاره خپلو افغانانو او پښتنو ورونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملی نوا میسو ددښمنانو په مقابل کی په سربښند لوهم نه دی ډیل شوی.)

## دشرق نابغه سید جمال الدین افغانی

(من سکنة «کابل» ومن اهالی الافغان السید جمال الدین من سادات «کنر») ددی نوشتی څخه د سید جمال الدین الحسینی په خپل قلم لیکل شویده معلومیږی چی دی دافغانستان دکنړ دساداتو څخه دی، او دا دبیحیا مخالفینو درد دپاره واضحه دلیل کیدای شی.[1]

سید جمال الدین دسید «صفدر» زوی دافغانستان دمرکز کابل مشرقی خواته، ننګرهار په ولایت دکنړ په منطقه داسعد آباد په قریه کی کال ۱۲۵۴ هجری قمری چی مساوی د ۱۸۳۹ م سره کیږی پیدا شوی دی.

دی کله چی خپل پلار سره کابل ته بوتلل شو، هلته یی دعربی علومو په زده کړه پیل وکړه، او دنحوی، صرف معانی، بیان بدیع او تاریخ علوم ئی و لوستل او بیایی په شرعی علومو کی دتفسیر، احادیثو، فقه اصول، کلام او تصوف علومو یادونه وکړه، ده دخپل عصر عقلی مشهور علوم لکه منطق او دنظری اوعملی فلسفی علوم هم ولوستل وایی: ده درياضياتو افلاکو علومو او په طب اوتشریح کی دځینو نظریو لوستنه هم وکړه.

---

[1]. سید جمال الدین افغان دمخطوطاتو دمجموعی څخه (دتهران په دانشګاه) کی طبع شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دتحصیل دپاره هندته دسید جمال الدین افغانی سفر**

سید جمال الدین افغانی هند ته لاړه او په هند کی دی یو کال او څو میاشتی پاتی شو ده هلته دخپلی استوګنی په موده کی دریاضیاتو علوم داروپا دنوی منهج او پروګرام په مطابق ولوستل او بیا بیرته خپل وطن ته وګرځیده.

**حجاز او بیت الله شریف ته د سید جمال الدین افغانی سفر**

کله چی سید جمال الدین افغانی دهند څخه خپل وطن افغانستان ته راغی دی دحج دفریضی داداء کولو په فکر کی شو نو په کال ۱۲۷۳ هجری قمری چی مساوی د ۱۸۵۷ میلادی وه دحجاز په خوا دحج د اداء کولو په نیت روان شو، ده په دی سفر کی چی تقریباً یو کال یی دوام وکړه په شرق کی اکثر اسلامی منطقی او ځایونه ولیدل.

**افغانستان ته دسید جمال الدین افغانی ګرځیدل او راتګ او دحکومتی وظیفو په سلسله ګی دده داخلیدل:**

سید جمال الدین افغانی په کال ۱۲۷۴ هجری قمری دحجاز څخه بیرته کابل ته راغی او دامیر «دوست محمد خان » دپاچا یی په وخت کی دحکومت دوظایفو په سلسله کی داخل شو او ددی امیر سره یی دهرات په هغه جګړه کی اشتراک وکړه کومه چی امیردوست محمد خان دهرات دنیولو او دخپل سلطنت سره یی دیو ځای کولو اراده کړی وه خو په دی جګړه کښی امیر دوست محمد خان هغه وخت مړشو چی هرات یی کال ۱۸۶۴ میلادی کی محاصره کړی ۆ خو دده لښکرو دده د مرګ په وجهی ځغرده نیونکی او متصرف نشول؛ بلکه دسختی جګړی وروسته متصرف وګرځیدل، دامیر دوست محمد خان دمرګ څخه وروسته دده زوی امیر شیرعلی خان پاچا شو اودده په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عصر او دور کی په افغانستان کی څه فتنی او داخلی جګړی پیښی شوی ددی وجه داوه چی انګلیسانو غوښتل چی دامیر شیرعلی خان او دده دکورنی نورو غړو ترمنځه اختلاف پیداکړی ترڅوپه دی وسیلی افغانستان دخپلو هندی مستعمر و سره یوځای کړی شی، په دی سبب د امیر شیرعلی خان او دورونو ترمنځه یی اختلاف سخت شو حتی چی سید جمال الدین افغانی د «محمد اعظم خان » سره ملګری شو چی په نتیجه کی محمد اعظم خان دافغانستان مرکز کابل ته ورسیده او په کابل کی یی خپل ورور «محمد افضل خان » چی په کابل کی بندی ؤ له بند څخه خلاص کړه او دافغانستان پاچا په نامه یی اعلان کړه خو دغه پاچا وروسته دیو کال څخه مړشو او دپاچا یی واګی «محمد اعظم خان » په لاس کی واخسته دا وخت دسید جمال الدین افغانی مرتبه او منزلت لوړ شو حتی چی د صدر اعظم په شانی یی اختیارات درلودل او دپاچا دپاره ډیر ښه امین مشاور ؤ.

وایی: سید جمال الدین افغانی دافغانستان پاچا «محمد اعظم خان » سره دده دپاچا یی څخه په او وروسته نه کاله ملګری ؤ او دده دا ټوله موده په جهاد او جګړه کی تیره شوه. یو څه موده وروسته نوی جګړه شروع شوه. دا هغه جګړه وه چی انګلیسانو یی انتظار ویسته، انګلیسانو دافرصت برابره ووچی دافغانستان په داخلی کارونو کښی لاس ووهی او د فتنی اوربل کړی، دوی دفساد دټولو وسایلو څخه کار اخسته خو په خاص ډول د رشوت ورکولو دخیانت دلیاری ډیر مخکی تلل، انګلیسانو زښت زیات مالونه او پیسی دافغانستان دقبایلو او قومونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مشرانو وویشلی چی په نتیجه کی یی «محمد اعظم خان » د پاچایی څخه لری کړه، محمد اعظم خان ایران ته وتښتیده اوهلته د ایران په «نیشاپور » ښار کی وروسته دیو څو میاشتو څخه مړشو.

په دی ډول کال ۱۲۸۵ قمری هجری کی چی د ۱۸۶۹ میلادی سره مساوی وه وروسته له دی چی دسید جمال الدین افغانی ملګرو شکست وخوړه جګړی خاتمه پیدا کړه.

باید ووایو چی سید جمال الدین افغانی ونه تښتیده او امیرشیر علی خان هم ده ته په دی وجهی چه دینی مقام اومنزلت یی درلوده او د رسول صلی الله علیه وسلم داولادی څخه ۇ څه ونه ویلی اونه یی ده ته د ضرر رسولو جرئت وکړه.

خو سره ددی هم سید جمال الدین افغانی مطئمن نه ۇ خصوصاً هغه وخت چی انګلیسانو غوښتل چی په افغانستان کی دخپلو مدا خلوګټی او فائدی لاس ته راولی.

سید جمال الدین افغانی دانګلیسانو د ناوړو استفاده کولو احساس کولو لکن د دفاع کولو هیڅ چاره ورسره نه وه (داوخت سید جمال الدین افغانی په افغانستان کی دانګلیسانو په ټولو دسیسو او ددسیسو څخه دناروا استفاده کولو په چالونو پوهیده خوځه یی دلاسه نه ۇ پوره او دهغه وخت نظام دده داصلاحی تحریک زغم نشو کولی همدا وجه وه چی سید جمال الدین افغانی په روانو اوضاعو باندی دننه په زړه کی سخت متاثرۇ او داظهار توان یی نه درلوده) نو په دی اثر سید جمال الدین افغانی څو مره چی فکر کولو بی له دی څخه یی بله چاره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

درلوده چی دخپل اصلی وطن افغانستان ته دوتلو تصمیم ونیسی.

(حقیقت دا دی چی خپل وطن هغه چی په کی پیدا، په کی یی خاپوړی کړی وی، په کی لوی شوی وی، په کی خپل او دپلار او نیکه اوقام او ټبر خوږی اوترخی خاطری ولری ډیر ګران دی او له دی څخه وتل او تښتیدل هسی عادی کارنه دی او په خاص ډول دسید جمال الدین افغانی په شانی لوی شخصیت دپاره) سید جمال الدین افغانی دخپل وطن افغانستان دخاوری او وطن په حقله ویلی دی:

«هی اول ارض مس جسمی ترابها» ژباړه: دا او له هغه ځمکه ده چی زما وجود ددی خاوره مسه کړی ده.

(په دی اساس سید جمال الدین افغانی ته هغه وخت دخپل ګران وطن افغانستان څخه دتښتیدو اووتلو حالت درد ناک او دسخت تأثر موجب دی افسوس چی نا مساعد شرایط دنبوغ او عبقریت خاوندان، دداسی سختو تکلیفونو زغمولو ته هم حاضروی).

دافغانستان څخه دسید جمال الدین افغانی وتل او دویم کرته هند ته دده تلل او هلته په هند کی دهندیانو د آزادی دپاره دده مجاهدی او کوښښونه :

څنګه چی مومخکی یاده کړه دامیر «شیر علی خان » دبیا قدرت لاس ته راوړو په وخت کی سید جمال الدین افغانی نشول کولی چی د افغانستان څخه د امپریالست دسیسی خنثا کړی نو مجبوره شو چی د حج په نامه یی د امیر شیر علی خان څخه دوتلو اجازه وغوښتله او هغه ورته اجازه ورکړه نو سید جمال الدین افغانی په کال ۱۲۸۵ میلادی کی د افغانستان څخه لاړه او دهند په خوایی دوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



واری توجه وکړه، کله چی دی هند ته ورسیده انګلیسان ویریدل چی دی به هندیان ددوی په ضد وپاروی نوځکه یی له ده څخه پوښتنه وکړه چی په هند کی څومره موده غواړی پاتی شی؟ دی په ځواب کی وویلی دوه میاشتی مګر په هند کی لیا دسید جمال الدین افغانی داستو ګنی موده له یوی میاشتنی زیاته نوه تیره شوی چی انګلیسانو له ده څخه دهند نه دوتلو غوښته وکړه او ددی وجه داوه چی په هند کی هرڅوک چی د سید جمال الدین افغانی په لیدو مشرف کیدل په هغو باندی به یی زیات تاثیر اچوه ده په هند کی هندیانو ته دانګلیسانو د ناروا استفاده په مقابل کی دغلی کیدو، ډاریدو او بد اطاعت په وجهی او داچی دانګلیسانو استعمار زغمی شرم او عارورځاندی کوه ویلی یی: هندیان خو په ملیونو ملیونو خلک دی اوکه دوی چیری پدغه اندازه مچان وی نو بنګه هاری به یی دبریطانیا د خلکو غوړونه کاڼه کړی وی.

وایی: په هند کی دسید جمال الدین افغانی وینا ۋ زیات تاثیر اچولو حتی ترداسی اندازی چی دی به له وینا څخه لیا خلاص نه ۋ چی اوریدونکی به یی ژړلی او ده به ورته د ژړا په مقابل کی داسی ویلی:

«اعلموا ان البکاء للنساء و السلطان «محمود» الغزنوی ما اتی الهند باکیاً بل شاهرا السلاح، ولاحیاة لقوم لایستقبلون الموت فی سبیل الاستقلال بثغر باسم »

ژباړه په یادلری چی ژړا دښځو خاصه او دښځو دپاره ده، سلطان محمود غزنوی هند ته په ژړا نه دی راغلی بلکه دجګړی په ټول لباس ملبس راغلی دی. یو قوم ته ترهغی ژوندی نه شی ویل کیدی اونه حقیقی ژوندلری ترڅوچی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزادی او استقلال دپاره دجنګ دسنګر په سرمرګ اووژلو ته په خندا خندا استقبال ونه کړی.

**دهند څخه دسید جمال الدین افغانی وتل، مصر ته دده سفر په قاهره کی دده څلویښت ورځی استوګنه اوهغه چی په دی وارده ته پیښ شول :**

په هند کی له هند څخه دسید جمال الدین افغانی دوتلو موجبات زیات شول، په هند کی هندیانو ته دده دآزادی تحریک دزغملو نه ؤ او دده وجود هلته داستعمار او امپریالست د بقا دپاره خطرؤ خوهر څه چی وه سید جمال الدین افغانی له هند څخه په هغی بیړی کی لاړه چی دهند دبحر په اوږدو روانه وه ترڅوچی دهند څخه جدا او دسویس ښار ته متوجه شوه او هلته ورسیده سید جمال الدین افغانی په کال ۱۲۸۶ هجری کی سویس ښار ته ورسیده او له هغه ځایه د قاهری په خوا روان شو، ده په قاهره کښی څلویښت ورځی تیری کړی.

سید جمال الدین دقاهری دهستوګنی په دی لږه موده کی دشام دشاګردانو دلیاری د اول ځل دپاره شیخ «محمد عبده »سره ولیدل او په دی ملاقات کی دسید جمال الدین افغانی او دده دی لوی شاګرد محمد عبده ترمنځه رابطه او علاقه پیداشوه.

شیخ محمد عبده وایی : کال ۱۲۸۷ هجری او دمحرم دمیاشتی اول ؤ چی سید جمال الدین افغانی سره می ولیدل او ملګری شوم ماله ده څخه څه درياضی، حکمة، فلسفی او کلام علوم زده کول او خلک به می دیته دعوتول چی ورڅخه استفاده وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخ محمد عبده وایی: دازهر شیخانو اوزیاتو شاگردانو په ده او ماپوری زیات تورونه لږول. د ازهر شیخانو عقیده درلوده چی ددغو علومو زده کړه عقیده ورانوی.

(په سید جمال الدین افغانی باندی تورونه هغه وخت زیات شول چی په شاگردانو کی دده په حقله دعلم او فضل په وجهی اخلاص زیات شو او هر وخت تنګ نظره علما ء له ځانه پورته عالم بدګڼی او دهغه داعتبار دمنځه وړو دپاره په ناروا پروپاګند واو دسیسو جوړولو پیل کوی.)

هغه وخت دټولو څخه زیات دسوریی ډیرو شاگردانو دده دعلم او فضل احترام او تقدیر کولو اودده دعلم څخه یی داستفادی زیاته دلچسپی او علاقه درلوده، دسوریی شاگردان دسید جمال الدین افغانی سره زیات خلط او ورته یی ډیر تمایل درلوده دوی له ده څخه وغوښتل چی دنحوی په ځینی کتابونو کښی ورته درس ووایی.

(دسید جمال الدین افغانی سره دده دپیاوړی شاگرد شیخ «محمد عبده » قوی رابطه او ورسره دنورو شاگردانو او خلکو مینه او علاقه او په لږوخت کی دده دعلم او فضل په خواد خلکو زیاته توجه دفاسد و عناصر ورخی وپارو لی او دده په ضد بی موجبه بدی پروپاګندی زیاتی شوی همدا وجه وه چی سید جمال الدین افغانی دقاهری څخه دوتلو تصمیم ونیوه او دخپلو ګرانو شاگردانو، مخلصانو او په خاص ډول دخپل زیات صمیمی او ذکی شاگرد محمد عبده څخه د جدا کیدو دپاره مجبور شو.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترکیی ته دسید جمال الدین افغانی سفر او هلته هغه سیاسی مسایل چی دی ورسره مخامخ شوی دی**

کله چی په مصر کی سید جمال الدین افغانی دازهر دځینی شیخانو دعداوت او دښمنی احساس وکړه نو تصمیم ونوه چی ته دمصر علاقه او قاهره پریږدی او په کال ۱۲۸۷ هجری کی چی د ۱۸۷۰ میلادی سره مساوی وه دترکیی په خوا روان شو.

دسید جمال الدین افغانی یو شاګرد چی «ادیب اسحق » نومیده وایی: کله چی دی دترکیی په ښار «استانه » چی اوس په «استانبول » شهرت لری ښکته شویو څه لږ موده یی هلته په یو نامعلوم ځای کی تیره کړه ترڅوچی د دولت یو وزیر وربāندی خبرشو.

مرحوم «رشید رضا » وایی : په ترکیی کی دسید جمال الدین افغانی دیوڅه لږو ورځو تیریدو څخه وروسته ده وکړی شول چی دترکیی د صدراعظم "«علی پاشا"» سره ملاقات وکړی.

څنګه چی په هغه عصر کی دترکیی سیاست مداران په دی عقیده ؤ چی ترکیی ته دخطر اتو څخه نجات ورکو ل یوازی په اسلامی وحدت سره کیدی شی نو ځکه دترکیی صدر اعظم عالی پاشا دسید جمال الدین افغانی په شانی دعالمو او مجاهد وشخصیتونو په قدر پو هیده حقیقتاً چی سید جمال الدین افغانی دهغو کسانو څخه ؤ چی غوښتل یی دغربی استعمار په مقابل کی باید ټول مسلمانان سره متحد او یو شی خو سید جمال الدین افغانی دنجات دپاره دمسلمانانو یووالی په دی کښی زیات مفید اومنتج ګڼه چی دخپل دین اصلی اصولو ته رجوع وکړی او دترکیی

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدراعظم «عالی پاشا » دمسلمانانو دپاره زیاته ضروری دا ګڼله چی یوازی دینی هنګامه او آوازه زیاته شی.[1]

هرڅه چی ؤ په عمومی لحاظ ترکیی کی دامپریالستی استعمار په مقابل ددینی تحریک زمینه ښه مساعده وه نو ځکه ترکانو دسید جمال الدین افغانی ښه هرکلی وکړه.

دا ښکاره او معلومه ده چی هغه وخت په ترکیه کی دسید جمال الدین افغانی دښه هرکلی وجه داده چی ترکانو دانګلیسانو په مقابل کی دسختی دښمنی احساس کولو او په ده کی یی دمسلمانانو دپرمختګ او نهضت دپاره شدید رغبت اوتمایل لیده همداسبب ؤ چی د ترکیی صدر اعظم ده ته لویه وظیفه ورکړه او دترکیی دمعارف په مجلس کی یی دغړی په حیث وټاکه.

په ترکیی کی دسید جمال الدین افغانی قواری، لباس او رویی داول ځل دپاره زیات خلک ځان ته جلب او جزب کړه ځکه چی ده هغه وخت چپن وطنی کالی اوغټه پګړی استعمالوله خو همدا چی دترکیی خلک ورته نږ دی شول په ده کی یی نوی ژوندی اجتماعی افکار هم پیدا کړل او درسمی دینی علما ؤ څخه یی زیات په ده کی په دین باندی دغیرت احساس وکړونو ده ته دخلکو احترام توجه او مخه زیاته شوه مګر په عین حال کی دحسد او کینی په اثردینی کسان ورڅخه دخپلو شخصی اغراضو له امله

---

[1]. د سید جمال الدین افغانی او دترکیی دصدر اعظم « عالی پاشا » ترمنځه په اصل کی د اختلاف منشا هله دی پیداکیږی چی (تش داسلام په نامه نظامونه داسلام ددین داساسی او بنیادی اصولو تعمیل نشی ځغملی او دهر څه نه یی زیات دخپلو ناروا استفادو دپاره عائق او مانع ګڼی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



متنفر شول او عملایی له ده څخه دنفرت موجبات سخت زیاتول خو ددوی دغه شانی بدو رویو او حرکتونو ونه کړی شول چی دده دسیاسی او اجتماعی نظریاتو مخه ونیسی اونه دده دعالمانه او عاقلانه وینا په اوریدونکو باندی کوم منفی تاثیر واچوی.

دا وخت په ترکیی کی دسید جمال الدین افغانی دجهاد او تحریک اندازه داسی مرتبی ته ورسیدله چی مستر « بلنت » داسی اعتراف کوی:

په ترکیی کی دعثمانی دوری واک دارانو کوښښ وکړه چی ء دخپل حکومت بڼه قانونی حکومت ته واړوی په ظاهر کی منشأ یی داسی ښکاری چی دسید جمال الدین افغانی وینا ؤ او تحلیلاتوورباندی تاثیر اچولو ؤ » په هر حال سید جمال الدین افغانی دترکیی په مرکز کی دخلکو سره بحثونه کول، خطابی یی ایرادولی او مسلسل لګیا ؤ په مساجدو او مجلسونو کی یی ویناوی کولی او په خاص ډول د « ایاصوفیا » او د « احمد » په دواړو لویو جامع مسجدونو کی له ده څخه زیاتی خطابی اوریدل کیدلی (لکه چی وویل شول په خلکو باندی دده خطابو او وینا ؤ زیات تاثیر اچوه او دتاثیر اندازه ورځ په ورځی زیاتیده ترڅوعمومی اتجاد دده په خوا واوښته) دی وضعی دسید جمال الدین په متعلق دکینه کونکو دکینو او دسیسو کولو احساس وپاروه، حقیقت دادی چی دغه شانی احساس دشرق دبیرته پاتی کیدو دعواملو څخه یو عامل دی لکه چی په عمومی لحاظ دشرقیانو په حقله ویل کیږی «همداچی په شرق کی څوک یو څه لږ شانی کامیابیږی او دده کامیابی او بریالیتوب هیڅا ته ضررهم ونه رسوی اونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دچاځخه دروزی دقطع کیدو موجب شی بلکه لیا په خلکو باندی دخیر او فائدو دروازی خلاص کړی خوسم دستی متصل ورسره داسی بدکسان هم پیداشی چی د هغو سینی او زړونه په دغه شانی کامیابی اوبریالی توب باندی سختی متأثره کیږی داوخت اشرار اوبد عناصر کوښښ کوی چی جوړ کارونه وران کړی او دښو کارونو کوونکی بدنامه وګرځوی ترڅو ددوی په شانی راکد بی توان او بی قدرته پاتی شی او که بیا کله ددی خائنانو وران کاری کوم ځای ونه ونیسی او دحق دخاوندانو جهاد او تحریک دکامیابی او بریالیتوب مرتبی ته ورسیږی هغه وخت داسی پست خلک بیا په بل مترقی رنګ واوړی او د مترقی حرکتونو دراوستو دپاره تظاهر او ریایی په کار اچوی او دصالحو عناصرو په شانی ځان ښکاره کوی او غواړی چی په ناکړلو ښو مترقی کارونو دی ددوی صفت وشی، حتی دوی کوښښ کوی چی حقائق سرچپه کړی او د مترقی کامیابی او بریالیتوب نسبت یوازی ځان ته وکړی.

(حقیقت دادی چی په شرق کی اوس هم داسی خائنان شته دی او ماپه خپل ژوند کی ډیر داسی پست اومرتجع کسان ولیدل چی یو دم یی ځان په بل شانی عیار کړه او په پوره بی حیایی ځان دهرچانه زیات دمترقی حرکتونو طرفدار او ګڼه که څه هم دا کار د ترقی راوستوله امله دمترقی عناصرو دپاره مطلوب دی خودقت په دی کی په کار دی چی دغه شانی خائن عناصر په منافقانه ډول هڅه لری چی دمترقی حرکتونو د شنډولو دپاره کاروکړی اوددوستی په لباس کی غواړی چی د واقعی پرمختګ او نهضت مخه ونیسی همدا وجهه ده چی دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوښښ کوی چی دکار خلک په سلهاؤ حیلو، دسیسو او بی حیایی بد معرفی او دکار پوه او بادرده خلک فلج کړی ترڅو دامپریالست ایجنټیانوته دوران کاری موقع په لاس ورشی باید بیداره اوسوچی دامپریالست ایجنټیان د امپریالست دشبکو له خوا تقویه کیږی اوملی خائنانو ته دهرچاڅخه زیات ملی عناصر دښمنان ښکاری او دملی ذهنیت سره شدیده دښمنی لری.)

حقیقت دادی چی سید جمال الدین افغانی په خپل ژوند کی له دغه شانی ماجرا او پیښو څخه زیات زوریدلی ؤ نو ځکه دعروةالوثقی په مجله کی ددی مطلب څخه داسی تعبیر کوی:

«لایبعد ان یسخر بالعالم الفاضل اناس لاخلاق لهم، الا ویقصده بالاضرار من لاذمة له، ولکهنم بانفسهم یهزؤن، وبمصالحهم یضرون، ولایطول علیهم الزمن فی هذا العمل، بل لایلبثون اذا بدت الثمرة الشهیة ان یهرعوا لاقتطافها...ولایسعهم بعد ذلک الا الحمد لغارس الشجرة، ثم قال: بل ربما نسبوا الفضل لانفسهم... » ژباړه دا دومره لری خبره نه ده چی په عالم او فاضل باندی بد او ناپوه خلک مسخری وکړی او یا ورته دضرر د رسولو قصد هغه څوک وکړی چی دجامعی سره کوم تعهد، قید او بست ونه لری خو دوی په دی نه پوهیږی چی دخپل ځان پوری استهزاء کوی او خاندی او خپلو مصالحو ته ضرر رسوی، دا ثابته شوی ده چی په دغو کسانو باندی په دغه شانی ناوړه رویو کی لږه موده لیا نوی تیره شوی اونه څه ځنډ راغلی وی چی دښو حرکتونو څخه په زړه پوری میوه ښکاره شی داوخت نو دوی د هرچا څخه زیات ددی میوو دټولولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په لاس راوړلو دپاره هاند باسی...له دی څخه وروسته ددغو خطا کارانو نور څه، دلاسه نوی پوره بی له دی چی یواځی د ونی را ایښودونکی ستاینه وکړی. بیا سید جمال الدین افغانی وایی: ډیر کرته دغه کسان داهم کوی چی دټول فضل او خدمت نسبت ځان ته کوی یعنی وایی: دا دده د مساعیو نتیجه ده او په دروغو دنورو خلکو داساسی او بنیادی خدمتونو مصدرځان ګڼی.

په دی اساس دتأسف ځای دی چی په ترکیه کی ددینی علماؤ څخه یوتن چی «حسن فهمی افندی » نومیده او دشیخ الاسلام په لقب ملقب ؤ په سید جمال الدین افغانی باندی یی هغه وخت کینه او حسد پاریدلی ؤ کوم چی سید د معارف په مجلس کی دتعلیم او روزنی دخپریدو دپاره ښه په زړه پوری پیشنهادونه کړی ؤ. (دغو پیشنهادونو زیات ابتکارات درلودل او داصلی استعداد څخه یی دتربیی او تعلیم اسانه عملیه شروع کړی وه څنګه چی دغو ابتکاراتو دټول مجلس دغړو توجه جلبه کړه اودسید جمال الدین افغانی دعلم او فضل څخه یی ترجمانی کوله نو ځکه د حسد کینی او رخی په اساس، حسن فهمی افندی باندی چی په ترکیه کی یی خپل ځان یولوی شخصیت ګڼه او دشیخ الاسلام لقب یی ګټلی ؤ قهر او غصه راغله او دخپل قهر او غصی دښکاره کید و موقع یی مساعد وخت ته وساتله.) حقیقت دادی چی کینه او حسد دضعف او ډاری څخه پیداکیږی ځکه چی قوی او شجاع سړی ددی له پاره کینه او حسد نه کوی چی کولی شی خپل مطلب ته ځان ورسوی مګر ډارند او بی کفایته انسان نشی کولی چی ښه کاروکړی نو کوښښ کوی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکینی او حسد په اساس جوړ کارونه وران کړی همدا وجه وه چی دحسین فهمی افندی ړنده کینه او حسد وپاریده او دسید جمال الدین افغانی په ضدیی داسلام له نامه څخه ناروا استفاده وکړه او خپل مقابل یی داسلام په خلاف متهم کړه ترڅو خلک ورڅخه متنفر شی، دا جګړه دسید جمال الدین افغانی د هغی خطابی څخه وروسته شروع شوه کو مه چی ده دا خطابه په اواخرو د ۱۸۷۰ میلادی کال چی مساوی د ۱۲۸۷ هجری کال او د رمضاان میاشت وه د ترکیی په دارالفنون کی ایراده کړه. که څه هم سید جمال الدین افغانی داحتیاط د پاره خپله دغه خطابه د معارف وزیر او دتر کیی ځینی لویانو ته لوستی وه او هغوی د خطابی پوخ والی او ابتکار ته حیران شوی و او ستاینه یی کړی وه خو بیا هم دراتلونکو تخریباتو مخنیوی ونه شو همغه و چی دجلسی او خطابی د لوستلو ورځ راغله او له هری خوا څخه خلک ددی نادر او لوی عالم څخه کوم چی د خلکو په ژبه او سویه به غږیده دوینا او خطابی د اوریدو دپاره راغلل. دا خطابه او نوشته خاص ددی دپاره وه چی دفن او صنعت څخه بحث و کړی او هغه روښا نه کړی چی د فن او صنعت د لیاری د خلکو منافع تامین کړی شی.

په دی خطابی کی سید جمال الدین افغانی د فلسفی او نبوت په هکله یوه مقایسه او مقارنه وکړه اوپه خپل تحلیل کی یی وویلی: فلسفه د ښه بهتر و صنعتونو څخه بهتر صنعت دی او دا په زده کړی او څیړنی لاس ته راځی خو نبوت الهی بښنه ده چی الله ج چا ته چی یی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړی دبښنی په ډول ورکوی او یا ددی دپاره څه خاص بند گان غوره کوی،سید جمال الدین افغانی وویلی:

نبوت د فلسفی او حکمت څخه بل فرق هم لری هغه داچی نبی د خطایی څخه معصوم او پاک انسان دی چی ده ته بی دکومو مقدماتو له ترتیبه او بی له غوښتنی وحی راغلی وی مگر حکیم او فیلسوف خطا کیږی هم او دی حقیقت ته تر هغه نشی رسیدلی تر څو چی حقیقت ته د رسیدو دپاره زیاد کو ښښ و نه کړی او کله حقیقت ته سره د کو ښښه حتی هیڅ کله نه هم رسیږی. ددی خطابی دایرادولو څخه وروسته حسین فهمی افندی د خپلی کینی زهر هره خوا وپاشل او ویلی: سید جمال الدین په دی عقیده لری چی نبوة د صنعتونو څخه یو صنعت دی،دی افندی دمسجدونو واعظان او ددین ساده علما د سید جمال الدین افغانی په ضد و پارول تر څو پری هجوم راو ړی او په کفر او الحادیی متهم کړی.[1]

سید جمال الدین افغانی د خپل ځان څخه ددفاع له امله د حسین فهمی افندی دبهتان محاکمه و غوښتله. دهغه وخت جریدو ددوی په اختلافات کی د لوستونکو دپاره ښه دلوستلو شیان برابرولی شول، نو کوښښ و شو چی ددی اختلاف په متعلق څه جوړ او یا څه زیات شی. هغه وخت دترکیی خلک ټول دوه ځایه شول،یوی خوا د حسین فهمی افندی پلوی کوه او بله دده مقابل سید جمال الدین افغانی مرسته کوله. هغه وخت ځینی پوهانو سید جمال الدین افغانی ته وویلی چی صبر وکړه او

---

[1]. ددکتور محمود قاسم له کتاب «جمال الدین الافغانی »څخه (۱۹-۲۰)صفحو او مخونو څخه استفاده وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکو ورځو ته د حق او باطل د ښکاره کیدو و ظیفه و سپاره مگر ده بی له دی حق واضع شی نورځه ونه منل.

دا جگړه او اختلاف داسی اندازی ته ورسیده چی د ترکیی صد راعظم داختلاف دفطع کیدو دپاره دیته مجبور شو چی سید جمال الدین افغانی ځخه یی و غوښتل او وویلی:مهربانی وکړه داوس له پاره د ترکیی «استانه» یعنی «استانبول» ښار ځخه لاړ شه تر ځو چی اختلاف ورک او قراری شی ورته به بیاراشی. دا په ښکاره او ظاهری ډول هغه ځه و چی په دارالخلافة ترکیی کی پیښ شول.

(زما په عقیده او تحلیل که ځه هم هغه وخت ترکانو دا مپریالیست او استعمار دخطراتو ددفاع دپاره اسلامی و حدت اویووالی غوښته خو دغه یووالی یی په دی ډول غوښته چی داسلام با داری به دترکانو په لاس کی وی او د هغه وخت دترکی نظام اویان به په خپلو کړو اووړوکی خپل واکه وی خو سید جمال الدین افغانی دواقعی اسلام دپاره کار کاوه او داسلام په نامه د ناروا استفادو سخت مخالف و، به دغه لیاره کی دد ه تحریک په ټولی ترکیی کی سخت تاثیر واچوه نو په دی اثر ترکی نظام دسید جمال الدین دتاثیر او تحریک ځخه په سخته ویره کی ولویده نو د حسین فهمی افندی په شانی دینی علمائی دده په ضد تحریک کړل، اختلاف ئی پیدا او زیات ئی کړه او په دی بهانه یی سید جمال الدین افغانی دترکیی د خاوری ځخه وویسته)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دترکیی څخه دسید جمال الدین افغانی وتل او اول حجاز اوبیا مصر به دده تلل**

سید جمال الدین افغانی د قهر او غصی په حالت کی دترکیی څخه لاړ او یا و شړلی شو دی اول حجاز ته لاړه او هلته یو څه لږه موده پاتی شو خو څنګه چی دهغه ځای هوا د ده دصحت سره برابره او ملائمه نه وه نو د دوم واره لپاره ئی مصر ته د تللو اراده وکړه او مصر په خوا روان شو.

**مصر ته دوهم وار سید جمال الدین افغانی رسیدل او هغه حالات چی ده ته په مصر کی داخل پیښ شول .**

کال ۱۸۷۱ میلادی ۲۲ د مارچ میاشتی مساوی داوائلو د ۱۲۸۸ هجری کال ؤ چی سید جمال الدین افغانی مصر ته ورسیده.

دا هغه ورځی وی چی په مصر کی د مصر صد راعظم «ریاض پاشا »ؤ او په «ناظر النظار» یادیده. باید دانښکاره کړو چی ریاض پاشا سید جمال الدین افغانی مصر ته د تګ له امله مایل کړی ؤ اودا ئی ور ته ښه ښکاره کړی وه چی په مصر کی استوګنه و کړی.

ریاض پاشا په ترکیه کی دسید جمال الدین افغانی سره پیژند ګولی پیدا کړی او ورسره ئی کتنه کړی وه ریاض پاچا په سید جمال الدین افغانی کی دا استعداد لیده چی دغربی خطر په مقابل کی د مصری عامی رأیی د تحریک دپاره په ده اعتماد کیدی شی یعنی غربی هغه خطر چی آثار او علائم ئی دمصر په چاپیریال کی ښکاره کیدل.

ریاض پاچا داقتصادی،سیاسی، او فکری نهضت او پر مختګ دپاره زښته زیاته هڅه درلوده او په دی ئی باوروو چی سید جمال الدین افغانی کولی شی چی د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

وطنی او ملی غیرت او میړانه روښانه او وپاروی؛ ځکه چی ده په د ه کی دا توان لیده چی کولی شی دحقوقو دمطالبی دپاره خلک انقلابی حرکت ته وادار کړی نو کله چی سید جمال الدین افغانی مصر ته راغی دمصر حکومت دده ښه هرکلی وکړه او په میاشتی کی ئی ورته لس پونډه معاش و ټاکه او له بلی خوائی داستوګنی یو داسی ځای ورته برابر کړه چی که ؤغواړی خپلو شاګردانو ته په کی درس هم ورکړی.

وایی: دی په ازهر کی اوسید، خو بیا له هغه ځایه څخه لاړه وایی:دی په «خان خلیلی» او یا په «حارة الیهود» منطقو کی اوسیده ځینی وایی: دده دا زهر علماؤ تر منځه داسی مناظری او بحثونه را غلل چی دنفرت موجب شول.

حقیقت دا دی چی سید جمال الدین افغانی به ازهر ته بی دزیارت او کتنی په ډول نه تلو او دازهر څخه دده کتنه هم یوازی دجمعی په ورځ وه خو سره ددی هم دته له هری خوا شاګردان او طالبان راغلل او ورڅخه دوی باندی دده تاثیر دسیاسی له اړخه زیات ؤ.

په هغه وخت کی دسید جمال الدین افغانی مجالس او صحبتونه معروف او مشهور دی او دده داسی عادت ؤ چی ورځ به ئی په کورکی تیروله خو همداچی شپه به راغله ، په خپله امسا باندی به ئی تکیه کوونکی (ازبکیه)محلی ته نژدی دقهوی دکان په خوا روان شو، دا دکان د «قهوة البوسته » په نامه یادیده هلته به دی کیناسته او نور شاګردان او ملګری به ئی لکه د نیم دائری په شکل ورڅخه چاپیره شول دده په شاګردانو او ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښی دلغت، شعر،منطق، طب، کیمیا، تاریخ، جغرافیی،هندسی، او د طبیعی علومو د زده کړی کسان ؤ دوی به دسید جمال الدین افغانی څخه په دغو علومو کی د قیقی پوښتنی کولی او ده به ورته دهری پوښتنی او اشکال په مقابل کی په سلیس عربی ژبی ځواب ویلی دده ځوابونه لکه دسیلاب په شانی بی دکوم خنډ او ځنډ څخه بهیر درلوده چی په اوریدونکو به ئی دهشت او تاثیر اچوه او د هر اعتراض کوونکی او پوښتنی کوونکی دپاره په ئی قناعت ورکولو دا جلسه او علمی غونډه به دشپی ترډیره وخته پوری روانه وه او په آخر کی ئی د قهوه خانی پیسی ورکړل، بیر ته به خپل کور ته وګرځیده.

سید جمال الدین افغانی کله چی داسماعیل دقدرت په وخت کښی دمصریانو په احوال او مسایلو پوه شو، نو ددوی په وران ویجاړ او بدی و ضعی متأثر شو او په دی ئی باور راغی چی دمصریانو د بیداری دپاره بی له تعلیمه بله لاره نشته ده ځکه چی جهل ددښمن کلک ملګری دی.

سید جمال الدین افغانی هلته دوطن د اولادونو ترمنځه دمرستی او تساند اساسونه کیښودل ځکه چی هغه وخت مصریان دسختو لانجو سره مواجه ؤ،دوی به دا عقیده درلوده چی دخپلو پاچایانو غلامان دی، دوی دظلم په مقابل کی بی له رضا او اطاعت څخه بله چاره او حق نه لری،ددوی داکثرو سره دیووالی او خپلو حقوقو د ژوندی کولو او اخستلو فکری نه ؤ ، حتی که چیری هغه وخت مصریانو پاچایانو دا منلی وی چی خپل ولس دځانه سره دوطن دمصالحو دټاکلو په فیصلی کښی شریک کړی او ددوی دپاره پارلمانی مجلس جوړ کړی نو به یو عجیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت پیدا شوی ؤ ځکه چی چپ او معارض حزب اثر به نوی او دپارلمان غړی به ټول ښی خواته ټولیدل،ټول به لکه دکڼو په شانی استعمالیدل او دپارلمان هر غړیی به دوطن څخه دفاع او دحاکم سره مناقشه، بحث او حساب کول کم عقلی او بی ادبی گڼله.

نو په دی اساس دسید جمال الدین افغانی په نزد عبث او بی فائدی کار ښکاریده چی په مصر کښی داصلاحاتو په منظور سیاسی او پارلمانی تنظیم برابر کړی بلکه دهری څه نه اول دا ضروری کار ؤ چی دزړونو او فکرونو دروزنی او اصلاح کار برابر شی ځکه که خلک یو واری پوه شی بیا نو دخپل حکومت جوړول ورته آسانیږی نو په دی اساس سید جمال الدین افغانی ته دا جوته شوه چی دا خبار او خپرونو دلیاری عامه افکارښه اصلاح کیدی شی ښه تأثیر اچوی او دافکارو دتحریک دپاره ښه لاره ده نوځکه ئی دځینو جریدو په پیداکولو او خپرونو کی کوښښ و کړه او د خپل څه پیروانو سره ئی دا غوټه کړه چی دمصر په نامه یوه جریده راوباسی نو په مصر کښی ئی ددی جریدی دخپرونی کار برابر او ادیب اسحق ئی دلیکلو ریاست په غاړه واخیست څه موده وروسته ده مناسبه و لیده چی د«اسکندریه »ښارد «قاهری »څخه دا خبار ویستلو د پاره ښه مساعد دی نو دا دیب اسحق څخه ئی و غوښتل چی هلته لاړ شی او «دسلیم نقاش» سره د(التجارة) په نامه د بلی جریدی په خپرونه کی مرسته وکړی او دخپلو شاگردانو امام «محمد عبده » او «ابراهیم اللقانی» څخه ئی وغوښتل چی په دغه دواړو جریدو کی دتوان په اندازی خپلی اجتماعی او ادبی مقالی خپری کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وخت سید جمال الدین افغانی کوښښ کوه چی په سیاسی او اجتماعی موضوعاتو کی لیکنی وکړی کله چی دغه حرکت دده دشهرت او فعالیت د څرگندیدو دپاره لوی عامل شو، هغه وخت سید جمال الدین افغانی خپلی لیکنی کله په خپل اصلی نوم او کله ئی په مستعار نوم «مظهر بن وضاح» خپری کولی لکه چی دده سیاسی لیکنو لویه هنگامه او آوازه پیدا کړه دغو خپرونو په مصر کی زیات تأثیر واچوه او انگستان ته هم صادریدلی.

په دی مقالو او خپرونو کی سید جمال الدین افغانی دشرق په استعماره کی دانگلیسانو غدر ښکاره تحلیلولی او ددوی دهغو دسیسو څخه ئی پرده پورته کوله کومی چی په کمزورو ملکونو ئی دخلکو او ددوی دحاکمانو ترمنځه تفرقی اچولو کار کولو.

سید جمال الدین افغانی دا واضحه کړه چی امپریالیستی استعمار دا دعوی کوی چی غواړی دکمزورو قدرتونو ساتنه او حمایه وکړی خو په زړه کی د خلکو دتیت او پرک کولوارا ده لری.

دوی په عین وخت کی مهربانی،داصلاحی کوښښونو،د ظلم د رفع کیدو او دخلکو د ژوند دښه کیدو تظاهر کوی مگر په زړه کښی د امپریالیستی داستعمار راوستلو تصمیم لری. دی مقالو او خپرونو دانگلستانو توجه او اهتمام تر داسی اندازی جذب او جلب کړه چی په انگلستان کی د احرارو دیمکرات د حزب رئیس «گلادسون» دسید جمال الدین افغانی مقالو او خپرونو ته داشاری په ترڅ کی وائی چی دی په اسلامی نړی کی د فکرتی تحریک د لویو رهبران څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

دسید جمال الدین افغانی سیاسی ټولی ښوونی ویناوی،خپرونی او تحریک دخمود دمنځه وړو او دعمومی بیداری او یقظت دپاره ؤ، همدا وجه وه چی دمصریانو دبد حالی څخه یادونه کوله او بی له بی حوصله کیدو څخه به ئی مصریانو ته ویلی: نژدی ده چی دوی دغلامی او بردگی له بنده څخه خلاص شی ده په ښکاره ډول مصریان تر ټل د بی زړه توب شرم او عاریی ورته ورکوی او دانگستانو او تیر و زمانو دټولو هغو ولسونو داستعمار څخه ئی ډا رول کوم چی ددوی په سرئی باداری او حکومت کړی وی.

سید جمال الدین افغانی به مصریانو ته ویلی: دا ولی دوی دخواری ورائی او ذلت ژوند قبلوی؟ او بیا دوی ددغه شانی ذلیلی وضعی دمنلو دپاره خپل ځان په داسی سستو دلائلو غولوی چی وائی: دا د دین لارشونه ده؛ لکه چی وائی:«انهم قوم صابرون راضون بما قسم الله لهم» ژباړه دوی دالله پاک په قسمت کی چی دوی ته ئی ورکړی صابر او راضی قوم دی. سره ددی چی دوی دسر په ستوگو وینی چی واک لرونکی ددوی دغلط صبر او توکل په حالت کښی هم په دوی قساوت او بی رحمی کوی.

سید جمال الدین افغانی د مصریانو په هکله وائی «لوکان رای هذه الرعیة قلیل من الاعتداد بالنفس، والاحساس بالکرامة لماقبلت الذل و الضنک. الیس عجبا ان یضحک هؤلاء القوم فی حین یجدر بهم البکاء لقد الفوا أن یقابلوا المصائب بالمرح و الابتسام»

ژباړه: که چیری دغه ملت څه لږه اندازه خپل ځان باندی اعتماد او دکرامت احساس درلودلی نو به ئی دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شانی ذلت او ساده توب نوی منلی آیاد تعجب خبره نه ده چی دوی د ژرا په موقع کښی خاندی حقیقت دا دی چی دوی دمصیبت او لانجی سره په ټوقو خندا مقابله کوی.

باید ووایو چی دا یوازی د مصریانو خاصه نه ده بلکه په عام او متفاوت ډول په ټولو شرقیانو کی داصفت لیدل کیږی لکه چی مرحوم «الکواکبی» دشرق خلکو دپاره وایی:«هل لکم فی هذا الصبر فخرا و لکم علیه أجر؟ کلا والله انما انتم وهمون، لیس لکم الا القهر فی الحیاة، وقبح الذکر بعد الممات، لانکم ما افدتم ولاستفدتم من الوجود، بل أتلفتم ماورثتم عن السلف و صرتم بئس الواسطة للخلف..تشکون الفقر ولا سبب له غیر الکسل،هل توجون الصلاح وانتم یخادع بعضکم بعضا ولا تخدعون الا انفسکم، ترضون بادنی المعیشه عجزا ، وتسمون قناعة، و تهملون شئونکم تهاونا وتسمونه توکلا لماذا تحکمون فیکم الظالمین حتی فی الموت؟ ألیس لکم من الخیار ان تموتوا کما تشاءون لا کما یشاء الظالمون؟ هل سلب الاستبداد ارادتکم فی الموت؟»

ژباړه آیا تاسو ته په دی بی معنی صبر کی کومه فایده او افتخار شته دی؟نه خیر په والله چی ډیر بدخیال او تو هم کوی،تاسو ته له دغه بد عادت څخه په ژوند کی بی له قهر او غضبه اودمرگ څخه وروسته بی له بدی یادونی بل څه نشته دی . که تاسو دخپل ځان څخه دځان او دنورو دپاره کومه گټه وانه خستله بلکه دپلرو میراث مو ضائع او داولادو دپاره بده واسطه شوی..... تاسو دفقر او عاجزی څخه شکایت کوی او په دی نه پوهیږی چی ددی سبب او علت بی له تنبل توب څخه بل څه نه دی. ایا تاسو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاحاتو هیله لری حال داچه تاسو یو تر بله غولونه کوی او په دی نه پوهیږی چی خپل ځان غولوی، تاسو دکمزورتیا په وجه په تیښ او پاتی ژوند راضی ئی او دا د قناعت په نوم یادوی، خپل کارونه مو دسستی او تنبلی په واسطی پری ایښی دی او بیا ئی دتوکل په نوم یادوی....دا ولی ظالمان په تاسو باندی حتی دمرګ په حالت کی هم مسلط دی آیا تاسو د دی واک نه لری چی په خپله خوښه مړه شی نه دظالمانو په خوښه، نه پوهیږم چی دا، ولی استبداد له تاسو څخه اراده اوواک حتی دمرګ په حالت کی هم سلب کړی دی؟

سید جمال الدین افغانی هغه وخت په اروپایی هغو دولتو باندی تهاجم او حمله کوله کوم جی دمصریانو په کارونو کی مداخله کول غوښتلو.

سید جمال الدین افغانی دا احساسوله همدا چی احزاب لپاره جوړه شوی نوی چی دمشرانو ترمنځه ئی اختلافات پیداشی او ورڅخه ښه مخلص عناصر ووځی خوسره ددی هم څنګه چی په مصر ګی حزبی حرکت روان او مسلم حقیقت او واقعیت ؤ نوځکه دی په کال ۱۸۷۸میلادی کی مجبوره شوی چی په (الماسونی) حزب کی چی یو تربله ئی کلک روابط درلودل دا حل شی. حتی چی دی وروسته دلړی مودی څخه ددی حزب در ئیسانو څخه وګرځیده[1] خوڅنګه چی سید جمال الدین افغانی نشول کولی چی داسی ډارنو او سستو ملګرو سره کار

---

[1]. داستاد احمد امین د تالیف - زعماء الاصلاح فی العصر الحدیث (۷۲-۷۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړی نو ځکه ئی یو وطنی او ملی ټولنه جوړه کړه او په هغه کی ئی خپل شاگردان او پیروان راټول کړل چی شمار ئی دری سوه غړو ته رسیده او ده ئی ریاست په غاړه واخیسته، په دی حزب کی دخپلو حقوقو د غوښتنی تحریک شدت پیدا کړه، په دوی کی د آزادی سره دمینی او علاقی تلقین زیات شو او سید جمال الدین افغانی دخپل حزب غړی دیته لمځول چی د پاچایانو او واگ دارانو د مراقبت او کنترول دپاره د قانونی ژوند مطالبه او غوښتنه وکړی همدا وجه وه چی توفیق پاشا چی دمصر ولوی واکدار اسماعیل زوی ؤ دسید جمال الدین افغانی دلیدو غوښته وکړه او په دی کتنه کی ئی ورسره وویلی چی دی په یقینی ډول دمصریانو خیر او سعادت غواړی.

او دمصر د نهضت او پرمختگ سره علاقه لری خو څه وکړی چی په خپله ومصرو لس دخپل پرمختگ څخه غافل او جاهل دی نو دی به په یوازی څه وکړی شی؟ سید جمال الدین افغانی په ځواب کی وویلی:

اجازه راکړه چی تاسو محترم امیر ته په آزادی، صراحة او اخلاص ووایم دمصر ولس لکه د نورو ولسونو په شانی دجاهل،غافل او بیکاره څخه خالی او پاک نه دی خو دعالم او عاقل څخه محروم هم نه دی نو په کوم خالی نظر چی ته مصری ولس او خلکو ته گوری هغوی هم همغسی تاسو لوی جناب ته گوری خو که تاسو ددی مخلص نصیحت قبول کړی او په دی کار باندی چالا کی وکړی چی د شورا لیاری خلک د وطن په ښادی نظریی حرکت او عمل کی شریک شی دا کار به ستاسو قدرت محکم او سلطنت ته به مو داوم ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

په ظاهر کی توفیق داسماعیل ددی نصیحت قدر او مننه وکړه او دا وعده ئی وه کړه چی که دده وخت راشی دداسی اصلاحاتو دپاره به اقدام وکړی ځکه چی په دی وخت کی ټول اختیار دده د پلار اسماعیل سره دی. دسیدجمال الدین افغانی او دتوفیق تر مینځه دغه رابطه ددی سبب شوه چی د توفیق مننه زیات وشوه؛ ځکه چی دده په خوا دمصر د لویو منصبونو رتبو خلک متوجه شول او دعلم خاوندان کوم چی سیاسی او اصلاحی افکار ئی نشرول ورسره ملگری شول.

له بلی خوا په همدی وخت کښی داجراء توله پلوه داسماعیل ظلمونه او ناپوهی داسی اندازی ته رسیدلی وه چی خلکو داسماعیل لری کیدل غوښته حتی چی وائی وضع تر داسی اندازی ورا نه شوی وه چی سید جمال الدین افغانی دخپل شاگرد محمد عبده څخه و غوښتل چی اسماعیل ووژنی. لکه چی محمد عبده په دی اعتراف کړی دی چی سید جمال الدین افغانی داسماعیل دلری کیدو دپاره زیاته هڅه درلودله او له ده څخه ئی دهغه دوژلو غوښتنه کړی وه. وائی: محمد عبده هم د خپل استاذ امر د تنفیذیدو اراده درلودله خو ده لا تر څو دا کار نه ؤکړی چی په کال ۱۸۷۹ میلادی ۲۶ دجولائی میاشتی د«الاستانه»یعنی «استانبول »څخه داسماعیل د معزولیدلو خبر ورسیده او په همدی ورځ ددی خبر ورسیده چی توفیق د«خدیو» ،یعنی دلوی والی او امیر په حیث مقررشو.د توفیق په اوله خطابه کښی داسی ښکاره کیده چی دی دسیدجمال الدین افغانی سره په خپلو وعدو کی وفاکوی هغه داچی ده وویلی دی به ضرور په مصر کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمختګ راولی، قرضونه به خلاصوی، تعلیم به خپروی او پارلمانی حکومت به منځ ته راولی لیکن وروسته دیوڅه مودی څخه ښکاره شوه چی توفیق د رائی، عزم او ارادی له پلوه سست او سخت متردد انسان ؤ. توفیق په خپلی چوکی ډاریده او په خپلی وعدی ئی عمل ونه کړه؛ بلکه د مصر څخه ئی دسید جمال الدین افغانی دشړلو او فرارولو تصمیم ونیوه.[1]

دهغو خدمتونو خلاصه او مجمل کوم چی په مصر کی سید جمال الدین افغانی او د مصر ملی او وطنی حزب انجام کړی دی

سید جمال الدین افغانی په مصر کی اته کاله پاتی شو او په دی موده کښی ئی دمصر، مصریانو، شرق او شرقیانو، اسلام او مسلمینو بلکه دټول انسانیت دپاره زښت زیات نه هیریدونکی خدمتونه ترسره کړل لکه چی شیخ «محمد محلاتی الفروی الفارسی » په خپل کتاب «ګفتار خوش یار قلی »[2] کښی مصر دپاره دسید جمال الدین افغانی دخدمتونو څخه دده داستو ګښی په موده کی په لاندی ډول یادونه کوی:

شیخ محمد عبده زیات دسید جمال الدین افغانی دشخصیت د تاثیر لاندی راغی اولکه دسوریی شاګردانو په

---

[1]. دا مطلب ((التاریخ السری لاحتلال البریطانی لمصر" » کتاب په (۳۵۴)صفحه کی دمحمد عبده دهغی وینا څخه لیکلی ده کومه چی ده کال ۱۹۰۳ میلادی دمارچ دمیاشتی په ۱۸ په خپل کور کښی ور باندی بحث کړی دی.

[2]. داکتاب ((نجف اشرف » کی کال ۱۳۴۰ هجری، ((العلویه" » مطبعی کی استاد محمود په کوښښ چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شانی ئی تابع او ورسره ملګری شوله ده ځخه ئی دفلسفی، علم کلام، فقه، اصول او نوی فلسفی علوم او دمعاصر عصر داصولو مبادی یادول او دده ملګرو «عرابی پاشا »، «المهدی » او دده نور وشاګردانو او په مصر کی زیاتو مثقفینو دمصر دنجات، آزادی، دخلکو درفاهیت او دوطن دخیر اوسعادت دپاره په فعالیت شروع کړی وه، هغه وخت سید جمال الدین افغانی داسی ښکاره کیده لکه چی دعیسی ددم اودموسی دلاس په شانی تاثیر لری، دده وینا په خلکو کی زیات قوی تاثیر اچوه اوکله چی ده ملی اووطنی حزب جوړ کړه په پوره ذوق مصری ځوانان په کی داخل شول، دده لیاربښونو د نفسونو د تهذیب دپاره پوره تاثیره اچوه، ده دمصریانو په زړه کی داسلام مینه خښه او دمسلمانانو دیووالی دپاره ئی عملی اقدام وکړه، ټولو باور وکړه چی ددسید جمال الدین افغانی دنصائحو په پیروی کی داسلامی امت دژوند راز پروت دی نو مصریانو دده دبلنی مننه اوپوره قدردانی وکړه، دمصر اسلامی ځوانان ورباندی را ټول شول. ځکه چی ده دسعادت په هغه کلی چی دده په مبارک لاس کښی وه ددوی مشکلات حلول.

په مصر کی دمصر دملی او وطنی حزب اولی جلسی دده په ریاست غونډه وکړه، ددی حزب تنظیم نهایت دقیق ؤ، غلو او وران کارانو نشول کولی چی ددی حزب په صفوفو کی داخل شی او ددی حزب په غړو دا حرامه شوی وه چی دحزب په وسیلی ځان ته ناروا شهرت او اعتبار پیدا کړی او یا دا جنبیانو داخلاقو پیروی او ړوند تقلید وکړی.دی حزب په خپلو دغو شرایطو خلک تلل، معلومول او دښو او بدو امتیاز ئی کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت دادی چی دمصر وطنی اوملی حزب غړی دکبر او غرورڅخه زیات لری او په ټول قیمت دوطن دخدمت او اعتلا په لیاره کی ایثار او قربانی ته آماده او حاضرؤ، سید جمال الدین افغانی ددوی په مشری د لیاربښوونی او تشویق کارکولو او ددوی حرکت ورځ په ورځی مخ په وړاندی روان ؤ.
هغه وخت دمصر د وطنی اوملی حزب غړی په یو روایت دری سوو او په نورو روایتو له دی شمار څخه څه لږ ؤ سید جمال الدین افغانی به په غونډو او ټولنو کی خلک دخپلی وینا او تحلیل په وسیلی په هغو حقائقو پوهول چی اسلام په مبین دین او شریعت کی دمسلمانانو خیر عزت او رفعت پروت دی، ده به خپلی دغه مؤثری ویناوی او خطابی وخت په وخت ایرادولی او دا به ئی ثابتوله چی اسلام دخپل مبین کتاب قران کریم په وسیلی خلکوته دبشری طبیعت دمادی او معنوی اعتلا او ښیګڼو لیاربښوونه کړی ده.
سید جمال الدین دا روښانوله چی زمونږ اجداد او اسلاف هغه وخت د عزت او سیادت لوړی مرتبی ته رسیدلی ؤ کوم وخت چی په دی کتاب ئی تمسک او کلک عمل کړی ؤ، په حقائقو ئی راغونډ شوی او اصلی اهداف ئی روښانه کړی ؤ خوکله چی ددی برابری لیاره څخه منحرف شول او احکام ئی شاته وغورزول نو دژوند دغه شانی ټیټی مرتبی ته ولویدل ځکه چی الله پاک دیو قوم ښی ګڼی ترهغه وخته نه بدلوی ترڅو دوی په ځان کی بدلون راولی او د بدبختی په خوا متوجه نه شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نابغه (سید جمال الدین افغانی)

سید جمال الدین افغانی وائی: د اروپایانو څخه شکایت او هغوی په دی متهم کول چی ددوی دانحطاط او پاتی کیدوسبب شول غلط دی ځکه چی مسلمانان ترهغه وخته خوار او بدبخت شوی نه دی ترڅو چی ئی دسمی او محکمی لیاره څخه انحراف کړی نه دی.

لدی څخه وروسته سید جمال الدین افغانی دبدبختی څخه د مسلمانانو دخلاصون ممتازه لیاره روښانه کړیده او هغه لکه چی قران کریم وائی دخدای په متین دین باندی محکمی منګلی خښول دی. سید جمال الدین افغانی دمصر دوطنی اوملی حزب په پنځلسمه غونډه کی دخطابی په منبر پورته شو او په خپلی وینا ئی داسی پیل وکړه:

بی شکه چی تا ویلی دی اوستا وینا حقه ده «والذین جاهدوا فینا لهندینهم سبلنا و ان الله لمع المحسنین »

ژباړه هغه کسان چی زما په لیاره کی کوښښ کوی هغوی ته خپله لیاره ښیم او ضرور پاک الله دصالحو کسانو سره دی.

څنګه چی زما بلنه دهغو پاکو ارواحو په خوا متوجه ده کوم چی دلته سره راغونډ شوی دی او زړونه ئی ستا د مهربانی رضا په خوا د اخلاص اطاعت لری نو الهی ماته دخپلی حقی وینا په مطابق او د هدایت دلیاری په خوا ښودنه وکړه.

ای محترمو: په دی پوه شی چی دانسان له پاره بهتر مد نیت او دسعادت سمه لیاره بی دقرآنه په لاس نه راځی نو قرآن کریم یو مقدس دستور او قانون دی، دا دټولو اشرفو ادیانو خلاصه او ترقیاته پوری دسماوی ادیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختمونکی او قاطع برهان دی او په دواړو دارینو کی دسعادت او په دواړو ژوندونو کی دنجات تضمین کوی نو افسوس زمونږ په حال چی څنګه ددی دحقیقت څخه غافله شلو.

دی دستور او قانون زمونږ اسلاف او پلرونه دسعادت اوعزت په لیاره کی هغو دډیرو لوړو مرتبو ته ورسول که څه هم دوی زمونږ په اندازه مدنیت ته نه ؤ رسیدلی نوولی او په څه مونږ دا شاته وغورځوه او یوازی دجمعو په شپو په قبرونو باندی ئی دتلاوت او لوستلو اکتفا کوو، ددی تلاوت او لوستنه ددی وسیله شوه چی روزه لرونکی ورباندی ځان مشغول وساتی او اطفال ورباندی په مکتب کی قرار او آرامه شی.

مونږ تش له دی څخه دتعویذونو نذرونو او خیراتونو کار اخلو، د دروغو قسمونو دپاره مو وسیله ګرځولی ده، دکار دروانیدو او یاد سوال دپاره مو ذریعه کړی ده، دوړو دغاړو ښایست، دناوو امبیل، دنانوایانو ساتونکی، دمسافرانو محافظه کوونکی، دپیرانو دساتنی وسیله، دمجلسونو ښایست، د بریالیتوب لینده، دپهلوانانو مرسته کوونکی په مختلفو ښارونو کی دتجارت متاع، دکتابو دخرڅونکو پانګه، دیوکور څخه بل کورته دتبرک دپاره نقلول او په کوڅو کی درذیلو کوډګرو سړو او ښځو دپاره مو د لاس آله او وسیله ګرځولی ده.

آه افسوس! د قران یو سورة چی ددری آیتو نو څخه زیات نه ؤ یعنی د «العصر» سورة دصفی داصحابو دوړی ټولنی دسعادت موجب وګرځیده، هغوی وکړی شول چی دمکی صحراء کومه چی دشرک مرکز او دبتانو کور ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتوحید په خونه او د عبادت دپاره په مصلی او مسجد واړوی... نو ای اه او افسوسه: چی دغه نازل شوی مقدس سماوی کتاب چی دالهی ذات څخه راغلی او دانسانی ټولو نیکمرغیو پانګه ده قدر او احترام ئی لږ شو او دسعدی شیرازی او عمر بن فارض ددیوانونو له کلیاتو او د جلال الدین رومی له مثنوی څخه هم دخلکو په نظر کی کم راځی او توجه دی ته ددغو کتابو څخه لږه شوی ده همدا وجه ده چی دقران دپند، ادب او مصالحو څخه څوک استفاده نه کوی. خو همدا چی خلک دشعر ابیات واوری سترګی او خولی ورته دتعجب څخه وازی پاتی شی او دقران دتلاوت په وخت کی نه څوک اهتمام نیسی او نه دمطلب دتعقل په خوایی توجه اړوی.

هو: قسم دستا په حق... پاکی ده تالره... تاویلی دی او د تا وینا حقه ده.... «نسوا الله فانساهم انفسهم » ژباړه دوی الله له یاده وویسته په واقع کی دوی دخپل ځان ګټی له یاده وویستلی (ځکه چی دالله پاک یادونه دانسان دسعادت او نیکمرغی موجب ګرځی).

مونږ ته هیر کړی او زمونږ دزړنو آینی ستا داصلی ذات د پیژندنی له پلوشو څخه محرومه شوی... الهی پاکی ده تالره تاویلی دی او د تا وینا حقه ده.... ان الله لایغیر مابقوم حتی یغیر وا ما بأ نفسهم"» ژباړه الله پاک دیو قوم ښی ګڼی ترهغه وخته نه بدلوی ترڅو دوی په خپله په ځان کښی بدلون راولی او دبدبختی په خوا متوجه شی.

حقیقت دادی چی مونږ خپله توجه ستا دپیروی له لیاری څخه اړولی ده همدا وجه ده چی زمونږ عزت او سعادت په خواری او ذلت بدل شو نو په تاسو باندی لازمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چی دلوی خدای دلویو قدرتونو یادونه وکړی ځکه چی دده دنور روښانه پلوشی هغه دی چی په هغو شک او تردد لری کیږی او ورباندی رښتینی مسلمانان دوسواس له تاریکی څخه نجات مومی.

قران دنجات ډیوه ده څوک که ددی په لیار ښوونه لاړ نجات ئی وموندہ او که چا ورڅخه مخالفت وکړه هلاک شو، دا دالله پاک محکمه لیاره ده څوک که ورباندی لاړه هدایت ئی وموندہ اوکه چا پریښوده ګمراه شو ای خلکو په تاسو باندی لازمه ده چی درسول الله علیه وسلم دوینا ؤ له ویل شوو ملغلرو څخه استفاده وکړی ځکه چی دی صلی الله علیه وسلم وائی «اذا اراد الله بقوم سوء اقل منهم العمل و اکثر فیهم الجدل »ژباړه کله چی الله پاک یو قوم ته دبدی اراده وکړی نو په هغوی کی کار او عمل لږ او خلاف جګړه په کی زیاته کړی.

دا هم رسول الله علیه السلام فرمائی: دری شیان دی چی یو مسلمان باید هغه عادی ونه ګڼی په کار کښی اخلاص دمسلمانا نو امراؤ ته نصیحت او د دوی دعمومی ټولنی دفیصلو اطاعت.

مسلمانان یو تربله په حیاتی مسائلو کښی تعاون او تساندلری، ددوی عاجزان دنورو په ډاډ فعالیت کوی او ټول دمخالف محاذ په مقابل کی لکه دیوه موټی په شان دی.

رسول صلی الله علیه وسلم فرمائی همیش به قدرت زما د امت په لاس کی وی ترڅو چی دوی دفارس په کورکورانه تقلیدونو وا نوړی. دا او داسی نوری تازه ملغری دومره طاقت لری چی یو ه ئی هم دټول اسلامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



امت د نیکمرغی تضمین کوی. والسلام علیکم ورحمة اللّٰه وبرکاته.

کله چی سید جمال الدین افغانی له منبر څخه ښکته شوده لیدل چی له ډیره تاثیره دجلسی دریمه برخه غړی بی هوښه شوی دی او نور باقی نزدی ؤ چی خپل واک او جلب له لاسه ورکړی نو سید جمال الدین افغانی ؤ ژړلی او داوینا ئی کوله: «ای وحقک اللهم نسیناک فانستنا انفسنا » ژباړه الهی ستا په حق می دی قسم وی چی مونږ ته هیر کړی ئی چی دا په واقع کی مونږ دخپل ځان منافع هیر کړی دی او دخپلی ګټی په ضد فعالیت کوو.

ده خپله دا وینا په پوره جذبی تکراروله حتی چی نژدی ؤ وولیږی او هوښیاری له لاسه ورکړی او په همدا ډول دمجلس حاضر کسان دری ساعته د ژړه سنګیدو او بی هوښی په حالت کی ؤ.

دا وخت دمصر دلوی والی «خدیو » زوم «حسن عطا بیک » سید جمال الدین افغانی ته نژدی شو او دده په مخ ئی معطری او به وپاشلی چی دهغی په اثر بیداره شو او خپله وینا ئی په دی لاندی وینا ختمه کړه:په هرمسلمان باندی چی داسلام او مسلمانانو نجات غواړی واجبه ده چی دقران په احکامو عمل وکړی هغه په دقیق ډول ښه تطبیق کړی دخپلو اسلافو یعنی دصدر اول دمسلمانانو پیروی وکړی او د خپل ځان دنیت په خلوص او اخلاص، دباطن په پاکی او اجتماع په خدمت عادی کړی، دبخل، حسد او بدی طمعی څخه ځان خلاص کړی او ساده ژوند په واجباتو عمل او حرامو څخه اجتناب غوره کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهغه پخه وسیله ده کومه چی زمونږ اسلافو د هغی پیروی وکړه نجات او بریالیتوب ئی په نصیب شو.

دسید جمال الدین افغانی ددی تاریخی خطابی په وجهی اوریدونکی وپاریدل او په سخت شوق راغلل نو اول کوم اقدام او کار چی دوی وکړه هغه داؤ چی خپل کور فرش، ظرف، دسپرلی وسایل او زینتی شیان ئی خرڅ کړل او دهغو قیمت او پیسی ئی دمصر وطنی اوملی حزب خزانی ته د مرستی او تبرع په ډول ددی دپاره ورکړی چی په عاجزانو، بیچاره ګانو، مصیبت رسیدلو او داسلامی امت داصلاح په لیار کښی خرڅ شی او دحزب دغړو هر غړی داوعده وکړه چی دالله پاک اطاعت او پیروی به کوی، دقران لیار ښونی به تطبیقوی، هره ورځ به کم ترکمه د قران یو حزب لولی، دقران په مفاهیمو کی به پوره دقت او تدبیر فکر کوی او ددی لاندی اساساتو په مطابق به خپل حرکت عیاروی:

۱- فرائض، نوافل به اداء کوی او دجمعی او جماعت باندی لمونځ کول به په ځان لازموی.

۲-په ښو کارونو کولو باندی به امر او له بدو کارونو څخه به خلک منع کوی.

۳-خلک به داسلام دین ته بولی.

۴-دسما وی اهل کتابو په مقابل کی په مجادله نه کوی مګر په ښی رویی اونیکی لیاری سره.

۵- دفقراؤ سره به احسان کوی.

۶- د محتاجانوسره به دتوان په اندازه مرسته او معاونت کوی.

۷-صله رحمی به کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸-دمریضانو دحال او احوال پوښتنه به کوی.
۹-دمسافرو ملګرو احوال به اخلی.
۱۰-دسفر څخه راغلو ملګرو هرکلی به کوی.
۱۱-زکات به ورکوی.
۱۲-جاهل ته به لیاره ښیی او غافل به تنبیه کوی.
۱۳-خپل ځان بی دردی او بدو خصلتونو څخه پاکوی او په خاص ډول دغره کیدو، کبر او یوازی خپل ځان لیدل اوداسی نورو بدو او صافو څخه.
۱۴-د نورو له خطاؤ څخه به عفوه او تیریدل کوی.
۱۵-قهر او غصه به سړ وی (حوصله به کوی)
۱۶-بی فایدی او چاټی کارونو څخه به ځان ساتی.
۱۷-ددی حزب هرغړی به دخپلی یادونی په کتابچه کی دیادونی دپاره دالاندی مواد لیکی:
(الف)فقیر سره احسان.
(ب)دغریبانو پوښتنه.
(ج)دراتلونکی هرکلی.
(د)دمسافرانو ضروری کارونو حال اواحوال ته رسیدل.
(ه)په ښو کارونو امر.
(و)صله رحمی.
(ز)دمریض پوښتنه.
(ح)جاهل ته لیارښودنه.
(ط)غافل تنبیه کول.
(ی)داهل کتابوسره په ښی طریقی مناقشه او بحث.
(ک)دفسق اوبدکاری څخه توبه.
(ل)دبدکارمحوه کول.
(م)دخطاڅخه عفوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ن)دقهر او غصی سړول.
(س)اسلام ته دکافرانو لیاربښوونه.
(ع)دحق اداء.

دا مواد به په همدغه ډول دحزب هرغړی دځانه سره لری اوعمل به ورباندی کوی او دعمل نتیجه به ئی ثبتوی او دحزب مرکز ته به دخپلو کارونو راپور ورکوی او د مصر دوطنی حزب مرکز به د راپورونو خلاصه باسی ترڅو دحزب عمومی غونډه دخپل حزب دفعالیتونو په ثمری او نتیجی پوه شی لکه چی دحزب غړو دا لیاربښونی عملی کړی اوبیا مرکزی کمیټی دحزبی فعالیت نتیجه په لاندی ډول وویستله:

۱- نوی زره ایرانی تومان چی ۱۸,۰۰۰ مصری پونډونو سره برابریدل دمصری وطنی اوملی حزب غړو دتبرع اومرستی په ډول نقد را غونډکړل.

۲-دهغو مریضانو شمار چی دحزب غړوئی پوښتنه او مرسته ورسره کړی وه، یوزرو پنځه سوه پونډو ته ورسیدله.

۳-دهغو مسافرو او دوطن څخه لیری کسانو شمارچی دحزب غړوئی دحال او احوال پوښتنه کړی اولازمه مرسته ئی ورسره کړی وه پنځه سوه تنوته ورسیده.

۴-دهغو مشکلاتو او احتیاجاتو شمارچی حل شوی دولس زره حاجاتو ته ورسیده.

۵-دهغو کسانو شمار چی دشرابو دڅکلو او دلمونځ دترک کولو څخه ئی توبه کړی وه پنځه ویشت زره تنو ته ورسیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶-ټولو هغو کسانو چی په انګلیسی ادارو او موسسو کی کار کولو دخپلو کارونو څخه لاس واخسته او دمصر ملی حزب د مجاهدینو سره یو ځای شول.

۷-کوم هغه لوی کسان چی دمصر وطنی حزب دمرستی دپاره دخپلو عیشونو څخه تیرشول اواضافه مال ئی دحزب خزانی ته وسپاره پنځه سوه تنه ؤ.

۸-هغه تجار چی د افلاس په وجهی ورسره مرسته شوی وه پنځه اویا تنو ته ئی شمارپورته کیده.

۹-دهغو بی چاره بی کاره او بی وزلو کسانو سره چی مرسته شوی وه شمارئی دوه سوه شپږتنو ته ورسیده.

۱۰-دیهودو او نصاراؤ شمارچی مسلمان شوی ؤ یو سل او شل تنوته ورسیده.

۱۱- د اسلام دبلنی دپاره څلور څلویښت غونډی وشوی.

۱۲-دیوسلو شل اجتماعی اوعقلی مشکلو موضوعاتو دپاره دحل لیاره پیداشوی، نظریه او مشوره ورکړل شوی وه.

په دغه ډول ورځ په ورځی دژوند په هره برخه کی دمصر دوطنی حزب داجتماعی خدمتونو ګراف اوچتیده او د فعالیت دائره ئی پراخیدله.
لکه چی دبریطانیا مستشار لورد «کرومر » هم په دی پوه شوی ؤ چی دبریطانیا نفوذ په حیرانوونکی ډول له منځه ځی او دانګلیسانو تجارت ډیر سخت تاوانی شو.

دافریقا په قاره کی مسیحی مبشرینو او علما ؤ ته دا ثابته شوه چی دمصری وطنی حزب فعالیتونه څوڅو چنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو فعالیتونو اندازی ته رسیږی چی دوی په ډیرو کلوکی ترسره کړی ؤ.

باید ووایو چی دمصر دوطنی حزب فعالیت هغه وخت تر داسی اندازی ورسیده چی انګلیسی مؤظف مامورین ئی په سختی ویری کښی واچول ځکه چی دوی کتل چی مصریان نه غواړی ورسره مرسته وکړی او په دی وجهی ددوی کارونه دسختی ناکامی سره مخامخ شوی لکه چی دا احساس په مصر کی دانګلیسانو تجارتی شرکتونو کولو او مصریانو دوی داسلام او قران دښمنان ګڼل او ددوی سره ئی دمرستی کولو میلان نه درلوده همدا وجه وه چی دانګلیسانو تجارت دحیرانوونکی تاوان سره مخامخ شو نو لورد «کرومر » داسی راپور ورکړه : د مصر وطنی حزب کوم چی مشری ئی دسید جمال الدین افغانی په لاس کی ده که همداسی او په هم دی ترتیب په خپل فعالیت کی پاتی شی نو به په لږه موده کی انګلیسی تجارت په مصر افریقا او آسیا کی له منځه یوسی او دانګلیستانو نفوذ به په قطعی ډول محوه کړی. لورد«کرو مر»داثابته کړی وه چی په مصر کی دوطنی حزب موجودیت د انګلیسی سیاست په مقابل کی سخت مانع دی؛ نو باید ضرور په قطعی ډول داحزب له منځه ویوړل شی په یو بل راپورکی لیکل شوی دی او وائی: دمصر دوطنی حزب فعالیت دعربی هغه نهضت ښکارندوی دی کوم چی په خوا دیارلس قرنه راهیسی ورباندی پیل شوی ؤ او دا حرکت په حقه دعربی سلطی هغه کیفیت ثابتوی کوم چی دیوه قرن دځلورمی برخی ځخه په لږه موده کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئی ددنیا په دریمه برخه آبادی باندی تصرف لاس ته راوسته.

دمسیحی کلیسا دغونډی غړو ویلی دی: دچا په زړه کی له دی څخه سخته دتعجب خبره نه ده تیره شوی چی دمسیحیانو مثقف قوی او دانسان په ژوند کی په ټولو وسایلو مجهز اوه سوه ملیونه خلک دی دځلویښتو هغو کسانو په مقابل کی ما تی وخوری کوم چی یوه قوی او دانسانی ژوند په ټولو لازمی وسایلو مجهز اوهسوه میلیونه مسیحیان دی کوم چی یوملنگ ئی رهبری کوی...

د«بورسعید»په روغتون کښی «ایرلندی»طبیب او ډاکتر په خپل کتاب «فلسفه المجتمعات»کښی داسی لیکلی دی : ما اوریدلی ؤ اشیاء په تضعیف کی ممکنه ده سلهاؤ تضعیفونو ته وچت شی نو که چیری مونږ د نویو مثقال دسطرنج دخانو دتضعیفونو معمولو قواعد و په اساس او حساب تضعیف کړو نو په دغه وخت کی مضاعف شوی ړدن دری زره مخزنونو ته دساتنی ضرورت لری او د بار کولو دپاره ئی دری سوه او شپیته زره اوښانو ته ضروری دی او یا که یو تبریزی من چی په ایران کی ورباندی تله او تلل کیږی دسطرنج دقاعدی په مطابق تضعیف شی نو مجموعه حاصل به ئی ۷۲۷ر۸۹ خروار ته[1] وچت شی چی دا اندازه دټولی دنیا د غنمو د حاصل سره برابریږی او که د نقلولو ارا ده ئی وشی ټولو ریلونو او بیړیو ته دوړلو له امله ضرورت پیدا کیږی. هو ! د مونږ دغه

1. «خروار»ایرانی تیره ده چی دیو تن شیږ می برخی اندازی ته رسیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصاعدی قاعده او ریدلی وه خو دغه حرکت هم دمصر دوطنی حزب څخه زیات تصاعد او پر مختگ نه لری ځکه چی یوسړی..... مصر ته راغی دده سره یو تن چی شیخ محمد عبده نومیږی نو ځای شو او بیائی وکړی شول چی د نهو میاشتو په موده کی شمارئی ۱۸۰ر۲۰ غړو ته پور ته شی دا حزب اوس دمصرف دپاره لویه سرمایه په لاس کی لری او داروپا منافع ئی زیات زیانمن کړی او په خطر کی اچول دی نو که دغه حزب په همدغه شانی وسعت و مومی دتیر تصاعدی نسبت په اساس به ټوله دنیا ونیسی.

دانگیسی شرکت رئیس په لندن کی یو صراف ته په دی ډول لیکلی دی:

گرانه وروره ! نن که په مصر کی د اروپا سیاست په دی قسم مغلوبه کیږی سبا به په ټوله دنیا کی دشکست او ماتی سره مخامخ شی، په مصر کی دا شکست او ماتی دداسی جمعیت په مقابل کی دی چی هغوی بی دساده ژوند او پی گیری مجادلی او دبشری نوعی له دوستی او علاقی څخه بل څه په لاس کی نه لری.

دبریطانیا یو ضابط خپلی ښځی ته په دی شان لیکی: گرانی میرمنی: اسلامی ټولنه دسخت پر مختگ سره مخامخه ده داسی پرمختگ چی که اورپائی دو لتونه ئی مخنیو ونه کړی نو په خپلو مستعمرو کی دی دخپلو متصرفو څخه لاس واخلی او مخکښی له مخکی دی د بریطانیا ولس ځان ته دشمالی او جنوبی قطبونو په مناطقو کی د اوسیدو ځای برابر کړی.

دغه شانی وضعی دبریطانیا په ولس باندی سخت تاثیر واچوه او په دی ئی باور راغی چی دمصر د وطنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حزب بقا د دوی د منافعو د بلکل قطع کيدو موجب گرځی نو په خپل حکومت ئی زور واچوه چی ضرور به د مصر وطنی حزب فيصله کوی او ددی حزب رئيس بايد دده دشر دزياتيدو څخه پخوا ونيول سی؛ همدا سبب شو چی انگيسانو د مصر څخه دسيد جمال الدين افغانی او بيا دمحمد عبده دشړلو او دوطنی حزب د ورانولو دسيسی په کار واچولی او ددغه مطلب د لاس ته راوړو دپاره د دوی نقشی تطبيقی شوی لکه چی له يوی خوا د وطنی حزب زيات غړی ونيول شول او ځنی ئی دحکومت په کارونو کی په لويو معاشاتو مقررشول او په دی ډول دمصر د وطنی حزب اجل پوره شو چی ټول عمرئی د نهو مياشتی او څو ورځوڅخه نه زياتيده، او اروپا يانو له دی څخه دعبرت په اساسی کوښښ شروع کړه چی بيا په اسلامی نورو منطقو کی داسی نهضت پيدا نشی.

***

**په مصر کی دسيد جمال الدين افغانی**
**دمدرسی او مکتب ترتيب او پروگرام :**

په مصر کی سيد جمال الدين افغانی دخپلی مدرسی او اجتماعی

تحريک پروگرام په لاندی دوه ډوله ترتيب کړی ؤ:

اول: په کور کی به ئی په منظم ترتيب عملی درسونه خپلو فاضلو او پوهو مثقفو شاگردانو ته ايرا دول.

دوم: ځوانانو ته ئی په ولس رنگ آزادانه درسونه اوبيداری ورکوله او دعلمی فعاليت دپاره ئی برابرول بايد ووايو چی دسيد جمال الدين افغانی دومه برخه پروگرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات تاثیر اچوه او په عمومی لحاظ مفید ؤ په دی برخه کی به ده عامو خلکو سره خبری او مجلس په دی ډول کولو چی دهغو دذهنیت سره برابر او احساسات ئی وپاروی.

دمثال په ډول: ده به مصری بزگر ته داسی ویلی!

«عجیب لک ایها الفلاح ! تشق الارض بفاسک باحثا عن رزقک لماذا لاتشق بهذا الفاس صدور ظالمیک؟»

حیران یم تاته ای بزگره چی په خپل بیل، کولنگ او دکرلو په سامانو نو ځمکه دخپلی روزی دپیدا کولو دپاره چیروی او چیروی شی نو په څه دا ولی په دغو وسایلو په خپل ځان باندی دظالمانو سینی نه څیروی؟ بل داسی وویل : تاسو دمصر «اهرام »د (منفیس) مجسمو، د«طیبه» اثارو د «سیوه» دلیدلو ځایو او د«دمیاط» ځایونو او سنگرونو ته وگوری دا ټول ستاسو دپلرو په برم او لوئی او د نیکو په عزت،شان او شوکت دلالت کوی نو دغفلت څخه راپاځی د بیهوښی څخه بیدار شی او لکه د نورو قامونو او ولسونو په شانی آزاد او نیک مرغه ژوندو کړی.(۱) کوم څه چی نه هیریږی هغه دادی چی سید جمال الدین مصر کی دټولی استوگنی په موده کی دمسلمانانو دتعلیم روزنی او لیاربښوونی کار کړی دی او په خلکو کی ئی د انسانیت او کرامت روح پوه کولو خو بر خلاف تاسف ځای دا دی چی دده په عصر کښی ددین مرتجعو علماؤ په ده پسی بد ویلی او دکینی په اساس ئی غوښتل چی په سزائی ورسوی ځکه چی دوی د عامو جاهلو خلکو دساده توب څخه دخپل شخصی منفعت دپاره ناروا استفاده کوله نو په ده باندی راوپاریدل او وویلی د:«ابن سینا» دفلسفی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښودنه کوی او دځمکی کره مسجد ته راوړی (مسجد ته دځمکی کره راوړل گناه ده)خو دوی سره ددی ټولو عنادی رویو او دسیسو چی وی کړل دائی ونه شول کړلی چی دسید جمال الدین افغانی په مقابل کی بریالی شی او دده قیمتی آراؤ او افکارو کرلی تخمونه محوه کړی. دالله پاک رحمت دی په ده، دده په ملگرو او په هغو کسانو وی چی دده د دپروگرام متابعت کوی.

**د اختلاف مهم هغه اسیاب او علل کوم چی سید جمال الدین افغانی په مصر کی ورسره مواجه شو او د مصر څخه د ده دفراریدو اصلی منشأ :**

دا ختلاف مهم سبب او علت کوم چی سید جمال الدین افغانی په مصر کی ورسره مواجه شو دا ؤ چی سید جمال الدین افغانی خپل زیات غیرت کولو او حقیقت دا ؤ چی په رښتیا ده قوی احساس کړی وه چی انگیسانو څنگه پوره تصمیم نیول دی او په څه ډول کوښښ کوی چی مصر ونیسی ځکه چی دی ددوی دچالونو سره اشنا ؤ او د داخلی جگړو او فتنو په پارولو او پورته کولو کی ددوی په زیاتو چلونو پوهیده همدا وجه وه چی دمصریانو بیداری دپاره کوښښ وکړه خو داستعمار گوتو ده دپلان او نقشی شاته تخریبی اوبی وکړی دی ئی په ملحد او داسی نورو ډیرو تهمتونو متهم کړه او دائی خپره کړه چی ملگری ئی دحکومت په ضد دا او دا غواړی حتی چی په مصر کی انگلیسی قنصل دسید جمال الدین افغانی او د مصر دلوی والی تر منځه کولو دپاره پټ پلان طرحه کړیدی او انگلستان دمصر دلوی والی «توفیق » ته وویلی چی سید جمال الدین افغانی او ملگری ئی دده دخلاف او دلری کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره پټ پلان طرحه کړیدی او غواړی چی مصر جمهوری نظام خوا ته واړوی نو بی له دی چی سید جمال الدین افغانی وشړل شی بله چاره نشته ده نو همدا وجه وه چی یوه شپه کله چی دخپلی علمی مشهوری جلسی څخه دخپل کور په خوا روان ؤ کوم وخت چی دده ملګری او مخلصان ورڅخه جدا شول په ده باندی پولیسانو حمله وکړه، وی نیوه او خپل پولیسی مرکزی ته ئی بو ته او له هغه ځای څخه ئی دګاډی مرکز ته ورسوه او دسویس ښار ته دتلو په ګاډی کی سپور او هغی خوا ته ئی روان کړه، دا وخت دمصر صدراعظم «ریاض پاشا» په مصر کی نه ؤ او دکوم کار دپاره بهر ته تلی ؤ او که چیری وی باور ؤ چی ده د نه شړلو په حقله به ئی کوښښ کړی وی.[1]

وائی کوم ؤ وخت چی دی دسویس ښار ته ورسیده په دغه ښار کښی دایران قنصل ورسره وکتل هغه په دی پوه شو چی دهند په خوا روان دی نوله دی امله چی هغه دده په شانی په خوا د«ماسونی» حزب غړی ؤ سل دیناره ئی ورته دمرستی په ډول وړاندی کړل مګر سید جمال الدین افغانی سره ددی چی هیڅ څه ئی په لاس کی نه ؤ دغه مرسته ئی و نه منله او په مقابل کی ئی خپله نه هیریدونکی خبرو کړه. «احتفظوا بالمال فانتم احوج الیه ان اللیث لایعدم فریسته حیثما ذهب» ژباړه تاسو خپل مال د ځانه سره وساتی ځکه چی تاسو ورته زیات احتیاج لری حقیقت دا دی چی ز مری هر چیری چی لاړ شی خپله پوهنه او فراست نه بایلی (زما دپاره پیسو او مال ته

---

[1]. د«عثمان امین» دکتاب (۳۸) صفحی څخه اخیستل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

ضرورت نشته ځکه هر چیرى چى لاړ شم خپل ژوند کولى شم)

دمصر څخه دسید جمال الدین افغانی وتل د۱۲۹۶ هجرى کال د رمضان دمیاشتى په منځنیو ورځوکى وه او دا وخت په مصر کښى د «توفیق» دحکومت څخه درى میاشتى تیرى شوى وى «توفیق» په خپل دى نامعقول به کار باندى دخوښى اظهار وکړه او جرائد په دى مجبوره شول چى دسید جمال الدین افغانى د فراریدو صادر شوى امر او دده ملګرو ته دسخت سرزنش ورکولو او په هغوى باندى دتورونو دتپلو خبر نشر کړى همغه ۇ چى ټولو جریدو بى له یوى جریدى څخه دا خبر نشر کړو او کومى جریدى چى نشر نه کړه دخپرونى څخه منع شوه.

باید ښکاره کړو چى په دى بد خبر کى په دى مناسبت دالاندى عبارت لیکل شوى ۇ:

«أبعد ذلک الشخص المفسد من الدیار المصریة بامردیوان الداخلیة لازالة هذا الفساد من هذه البلاد عبرة للمعتبرین و لمن یتجاسر على مثل هذا من المفسدین البادى من افعالهم الظاهرة انهم لاخلاق لهم فى الدنیا والاخرة» ژباړه دا مفسد شخص دمصرى علاقى او منطقى څخه د داخله دیوان او ددفتر په امر وشړل شو او دا ددى دپاره چى ددى منطقى او وطن څخه دا فساد لرى شى او د عبرت اخستونکو دپاره د عبرت موجب وګرځى او همدا شانى هغه فاسد کسان چى د دوى دظاهرى اعمالو څخه داسى معلومیږى چى په دنیا او اخرت کى بى برخى دى دجرئت کولو څخه ډډه وکړى او عبرت واخلى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو مصری استاد لیکلی دی سید جمال الدین افغانی وروسته له دی چی په مصر کی ئی دا نقلاب تخم وکره او وروسته له دی چی له ده څخه وروسته دمصریانو د بلو او حرکت نقشه ئی ښه ترتیبه کړه دمصر څخه لاړه.

افسوس چی اجنبی دسیسو او فعالیتونو مصر د ډیرو هغو ښیګڼو محروم کړه کوم چی هیله ورته کیدله او که سید جمال الدین افغانی دشرق دا اوسنی بیداری و ګوری په دی به پوه شی چی دا بیداری او نهضت دده مجاهدو برکت دی او دده مساعی نه دی عبث شوی.

هند ته دریم واری د سید جمال الدین افغانی، تګ او هلته د ده اوسیدنه:

سید جمال الدین افغانی ۱۸۷۹ میلادی کال دا ګست دمیاشتی۲۲ وه د«سویس» بندر څخه په بیړی کی د«بمبی» خواته ولیږ دول شو او په لوی هند کی دده اوسیدل یوازی «دکن حیدر آباد» پوری خاص شول او بی دلوستلو مطالعی او ځینو خاصو کسانو سره دکتنی بله اجازه ورته نه وه. سید جمال الدین افغانی په «دکن حیدر آباد» کښی څه موده پاتی شو خو کله چی به مصر کی د«احمد عرابی» دانقلاب حرکت پیل شو داوخت دهند حکومت دی «کلکتی» ته بوته او هلته تر هغه وخته پاتی شو ترڅو چی «احمد عرابی »[1] انقلابی خاتمه پیدا کړه .

---

[1]. «احمد عرابی » دسید جمال الدین افغانی دشاګردانو څخه عسکری قوموندان ؤ دی دمصر دلوی حاکم «توفیق» په مقابل کښی پاڅیده او په ده باندی دسید جمال الدین افغانی خطابو او تلقیناتو چی دمصری ولس دحقوقو دمطالبی او په دغه لیاره کی دوی دآماده کیدو دپاره ایرادولی زیات تأثیر اچولی ؤ او مشقت راوستلو حرکت په کارواچوه مسلمانان ئی دعامه حکومتی وظائفو څخه وویستل او ددوی دمدرسو او مسجدو اوقاف ئی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په هند کی دسید جمال الدین جهاد او په دهریانو باندی دده رد

سید جمال الدین افغانی دا ځل په هند کی دری کاله تیر کړل او ده دغه مودی په هند کی بی فائدی تیره نه کړه بلکه ده په دغه موده کی هغه وخت چی په «دکن حیدر آباد» کی ؤخپله مشهوررساله چی په «رسالة الرد علی الد هریین » یادیږی تالیف کړه دا هغه رساله ده چی وروسته بیا دده شاګرد «محمد عبده » د دری ژبی څخه په عربی ژبی واړوله او په دغه ترجمه کی دشیخ محمد عبده سره دسید جمال الدین افغانی خاص خادم «ابو تراب» مرسته وکړه.

ددی رسالی دلیکلو سبب څنګه چی سید جمال الدین افغانی د«عروة الوثقی» په مجله کی یا ده کړی ده دا ؤ : انګلیسانو غوښتل چی په عاملانه ډول دهند له مسلمانانو څخه هندی قومی او ملی خصلتونه او هغی لری کړی او داسلامی ثقافت او مدنیت دمفکورو څخه ئی واړوی او دا ددی دپاره چی انګلیسان په هند کی خپل استعماری اهداف ترسره کړی هغه دا چی تر «ماشاء اللّٰه» یعنی تر ډیره وخته بی دهندیانو دخلاف څخه انګلیسی تسلط قرار پاتی شی لکه چی ددی مطلب تر سره کیدو دپاره ئی په

---

غضب کړل خو بیا هم دوی ونه کړی شول چی (دهندی ملت دملی او اسلامی ارادو او تصمیمونو څخه د اړولو) هدف تر سره کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هند کی اول دمسیحی دین تبلیغ کولو او مسیحی علماؤ کوم چی دانګلیسانو نو کران ؤ په هند کی داسلام په ضد رسالی خپری کړی خو دغه حرکت کامیابه نشو او ورڅخه دانکلیسانو مطلب لاس ته رانغی نو داستعمار لاسونو په مسلمانانو باندی دتکلیف له دی فعالیت څخه وروسته انګلیسانو د ډیرو باریکو او دقیقو لیارو څخه خپل مطلب ته درسیدلو کار پیل کړه هغه دا چی دنوی علم په جامه کی ئی دالحادی افکارو خپرول شروع کړل.

سید جمال الدین افغانی «عروة الوثقی»په مجله کی لیکی چی ددی نظر او مذهب لوی مشر او رهبر دهند کسانو څخه ؤ چی ده دمادی خسیسی ګټی دلاس ته راوړو دپاره دانګلیسانو اهداف تر سره کول ده خپل ځان دانګلیسانو دخدمت دپاره وړاندی کړه او په اول کی ئی یو کتاب ولیکه په دی کتاب دی په دی لاندی مطلب دلائل داوړی ؤ تورات او انجیل نه دی تحریف شوی (یعنی اوس هم بی له تحریف او تغیره په لاس راځی) خو لږه موده لیانه وه تیره شوی چی دی په دی پوه شو چی دغه شانی خپرونی دده با دارانو ته کومه ګټه په لاس نه راوړی او نه داسلام په ضد کاری ولیدی شی ځکه دغه شانی حرکتونه خو له ده څخه مخکی مستشرقینو (مسیحی علماء)کړی ئی لاس ته نه وه راغلی همداشانی د(سید احمد خان بهادر)مسیحی دین ته تابع کیدل هم کوم خطر نه ؤ؛ ځکه چی دی پوهیده چی په دغه کار کی دهند دمسلمانانوو څخه هیڅوک دده پیروی نه کوی نو ځکه ده پیل وکړه چی د نوی فلسفی مبادی به ئی خپرول او دالحاد او طبیعی مذهب لیار ښوونه به ئی کوله او مسلمان به ئی دغی

(c) ketabton.com: The Digital Library





لیاری ته بلل لکه چی ځینی په و نوم مسلمانان هم داسلام ددین دوا جباتو څخه دخلاصون او د شهوانی هڅودپوره کیدو له امله دده پیروی او متابعت وکړه او انگلیسانو ته داښکاره شوه چی ملگری کوی شی چی مسلمانانو دتفرقی او اختلاف په لیاره کی بریالی شی نو د ده تقدیر ئی وکړه او دده سره ئی دهغی مدرسی دپرانستلو په کار کی مرسته وکړه کومه چی دوی دهغی له لیاره څخه دا باور درلوده چی د الحاد په تربیی باندی و مسلمانانو اولادونه ښکار کړی په هر حال چی ؤ په هند کی دالحاد مفکوره خپره شوی نو په دی اثر استاذ«مولوی محمد واصل »چی دحیدرآباد دفنونو په مدرسه کی استاد ؤ سید جمال الدین افغانی ته په ۱۲۹۸ هجری کال دمحرم دمیاشتی په ۲۹ چی د۱۸۸۰ میلادی کال ددیسمبر دمیاشتی ۲۲ سره ئی سمون راته یولیک واستوه چی په لاندی ډول ئی مطلب ؤ وروسته دالقابو څخه لیکی: په دی ورځوکی دهند دټولو منطقو څخه زمونږ غوږو ته د«نیچر، نیچر.....» آواز رسیږی دا آواز د غربی او شمالی ممالکو د اوده د(پنجاب).د (پنجاله) د (سند) د(دکن حیدر آباد) او له هری خوا څخه اوریدل کیږی په هند کی هیڅ کلی او قریه له دی څخه پاتی نه ده چی هغی کښی څه خلک ځان په دی لقب ملقبوی، د دوی شما ر روځ په ورځی زیاتیږی او په خاص ډول په مسلمانانو کی ئی زیات نفوذ کړی دی ماد ډیرو هغو خلکو څخه چی می ورسره کتلی دی ددی طائفی په حلقه پوښتنه کړی ده چی دنیچر یه حقیقت څه دی؟ په کوم وخت کی نیچریان پیدا شوی دی؟، آیا دا طائفه په مونږ کی دخپل نوی مسلک دخپرولو،څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمدنیت تقویه او انکشاف غواړی او بل کوم مقصد نه لری؟ او که نه دوی نور مطالب لری؟ آیا ددوی لیاره په قطعی ډول ددین داصولو سره مخالفه ده؟ او که نه بلکل ددین سره تعارض او خلاف نه لری ایا دمدنیت په عالم او د انسانیت په اجتماعی ټولنه کی ددی مسلک او مشرب د اثارو او تاثیرات نسبت د مطلق دین د اثار او تاثیراتو سره څه دی؟ نو که دغه لیاره له په خوا څخه ریښه لری؟ ولی تراوسه زمونږ په مینځ کی نه وه؟ او ولی بلونکی ئی اوس پیدا شول؟ اوکه دایوه نوی لیاره وی نو څه غایه او مطلب لری؟ په دی باندی عمل څه فائده او اثر لری؟ څنګه چی دهر چا څخه می چی پوښتنه وکړه شافی او کافی ځواب ئی رانه کړه نود تاس عالی جناب څخه هیله لرم چی په پوره تفصیل د «نیچریه » او د «نیچریانو » حقیقت راته واضح کړی داسی شرح او تفصیل چی شک او تردد لری کړی او دفکری مرض علاج پری وکړی شی.والسلام.

دسید جمال الدین افغانی ځواب او په دهرینو باندی دده رد:

څنګه چی د «مولوی محمد واصل » دلیک په حقله دسید جمال الدین افغانی ځواب په دهریانو باندی دردمهم دلائل لری نوځکه غواړم چی په دغه مناسبت دده درسالی څه نصوص دلوستونکو دپاره وړاندی کړم ترڅو دده دعلم او فهم په اندازی او درجی پوه او دافکارو څخه ئی استفاده وکړو، نو دا دی دلیک ځواب:

«نیچر » دطبیعت نوم دی، دنیچر لیاره همدا د دهریانو لیاره ده کوم چی دمسیح دمیلاد څخه دری او یا څلور قرن مخکی په یونان کی پیدا شوی وه. ددی لیاری

(c) ketabton.com: The Digital Library





دخاوندانو مقصد دا دیانو محوه کول او دعامو خلکو ترمنځه په اموالو، اجناسو او داستفادی په شیانوکی دټولو په مابین کی دګډو استفاده کولو په حقله داشتراکیت او اباحت د اساسونو وضع کول ؤ، دوی ددی مقصد دترسره کولو دپاره ډیری بانی پیداکړی، خپل مطلب ته درسیدو دپاره ئی ډیر کوښښونه وکړل. ددی دپاره ئی ځان په مختلفو رنګونو متلون کړه، په مختلفو مواردو او ځایونو کی ئی دتقلب څخه کار واخسته، څومره ئی چی دلاسه وشول دخلکو دا خلاقو دفاسدولو په لیاره کی ئی صرفه ونه کړه اودخلکو دکارونو دورانولو دپاره ئی فعالیت وکړه. څومره چی په دغه لیاره کی چاددوی دمقاصدو دمعلومولو دپاره کارکړی دی دا ورته ښکاره شوی ده چی دوی دخپلو مقدماتو او دلائلو دلیاری یوازی دمدنیت فاسد یدل او خرابیدل غواړی او اراده لری چی دانسانیت اجتماعی ټولنی موجودیت تباه کړی ځکه دین هردین چی وی داجتماعی نظام دارتباط لړی ده اوبی له دین څخه په قطعی ډول دتمدن اساس محکمیدلی نه نشی. ددی طائفی دلیارښونو او تعلیماتو مبدأ د ادیانو محوه کول او ددینی اعتقاد له منځه وړل دی.

خو دا چی سره له دی چی ددی نظریی او مسلک له پیدایښت څخه اوږده موده تیره شوه خو بیاهم وده ئی ونه کړه او پیروان ئی لږ دی ددی اصلی سبب او علت دادی چی دانسانیت دمینی او محبت نظام او قانون کوم چی الهی سترحکمت څخه راوتی دی، ددی منحرفی لیاری په ضعیفو اصولو او فاسد قانون باندی غالب دی او الهی همدا پند او حکمت دی چی بشری افکار ئی ددی مسلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



داثارو دمحوه کولو دپاره پارولی دی. همدا وجه ده چی دی مسلک هیڅ کله پوره موجودیت او ثبات نه دی پیداکړی.

ددی مطلب دتفصیل دپاره غواړم چی یوه وړه رساله ولیکم هیله ده چی دارساله دفاضل ملګری طبیعی او غریزی عقل دپاره مقبوله او منظوره شی او دپاکو ذهینتو نو خاوندان ورڅخه عبرت واخلی.

سید جمال الدین افغانی په خپل دی رسالی کید دخطبی او مقدماتو څخه وروسته په لاندی ډول لیکلی دی: موثوقو او باوری تاریخی منابعو ویلی دی چی دمسیح دمیلاد څخه دری څلور قرنه مخکی دیونان حکماء په دوه ډلو ویشل شوی ؤ[1] یوه ډله په دی وه چی دمادی او مودی څخه مجرد، دمحسوساتو د لوازمو څخه جدا او دجسمانیت دعوار ضو او لواحقو څخه پاک ذات شته دی.

دی ډلی ثابته کړی وه چی دمادی او مجردو موجوداتو سلسله یوی داسی مبدی ته انتهاء پیداکوی چی هغه دټولو خوا ؤ څخه یو مجرد موجود دده ذات دتالیف او ترکیب څخه بری او عقل پده ده کی د ترکیب تصور محال ګڼی، دده وجود دده دحقیقیت سره عین او حقیقت ئی وجود سره یودی.

---

1. دمرحوم استاد دکتور ((محمد غلاب″» له لومړی ټوک ((الفلسفة الاغریقیه″» څخه معلومیږی چی اکثر دغو متألهینو حکماؤ دمسیح دمیلاد څخه مخکی په شپږم او اوم قرنو کی ژوند کولو په دی حساب دسید جمال الدین افغانی دمعلوماتو او ددی کتاب دمعلوماتو ترمنځه اختلاف لیدل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

دی دپیدایښت او له مبدأ، حقیقی موجود او دمجردو او مادی ټولو کائناتو مبدع (یعنی بی له مادی اومودی څخه پیداکونکی)دی.

داطائفه په متألهینو (یعنی الله پاک ته تابع کسانو) په ډله مشهوره وه ددوی دجملی څخه «فیثا غورث »، «سقراط »،(افلاطون)، (ارسطو)او ددی مذهب دپیروانو څخه نور ډیر کسان دی.

دیونان دحکماؤ څخه بله ډله دمادیاتو او مادی څخه پرته بل څه ته په موجودیت قائل نه دی او وائی:وجود صفت دپنځو حواسو په مدرکاتو پوری اختصاص لری او دحواسو څخه آخوا بل څه ته موجود نشوویلی.

داطائفه په مادیونو شهرت لری.

کله چی دمادیونو څخه پوښتنه وشوه چی دموادو په صورو او خواصو کی داختلاف منشا او د دوی په آثارو کی دتنوع اصلی سبب څه دی؟

دا وخت د دوی متقدمینو او پخوانیو حکماؤ دتنوع او اختلاف سبب او منشاء دموادو طبیعت وګڼه. په فرانسوی ژبه کی د طبیعت نوم "«ناتور"» او په انګلیسی ژبه کی «نیچر » دی همدا اوجه ده چی په عربو کی دا طائفه په طبعینو او په فرانسه کی په «نتورالیست »او «ماتریالیست »یادیږی (اول دطبیعت په حساب ورته «نتورالیست » اودوم دمادیت په حساب ورته «ماتریالیست » وائی). دوی ټول د مادی په اصالت باندی اعتماد او اعتقاد لری خو دستورو په تکوین، دحیواناتو په تصویر او د نباتاتو په پیدایښت کی سره مختلف شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-ددوی یوه ډله وائی: لکه څنګه چی کتل کیږی دپورته او ښکته کائناتو وجود او دتولیداتو پیدایښت اتفاقی او تصادفی دی او دتصادف په اثر ددغو موجوداتو وجود او پیدایښت منځ ته راغلی دی او بی له تصادفه بل کوم علت، سبب او منشاء نه لری.

سید جمال الدین افغانی په دغی ډلی باندی ردکوی وائی: ددوی ناپوهی دوی په دی واداره کړی دی چی ترجیح بلا مرجح روا وګڼی او حال داچی داخو عقل په ښکاره ډول محاله ګڼی او نه ئی منی (یعنی تصادف څنګه د یو شی وجود ته په بل وجود او یو صورت او رنګ ته په بل صورت او رنګ بی مرجع او سببه ترجیح ورکولی شی حال دا چه عقل اومنطق بی سببه داسی ترجیحات محال ګڼی او منلی ئی نشی).

ددی وینا او عقیدی مشر «دیمقراطیس » نومیږی دی عقیده لری چی ځمکنی او آسمانی ټول مخلوقات دوړو او سختو اجزاؤ او ذراتو څخه جوړ شوی دی، دا اجزاءاو ذرات طبیعی حرکت لری اوددغه حرکت څخه په مطلقی وړندی فیصلی (په تصادفی)ډول داجسامو اشکال او هیئتونه منځ ته راغلی دی.

۲-بله ډله عقیده لری چی دځمکی کره او دآسمانونو اجرام او اجسام له پخوا څخه په قدیم اوازلی ډول همداسی موجودیت لری اوتل به همداشانی وی، دوی وائی: دنباتاتو او حیواناتو سلسلی ابتدا او اول نه لری، دوی په دی معتقد او باور لری چی په هرتخم کی پټ یونبات پروت دی او په هرنبات کی تخم پټ شته دی، په همدا ډول دنبات او تخم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلسله غیر متناهی روانه ده اوپه هراصل کی بل اصل په لایتناهی ډول وجود لری.

سید جمال الدین افغانی د دی ډلی په ردکی داسی وائی:

ددی عقیدی پیروان په دی نه پوهیږی چی ددوی دعقیدی په اساس به په یومحدود متناهی او معین مقدار کی غیر متناهی مقدار ځای شی او دا خوښکاره محاله ده (یعنی که چیری په غیر متناهی ډول په یوه دانه کی دغیری متناهی دانو او نباتاتو خیال وساتل شی په دی صورت کی به په یوه وړوکی محدود څیر کی زښت ډیر څیزونه چی حساب او اخر ئی نشی راتللی ځان شی مثلا په یوه ګلاس کی دټولی دنیا داوبو دځائیدلو نظریه حال داچی داسی نظریه خو په واضح ډول عقل نه منی نو ددی نظریی پیروان هم په خپل مادی تحلیل کی خطاشوی دی).

۳- دا ډله وائی: دحیواناتو او نباتاتو سلسلی د نوعی په لحاظ قدیمی دی یعنی اول نه لری او د اسمانونو او ستورو اجسام، اجرام او هیئتونه مشخص قدیم دی یعنی ازلی او له پخوا څخه په همدا ډول وجود لری دا ډله دحیواناتو جزئی او شخصی نطفی او مبدی او د نباتاتو جزئی او شخصی معین تخم ته قدیم نه وائی (یعنی حادث او نوپیدا ورته وائی) دوی وائی: هره نطفه او تخم لکه دیوه قالب په شانی په کی همدا ډول بله نطفه او بل تخم پیدا کیږی.

سید جمال الدین افغانی ددوی په ردکی داسی وایی:

دا ډله په دی نه دی پوه او دا نه وینی چی په خلقت او وجود کښی دډیرو ناقصو حیواناتو څخه کله د وجود په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لحاظ سالم حیوانات پیدا کیږی او بالعکس دسالمو حیواناتو څخه کله ناقص او یا د اصل څخه زیات حیوانات هم پیداکیږی[1]

۴-د مادیونو یوه ډله په خپل بحث کی د ابهام په خوا تمایل لری یعنی د دوی وینا پیچلی غوندی ښکاری دوی وائی: دحیواناتو او نباتاتو په انواعو باندی د ډیری زمانی په تیریدو کی تقلب راغلی دی او د ډیری زمانی او دهرونو په مرور او عبور کی ئی په مختلفو صورتونو باندی تحول او تطور پیداکړی دی حتی چی اوس ئی موږ په دغه موجوده هیأت او صورت وینو.

---

[1]. دسید جمال الدین افغانی ددغه رد په مقابل کی ویل کیدی شی چی نقصان په بعضو او کمال په بعضو نوروکی دنفس نطفی اوتخم له پلوه چی دقالب په شانی دخپل غوندی شیان پیداکوی نه دی بلکه دغه کمال اونقصان دخارجی شرایطو او عواملو په اساس هم کیدی شی نو بهتره په ردکی داده چی ووایو:په نطفی اوتخم کی دپیدایښ استعداد له کومه پیداشوی دی؟ او نطفه او تخم چاپیداکړه؟ دا وخت دانه شی ویل کیدلی چی دیوی خاصی نطفی او تخم علة دی په خپله همدا خاصه، نطفه او تخم شی ځکه چی شی دخپل ځان دپیدایښت د پاره علت او سبب نشی کیدلی او که نه خپله شی به په خپل ځان مقدم او له خپل ځانه به مؤخرشی نو مجبوره یو چی خارجی علت ومنو او په خارجی علتو کی د دور او تسلسل دبطلان ددلائلو څخه ثابتیږی چی باید ومنل شی چی واجب الوجود ذات او په ټولو کمالیه صفاتو موصوف او له ټولو عیوبو څخه منزه آخری مبدأ الله پاک شته دی او له مادی او دمادیاتو څخه آخوا په یوه لوی الهی موجودیت او کامل قدرت باندی اعتراف وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

داعقیده د هر چا څخه اول د «ابیقور »[1] عقیده ده اودی د «دیوجینس الکلبی"» د پیروانو څخه دی. دی عقیده لری چی انسان یو وخت دخنزیر په شانی بشره او صورت ئی په ګڼو ویښتو پټه وه او بیا وروسته په مستمر او مداوم ډول دیو صورت څخه په بل صورت واوښته ترڅو چی په تدریجی ډول دی موجود ښایسته صورت او بهتر خلقت ته ورسیده.

سید جمال الدین افغانی ددی عقیدی په پیروانو داسی ردکوی: دی په خپلی دی عقیدی باندی چی وایی: دزمانی تیریدل دصورتونو دبدلیدو او دانواعو دترقی علت دی کوم دلیل او برهان نه لری.

کله چی د «جیالوجی » (دځمکی دطبقاتو دمعلومولو) علم دانواعو په قدم باندی ددوی دعقیدی باطلیدل کشف کړل نو دمادینو متأخرین کسان دقدم دعقیدی څخه دحدوث په خواو ګرځیدل او وروسته بیا په دی لاندی دوه بحثو کی سره مختلف شول:

اول بحث: دابحث دحیوانی او نباتی مبادیو بحث دی په دی بحث کی دوی دوه ډلی دی یوه ډله وایی: ټول اساسی مبادی په ټولو مختلفو انواعو سره هغه وخت پیدا شول چی دځمکی التهاباتو په تناقص او لړوالی پیل وکړه اوبیا وروسته دغه مبدئی تکوین ددغی خاصی مودی په خلاصیدو خاتمه پیداکړه (یعنی اصلی مبدئی تکوین او پیدایښت هغه وخت پیل شلو چی دځمکی

1. ((ابیقور » دمسیح دمیلاد څخه مخکی ۳۲۱ کال کی پیدا او د میلاد څخه مخکی ۲۷۰ کال کی مړشوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږزیدلودنقصان په خوا هڅه درلودله او کله چی ئی تقرر پیدا شونو مبدئی پیدایښت خلاص او دفرعی پیدایښت عصر راغی).

بله ډله وائی: د اشیا ؤ اصلی مبادی تل حتی تر ننی ورځی پوری او په خاص ډول هغه مناطقو کی چی دخط استوی په برید پرتی دی او په کوم ځای کی چی حرارت شدت پیدا کوی دپیدایښت په حالت کی دی، دغه دواړه ډلی دنباتی او حیوانی مبادیو دحیات او ژوند دسبب او علت د معلومولو په برخه کی عاجز او حیران شوی دی خصوصا هغه وخت چی دوی ته ثابته شوه چی ژوند دمبادیو په اجزاؤ کی کارکوی یوتربله ئی پیوند وی اوموجودیت ئی ساتی او دژوند غذائی قوت کوی شی چی مړه اجزاء په غذا اوتغذیی سره ژوندی کړی نو کله چی ژوند او حیات کمزوری شی داجزاؤ تجاذب، تماسک ټول کمزوری شی ترڅو چی دانحلال مرتبی ته ورسیږی چی دی مرتبی ته مرګ وائی.

یوه بله دریمه ډله عقیده لری چی د اشیاؤ د پیدایښت اصلی مبادی د ځمکی سره همغه وخت ؤ کوم وخت چی ځمکه د لمر د کری څخه جدا کیدله، دا عقیده حیرانوونکی عقیده ده چی د دوی د اصل سره سرنه خودی ځکه چه ځمکه دجدا کیدو په وخت کی یوه ملتهبة داور ټوټه وه نو په څه دغه د اشیاؤ اصلی مبادی ونه سول او په دی ګرم سوزونکی او رکی ددوی صورتونه ولی محوه نشول.

دوم بحث: په دی برخه کی ددوی اختلاف له دی ځایه شروع کیږی چی اساسا ټول مادیون وایی داشیا اصلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبادی یوتربله دجدائی او انفصال د اخری مرتبی څخه دکمال اخری مبدی په خوا دپورته کیدو هڅه وکړه او په دغه کوښښ کی دخداج (نقصان) حالت څخه دی موجوده بهترو صورتونو، محکمو فوارو او کاملو جوړیدو حالت ته ورسیدل خوله دغه اتفاق څخه وروسته ددوی یوه ډله وائی: دموجوداتو هری نوعی دپاره خاصه مبدأ شته اوهره نطفه یو داسی طبیعت لری چی دهغی په وسیله دژوند په مختلفو مرحلو کی خپل مناسب حرکت په خوا تمایل کوی او په دغه فعالیت کی خپل ځان ته دژوند ملائم اجزاء جلبوی ترڅودتغذی په واسطی ددغو اجزاؤ څخه خپل مناسب جز جوړ او دخپلی نوعی په شکل ئی ښکاره کړی.

سید جمال الدین افغانی ددوی په رد کی داسی لیکی: دوی له دی څخه خبرنه دی چی کیمیاوی تحلیلاتو دا ثابته کړی ده چی مثلا دانسان، غوه ئی، خره او دنورو حیواناتو په اصلی نطفو کی دژوند تفاوت نشته او ددی نطفو په وړو بخرکوکی یو تربله تماثل او ورته والی ښکاره شوی دی نو سره له دی چی دغه تماثل او ورته والی شته دی په څه دجرا ثیمو او نطفو ترمنځه په طبائعو کی اختلاف پیدا شو؟ (یعنی هر حیوانی طبیعت سره ددی چی دبل حیوانی طبیعت سره ګډ او مشترک مبادی لری په څه خاص هڅی او تمایلونه پیداکړی دی یعنی باید دخاصو تمایلو نونسبت اصلی ګډ طبیعت بلکه دطبیعت په نامه مبادیو ته ونشی بلکه دغه نسبت داخلی او بیرونی داسی عواملوته په کاردی چی اخر عامل ئی دمادی څخه آخوا په الله پاک باندی انتها پیداکړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمادیو نو بله ډله داسی وائی: دټولو انواعو اصلی مبادی او نطفی او په خاص ډول دحیواناتو نطفی په اصل ذات او جوهر کی یو تر بله متماثلی او په حقیقت کی متساوی دی او د انواعو ترمنځه جوهری تخلف او ذاتی انفصال او بیلتون نشته دی نو په دی اساس ددی نظری خاوندان روا گڼی چی یوه مبدأ او نطفه دیوه نوعی صورت څخه بل نوعی صورت ته انتقال وکړی او دا انتقال دمکان او زمان په مقتضی، دضرورت او حاجت په حکم او دخارجی عواملو دقدرت دفیصلی په اساس صورت پیدا کوی.

ددی نظریی او عقیدی مشر «داروین » دی او داروین یو کتاب تالیف کړی دی چی مطلب ئی دادی «انسان په اصل کی شادی ؤ... او وروسته بیا د دی شادی په صورت کی تهذیب او تنقیح پیدا شوه ترڅو چی دغی شادی د «اوران اوتان»څخه (یعنی دشادی ممتازی درجی څخه چی په اوران اوتان یادیږی دانسانیت په خوا متوسطی مرتبی ته ارتقا پیداکړه او له دی څخه وروسته په تدریجی ډول دزمانی په تیریدو سره دی صورت دانسان اولی ابتدائی مرتبی ته ځان ورسوه او ورڅخه د «یمیم » او نورو «زنوجو »صنف او قواره جوړه شوه او بیاله دی څخه پورته او دزنجیانو د افق څخه جگ او لوړمقام ته ئی ځان ورسوه او ورڅخه «قوقازی »انسان جوړشو.

سید جمال الدین افغانی وائی: عقیدی او نظریی په پیروانو داسی ردکوی: د داروین ددی عقیدی په اساس امکان لری چی دزمانی په تیریدو او دعصرونو په اوښتنه او راوښتنه کی به د ورگی څخه فیل جوړ او فیل به په ورگی بدل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نابغه (سید جمال الدین افغانی)

سید جمال الدین افغانی وایی: که د «داروین » څخه پوښتنه وشی آیا د دی سبب او علت څدی چی پخوا زمانی څخه چی تاریخ ئی په یقینی ډول اخر نشی معلومیدلی چی دهند په ځنګلو کی ولاړی ونی او په ځنګلو کښی پیدا شوی نباتات او ګیاوی. ددی ټولو اصول او بیخونه په یوه ساحه کی پیدا، ټوکیدلی او لوی شوی دی، څانګی او شاخونه ئی په یوه هوا کی غزونه کوی او ریښی یی دیوډول اوبو څخه خوړه به کیږی خو سره ددی ټول مابه الاشتراکه په مادی لحاظ پوره نه معلومیږی چی د دوی وده د پاڼو شکل، اوږدوالی او لنډوالی، پیړښت او باریکی، ګلان، میوه،خوند او بوی او عمرئی ولی یو تربله سره مختلف دی او کوم خارجی عامل او فاعل ددوی په مخالفت کی اثر اچولی دی چی سره د مکان، اوبو او د هوا یو والی په یو رنګ او یو ډول نه لیدله کیږی همدا شانی سره د ډیرو زمانو په تیریدوکی چانه دی اوریدلی او نه چالیدلی دی چی د نباتاتو او ونو خاصه نوع به په بلی نوعی بدلون پیداکړی وی یعنی په دی ډول چی دیوی نوعی حقیقت کټ مټ په بل نوعی حقیقت بدل شی.

سید جمال الدین افغانی لیکی: ددی رد په مقابل کی دځواب ویلو توان نه لری او بیا د رد په سلسله کی داسی وائی:که دی ډلی څخه پوښتنه وشی چی څه سبب او عامل دی چی دغه د «اورال» دبحیری ماهیان او د «کسپین» دبحر ماهی سره ددی چی په خوراک او څکلو کی شریک دی او په یوه ساحه او میدان کی مسابقه لری خوددوی ترمنځه نوعی اختلاف او په رنګونو، قواروا واعمالو کی ئی زیات تباین او تفاوت لیدل کیږی نو ددی تباین،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختلاف او تفاوت سبب او عامل څه دی؟ سید جمال الدین افغانی وائی د دی رد په مقابل کی هیڅ کوم ځواب نشی پیداکولی.

سید جمال الدین افغانی وائی: همدا شانی که دوی ته وویل شی چی دغه په وجود صورت قوت او خواصو کی مختلف حیوانات خوپه یوه منطقه کی ژوند کوی او په نورومنطقو کی ئی ژوند نه تامین کیږی او دا په خلقت او پیدایښت کی متباین حشرات او ځناور کوم چی په ترکیب او ساخت کی سره لری دی دوی ټول په یوه ساحه کی پیدا شوی دی او دلیری لیارو دقطع کیدو توان او قدرت نه لری چی بلی داسی خاوری ته ځان ورسوی چی ددی خاوری څخه په طبیعت کی مخالفت ولری ښه نو ددوی ترمنځه د اختلاف سبب او عامل څه دی؟په ځواب کی بی له خجالته نور څه نشی پیدا کولی بلکه که دوی ته وویل شی چی دغه جراثیم، مبادی او نطفی چا دنقصان په خوا سوق کړی دی؟کوم لیارښوونکی دوی ته لیارښوونه وکړه چی خپل ظاهری او باطنی جوارح او غړی پوره دحکمت په متاقضی ئی په ځای کی کیږدی، په هره یوه کی دهغه په موافق نوی قوت او طاقت پیدا او په هرغړی کی دهغه دتوان او قوت دیته متوجه کړی چی خپله وظیفه اداء اوحیاتی کار ترسره کړی.

ددی سر او راز د معلومولو څخه حکماء عاجز شوی دی او د «فسیولوژی» په بل عبارت «فزیولوجیا» عالمان (دا عضاؤ عالمان ددغو حشراتو دپوره منافعو او دګټو د اندازی د تخمین په لیاره کی کوم باوری حدته نه دی رسیدلی نو څنګه به مادی وړوند دطبیعت ضرورت وکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

شی چی دغو مبادیو او نطفوته دمعلم وظیفه اجرا او ددوی دپاره دټولو صوری او معنوی کمالاتو په خوا پوه لیاربښوونکی شی؟ ددی رد دځواب دپاره شک نشته چی بی له دی څخه بله چاره نه لری چی لکه دشکوڼ په شانی په خپلو وزروکی سرپټ کړی او دحیرانتیا په بحر کی خپل توان او قدرت دلاسه ورکړی هو: دتل دپاره دوی دشک او تردد سره مخامخ دی.

له دی څخه وروسته سید جمال الدین افغانی په لاندی ډول لیکلی دی: د داروین دواهیاتو څخه داخبره هم ده چی دی وایی: یو څه خلک ؤ چی دخپلو سپو لکی به یی پریکولی څنګه چی دوی خپلو دغو عملیاتو ته په قرنو دوام ورکړه آخرداسی وخت راغی چی سپی به ئی بی لکی پیداکیدل.

سید جمال الدین افغانی په دی وینا باندی درد په ډول داسی وائی: ددی دا معنی ده څنګه چی لکی ته ضرورت او حاجت پاتی نشو نو طبیعت هم دخپلی ښښنی څخه لاس واخسته.

سید جمال الدین افغانی وائی: دی مسکین نه دی اوریدلی اویانه یی شی اوریدلی چی عبرانین او عرب په زرګونو کلو دسنتولو کارکوی خوتر اوسه هیڅوک داسی نه دی پیداشوی چی سنت ئی نه کړی او یوهم بی له اعجازه «مختون» نه دی .زیږدلی. کله چی د مادیونو وروستیو خلکو ته د خپلو اسلافو دتمسک فساد ښکاره شونو دهغوی لیاره ئی پریښوده او نوی لیاره ئی پیداکړه.

دوی وائی: امکان نه لری چی ماده په داسی حال کی چی دشعور څخه عاری او خالی ده دداسی محکم نظام،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدیعی قواری، عجیبو اشکالو ښو صورتونو او داسی نورو اوصافو او ممیزیاتو د پاره مصدر او پیدا کوونکی شی کوم چی اثرئی ښکاره او رازئی پټ دی بلکه په پورتنیو او ښکتنیو موجوداتو کی د تنظیم علت، دمختلفو صورتونو عامل او د اشکالو، تطوراتو او دهغه خیرونو دپاره چی دمادیاتو بقاء او پایښتورباندی راځی اندازه کوونکی اوسبب ئی ددی لاندی دری شیانو څخه ترکیب لری: (متیر)ماده، (فورس) قوت، (انتلیجانس) ادراک. دوی عقیده لری چی ماده دخپل قوت او ادراک په وسیلی په دغو موجوده اشکالو او قوارو ښکاره شوی او ښکاره کیږی نو دا ماده کله چی دژوندی شیانو په صورت حیوانی وی اوکه نباتی خپل ځان ښکاره کړی دا وخت د شعور د لیاری د شخص د بقاء او د نوعی د ساتنی د لوازمو لحاظ ساتی او دی مادی ته هغه اعضاء او آلات ورکوی چی شخصی او نوعی وظایف ورباندی اداء کړی په داسی حال کی چی دا لازمه ؤ، دځایونو او دکلنی فصلو د ایجاباتو مراعات هم کوی.

دا نظر ددی ډلی ادعا طلبی عقیدی دپاره بهترینه هغه حیله ده چی موندلی ئی ده او دا وروسته له دی چی دوی په زرو سوریو ننوتل اود ذرو، سمڅو څخه ووتل خوبیا هم د دوی دانظر د دوی د نورو اوهامو څخه عقل ته ښه نژدی نه دی او نه ددوی د نورو کوښښو سره سرخوری ځکه چی دوی دنورو متأخرینو په شانی عقیده لری چی اجسام د (دیمقراطیسیه) وړو وړو اجزاؤ څخه مرکب دی همدا شانی ددوی نوی نظر د اجسامو په ترکیب کی د دوی دهغه نظر سره سمون خوری چی د تکوینی نظام د علت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

په حقله ئی تراشی ځکه که ماده چیری شعور ولری دا به لازمه شی چه دهر «دیمقراطیسی» جز دپاره خاص شعور پیداشی او په همدا ډول باید هرجز یو خاص داسی قوت ولری چی په هغی د نورو اجزاؤ څخه انفصال او امتیاز پیداکړی ځکه چی دامنل شوی ده چی یو معین، واحد او مشخص عرض نشی کولی چی په دوه محلو او ځایو باندی قیام پیداکړی نو یو علم او یو صفت نشی کیدلی چی په دوه اجزاؤ او یا ډیرو اجزاؤ قیام پیداکړی.

سید جمال الدین افغانی وائی: له دی څخه وروسته زه ددوی څخه دا پوښتنه کوم: داځنګه دمادی هرجزء سره ددی چی یو تر بله انفصال او جدائی لری دنورو اجزاؤ په مقاصدو او مطالبو پوه شولو؟او په کوم آلت او وسیلی هریو ددوی څخه نور په خپل مطلب او په خپلی ارادی پوه کړل؟کوم پارلمان (دشوری مجلس) اوسنا (دمشرانو مجلس) ددی جهان دعالی ترکیب او بدیع تالیف لرونکی کائناتو دنوی پیدایښت په برخه کی دمشوری کولو غونډه کړی وه؟ له کومی خوا دا اجزاء چی دچنچنۍ په هګی کی پراته دی پوه شول چی دمرغه په قواری به پیدا او دانی به خوری نو باید لازم وسایل پیداکړی ترڅو ضرور باید مشوکه او جاغور ولری ځکه چی یو مرغه په ژوند کولو کی دیته ضرورت لری، کله چی دامادی اجزاء د «شاهین» اونورو ځیرونکو مرغانو په هګی کی وی له کومی خوا په دی پوه شول چی دوی یو داسی مرغه جوړه وی چی هغه غوښی خوری نو باید داسی مښوکه او منګوله ولری چی د هغو په وسیله په ښکارباندی حمله وکړی اوبل حیوان دخپل ضرورت دپارهورباندی ونیسی او غوښی ئی دخوراک دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشکوی؟ دا مادی اجزا څنګه پوه شول حال داچی دسپی په رحم کی وی چی له دوی څخه به کوکری پیداکیږی، دا به لوئیږی حتی چی دشعور مرتبی ته به رسیږی او بیا به یو وخت بلاربیږی او په یوه وخت کی به ډیر کوکریان څیږوی او دا مور به ئی ددوی دپاره او ددوی دضرورت په تناسب ډیر تیونه برابروی؟او څنګه دا متشتت او تیت مادی اجزاء په دی پوه شول چی حیوانات زړه، لړمون، مغزو، هډوکو او نورو اعضاؤ او غړو ته ضرورت لری؟

سید جمال الدین افغانی وائی: که داطائفه زما دپوښتنی او رد په مطلب پوه شی نو به په خپلو افکارو کی بند پاتی شی او دحیرانتیاپه داسی مشقت به مبتلاشی چی سر ور څخه جګ نه کړی او هیڅ ځواب به پیدا نه کړی مګر که دجهل شیطان ئی ولمځوی او د بی فکری په حال کی داسی ووایی: «ددیمقراطیسیه» هرجزء دا جزاؤ څخه په ټولو هغو ځیزونو چی په خوا اویا وروسته پیدا کیږی همدارنګه په ټولو آسمانی او ځمکنی اجزاؤ چی په جهان کی شته دی علم لری او دا هر جز کوښښ کوی چی دکائناتو د مبادیو او تنظیم پوره مراعات وکړی نو هر مادی جزء څنګه چی لازمه ده دبل مادی جزء سره دیوځای کیدو هڅه کوی ترڅو په عام او خاص ډول دمخلوقاتو په تنظیم کی خلل پیدا نشی او په دغه ډول جهان په یوه غوره نظام ولاړ دی.

سید جمال الدین افغانی وائی که د دوی وړوند احساس ددی وینا او دلیل په خوا تمایل وکړی نود دوی په ردکی داسی وایم:

اول: په دی اساس باید «دیمقراطیسی » هرجز غیر متناهی ابعاد او برخی ولری حال داچی دا دو مره وړوکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چی حتی په مکروسکوب کی هم نه پیدا کیږی. «دیمقراطیسی » اجزاء ددوی په اصطلاح هغو وړو زرو ته ویل کیږی چی علماً او عملا تقسیم او تجزیه نه قبلوی.

بیان او توضیح: مخکی وویل شول چی دغه هرمادی جز به درک او علم لری حال داچی علم ددوی په نزد دیته وائی چی دمعلوم صورتونه په عالم کی رسم شی نو به دهر علمی صورت درسمیدو دپاره په دی مادی جز کی ځای پیداکول ضروری وی خو ثنګه چی دوی علمی صورتونه غیر متناهی ګڼي دالازمیږی چی په یوه مادی وړوکی جز او زره کی چی نهایت متناهی دی غیر متناهی ابعاد دغیر منتاهی صورتونو دپاره پیداشی او دا په واضح ډول عقل نه منی.

دوهم: که دا «دیمقراطیسی»مادی اجزاء په درک اوعلم کی دومره لوړه مرتبه ولری او دمجرد علم په شانی پوره قوت او طاقت هم ولری څکه چی دوی دی اجزاؤ ته په زیات قوت او قدرت قائل دی نو آیا ولی کائنات په خپله نشی کولی چی ځان دکمال اخری مرتبی ته ورسوی؟ آیا ولی دوی په خپل قدرت او طاقت چی لری ئی آلام او مصایب په قطعی ډول له ځانه نه لری کوی چی بیا دتحمل او خلاصیدو دپاره هیڅ حاجت پاتی نشی؟ په څه دانسان علم او ادراک او د نورو حیواناتو ادراک او یاشعور چی ددوی په ګمان همدا د مادی اجزاؤ علم او ادراک دی نشی کولی چی دخپل ځان په متعلق پوره معلومات ولری او داتوان نه لری چی خپل ژوند وساتی؟ له دی څخه عجیبه لیا داده چی دمایونو متاخرین وروسته له دی چی دخپل مذهب دتائید دپاره ئی دټولو خرافاتو سره مصافحه او روغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبړو کړه بیاهم دوی په ځینی موادو کی بی له حیرانتیا بله چاره پیدانه کړه او داتوان ئی ونه مونده چی دخپلو فاسدو اصولو په کوم اصل باندی ئی تطبیق کړی نه دطبیعت په اصل اونه دشعور په اصل او داهغه وخت ؤ چی دوی دوه شیان په خواصو کی مختلف ولیدل حال داچی په تحلیل کښی ددواړو عناصر متماثل ښکاره کیدل نو څو مره چی دوی خپل اباطیل وړاندی کړل بی له دی څخه ئی بله چاره ونه لیدله چی رجماً بالغیب په «دیمقراطیسیه » مادی اجزاؤ باندی داسی فیصله صادره کړی چی دا اجزاء دمختلفو اشکالو خاوندان دی او داشکالو او او ضاعو داختلاف په مطابق ئی په آثارو او خواصو کی اختلاف پیدا کیږی.

خلاصه داده چی په مادیونوکی لس مختلف مذهبونه دالو هیت څخه انکار کوی او داعقیده لری چی اقدس او صانع ذات موجود ندی دوی په خپل منځ کی اویاد الهینو په نزد په طبعینو، مادیونو او دهریونو شهرت لری او که دی خوښه وی ورته «نیچریین»،«ناتورالیسیمیین»او«ماتیرالیسمیین» ووایه.[1]

استاد «صلاح الدین » سلجوقی هغه وخت چی په مصر کی دافغانستان سفیر ؤ دسید جمال الدین افغانی د «الرد علی الدهریین » کتاب وروسته له دی چی ورباندی ئی علمی مقدمه[2] لیکلی بیا نشر او خپور کړه ده

---

1. دکتاب ((الردعلی الدهریین » (۳۴-۴۹)صفحو څخه خپرونکی ((دارالکرنک"».

2. دمقدمی صفحی (۱۷-۱۸) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

په خپله مقدمه کی په لاندی ډول ددهریانو لس ډلی یادی کړی دی.

۱-الاییبیقوریون.
۲-الارتقائیون (نهضت او پرمختګ غوښتونکی).
۳-مزدکیون.
۴-شیوعیون (کمونیستان).
۵-باطنیون.
۶-د«فولیتیر» او «جان جاک روسو»پیروان.
۷-دعثمانیانو په دولت کښی منحرفه حکام.
۸- نفعیون (یوازی خپلی مظاهری فایدی او لذت دپاره چی دهری لیاری وی کارکوی).
۹-مورو مون.
۱۰-په شرق کی خائنان، دسیسه کاران، رشوت خواره او ریاکاران.

له تیر تحلیل او بحث څخه ثابتیږی چی سید جمال الدین افغانی په علم او فلسفه کی دخپل وخت دقیق عالم ؤ او داستدلال او منطق دلیاری ئی ددهریونو مذهب او عقیده باطله کړی ده او داهم معلومیږی یو موحد شخصیت ؤاو دده عقیده دمقلدینو دتوحید دعقیدی په شانی نه وه بلکه په توحید کی دده عقیده دټکول شوو لویو فلاسفه دتوحید دعقیدی په شانی وه.

سید جمال الدین افغانی په اسلام کی دتوحید عقیده په حقیقی او واقعی ډول پیژندله او ده داسلام دین او نورادیان، مذهب او مسلکو نه ښه دقیق مطالعه کړی او لوستی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقيقت دادی چی سيد جمال الدين افغانی دهغه وخت متداوله علوم لوستی، دعصری علومو کتابونه ئی زيات مطالعه کړی ۀ جهانی تجربه ورته پوره حاصله وه، طبيعی ذکاوت ئی ډير قوی ۀ دښو لوړو اخلاقو او انسانی بهترو سجاياۀ خاوند او ښه پياوړی ليکوال، مؤلف او مؤثر خطيب هم ۀ.

«هغه عقائد او خصلتونه چی دين دهغو افاده او ليارښونه کړی ده په دی حقله سيد جمال الدين افغانی په خپله رساله «الرد علی الدهريين » کی په لاندی ډول ليکی: دين دبشر دعقلونو او ذهينتونو دپاره دری عقيدوی مبادی ګڼلی دی او دری خصلتونه ئی دبشر په زړه او فکر کی امانت ايښيدی.

هريو ددی مباديو او خصلتونو څخه د ولسونو د وجود قوام، مبدأ او رکن دی، داجتماعی تشکل د آبادی ستن ده او داجتماعی مدنيت دانکشاف له امله محکم اساس اوبنياد دی په دی هريوه کی دتحريک دومره پوره استعداد شته دی چی دقامونو، قبائل او ولسونه دکمال اخرو مرتبوته رسوی او دسعادت اخری درجی ته ئی پورته کوی. په دی هريوه کی دساتنی قوی طاقت پروت دی چی په هغی خلک دشرڅخه لری کوی دفساد نه ئی بچوی او دهغو ناوړه عادتونو څخه ئی ګوښی ساتی کوم چی دتباهی او تفرقی موجب ګرځی.

اوله عقيده: باور په دی چی انسان دځمکی ملک او پرښته دی او په ټولو مخلوقاتو کی اشرف اومکرم مخلوق ښه استعداد، مقام او منزلت لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهمه عقیده: د هردین تابع او پیرو په دی یقین او باور لری چی ددغه دین امت او پیروان ټولو امتونو او پیروا نو څخه بهتری لری اومخالف ئی په ضلالت او باطله باندی روان دی.

دریمه عقیده: دټولو اسمانی ادیانو پیروان په دی جزم او باور لری چی انسان دنیاته دکمال دپوره والی دپاره راغلی دی، داسی کمال چی دی له دی دنیا څخه پورته، زړه پوری او پراخه مرتبی ته ورسوی او له دی تنګ کور څخه چی ډیری ستونځی لری، داسی کور چی باید دغمونو او درودونو په کور یاد شی یو ارت کور او داستوګنی پراخ ځای ته انتقال کړی، داسی ښه کور چی له دردونو څخه خالی اوسعادت اونیک مرغی ئی پایان او انتها ونلری. یو پوه انسان دانه هیروی چی دغودری عقائدو مهم آثار او دښه مدنیت د پاره زیاتی ګټی دبشری اجتماع په برخه کړی دی، ددی عقایدو په وسیله د امتونو روابط اصلاح شوی دی په دی هری عقیدی دبشری نوعی دپایښت کار کیدی شی او خپل پیروان دیته متوجه کوی چی یو تربله دمسالمت او اعتماد ژوند وکړی.

دا عقائد غواړی چی خپل پیروان مصمم کړی چی دنفسی او عقلی کمال په مراتبو کی لوړو درجوته ځان ورسوی.

له دی څخه وروسته سید جمال الدین افغانی په پوره تفصیل دهری عقیدی دپاره لوازم اوخواص بیان کړی دی چی دقت په هغو کښی د سعادت اونیک مرغی وسیله کیدی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دری خصلتونه

په تاریخ کی داول دپیدایښت څخه په خلکو کی دری خصلتونه دمیراث په ډول پاتی شوی دی او دینی صبغه لری.

**لومړی خصلت:**

«حیاء» هغه انفعال او خجالت دی چی دبد کارونو د ملا متیدو په وجهی په نفس اوفکر کی پیداکیږی، دا خجالت او انفعال سړی په دی متأ ثر او توبیخوی چی ولی دداسی کارونو مرتکب ګرځیدلی چی هغه خلک نقص ګڼی سید جمال الدین افغانی دحیاد صفت اهمیت ضرورت اوفوائد بیان کړی دی.حقیقت دادی چی دبدو کارونو دکولو څخه حیااو خجالت دانسان دښه شخصیت په جوړولو کی پوره خدمت کوی خو دبدو کارونو معلومول هسی آسانه کارنه دی او همداشانی دحیا او دخجالت په اندازی او موقع باندی پوهیدل ضروری امر دی چی باید دحیا په نامه خجالت بی موقع افراطی اندازی ته ونه رسیږی او په دی اثر مثبت استعدادونه جریحه داره نشی. څنګه چی وویل شول حیا د بد کارونو څخه د ممانعت چاره ده نو په دی اساس هغه کسان چی په ښو کارونو کی دحیا په نامه متین او زړور اقدام نه کوی دوی ته باید حیا کاران ونه ویل شی بلکه دوی بی ایمانه او بی همته متر دد او بی غیر ته کسان دی.

**دوهم خصلت:**

«امانت » داثابته ده چی دانسانانو پایښت په معاملو، ورکړه او راکړه او یوتربله دګټو په تبادلو قائم او ولاړدی او دمعاملی او معاوضی سا او روح امانت دی نوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوه معامله کونکو ترمنځه د امانت روحیه فاسده شی دمعاملو ټول روابط اوصلات باطل او فاسد یږی اختلاف پیدا، دژوند انتظام مختل او په سرعت انسان دفنا او تباهی سره مخامخوی.

سید جمال الدین افغانی له دی څخه وروسته امانت خصلت ته داجتماعاتو ضرورت په دی ډول توضیح کوی: حق او واقعیت دا ځرګنده ثابته کړی ده چی امانت دانسان د بقا بنیاد، دحکومتونو د پاره قوی اساس، دامن او راحت ښیګڼو خپرونکی، دقدرت او عزت دابادی پورته کوونکی او دعدالت روح او جسد دی او دغه مطالب او مقاصد بی له امانته په لاس نه راځی.

**دریم خصلت:**

«صدق » سید جمال الدین افغانی صدق ته دضرورت په دلائلو زور اچولی دی او په پوره تفصیل ئی دصدق فواید بیان کړی دی.

حقیقت دادی چی صدق داعتماد اساس، په اجتماعی ښه ژوند کښی ورته حیاتی ضرورت شته دی، صلات او روابط تقویه کوی. شخصیتونه جوړوی او دمینی او محبت دپیداکیدو دپاره مهم شرط دی په دی اساس باید دصدق مواقع او موارد ښه تشخیص او دقیق وپیژندلی شی باید وویل شی چی صدق ښه دی خو بی مورده او موقع چی ضرر اوتاوان په کی وی رښتیا ویل ساده توب دی همداشانی که دربنتیا ویلو څخه دملی ښیګڼو او انسانی کرامت دښمن استفاده کوی هغه وخت چوپتیا او سیاسی او دپلوماتی حرکت ښه کار دی. که رښتیا چیری دحق دتلفیدو موجب او ورځخه بد تعبیرونه پیدا کیری باید ورځخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره او اعتراض وشی. همدا ډول داجتماعی ذهینتونو داندازی معلومول او په همغه برابر ګړیدل عاملانه او عاقلانه کار دی.

سید جمال الدین افغانی په اخر کی داسی لیکی: مادیون او دغه دالوهیت دمفکوری منکر کسان هروخت هرچیری اوپه هررنګ چی پیداشوی دی کوښښ کړی دی اوتل هڅه لری چی ددغه قصر او تعمیر اساسی آبادی کوم چی په مسدس ډول شپږ رنګه ښکاری له منځه یوسی.

حقیقت دادی چی دا تعمیر دانسانیت دسعادت تعمیر او قصر دی چی په شپږو دیوالونو ولاړ دی، دری ئی عقائد اودری یی خصلتونه دی.

دمادیونو دافکارو محصول غواړی چی ددغه جړ او شانداره تعمیم او قصر آبادی په لړځیدو راولی، دابیچاره انسان دبدبختی سره مواجه کړی او دانسانیت دمدنیت له تخت اومرتبی څخه ئی دحیوانی وحشت ښکته او پستی مرتبی ته ورسوی.[1]

«دمادیونو ښکارونی اوددوی هغه مقاصد او مفاسد کوم چی غواړی دمدنیت نظام ته تاوان ورسوی » سید جمال الدین افغانی په خپله رساله «الرد علی الدهریین »کښی دمایونو هغه مفاسد چی دمدنیت دنظام په ضرر ئی پیدا کړی دی او ددوی په دی حقله ښکارونی او مقاصد په دی لاندی ډول یادوی: مادیون دولسونو او پرګنو په روان تاریخی جریان کی په مختلفو رنګونو او نومونو ښکاره شوی دی کله دوی ځانونه دحکماؤ په نامه یادوی او خپلو

---

[1]. د «الردعلی الدهریین » کتاب د (۵۱-۶۲)صفحو څخه اخستل شوی دی. مطبعه ((دارالکرتک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

ملګرو ته دحکیم لقب ورکوی، کله بیا دوی داسی ښکاره کوی چی دوی ګوندی دظلم او تجاوزدفع او رفع کوی.

ډیر کرته بیا مادیون خپل ځانانونه دصحتی په مخ داسی ښکاره کوی چی دوی ګوندی داشیا ؤ اسرار پیژنی، حقائق او رموز کشفوی، دظاهر څخه باطن ته رسیدلی دی او موجوداتو او موضوعاتو په دننه حقیقت ماهیت او کیفیت باندی پوهیږی یو وخت دوی داسی ښکاره کوله چی دخرافاتو څخه دوی دخلکو ذهنیتونه پاکوی او افکار دحقایقو په روښانولو تنویروی.

کله دوی داښیی چی دوی دفقیرانو دوستانو، دضعیفانو ساتونکی او دمسکینانو دخیر او فائدی غوښتونکی دی.

په انتهاء کی دمادیونو څخه ډیرو کسانو دپیغمبری دعواهم کړی ده اودوی دنورو دروغجنودنبوت ددعوی کوونکو څخه جدا په ځان ګړی نیرنګ ددغی باطلی مدعی دپاره فعالیت کړی دی. دمادیونو داټول کوښښونه چی هرچیرته ئی په هررنګ، نیرنګ او شکل تاوان رسولی دی، دولسونو دګټو دتندراو دقامونو او دټبرونو دآبادی تباه کوونکی دی. دوی ژوندی زړونه په خپلو خبرو مړه کوی، دوی دخپلو آراؤ په وسیلی دخلکو په ارواحوکی زهر پاشی او محکم نظام په خپلو ناوړه مساعیو ورانوی نوهرچاته چی دمادیونو ګرد شر او تپ رسیدلی دی دهغوی شدت او قوت مات شان اوشوکت ئی تباه، یوتربله تیت او متنفراو خپل ځان قوام او متانت ئی بایلوی دی.

سید جمال الدین افغانی په دغه سلسله کی وائی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو د «یونانیانو » «فارسیانو » «فرانسویانو » او(عثمانیانو) هغه حال او اوضاعو ته کوم چی په دوی کی د مادیونو او د هر یو نو د ښکاره کیدو او پیدا کیدو څخه مخکی او وروسته پیدا شوی د مطالعی او څیړنی لاندی ونیسی چی او له څومره مخ په وړاندی روان ؤ او بیا څنګه د نزول او بدبختی سره مواجه شول. سید جمال الدین د (حال الامة الاسلامیة) تر عنوان لاندی داسی لیکی:

«الامة الاسلامیة جاءتها الشریعة المحمدیة والدیانة السماویة فاشربت قلوبها بتلک العقا ئد الجلیلة،ومکنت فی نفوسها تلک الصفات الفاضلة،وشمل ذلک آحادهم، ورسخت بینهم تلک الاصول الستة بدرجة یقصر القلم دون التعبیر عنها، فکان من شأنهم أن بسطو سلطانهم علی رؤس الا مم من جبال الالب الی جدار الصین فی قرن واحد، و حثوا تراب المذلة علی رؤس الأکاسرة و القیاصرة مع انهم لم یکونوا الا شرذمة قلیلة العدة نذر العدد،ولم ینالوا هذه البسطة فی الملک والسطوة فی السلطان الا بما حازوا من العقائد الصحیحة و الصفات الکریمة، هذا الی ما جذبه مغناطیس فضائلهم من مائة میلیون دخلوا فی دینهم فی مدة قرن واحد من أمم مختلفة مع انهم کانوا یخیرونهم بین الاسلام و شیء زهید من الجزیة لا یثقل علی النفوس أداؤ ه. هکذا کان حال هذه الامة الشریفة من العزة و منعة والسلطان ».

د ترجمی حاصل: اسلامی امت ته محمدی شریعت او سماوی دیانت راغی، ددوی زړونه په دی جلیلو عقائد و باندی خړوبه شول،ددوی په نفوسونو کی دا بهتر صفات

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکم وګرځیدل، ددوی ټول افراد په دی پیاوړی شول، دا اشپږ اصول (چی مخکی یادشول)

تر داسی اندازی محکمه شول، چی قلم ئی د تعبیر کولو څخه عاجز دی نو ددوی طاقت دومره درجی ته ورسیده چی د «الب »د غرونو څخه نیولی تر «صین » اویا (چین) دیوالونو پوری ددوی سلطه په یوه قرن کی خپره شوه او ددوی د اکاسره او قیاصره ۀ په سر نو دذلت خاوری واچولی سره ددی چی دوی شمار کښی وړه ډله او لږ وسا یل ئی درلودل.

دوی دغه دبدبی او غلبی ته یواځی په همدی ورسیدل چی په صحیحوعقائدو او کریمو صفاتو ملبس ۀ. دوی وکړی شول چی د فضائلو په مقناطیسی قدرت سره په یوه قرن کی سل ملیونه خلک د مختلفو قامونو څخه جذب او په خپل دین کی ئی داخل او شامل کړی سره ددی چی دوی به ټولو کسانو ته اختیار ورکولو چی د اسلام دین قبلوی او که نه لږه جزیه چی اداء کول ئی ورباندی سخت او ګران نه وی منی.

په دغه شانی دغه شریف امت حال ۀ چی دقدرت او سلطی لوړ مقام او د عزت او د بد بی مرتبی ته رسیدلی ۀ.

**د شرق د هریان**

سید جمال الدین افغانی د شرق د هریان یاد کړی دی او ددوی حقله داسی لیکی:

دا لوهیت څخه منکر د هریان هغه دی چی دوی د مهذبو کسانو په جامه کی ځان ښکاره کړی دی. ظاهری د وطن د محبت په رنګ رنګ کړی دی، دوی د ولس د خیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتونکو په شانی ادعاء کوی او په دی چل له یوی خوا ځانونه د غلو ملګری او شریکان او له بلی خوا ځانونه د قافلی رفیقان ګڼی، دوی د ناپوهو خلکو په سترګو کی ځانونه داسی ښکاره کوی چی دوی ګوندی دعلم او معرفت بیرغونه وچتوی خو دوی په واقع کی مکر او حیلی د خیانت نوی فرش غوړوی.

دوی په څو ناقصو کلمو چی مطلب ورڅخه پوره نه معلومیږی یعنی قالبی خبرو کومی چی دوی د تباه کارانو غلا کړی دی غرور او نیشه لری، خپل بریتونه ئی د کبر او غرور په ډول تراشلی او برابر کړی دی او ځانونه د هادیانو او رهبرانو په نوم یا دوی حال دا چی دوی دجهالت په طبقو، دغباوت په پردودرزائلو په سختو چټلیو او دبدیو په ناوړه بوین پوستکی کی پراته دی.

دوی هغه خلک دی چی په دی قوی باور او عقیده لری چی عقل او د عقل دمعرفت او پیژندنی میوه یوازی همداده چی پری دغدر او چل خواوی پیدا او د اختلاس لیاری درباندی وپیژنی سید جمال الدین افغانی ددوی د قباحت د یادونی په سلسله کی داسی لیکی:

ماته د دوی په یادونه کی خجالت راځی، حیا می منع کوی چی د دوی اخلاق، روایات او اعمال پوره حکایت کړم ځکه چی ددوی مقاصد دومره دنی او پست دی چی بی دخپل منفعت څخه دبل چاخیال هم نه ساتی، دوی کوښښ کوی چی دخپلی ګیډي دشهوت لپاره دخپلو ولسونو اساس له بیخه وباسی او دوی خپلی چړی ددی دپاره تیری کوی چی دخپلو انسانانو د اتفاق روابط ورباندی قطع کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

دسید جمال الدین افغانی « نیچریه یا الرد علی الدهریین »رسالی دهند په مسلمانانو باندی سخت تاثیر واچوه حتی چی دهند اکثرو خلکو خپل ځامن او اولاد دهغی مدرسی څخه خارجه کړل کوم چی انګلیسانو دخپل دغه غرض یعنی ددهریت دخپرونی دپاره جوړه کړی وه اوخلکو بیرته سلیمی اسلامی عقیدی ته رجوع وکړه.[1]

د (الرد علی الد هریین) رسالی د بحثونو او څیړنو څخه معلومیږی چی سید جمال الدین افغانی فکری دقت،د معلوماتو وسعت او په فلسفی او کلامی سختو مسا ئلو او علمی موضوعاتو کی قوی تحلیل درلوده.

شک نشته چی که څوک دده (الرد علی الد هریین) په رساله کی دقیق فکر وکړی ضرور په دی اعتراف کوی نوموړی افغانی سید انسان ته دکرامت مرتبه اومنزلت دی دشادی مقام ته ښکته شی.

حقیقتآ چی دی انسان څخه دا غواړی چی په لوړو مبادیو اتکاء او د انسانیت په قوانینو، دساتیرو او لیار ښوونو عمل وکړی.

همدا شانی ښکاره ثابتیږی چی سید جمال الدین افغانی په ژوند کی مهم مقصد او هیله درلودله چی دی او خلک دحیاء، صداقت او امانت ژوند وکړی او ده کوښښ کوه چی په خپل ایمان، کرامت او دین سره د کمال هغه

---

[1]. د (الردعلی الد هریین) کتاب (۵۰-۴۹) صفحو څخه سید جمال الدین افغانی په دی ایمان دررلوده چی اعتقاد په مقدسی مبدی او د لوړو اخلاقو او روح سره رابطه انسان د ملک مرتبی ته پورته کوی، داسی مرتبه چی په هغی کی انسان د شر مرتکب نه ګرځی بلکه دخیر سره مینه لری او په ژوند کث دخیرونو اندازه زیاتوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرتبه پیدا کړی کومه چی د هغی په وسیلی د دنیوی لانجو څخه خلاص او د آخرت پراخه او لوړو مرتبو ته ځان ورسوی.

همداشانی دده په نزد دا ثابته وه چی د فرد او ټولنی د مشکلاتو او لانجو دحل دپاره یوازنی موفق علاج په دی کی دی چی زړه د رزا ئلواو ناوړه افکارو څخه پاک اوسو چه، په اطمینان او نیک معاشرت او سلوک تقویه او غښتلی شی.

د هند څخه (لندن) او بیا (پاریس) ته د سید جمال الدین افغانی سفر په پاریس کی د ده استوګنه او اقامت د (العروة الوثقی) د حزب د جوړولو کار او په دی نامه د جریدی د خپرولوڅخه دده غایه او هدف او د عالم اسلام دپاره دده داجتماعی او سیاسی خدمتونو یادونه).

کله چی په مصر کی د (احمد عرابی) انقلاب خاتمه پیدا کړه او په مصر کی د انګلیسانو کار تقرر ومونده نو دا وخت سید جمال الدین افغانی ته ئی اجازه ورکړه چی که خوښه ئی وی د هند د (کلکتی) څخه لاړشی خو په دی شرط چی بل کوم اسلامی دولت ته ورنشی ځکه چی انګلیسان په دی ډاریدل چی دی به په منځنی ختیزه کی د دوی نقشی ورانی کړی نو سید جمال الین افغانی اروپا ته د تلو قصد وکړ او په کال ۱۸۸۲ میلادی کی د انګلستان په خوا روان شو، دی لندن ته ورسیده خو هلته ډیره موده پاتی نشو او له هغه ځایه (پاریس) ته لاړه او پاریس هغه وخت دده دافکارو نشرولو او د انګلیسانو په ضد دده دجهاد او مجادلی دپاره زیاد ملائم او مساعدؤ تر څو د عالم اسلام عام نظر وپاروی او دوی په دوی باندی احاطه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوو خطراتو ته متوجه او ملتفت کړی او شاید دا به هم وه چی ده به ګمان کوی چی د فرانسویانو څخه مرسته واخلی ځکه په هغه وخت کی د انګلیسانو او فرانسویانو تر منځه په مصر او شمالی افریقا کی د عثمانی دولت د متروکاتو د ترکی او ویش په حقله اختلاف او یو د بل نه د استعمار د زیات تصرف کولو او نیولو هځه درلودله.

کله چی سید جمال الدین افغانی په پاریس کی تقرر پیدا کړه نو خپل ګران شاګرد محمد عبده ئی پاریس ته و غوښته تر څو دده سره د مسلمانانو د بیدارولو دپاره دجهاد کولو په منظور مرسته وکړی.

شیخ محمد عبده باندی کله چی په مصر کی د (احمد عرابی)انقلاب ناکامه شو ددری کاله فراریدو حکم صادر شوی ؤ نو ۱۳۰۰ هجری قمری کال د صفری میاشتی ۱۳ او ۱۸۸۲ میلادی کال ۲۴ د دسمبر د میاشتی تاریخ ؤ چی د مصر څخه د شام د علاقی په خوا روان او بیروت ته ورسیده او له دغه ځایه ده خپل استاد ته د پاریس په خوا حال او احوال لیږه ترڅو یو تر بله لیکنو په دی خاتمه پیدا کړه چی محمد عبده دپاریس په خوا روان شو کله چی دی پاریس ته ورسیده ده په اول کی خپل استاد ته داسی عوښتنه وړاندی کړه: راځه چی دواړه یو لری ځای ته لاړ شو داسی ځای چی د کوم دولت قدرت ته تابع نه وی تر څو ددوی حرکت خراب او فلج نه کړی، دوی به هلته د زعیمانو او رهبرانو د جوړولو مدرسه او مکتب جوړ کړی، دوی به په دی مدرسه کی د اسلامی اقطارو اومناطقو څخه داسی نجیب او با استعداده ځوانان انتخاب او داخل کړی کوم چی په دوی کښی د خیر د استعداد احساس وکړی شی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی به په قوی او محکم پروګرام چی دواړه ئی غوره کړی دوی تربیه کړی دوی به د زعامت رهبری او اصلاحاتو د کولو د پاره برابر وی او دا کار به ددی وسیله شی چی د لسو کلو وروسته به دا مدرسه یو شمار داسی شاګردان وباسی چی دخپلو وطنو دتر کولو، د یو ځای ثخه بل ځای ته دلیږ دیدلو او دمطلوبی اصلاح د خپرولو دپاره مستعد، اماده او حاضر وی.

دغه نظریه او غوښتنه سید جمال الدین افغانی خوښه نه کړه او به کی ئی د تصمیم ضعف او دزیات تشاؤم او نا امیدی احساس وکړه نو امام (محمد عبده) ته ئی وویلی (انما انت مثبط)[1] یعنی ته معوق او معطلونکی ئی، سید جمال الدین افغانی لیدله چی د لسو کلونو ثخه وروسته د اصلاح دپاره انتظار ضرور دوی د لازمی کار او عمل خخه بیرته پاتی کوی، داسی کار او عمل چی په موجوده عصر کی باید وکړی شی نو ځکه سید جمال الدین داسی فکر کولو چی ددرس، تدریس، تعلیم او تربیی سره جوت په محصلینو واجبه ده چی د موجوده عصر دایجاباتو او دسیاسی فوری اصلاحاتو ثخه غافله نه وی ترخو فرصت او موقع دلاسه ور نه کړی شی نو ځکه شیخ محمد عبده د خپل استاد سره متفقا دواړه د هند او مصر د فاضلو مسلمانانو د ډلی سره یو ځای د اسلامی حزب جوړولو په کار ئی پیل وکړه دا حزب د «العروة الوثقی» به ټولنی نومیالی شو، په اصل کی دا

---

[1]. ددوکتور «ابراهیم العدوی» «رشید رضا » دکتاب (۶۹) صفحی ثخه دا کتاب د عربی اعلامو په سلسله خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حزب سری او پټ فعالیت کولو او اصل قانون او مرام نامه ئی په اول کی ښکاره لیکلی او خپره کړی نه وه، دوی په عمومی لحاظ د اسلام برم،عزت او شوکت اعاده کیدل او بیرته راتلل غایه او هدف درلودلو او د خلکو عقاید ئی د شک او تردد څخه پاکولو چی دا کار بی له دی څخه نه کیده چی مسلمانلن دی په عقیده او عمل کی خپلو اسلافو یعنی د صحابه ؤ او تابعینو اعمالو او رویو ته رجوع وکړی او په خاص ډول دی راشدینو خلفاؤ ددوری په شانی داسلام د تعمیل دپاره مخلص تحریک شروع کړی.

دی حزب او ټولنی غوښتل چی مسلمانان د اتحاد تضامن په خوا دعوت او بلی ترخو یو په بل باندی تقویه او تا ئیدو مومی.

د«العروة الوثقی» حزب یوه پټه او سری لا ئحه او مقرره او درلودله چی په دیرشو بندونو او مادو مشتمله وه[1] چی مهم نکات ئی دا لاندی دری بند ونه دی.

۱-دا حزب به د مسلمانانو حال،اقوال او اعمال د مطالعی او ملاحظی لاندی نیسی تر څو ددوی په دینی احساس خبر او د اعتقادی بلنی په اندازه ئی پوه شی چی بیا د مرض د پیژندنی په مطابق د معالجی اساسی چاره وکړی شی.

۲-دمعالجی دپاره دوینا، لیکنی او تالیف دلیاری کار کول.

---

[1]. د «الشیخ محمد عبده » د تاریخ کتاب (ا ج ـ۲۸۴ـ۲۸۷ ص) څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳-دحزب غړی به په ټولو حالاتوکی خپل فکرته تقرر ورکوی اویو تربله به ارتباط پیداکوی ترڅو دهریوه سره دعمومی منافعو لحاظ ساتل دشخصی ګټو دلحاظ ساتلو په شانی او یاله دی څخه زیات ضروری کاربنکاره شی، دوی به دیوچاوینا ترهغه نه منی ترڅودوینا څخه ئی دعمل اندازه زیاته اویاورسره برابروی.

د «العروة الوثقی » دحزب غړو دپاره دقسم کولو او معاهدی له امله دقسم او عهدنص اومتن په لاندی ډول ؤ[1]: قسم په الله چی په جزئی کلی، پټ او ښکاره عالم دهرچاپه کارونو او اعمالو مسلط او ټول قوت او قدرت دده په لاس کی دی چی ضرور به په خپلو اخلاقو او کارونو کی دالله دکتاب تائید کوم اوبی تاویله او انحرافه به ورباندی عمل لرم...

زه به حتما خامخا دده دبلنی اجابت اومننه کوم، دده د امراو نهی دبلنی څخه به سرنه غړووم، ضرور به دده دمرستی دپاره غوښتنه کوم، په دی کارباندی ترڅو ژوندی یم ولاړ اوسم او په دی لیاره کی به دکامیابی له امله په مال او اولادنه ډیلیږم. قسم په الله چی زما دروح او مال مالک دی، زما دسر او فکر دقبضولو واک لری، زما وجدان او احساس دده په تصرف او استعمالولو کی دی، دی دچاسره چی وغواړی مرسته کوی او څوک چی وغواړی ذلیله او رسوا کړی کولی شی زه به ضرور داسلامی ورورولی دژوند کولو دپاره خپل ټول توان صرفوم او دغه د

---

[1]. داستاد ((عثمان امین » دکتاب ((محمد عبده » (۷۲-۷۳ ص) څخه داکتاب داسلامی اعلامو په سلسله کی خپورشوی د ی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروروِلی رابطه به دواقعی پلار او زوی درابطی مرتبی ته رسوم او همداشانی به دغه ذهینیت ټولو هغو کسانو ته چی د «العروة الوثقی » په رابطی او عقد مربوط او تړلی دی تلقینوم، ددغی رابطی خیال به ددی حزب دغړو څخه اخوا په نورو

مسلمانانو کی هم دنظر لاندی نیسم مګر هغه وخت چی له هغو څخه داسلام دشان او شوکت په تاوان کی کوم حرکت ولیدل شی داوخت به کوښښ کوم چی ددین په تاوان ددوی داسی حرکت محوه او نابود کړم او دمحوه کولو دپاره به ئی دومره سعیه کوم لکه چی دخپل ځان څخه مدافعه کوم.

قسم دالله په هیبت او جبروت چی بی ددین دخوښی څخه به بل څه ته اهمیت او ترجیح نه ورکوم، هغه څه به ضرور وروسته کوم او ځنډوم چی دین وروسته کړی اوځنډولی وی، زه به هیڅ یوداسی حرکت ته اقدام نه کوم چی په هغی کی دین ته جزئی او یا کلی تاوان ورسیږی،زه به دخپلو حزبی ملګرو څخه چی په کوم څیز کښی دوی ورباندی متفق دی مخالفت نه کوم، دالله په عهد او پیمان قسم چی زه به داسلام او مسلمانانو د تقویی دپاره دعقل، توان او دټولو هغو وسائلو په واسطی کوم چی زه ورباندی پوهیږم کوښښ کوم په کوم څه چی زه نه پوهیږم دپوهانوم څخه به دپوهی له امله پوښتنه کوم مطلب ته درسیدو دپاره به زه هیڅ وسیله چی زما په توان کی ئی لاس ته راوړل امکان ولری نه پریږدم، زه دالله څخه دکار او عمل موفقیت، دامید اوهیلی پوره کیدل او دده دامر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکم اطاعت کونکو اودده ددین دبیرغ او چتونکو او خپرونکو دتائید هیله او غوښتنه کوم، آمین.

په پاریس کی سید جمال الدین افغانی د «العروة الوثقی » دټولنی او حزب دغړو په مرسته دالعروة الوثقی دجریدو دلیکلو او خپرولو کاربرابر او تنظیم کړه، ددی جریدی دلیکلو رئیس شیخ «محمد عبده » ؤ اودده سره په پاریس کی ددی جریدی په لیکنه کی یو {ایرانی}فارسی زبان سړی چی نوم ئی "«مرزا محمد باقر"» ؤ مرسته کوله ده به دانګلیسی جریدو څخه دالعروة الوثقی دجریدی دپاره مقالی ترجمه کولی.

«مرزا محمد باقر » ښه ذکاوت، چالاکه حافظه او قوی ذاکره درلودله دی دمقدس کتاب انجیل حافظ او دقران ایاتونه ورته یادؤ، دی په ډیرو ژبو پوهیده، دی په اصل کښی مسلمان ؤ خوبیا وروسته دمسیحیت دین ته واوښت او دنصرانیت دپاره ئی د «مبشرینو » یعنی مسیحی مبلغینو سره مرسته او خدمت کولو.

سید جمال الدین افغانی دی د «فارس خلیج » ثغر «بوشهر » په منطقه پیژندلی ؤ او یووخت ئی له ده سره په دی وجه چی ده دنبی صلی الله علیه وسلم په متعلق ئی څه بدو ویلی مجادله وکړه او سید جمال الدین افغانی په خپلو افغانی ملګرو آمرو کړه چی وی وهی لکه چی هغوی وواهه اووی شړه خو کله چی سید جمال الدین افغانی پاریس ته لاړه او دشیخ محمد عبده په ملګری ئی د «العروة الوثقی » دجریدی په خپرولو پیل وکړه داوخت «مرزا باقر » دوی سره ملاقات کولو دپاره کارت واسوه، دوی اجازه ورکړه او دملاقات په وخت کی ده داسلام څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل د ارتداد او اسلام ته دبیرته ګرځیدو او دتوبی دقبلیدو دپاره داسلام د تبلیغ تصمیم قصه او بیان وکړه او په دی ترڅ کی ئی دسید جمال الدین افغانی څخه وغوښتل چی د «العروة الوثقی » په اداره کی دخدمت کولو دپاره حاضر دی همغه چی ۇ دده داغوښتنه ومنل شوه او دانګلیسی ژبی څخه نثراً او نظماً ئی ښه یاده وه دترجمی کولو کار شروع کړه.

کله چی شیخ محمد عبده دپاریس څخه لندن ته دمصری موضوع دپاره دانګلیسی سیاسی شخصیتو سره دخبرو او مفاهمو دپاره لاړه داوخت (مرزا باقر) دمترجم او ترجمان په حیث ورسره ملګری ۇ[1] دهغو کسانوڅخه چی د«العروة الوثقی » دجریدی اداری ته به راتلل یو مصری یهودی چی نوم ئی «یعقوب صنوع » ۇ هم وو دده مستعار نوم «أبو نضارة ».ۇ حقیقتاً چی دی یو جذاب شخصیت ۇ او دمصر دآزادی او خپلواکی په قضیه کی ئی داهمیت وړخد متونه کړی ۇ[2] نو ځکه ده دسید جمال الدین

---

[1]. دعثمان امین دکتاب ((محمد عبده » (۱۶-۷۷-۷۸) صفحو څخه.

[2]. ((یعقوب صنوع » په مصر کی دخدیو اسماعیل دمصر لوی حاکم په وخت کی تمثیلی صحنی لوبدلی ده په دغو صحنو کی په پخوانو عادتونو باندی دمسخری په ډول انتقاد کولو دغه مسخری اوهزلیات به خدیو اسماعیل خوښول نو ده به ((یعقوب صنوع» دمصر په ((موليير » يادولو (موليير په ۱۶۲۲ ميلادی کال کی تر۱۶۷۳ ميلاد پوری د فرانسی مشهور شاعر، فنان اوممثل ۇ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانی دتحریک او د «العروة الوثقی » دجریدی دخپرونی سره د زړه دکومی علاقه درلودله.

د «العروة الوثقی » جریدی اوله گڼه په ۱۳۰۱ هجری قمری کال دجمادی الاولی دمیاشتی په پنځمه چی د ۱۸۸۴ میلادی کال (۱۱)د مارچ دمیاشتی سره ئی سمون خوړه نشرشوه او وروسته له دی چی اتلس گڼی ئی خپری شوی په ۱۳۰۱ هجری، قمری کال یعقوب صنوع په مصر کښی دتمثیلی صحنو دجوړولو ترځنگه په ۱۸۷۷ میلادی کال کی د «ابو نضاره » په نامه هفته کی یوځل دټوقو، هزلیاتو او مسخرو په رنگ یوه جریده هم خپروله، دی جریدی په مصری عربی او عامی ژبی خپرونی کولی او په خلکو کی ئی زیات محبوبیت پیداکړی ؤ خو خدیو اسماعیل وربا ندی تنگ شوی ؤ ځکه چی دی جریدی په جرئت سره دانتقاد په خوا هڅه کوله او دردونکی مسخری ئی درلودلی چی اخر په ده باندی ئی دمصر څخه د فراریدو حکم وکړه دی فرانسی ته لاړه او په مختلفونو نومونو ئی ددی جریدی خپرولو ته دوام ورکړه، ده په دی جریدی کی دمصر څخه دفراریدونه وروسته په خدیو اوددی په ملگرو په حکومت او داروپائی دولتو په قنصلانو باندی اعتراضونه او حملی کولی او په ۱۸۸۲ میلادی کال کی ئی انگلیسی استعمار غنده او دمصر داستقلال او آزادی آواز ئی پورته کوه، یعقوب صنوع تقریباً ۳۴ کاله په خپلو خطبو او مقالو کی دمصر دپاره خدمت کړی دی.

د ذی الحجی په میاشت کی د انگلیسانو د سانسور په اثر بنده شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

د العروة الوثقی ټولنی او حزب خپل اهداف ددی جریدی په اوله ګڼه کی خپاره کړل چی خلاصه مبادی ئی په لاندی ډول دی.

۱ـ د «العروة الوثقی » حزب او ټولنه به د ټولو شرقیانو په خدمت کی ځان وقف کړی، دوی ته په هغه واجبات ښکاره او تحلیل کړی کوم چی د هغو اداء کول او ترسره کول لازمی او تفریط او بی باکی په کی د بی نظمی او تباهی موجب کیږی دا حزب به شرقیانو ته هغه لیاری ښیی چی ماضی تیری خطاوی وربandi جبیره او د راتلونکو سختو خطرونو مخنیوی وربandi وشی.

۲ ـ دا حزب به د شرقیانو سره په هغو اسبابونو، عللو او عواملو غورو کړی کوم چی ددوی د ضعف او کمزورتیا موجب شوی دی چی د هغو ټولو په سر کی دا مهمه ده چی دوی په دینی تعلیماتو او لیارښونو کی بی غوری کړی ده.

۳ ـ دا حزب به د اشتباهاتو څخه هغه پردی پورته کړی کومی چی د شرقیانو د بوډیانو او سرمایه دارانو د انحراف موجب ګرځیدلی دی او هغه وسوسی به محوه کړی کومی چی د عیش او عشرت خلکو په افکارو مسلطی دی. دغه اشتباهات او وسوسی اکثر ددی موجب شوی دی چی د اصلاحاتو او پخوانیو خطاؤ دنیولو په کار کی ئی نا امیدی پیدا کړی وه.

۴ ـ دا حزب به کوښښ وکړی چی په افکارو کی ډاډینه او امیدواری ژوندی کړی او دا واضحه کړی چی دپر مختک لیاره دومره سخته نه ده چی د بی همتی او بی غیرتی موجب او سبب شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ ـ دا حزب به زیات کوښښ وکړی چی هغه تهمتونه او اعتراضونه رد کړی کوم چی ټول شرق او په خاص ډول شرقیانو ته متوجه دی او پوره توجه به دیته واړ وی چی دهغو افتراګانو ځواب ووا ئی کوم چی وا ئی:

مسلمانان تر هغه وخته پر مختګ نشی کولی تر څو چی دوی د خپل دین په اصولو ولاړوی.

۶ ـ دا حزب به د خپلی خپرونی د لیاری ټولو شرقیانو ته جهانی پیښی او د هغو اسرار او رموزور سوی تر څو دوی د اروپا د سیاست مدارانو په هغه تدبیر او غرض پوه شی کوم چی د شرقیانو په متعلق ئی د ځانه سره لری او دا ددی دپاره چی شرقیانو ته دا ثابته شی چی اوس دوی په کوم عالم او جهان کی اوسی تر څو دوی په مغرضانه او بدو پروپاګند و کی بند او ګیر پاتی نشی.

-۷ ددی حزب جریده به اسلامی امت صلات او روابط تقویه کوی او ددوی ترمنځه به مشترک وجوه او ګډ منافع توضیح کوی،دوی به په دی پوهوی چی دخارجی هغه سیاست تائید وکړی کوم چی د شرقیانو د ضرر او تکلیف موجب نشی.

باید ووایو چی د «العروة الوثقی » جریدی خپل رسالت ترسره کړه، دا د ټولوشرقیانو دپاره د لیارښوونی مناره وه او دا د هر آزاد مجاهد د پاره کوم چی د آزادی او ژوند جوړولو په لیاره کی ئی کوښښ او فعالیت کولو بله ډیوه وه، دا د استعمار او تجاوز کوونکو په مقابل کی د اور سکروټه وه، دی جریدی داسلام په ټولو خواؤ پوره روښنائی اچوله تر څوئی خلکو ته د افترا، دسیسو او نامعقولو او نا روا ذهنیتونو څخه پاک کړی او دا ثابته کړی چی د اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شرق

نابغه (سید جمال الدین افغانی)

دین الله پاک د خپلو بندګانو د خیر او رحمت دپاره غوره کړی دی او ددی وړدی چی دټولو وسائلو څخه زیات دښه مدنیت د جوړولو او پرمختک وسیله شی.

څنګه چی د بریطانیا دولت په دی پوه شو چی ددی جریدی په خپرولو د دوی و سیاست تباهی شته ده او لیکلو شاته ئی ددوی په ضد خطر موجود دی او غواړی چی ددوی فجائع او اهداف رسوا کړی نو له هری خوا څخه ئی ددی جریدی او حزب په ضد مجادله او مخالفت شروع کړی چی په دی اثر ددی جریدی د ګنو رسیدل ئی اسلامی دولتو ته بند کړل، هغه کسان چی دا جریدی به ورته رسیدلی د تعقیب لاندی ونیول شول او مصری حکومت د خپل استعماری ملګری په مرسته ددی جریدی لوستل منع او په لوستونکو باندی ئی جزا او جریمه وټاکله.

شک نشته چی د «العروة الوثقی» جرائدو اوکارکوونکوئی د اسلام، شرق بلکه د ټول انسانیت دپاره خدمت وکړه او که مونږ ددی جریدی لیکنی او خپرونی په دقت مطالعه او ملاحظه کړو لیدل کیږی چی د فرد او ټولنی د مرضونو په ضد په زړه پوری علاج لری او د استدلال لیاره ئی ښه او پخه او د حقه مقدماتو څخه جوړه شوی ده هو! په دی جریدی کی د واقعی آزادی دی روح پروت ؤ اودخپل وخت دشرایطو په حساب ئی دبشری ښیګڼو د تامین دپاره زبردست تحریک او لیارښونه روانه کړی وه.

د العروة الوثقی جریدی څخه څرګندیږی چی سید جمال الدین افغانی په خپل عصر کی د شرق بلکه د ټول انسانیت اجتماعی امراض ښه تشخیص کړی ؤ او په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسفی  تحلیل کی د بهتری معالجی کولو په ترتیب پوه شوی ؤ، ده د اجتماعی ژوند ضروری لوازم ځیړلی ؤ، اسباب، علل او عوامل ئی د نظر لاندی ؤ او معلوماتو او تجربو مثبته افکارو ته رسولی او پوخ کړی ؤ، دده فکر او ذکاوت د نبوغ او عبقریت په حقله باید وویل شی چی داسی فکر او ذکاوة د الله پاک ښښنه او احسان دی

کوم چی د بشر څخه انبیاء رسل او او نوابغ جوړوی او چاته ئی چی خوښه شی حکمت ورکوی فرما ئی: «و من یؤت الحکمة فقد اوتی خیراً کثیراً و ما یذکر الا اولوا الالباب » ژباړه چاته چی حکمة واقعی او حقیقی پوه او دانائی ورکړی شی نوهغه ته په واقع کی دهرڅه نه زیات خیر او فائده ورکړل شوی ده (پند اوعبرت نه اخلی مګرد عقل صاحبان.)

که مونږ د سید جمال الدین افغان په افکارو، خطابو، مجلسو او لیکنو باندی پوره په دقت غور وکړو نوپه دی به ښه پوه شو چی ده څنګه فکر کولو، څه ئی ویلی او څه یی غوښتل؟ حقیقتاً چی ده د عمومی صلاح او فلاح دپاره فکر کولو د خلکو د مهمو منافعو د تامین په حقله ئی وینا کوله، حق ئی د حق د ثابتیدو دپاره غوښتنه او خپل ټول ژوند ئی د بشر، اسلام او شرق د خدمت دپاره وقف کړی ؤ. ددی دپاره چی العروة الوثقی د جریدی د مطالبو سره د نمونی په ډول اشنا شو دا دی په لاندی ډول ددی جریدی دوه مقالی ترجمه کوم، په دی مقالو کی د لویو اهدافو ترسره کولو له امله د ټولو مسلمانانو د بیدارولو او تنبیه کولو دپاره مهم ټکی پراته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

**اوله مقاله: د قضا او قدر په حقله :**

باید په یادو لرو چی سید جمال الدین افغانی په دی مقاله کی قضا او قدر پوره څیړلی دی. څوک که وغواړی چی قضا او قدر په حقه وپیژنی باید دا مقاله ولولی تر څو په دی پوه شی چی د قضا او قدر څخه د اسلامی او آسمانی ادیانو مطلب هغه شانی نه دی کوم چی عام خلک ور څخه تعبیر کوی بلکه حقیقتاً چی د قضا او قدر عقیده د نجات او سعادت دپاره یوازنی وسیله ده. دا دی د مقالی مطلب: په مخلوقاتو او انسانانو کی د الله پاک د حکمت فیصله دا ده چی بدنی اعمال او کارونه باید د قلبی عقیدی دتاثیر لاندی وی نو لکه چی مخکی په تیرو ګڼو کښی څرګنده شوی ده داعمالو او کارونو صلاح او فساد دعقیدی د صلاح او فساد څخه نشأت کوی، ډیر کرته یوه عقیده په افکارو مسلطه شی او له هغی څخه نور عقائد او افکارو څیزیری او بیا وروسته بدن او بدن غړی دداسی اعمالو کولو دپاره واداره کړی چی ددی عقیدی سره ملایم او مناسب وی همدا وجه ده چی ډیر کرته داسی کیږی چی نفس او فکر ته چی کله د شرع د تعلیم او تبلیغ په برخه کی د خیر او کمال د اصولو او قواعدو موضوعات وړاندی شی نا بلده اوریدونکی په اشتباه کی آچوی او دا وخت په دی اثر چی د مانوسی عقیدی سره ئی ضدیت پیدا شوی دی په فکر کی ئی ګډوډی او یا ددی بنی عقیدی په ضد ناوړه اور دی صفات او باطل نظریات پیدا کیږی په داسی حالاتو کی د اوریدونکی په مخ کی تغییر پیدا کیږی او خیره ئی بدلیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر کرته داسی کیږی چی استعداد ښه نوی په فکر کی خطائی پیدا شی نو له هغی څخه فاسد عقاید تولید او د ناوړه اعمالو منشأ شی حتی چی عقیده کوونکی په دی نه پوهیږی چی څنګه عقیده لری او عقیده په ده باندی څه کوی؟

په ظوا هرو باندی مغرور او تیروتلی کسان دا فکر کوی چی ګوندی دا ناوړه اعمال په دی اصل او قاعدی باندی د عقیدی کولو په اثر پیدا شوی دی (یعنی دیته ښه نه متوجه کیږی چی د عقیده کونکی ذهنیت او استعداد د ښو او بدو اعمالو په کولو کی اساسی او بنیادی دخل لری او ډیر ګرته داسی کیږی چی د اصلی عقیدی په اساس حرکت نوی شوی او تش په نامه عقیده د اصلاحاتو او ښو اعمالو د صادریدو موجب کیدی نشی)په فهم کی د دغه شانی انحراف او خطا ئی په وجهی اکثر دادیانو په ځینی اصولو کی تحریف، تبدیل او تغیر پیدا شوی دی بلکه دغه علت او مرض اکثر په هر دین کی د بدعتونو د پیداکیدو موجب شوی دی او اکثر دغه انحرف او د انحراف څخه پیدا بدعتونه د طبیعت د فساد، دناوړه اعمالو کولو او دتباهی او بیرته پاتی کیدو موجب او منشأ ګرځیدلی دی.

همدا ډول خطاوی دی چی په دی اساس نا پوهان په اصل دین اویا په حقه عقیدی باندی اعتراض کوی او د یو دین او عقیدی د تش په نامه پیروانو په اعمالو استناد لری او دلیل راوړی.(یعنی وائی: که دا دین ښه وی پیروانو به ئی داسی بد او ناوړه کارونه نه کول.) افسوس چی داسی ذهنیت عالمانه او عاقلانه ذهنیت نه دی او نه داسی استدلال کول یو عالم او عاقل ته ښائی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی اساس د قضا او قدر عقیده چی د اسلامی حقه دیانت د عقایدو د د اصولو څخه ده ور باندی د فرنګیانو ناپوهان[1] زیات اعتراضونه کوی او په دی حقله ډول ډول مختلف ګمانونه لری. دوی وائی: داعقیده چی په هرقوم کی پیدا شوی ده همت او قوت ئی ورڅخه وړی دی او د ضعف او ذلت سره مخامخ شوی دی. دوی مسلمانان په مختلفو بدو صفاتو موصوفوی او دزیاتو بیرته پاتی کیدو نسبت ورته کوی او بیا د دی ټولو سبب او منشأ په قضا او قدر باندی ددوی عقیده ګڼی نووائی :مسلمانان په فقر، فاقه، (ولږی بیچاره ګی) او د نورو ولسونو اوخلکو څخه په سیاسی او حربی قوت او طاقت کی بیرته پاتی ژوندکوی، په دوی کی داخلاقو فساد زیات شوی دی نو دا ددی سبب ګرځیدلی دی چی د دروغو، نفاق خیانت کینی او حسد په مرضونو مبتلا دی اتفاق او وحدت ئی د لاسه ورکړی دی او په خپل موجوده او راتلونکو حالاتو او اوضاعو نه پوهیږی.دخپل ضرر اومنفعت دفرق کولو توان نه لری، په داسی ژوند قانع دی چی ویخوری ویڅکی او ویده شی او دکمال دلاس ته راوړو په کار کی غیرت او همت و نه کړی،

---

[1]. د غافل او نا پوهی  په اطلاق کی دیته اشاره ده چی پوه فرنګیان که د مسیحی دین پیروان وی هغوی په دی پوهیږی چی د قضا او قدر عقیده یوازی د اسلام ددین د عقائدو په اصولو کی نه ده تلقین شوی بلکه په مسیحی او نورو ټولو آسمانی ادیانو کی د قضا او قدر عقیده وړاندی شوی ده چی اصلی تحلیل ئی داسی نه دی لکه څنګه چی عام او یا متعنت کسان ورڅخه غلط تعبیر کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هری اندازی چی یو ددوی توان او قدرت پیدا کړی خپل ورور ته د ضرر رسولو په کار کی نه ډیلیږی نو دوی په خپل منځ کی په اخ او ډب اخته دی او نور ملتونه دوی د مړیو په شانی یوه د بلی پسی تیروی،دوی په هری پیښی راضی دی او مستعد دی چی هره نوی واقعه ولو که چیری اساساً ددوی په تاوان تمامه هم شی قبوله کړی، دوی دیته مائل دی چی په خپلو ورانو کورونو کی وه اوسیږی، په خپلو کښتونو او د ځرولو په ځایونو وګرځی او بیا بیرته خپلی مأوی او استراحت ځای ته راشی ددوی لویان خپل وخت په لهو، لعب او د شهوتونو د ځکلو په لیاره کی صرفوی حال دا چه به دوی باندی داسی فرائض او واجبات دی کوم چی ټول عمر ئی هم نشی ترسره کولی، خپل مال دسات تیری د پاره د اسراف او تبذیر په ډول مصرفوی ددوی مصارف زښت ډیر دی مګر په حساب کی داسی دخل نشته چی د دوی د خپل ملت په ګټه وی، یو بل غولوی او یو د بل څخه په نفرت کی دی، شخصی مصالحو ته په عمومی مصالحو ترجیح ورکوی ډیر کرته ددوی ددوه لویانو اختلاف ټول ولس تباه کړی دی .

هر یو ددوی خپل ملګری غولوی او خپل همسایه ورباندی لمځوی نو همدا وجه ده چی ددوی دښمنان په دوی کښی له منځه تلونکی قوت او تباه کونکی کمزورتیا وینی نو په آسانه ډول ددوی د وطن څخه بی دزور او قوته استثماری استفادی کوی، په دوی کی ویره زیاته شوی او بی زړه توب او ضعف عمومیت لری همدا وجه ده چی دسن څخه هم ډاریږی او په مسه کولو باندی خوریږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د حرکت کولو څخه ددی له امله چی په عزت او شوکت کی نورو ولسونوته ورسیږی پاتی دی او ځای په ځای ناست دی اودوی په دی کار کی دخپل دین داوا مرو څخه هم مخالفت کوی حال داچی دوی خپل همسایه ګان اوګاونډیان بلکه هغه چی حتی ددوی د سلطی لاندی دی ګوری چی څنګه په دوی وړاندی کیږی او په خپل بریالیتوب افتخار کوی، دوی که چیری ددوی ورونو او قوم ته کوم مصیبت ورسیږی اویا دښمن ورباندی تجاوز وکړی د هغوی سره د تکلیف د لیرولو په کارکی مرسته نه کوی او نه د معاونت کولو دپاره همت کوی.

په دوی کښی ملی او وطنی په پټه اویا ښکاره کومه ټولنه او حزب نشته دی چی هغه په خپلو خلکو کی د غیرت د ژوندی کولو مقصد ولری، میړانه وپاروی، د ضعیفانو پالنه، د ظالمانو په مقابل کی د حق ساتنه او د عاجزانو سره مرسته وکړی.په دی ډول دوی مسلمانانو ته ددغو ناوړه صفاتو او بدو حالاتو نسبت کوی اووائی چی دا بدبختی ددوی له خپله لاسه یواځی په دی سبب چی په قضا او قدر عقیده لری پیدا شوی ده ځکه چی دوی د خپل ژوند د جوړولوټول مهم مسائل الهی قدرت ته سپار لی دی (یعنی د خپل اختیار، کسب کار او فعالیت څخه کار نه اخلی وائی ځان می خدای ته سپارلی دی حال دا چی په خدای باندی د ځان سپارل باید د کار،جدیت او فعالیت په صورت کی وی.)

فرنګیان وائی: که مسلمانان چیری دی عقیدی ته دوام ورکړی هیڅ کله به پښو ونه دریږی، د عزت سره به مخامخ نه شی، خپل برم او شوکت پیدا نه کړی، خپل حق به لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته رانوړی، ظلم او تجاوز به دفع نه شی کړی او نه به دوطن د تائید، تقویی او پرمختک دپاره د کوم خدمت مصدر وګرځی بلکه تل به په دوی دوی باندی ضعف، کمزورتیا او بیچاره ګی مسلطه وی، ساړه، شوده شکسته، بی ذوق او شوق،عشق او علاقی، حرارت او تپش څخه د فنا او زوال پوری د شرم او عار ژوند کوی «العیاذ با للّٰه » دا څه ژوند او څه حال دی چی مسلمانان د خپلو جګړو او اختلافو په وجهی یو بل د پښو غورځوی او له منځه ئی وړی او څه چی ورڅخه پاتی شی هغه بیا ددوی دښمنان په آسانه لاس ته راوړی.

دی نا پوهو فرنګیانو د نا پوهو مسلمانانو په شانی دا ګمان کړی دی چی د قضا او قدر عقیدی او د جبریه ؤ د عقیدی تر منځه فرق نشته دی. جبریه عقیده لری چی انسان په خپلو ټولو کارونو کی خالص مجبور بی وسی او بی قدر ته دی.

فرنګیان وائی: مسلمانان د قضا او قدر په عقیده ځانونه په هوا کی لکه د بڼکی په شان معلق ګوری چی باد ئی د ځانه سره هری خوانه چی میلان کوی بیائی نو کله چی داسی عقیده چا ته پیدا شی چی په خپل کار، عمل، حرکت او سکون کی اختیار او واک نه لری او دا ټول په دی باندی جابره قوة او اجنبی قدرت تحمیل کړی دی هغه وخت ضروره دده قواوی عاطله کیږی، د خپلو قواؤ او منابعو څخه چی الله پاک ورکړی کار نشی اخستلی اودده دزړه او فکر څخه دکسب او کار محرکه طاقت محوه کیږی نو په دی صورت کی باید ووایو چی دی ددی لائق دی چی فنا او عدم شی. پرنګیان په دغه ډول مسلمانانو باندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقیده او باور لری او په دی عقیده باندی ډیرساده شرقی کسان هم تللی دی.

سید جمال الدین افغانی وائی: زه له دی څخه نه ډاریږم چی ووایم: په پوهو مسلمانانو باندی داناپوهه فرنګیان دروغ وائی، واهمی او توهم خطا کړی دی، باطله وینا اوپه الله پاک او مسلمانانو باندی ددروغو افتراء کوی څکه چی په دی وخت کی هیڅ مسلمان سنی، شیعه،زیدی اسماعیلی، وهابی او خارجی وجودنه لری چی خالص دجبریه ۋ په مذهب عقیده ولری او بلکل اختیار دانسان څخه سلب کړی بلکه دمسلمانانو ټولی داطائفی عقیده لری چی انسان ته په خپلو اعمالو کی داختیار او واک برخه شته ده چی هغی ته دوی کسب وائی،مسلمانان داختیار او کسب پوری ثواب او عقاب مربوط ګڼی اوخلک ددغه اختیار په اساس چی الله پاک ورته ورکړی دی مسؤلیت او مکلفیت لری، محاسبه کیږی، په او امرو مامور او له نواهیو منع شوی دی، دخیر غوښتونکی، دفلاح لیار – ښونکی دی داډول اختیار د شرعی دتکلیف اساس اودعدالت او حکمت متمم دی.

هو: په مسلمانانو کی یوه طائفه او ډله وه چی په جبریه یا دیدله دوی په دی عقیده ۋ چی انسان په ټولو خپلو کارونو کی مجبور دی داسی مجبوریت چی هیڅ اختیار ورته نه دی پاتی شوی.

دوی عقیده لری چی انسان که د خوراک او شخوند دپاره خوله خو ځوی او یا دا چی د سختی یخنی په اثر ئی خو له لړزیږی ددواړه حالاتو ترمنځه د مجبوریت په اساس فرق نشته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان د جبریه ۇ مذهب د فاسدی فلسفی اثر ګڼی.

بایدو منل شی چی دجبریه دمذهب پیروان دهجرت څخه څلور قرنه وروسته دڅلورم قرن په اواخرو کی قطع او فیصله شول او له دی تاریخ څخه وروسته هیڅ اثر ئی پاتی نشو.

په دی اساس په قضا او قدر باندی عقیده عین دجبریه ۇ عقیده نه ده اونه ددی عقیدی اثر هغه شانی دی چی دا د توهم خاوندانورباندی باور لری.

اعتقاد په قضا او قدر باندی قاطع دلیل ثابت کړی دی بلکه اصلی فطرت او خلقت ورته لیاربښوونه کوی او څوک چی فکر او تعقل لری په آسانی درک کولی شی چی هرحادث د زمانی په مقارنت کی سبب او منشأ لری او انسان داسبابو نو په سلسله کی یوازی په هغه پوهیږی چی ورته حاضر وی او د اسبابونو د سلسلی ټولی ماضی ریښی یوازی ورباندی دسلسلو د نظام مبدع او پیدا کوونکی پوهیدی شی.دا د اسبابو سلسلی داسی پیل شوی دی چی هر سبب په بل سبب کښی د عزیز علیم ذات په اندازه کولو سره دخل لری چی په دغه سلسله کی دانسان اراده ددی سلسلی دحلقو څخه یوه حلقه ده[1] او اراده دا دراک د آثارو څخه یو اثر دی خوسره ددی هم ادراک دنفس هغه انفعال او منفعل کیدو څخه عبارت دی چی په حواسو

---

[1]. څنګه چی دانسان اراده د سببونو په سلسله کی یو سبب منل شو په دی اساس دانسان مجبوریت کومه معنی نه لری نو انسان باید همیش خپلی ارادی ته پام وکړی او په عاقلانه او عاملانه ډول ئی په کار واچوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندی دعوارضو له امله او دفطرت دحوائجو او ضروریاتو دشعور په وجهی پیدا کیږی نو دکایناتو ظواهر او مظاهر چی دانسان په فکر او ارادی باندی کوم تسلط لری له هغی څخه ساده خلک هم څه خاصه چی عاقل وی انکار نه کوی خودقت داسبابونو په سلسله کی او منطقی او استدلالی تحلیل فکور انسان دی سرحد ته رسوی چی ددی ټولو ظاهری مؤثره اسبابونو مبدأ د هغه ذات په قدرت کی ده چی هغه دټولو کائناتو لوی مدبر دی کوم چی د موجوداتو نوی بی مادی او مودی پیدایښت دده دحکمت په موافق دی او د هرحادث دخپل مثل اوپه خاص ډول انسانی عالم کی داسی تابع ګرځولی دی لکه چی دا دهغه جزوی که مونږ فرض کړو چی کوم جاهل چیری د صانع ذات الله پاک په وجود اعتراف نه کوی هغه خو د دی څخه امکان نه لری چی دطبیعی عواملو په تاثیر باندی اعتراف ونه کړی او دا ونه منی چی دزمانی حوادث دبشر په اراده باندی تاثیر اچوی.

آیا انسان داکوی شی چی دالله پاک دخلقت دقانون څخه ځان وباسی.

داموضوعات هغه موضوعات دی چی دحقائقو دمعلومولو شاګردان همورباندی پوهیږی څه خاصه چی حقائقو ته رسیدلی وی.

(په دی اساس له یوی خوا جبری عقیده چی انسان په خپلو کارونو کی مجبور دی اسلامی بنیاد نه لری ترڅو انسان بی واکه پاتی شی او دزمانی دحوادثو په مقابل کی ونه پاریګی او له بلی خوا دابايد ومنل شی چی دټولو اسبابونو برابرول دانسان دتوان څخه پورته کاردی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقضا او قدر پوری تعلق لری. قضا او قدر دخلقت اصلی مواد برابر کړی دی او په دغه پیدا شوو اصلی موادو کی دیوی محدودی دایری لاندی دانسان اختیار او اراده په کار ولیدلی ده چی باید ورڅخه استفاده لاس ته راشی).

باید داهم ښکاره کړو چی دفرنګیانو ځینی حکماء او دسیاست پوهان دیته مجبوره شوی دی چی دقضا او قدر سلطی ته اطاعت وکړی همدا وجه ده چی دوی دقضا او قدر داثبات دپاره زیات تفصیل ورکړی دی چی مونږ د دوی په آراؤ باندی د استدلال او استشها دکوم ضرورت او حاجت نه لرو.

سید جمال الدین افغانی لیکی: اعتقاد په قضا او قدر باندی که دجبر دذهنیت څخه سو چه شی د جرئت تصمیم او اقدام صفت پیدا کوی، د شجاعت او ځوانمردی موجب کیږی، انسان دیته وا داروی چی په خطرناکو او مهلکو هغه سنګرونو هم ودانګی کوم چی زمریان ورڅخه په لړزه راځی او دپړانګ تریخی پری شکیږی.

دقضا او قدر اعتقاد په انسان کی ثبات، تحمیل، زغم حوصله او متانت پیدا کوی، د روح فدایت او ښندلو دپاره حاضریږی او دژوند په قربانی نه ډیلیږی دا ټول دحق په لیاره کی او په دی اثر چی دقضا او قدر عقیده انسان دیته بلی چی په قضا او قدر عقیده ولری او دمرګ او مشقت دزغملو څخه ونه ډاریږی، دقضا او قدر دعقیدی خاوندان په دی باور لری چی اجل په خپل وخت کی رسیږی، روزی ورکول دکار اوعمل څخه وروسته دخدای په قدرت او ضمانت کی ده، دکائناتو دوجود او پایښت واک دالله پاک په قدرت کی دی نوځنګه چی ئی څرخوی همغسی څرخیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



داټول هغه افکار دی چی دانسان دکسب اوکارسره سره په ده کی داسی دتصمیم او میړانی متره پیداکوی چی بیادی په دی ښه پوهیږی چی دحق ددفاع، دخپل ولس او وطنوالو داهدافو ترسره کیدلو په دی ساحه کی دالله پاک د اوامرو او نواهیو دتطبیقیدو په منظور مرګ اوسرښندلو ته باید څنګه هرکلی ووائی؟

دا وخت څنګه به یوڅوک چی دالهی او امرو او بشری اجتماعی اصولو په موافق د حق د تقویی او دعزت او برم د تائید په لیاره کی خپل مال مصرفوی دفقر او فاقی څخه وډاریږی؟ الله پاک دقضا او قدر دعقیدی خاوندان ستایلی دی اوددی عقیدی فضلیت او ښیګڼه ئی داسی بیانه کړی ده:

الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَاناً وَقَالُواْ حَسْبُنَا اللّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ . فَانقَلَبُواْ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُواْ رِضْوَانَ اللّهِ وَاللّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ . آل عمران

ترجمی حاصل: دا د غیرت خاوندان هغه کسان دی چی ورته ویل کیږی ستاسو په ضد دو مره زیات قوی طاقت راټول شوی او برابرشوی دی نو ورڅخه وډاریږی خو بالعکس دا وینا د دوی ایمان نورهم زیاتوی اووایی: الله مونږ ته کافی او هغه ښه وکیل دی، په نتیجه کی داسی کسان دالله دفضل او نعمت مستحق ګرځی او کوم تاوان ورته نه رسیږی، دوی دالله د رضا متابعت کوی او الله د لوی فضل او مرحمت خاوند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت دادی چی مسلمانان په اول کی دومره دهمت خاوندان ؤ چی د نورو ممالکو او وطنو په خوائی مخه کړه هغه یی ونیول او دخپلی سلطی لاندی یی راوستل ترداسی اندازی چی عقلونه ئی په دهشت کی واچول او دفکر خاوندان ئی دیته حیران کړل چی مسلمانو زیات دولتونه ونیول، ملتونه او ولسونه ئی مغلوب کړل، ددوی دتسلط اندازه د «بیرینی» دغو څخه چی د «اسپانیا» او (فرانسی)ترمنځه فاصل خط دی نیولی دچین تردیوالو پوری پراخه شوه سره ددی چی ددوی شماراو جنګی وسایل لږ او دمختلفی هوا او او د متنوعو مناطقو د طبیعت سره ئی عادت او اشنائی نه لرله. مسلمانانو ډیر پاچایان مجبور او قیاصره او اکاسره ئی ذلیل کړل او دا کار په لږه موده کی چی داتو کلو څخه نه زیاتیده ترسره شو نو ددوی داسی پرمختګ دعادت څخه وتلی دلویو معجزو څخه حسابیدلی شی.

سید جمال الدین افغانی په دی حلقه دیو څه تفصیل ورکولونه وروسته داسی وائی:

که څه هم دقضا او قدر په برکت دمسلمانانو دپاره ددوی په ټولو کوښښونو او مجادلو کی کامیابی او بریالیتوب په لاس ورغلی دی خوبیا هم ددوی په موجوده حالاتو او اوضاعو باندی دتأثر احساس پیداکیږی همدا وجه ده کله چی سید جمال الدین افغانی دشرقیانو او مسلمانانو وران او ویجاړ کارونه دپوره دقت او مطالعی لاندی ونیول نو د زړه د اعماقو او طبیعت او قریحی دلطف او رقت څخه یی دا لاندی وینا تبارز وکړه زما ژړا په سلفو او چیغه می په خوانو ته ده (داسی معلومیږی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

په ډیر تأثر ئی لاس په تندی ایښی دی ژاړی، کوکاری وهی او داسی وائی:)چیرته یاستی او هو درحمت او عاطفی ټبره او دشفقت او لورنی خاوندانو؟ چیرته یاستی او هو دځوان مردی منارو او دقوت څلو؟ چیرته ئی ای د مرستی او میړانی دخاوندانو اولادی او دظلم دشدت په ورځ او وخت کی فریاد رسو میړنو؟ چیرته یاستی ای بهتر امته چی خلکو ته دښو کارونو په کولو او دبدو کارو څخه دمنع کیدو دپاره پیداشوی وی؟ چیرته یاستی ای دشان، شوکت، عزت او دبدبی خاوندانو چی تاسو به په حق ولاړ، په عدالت به مومنګلی خښی کړی وی، دحکمت په اساس به غبږیدلی او داسلامی امت عزت او دبدبی خاوندانو چی تاسو دخپلو قبرو څخه دخپلو اولادو اعمالو او کارونو ته نه ګوری او ځان په دی نه پوهوی چی د ستاسو د اولادی او نبیری حال څه دی؟ دوی دستاسو دلیاری څخه منحرف شوی دی اوستاسو د رویی څخه اوښتی دی نوستاسی لیاره ورڅخه ورکه ده او په مختلفو فرقو او ګروهو ویشل شویدی حتی چی اوس دوی د ضعف دداسی حالت سره مخامخ دی چی زړه وباندی دتأسف په وجهی ولی کیږی او دغم او غصی په اثر ځنګر او لړمون ورباندی سوځی. دوی داجنبی خپلو دښمنانو دپاره قربانی شول، دځان دپاره څه نه لری او نه دځان څخه ددفاع کولو کوم قدرت او طاقت په دوی کښی احساس کیدی شی نو آیا په داسی بد او شرمیدلی حالت باندی کوم چیغه کوونکی دخپل قبر څخه یو داسی سخت لړزونکی آواز او چیغه نه پورته کوی چی غافل ورباندی تنبیه، ویده ورباندی بیدار او بی لیاری بدبختانو ته سمه لیاروښیی؟ (انالله وانا الیه راجعون)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دی څخه وروسته سید جمال الدین افغانی وائی: حقیقت دادی چی دبشری اجتماع د تاریخ د اول څخه ترننه پوری هیڅ لوی فاتح او مشهور جګړه کوونکی نه دی تیرشوی چی په متوسطه طبقه کی وجود ولری او بیا په خپل همت اعلی درجی ته ورسیږی نو ورته سخت کارونه آسانه، خلک ورته تابع، خپل قدرت دومره پراخه کړی چی دتعجب مورد وګرځی او فکرونه دده دبریالیتوب په لیاره کی اصلی اسبابونو او عواملو ته متوجه شی قطعاً داسی نه دی چی هغه به په قضا او قدر عقیده ونه لری. سبحان الله !! دطبیعت خلقت په مقتضی انسان دخپل ژوند په پالیښت باندی زیات حریص او دخپل موجودیت دلاس څخه ورکولو په کارکی نهایت بخیل دی نو دا څه سبب دی چی ده ته ئی په خطرونو باندی دوردا نګلوپه تباهی کی دلوبیدلو او دمرګ او هلاکت سره دپهلوانی کولوکارونه او فعالیتونه یی اسانه کړی ددی سبب او عامل بل څه نه دی بی له دی چی دی په قضا او قدر عقیده لری او په زړه کی ئی داغوټه شوی ده چی تقدیر هرچاته رسیږی او په دی لیاره کی ویره او ځان ساتل کومه ګټه او فائده نه کوی.

تاریخ مونږ ته دا ثابته کړی ده چی «کورش» مشهور فارسی وان په پخوانی تاریخ کښی اول فاتح دی چی ده ته په زیاتو او پراخه فتوحاتو کی بریالیتوب په دی وجهی لاس ته راغلی دی چی ده په قضا او قدر عقیده درلودله اوددی عقیده په اساس دی دسختو کارونو کولونه وار خطاکوه اومشکلو او شدیدو کارونو دده عزم او تصمیم نه سستوه. یونانی لوی (اسکندر) دهغو کسانو څخه ؤ چی دهغوی په زړونو کی دمهمی عقیدی رسوخ درلود. تتری «چنګیز»

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

خان چی دمشهورو فتوحاتو خاوند دی ددی اعتقاد خاوند ؤ اول «ناپیلون» (فرانسوی «بونابرت» دهغو کسانو څخه ؤچی دقضا او قدر په عقیدی ټینګ ولاړؤ همدا وجه وه چی ده به دخپلو لږو عسکرو په وسیلی په ډیرو خلکو باندی حمله کوله، کامیابی به ئی په نصیب او دبریالیتوب په برخه کی به خپل هدف ته رسیده نو دقضا او قدرعقیده هغه بهتر اعتقاد دی چی په دی وسیلی انسانی نفسونه دویری دچرک څخه پاکیږی او ویره هغه مانع او عائق دی چی ددغه چرک او خیری خاوند په هره طبقه کی چی وی کمال ته نشی رسیدلی.

هو: له دی څخه انکارنه کووچی دعامه ځینی مسلمانانو په زړونو او فکرونو کی ددی عقیدی سره دجبر دعقیدی ګرد خلط شوی دی همدا وجه ده چی په وروستیو وختوکی ځینی پیښی د دوی دمصیبت او بدبختی موجب شوی.

زمونږ هیله په دی عصر کښی دقوی علماؤ او پوهانو څخه داده چی زیات کوښښ ددی دپاره وکړی چی دقضا او قدر شریفه عقیده دبدعت څخه دپیدا شوو ناوړه عوارضو څخه خلاصه کړی، دوی عامو خلکو ته دصالحو سلفو لیاره او اعمال وښیی او په دوی کی د ائمه ؤ او دینی رهبرانو لکه شیخ «غزالی» او دده دامثالو ثابت، پاخه او ټکول شوی نظریات، افکار او تحلیلات خپاره کړی مثلا وائی: توکل او قضا او قدرته ځان سپارل زمونږ څخه شریعت او اسلامی دین په کار او عمل کی غواړی نه په سستی، تنبلی او بی کاری کی او داځکه چی الله پاک مونږ دتوکل په بانه په دی نه یو مامور کړی چی فرائض پریږدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وجائب ترک کړو.(یعنی توکل هم په کار اوعمل کی دنظر لاندی نیول شوی دی نه په بیکاری او تنبلی کی نو موږ باید دکار او عمل څخه وروسته دکار اوعمل نتائج چوی زمونږ په توان کی نه وی الله پاک ته وسپارو، توکل وکړو او ډاډه اوسوچی ښه سعیه او عمل بی فائدی او ثمری نه پاتې کیږی .

انسان دتوان په اندازه مسؤلیت لری او دتوان څخه پورته دوسواس کولو علاج په توکل کیدی شی او که نه هسی چټی وسواسونه او توهمات دسړی زړه او ماغزه خرابوی) په توکل باندی دبی کاری دپاره بانه نیول ددین څخه دمتجاوزینو اودسمی لیاری څخه دبی لیاری کسانو دلیل او حجت دی.

داسلامی دین واقعی پیروان په دی کی شک نه لری چی دخپل ملت څخه دفاع په هرمومن مکلف باندی فرض عین ده.

ددی دپاره چی مسلمانان خپلو حقه هغو عقائدو ته ملتفت شی کوم چی ددوی وحدت راولی، عزت ئی ورته بیرته لاس ته راشی او ددوی غیرت او میړانه داول شان او شوکت دحاصلولو دپاره وپاروی بی له دی بله چاره نه لری چی ددوی پیاوړی علماء په دوی کی ښه افکار او احساسات پیداکړی او په دی لیاره کی ټول فعالیت یوازی ددوی نیکو مساعیوته سپارل کیدی شی. سید جمال الدین افغانی وائی: دا چی دوی په مسلمانانو باندی دانحطاط اوبیرته پاتی کیدو په وجهی بد ګمانونه کوی په خطا دی ځکه چی ددی سبب قضاء او قدر اونور اسلامی عقاید نه دی هو: داچی دپاتی کیدو نسبت دی عقائدو ته کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسی مثال لری چی دیو نقیض نسبت بل نقیض ته وشی او دیته زیات ورته ښکاری چی دحرارت نسبت واوری اودیخنی نسبت اورته وکړی شی.حقیقتاً دارښتیا ده چی مسلمانانو ته په اول کی بریالیتوب په نصیب شو او عزت او غلبی ته ورسیدل خویو ناڅاپه په دی حالت باندی دوه قوی صدمی مسلطی شوی یوه صدمه په شرق کښی دچنګیز خان او دده داولادی یعنی دتتریانو چورا وچپاول ؤ او بله صدمه د غرب له خوا په شرق باندی دټولو اروپئیانو لیږ دیدل او حمله وه.

دی صدمی طبعاً په شرقیانو کی ثابت نظرویوړه، دهشت او ویره ئی واچوله چی لږ وروسته بیا په شرقیانو باندی مختلف حکومتونه او حالات راغلل، کارونه نا اهلو کسانو ته وسپارل شول او واک دداسی خلکو په لاس کی ولویده چی دخلکو په سیاست ښه نه پوهیدل نو نتیجه داشوه چی دخلکو حکام او امراء په خپل طبیعت او اخلاقو کی دفساد مبدأ او دخلکو دبدبختی مصیبت او اختلاف موجب وګرځیدل نو ضعف او کمزورتیا دخلکو په ذهنیتونو کی تقرر پیدا کړه، دخلکو عمومی توجه شخصی، آنی او وړو شیانو په خوا واوښته،یو په بل مسلط شول، بی موجبه اوبی دکوم صحیح او قوی سببه له هری خوا څخه یو تربله دضرر رسولو اوبدی کولو کارته متوجه شول حتی چی داسی ناوړه اوضاع اوحرکت ئی دخپل ژوند ثمره او فایده وګڼله نو ددی نتیجه داشوه چی شرقیان ئی دضعف

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خواری سره مخامخ کړل او داسی دی موجوده بدحالت ته ورسییدل کوم چی دلیدونه دی.[1]

**د العروة الوثقی دوهمه مقاله :**

«دمسلمانانو دضعف او انحطاط عامل او په دی حقله دسید جمال الدین افغانی اراء او نظریات » په دی مقاله کی سید جمال الدین افغانی دهغو اسبابونو او عللویا دونه کړی ده کوم چی دمسلمانانو دانحطاط او ضعف موجب ګرځیدلی دی، ددی تحلیل څخه معلومیږی چی دمسلمانانو بدبختی په دی کی ده چی دوی داسلامی دین په لیاربښونو باندی پوره علم نه لری اونه ورباندی په معقول ډول عمل کوی بلکه اکثر مسلمانان لکه څنګه چی په خپله اعتراف کوی په اسلامی دین باندی اجمالی عقیده لری، اسلام په واقعی ډول نه پیژنی او ددی دین په اساساتو حقیقی عمل نه کوی.

دسید جمال الدین افغانی ددی مقالی مطالب په لاندی ډول دی:مسلمانان په خپل ځان کی د هاتفی آواز احساس کوی، دا هاتفی آواز دوی ته دشریعت غوښتنی او دایمان او عقیدی فرائض یادوی او دادحق هغه آواز دی چی دوی ته ددین دالهاماتو څخه پاتی شوی دی خوسره ددی هم په دی ورځو کی ددی دین پیروان یو د بل د درد څخه غافل اوبی خبره دی او دخپلو اسلامی ورونو په دردونو پوره نه متأثره کیږی همدا سبب دی چی د "«بلوچستان"»خلک په (افغانستان کی دسر په سترګو انګلیسی حرکتونه اومداخلی ګوری مګر ورباندی نه پاریږی

[1]. د ((العروة الوثقی والثورةالتحریریة الکبری » دکتاب له (۴۹-۵۷) صفحو څخه خپرونکی دارالعرب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

او دخپلووروڼو دمرستی دپاره آواز نه پورته کوی. افغانان دفارس په خاوره کی انګلیسی مداخلی وینی خوپوره نه متأثر کیږی اونه دکومک دپاره ورته ځان رسوی.

په مصری ځمکی باندی انګلیسی لښکری ښکته پورته کیږی وژل او چپرول کوی خود میړانی او مرستی دپاره ددوی دشرقی او اسلامی وروڼو په زړه کی کوم قوی احساس نه لیدل کیږی هو: مصری ولس د استعمار دلاسه په بیرحمانه کړاؤ نو مبتلادی حتی چی ددوی وینی روانی دی، د وژلو په وخت کی د دوی دتوتکی خرهار اوریدل کیږی اوپه ډیرو سختو لانجو کی ګیر پاتی دی خو بیا هم دوی ته دخپلو اسلامی وروڼو له خوا دخلاصون مرسته نه رسیږی.

سید جمال الدین افغانی په دی مقاله کی دمقدماتو دتمهید څخه وروسته دمسلمانانو دضعف او ددی چی په دین او عقائدوکی شدید او قوی هم دی خوبیاهم دخپلو وروڼو دمرستی او معاونت دپاره نه رسیږی اسباب او علل داسی تحلیلوی: شک نشته چی اوس اکثر دمسلمانانو ترمنځه بی عمله یوازی ددینی عقیدی رابطه او علاقه پاتی ده، د دوی دتعارف او پیژندنی سلسله شکیدلی ده او یو تربله سره جدا شوی دی نو د دوی علماء چی دخلکو د لیار ښوونی او دعقائدو دساتنی وظیفه به غاړه لری یو تربله رابطه، مفاهمه او پوښتنه نه لری.

مونږ ګورو چی ترکی عالم دحجازی عالم دحال څخه بی خبره دی، هندی عالم دافغانی عالم په کارونو واقفیت نه لری او په همدا شانی داسلامی علماؤ ترمنځه لری والی او جدائی.... لیدله کیږی حتی چی دیوه وطن علماء هم یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تربله روابط نه لرى او نه ددوى ترمنځه دپاكو اهدافو دترسره كولو دپاره داخلاص اونزدى والى صله او عاطفه پاتى شوى ده. اسلامى علماء په عمومى لحاظ اتحادنه لرى، قومى او ملى روابط په كى نشته او هريوى ئى په خپل ځان دومره غره دى لكه چى په ټول جهان كى يوازى همدى وى.

باید ووایو: لکه څنګه چی دا جفاء او جدایی د اسلامی علماء ترمنځه موجوده ده همدا شانى دمسلمانانو دپاچايانو، رئيسانو او لويانو په مابين كى قوى روابط نشته دى آيا دا د تعجب وړ نه ده چى عثمانيان په مراكش كى او مراكش په تركيه كى سفارت نه لرى؟ آيا داعجيبه نه ده چى عثمانى دولت د افغانانو او په شرق كى دنورو اسلامى قامونو، ولسونو او ملتونو سره ښه قوى صله او روابط نه لرى؟ دغه شانى ارتجاع، جدائى او ځان ځانى په ټولو مسلمانانو كى عموميت پيدا كړى دى حتى چى د دى وړده چى ووايو : دمسلمانانو يو قوم بل قوم سره علاقه نه لرى او نه دمسلمانانو يو وطن دبل اسلامى وطن سره رابطه لرى ليكن يوازى يو ضعيف او كمزورى احساس موجود دى چى خيال كوى ځينى نور ولسونه ددوى په دين دى او ددوى په شانى عقيده لرى او كله تصادفى دحج په موسم كى چى يو دبل سره ملاقى شى تعارف پيدا كړى.

سيد جمال الدين افغانى وائى: دمسلمانانو ترمنځه داسى وضعه، احساس او ضعيفه رابطه هغه وخت دتأسف او تاثر موجب ده چى ديومسلمان حق داجنبى دښمن دلاسه ضايع شى اوبل مسلمان د ضعف او كمزورتيا په اثر دمرستى دپاره څه ونه كړى شى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نابغه (سید جمال الدین افغانی)

سید جمال الدین افغانی په ډیر تأثر دمسلمانانو ماضی او حال تحلیلوی او دعلاج اساسی چاره ئی ښیی وائی: اسلامی ملت لکه دیو عظیم جسم او وجود په شانی قوی طاقت او جوړ مزاج درلوده خو عوارض ورباندی راغلل، دی عوارضو ددی وجود اجزاؤ او غړو پیوند ضعیفه کړه، د انحلال او تیت والی موجب وګرځیدل او نزدی ده چی هرجز او غړی ئی جدا شی او ددی وجود او جسم تشکل قطعاً محوه او نابود وګرځی، په اسلامی ملت کی دا ضعف او انحلال هغه وخت شروع شو چی علمی رتبه دخلافت درتبی څخه جدا شوه، دا هغه عصر ؤ چی عباسی خلفاء یواځی دخلافت په نوم قانع شول اوددی پروایی ونه کړه چی دعلم په شرافت، د دین په پوهی او ددین په اصولو او فروعو کی لکه دپیاوړو خلفاؤ رضی الله تعالی عنهم په شانی اجتهاد او غور کولوته ځانونه ورسوی. په دی اساس په مسلمانانو کی مذاهب ډیر شول او دهجرت ددریم قرن داول څخه اختلاف ترداسی حده زیات شو چی په دغه اندازه په هیڅ دین او ادیانو کښی سابقه نه لری.

له دی څخه وروسته دمسلمانانو یو خلافت مختلفو خلافتونو باندی تقسیم شو:په بغداد کی دعباسیانو خلافت، په مصر او المغرب کښی د فاطمیانو خلافت او د «اندلس » په مناطقوکی د امویانو خلافت.

په دی قسم داسلامی امت وحدت او قوت له منځه لاړه، قدرت ئی مات شو او دخلافت رتبه ئی په واقع کی دپاچا هی رتبی او وظیفی ته ښکته شوه نو دزړونو څخه ئی هیبت لاړه او دپاچائی او قدرت دلاس ته راوړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاشقانو دقوت او شوکت د ټولو وسایلو څخه کار واخسته او داسلامی خلافت لحاظ ئی ونه ساته.

باید ووایو چی د «چنگیزخان » اودده داولادی او د «تیمور لنګ »او دده لمسیو په عصر کی دمسلمانانو ترمنځه قوی روابط قطع او اختلافات نور هم زیات شول او داهغه وخت ؤ چی دوی مسلمانان ترداسی اندازی ووژل او ذلیله ئی کړل چی دمسلمانانو څخه ځان ورک شونو ددوی وحدت بلکل جدا او د مسلمانانو د ټولو علماؤ او پاچایانو ترمنځه پیوندیدل قطع شول.

هریو په خپل ځان او یوازی خپلی خوا ته وګرځیده نو یوتر بله سره جدا او په مختلفو فرقو وویشل شول، چا د پاچائی دقدرت دلاس ته راو ړلو او چا دمذهب په خوا توجه واړوله او دعقائد و هغه تاثیرات کمزوری شول کوم چی دوی ئی د دوحدت په خوا جذبول. اوس نو په خیال،ذاکره او حافظه کښی د مسلمانانو د پخوانی وحدت او د ښی عقیدی د تاثیراتو څخه بی چورت و هلو او یادونی څخه نور څه نه دی پاتی او بی د تاسف او حسرت څخه نور څه نه لیدل کیږی، دا تاسف او حسرت تش په هغه وخت کی د مسلمانانو زړونه نیسی چی په ځینی مسلمانان باندی مصیبتو نه نازل شی، تجاوز و نه پری تطبیق شی او دا وړدی زمانی څخه وروسته ورباندی خبرشی نو داسی تاسف او حسرت کومه فائده نه کوی ځکه چی دا خو په انجام شوی کار باندی د غم او غصی مثال لری او لکه چی په مړو اقاربو او دوستانو باندی تاثر پیدا شی. هو: داسی تاسف او حسرت فایده نه کوی، د بلا دفع پری نه راځی او نه کوم تکلیف لری کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

د دی تحلیل څخه وروسته سید جمال الدین افغانی د علاج کولو په حقله داسی وائی:

په علماؤ باندی د دین د وراثت په اساس لازمه او واجبه ده چی پورته شی او د دی تصمیم ونیسی چی دینی رابطه ژوندی کړی او دینی اتفاق په وسیلی موجوده اختلافات لری کړی.

د مسلمانانو علماءباید د اتفاق غونډی په خپلو مساجدو او مدارسو کی جوړی کړی. تر څو چی هر مسجد او مدرسه دیووا لی د پیدا کولو له امله د ژوند د روح پوکولو ځای وکرځی او هر مسجد او مدرسه د یووالی او اتفاق راوستو په سلسله کی د یووالی د سلسلی د یوی حلقی وظیفه اجراء کړی او دا په داسی ډول چی که ددی سلسلی یوه خوا حرکت وکړی د بلی خوا د حرکت موجب شی.

باید د مسلمانانو علماء خطباء او امامان هرچیرته چی وی یو تر بله ځان مربوط کړی او هر چیری یو داسی مرکزیت پیدا کړی چی هغی ته مسلمانان د اتحاد او اتفاق راوستلو په کارونوکی رجوع وکړی او ددی مرکز څخه د قرآن د لیارشونو په اساس حرکت شروع شی. دا ټول مرکزونه باید په یو مقدس مرکز را غونډ شی چی هغه باید په مکة الله شریف کی وی تر څو مسلمانان خپل دین ښه تقویه او د دښمنانو د ضرر رسولو څخه ئی وساتی. دا مرکز به هغه وخت چی کوم خلل پیدا شی او دښمنان د دین په ضد مداخله وکړی د اسلامی امت د حرکت سره لازمه مرسته کوی همداشانی به دا مرکز علوم خپروی افکار به تنویروی او دین د بدعت څخه ساتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مرکز به علمی درجی او مهم وظائف ټاکی او په دی وسیلی به د عمومی ارتباط راوستلو کار تقویه کوی دا مرکز به همدا چی د کوم مبتدع د بدعت د فعالیت څخه خبر شی په خواله دی چی په عامو خلکو کی دا بدعت شیوع پیداکړی له منځه به ئی وړی.

پوه مسلمانان په دی پوهیږی چی په داسی تنظیم جوړلو کیدی شی چی د اسلامی امت قوت زیات او اقتدار او طاقت ئی تر داسی اندازی ورسیږی چی د دښمنانو د سیسی خنثا او نا وړه پیښی دفع کړی.

سید جمال الدین افغانی وائی:

زه به زیات متاثر او د نهایت تاسف حالت سره مخامخ شم که د مسلمانانو د علماؤ او عقلاؤ افکار مطلب ته درسیدو په لیاره کی دی ښی نزدی وسیلی ته پوره متوجه نشی که څه هم په دی ورځو کی یو څخ د غیرت او میړانی خاوندان دی مطلب او هدف ته ملتفت دی خو زمونږ هیله د سملمانانو د هغو پاچایانو، لویانو او علماؤ څخه زیاته ده کوم چی غیرت لری او د حق تایید کوی چی دوی دغه غیرتی ډله تقویه کړی، د یووالی د پاره یی هڅه او دټولولو د پاره ئی هاند وباسی. سید جمال الدین افغانی وائی: ما خو دوی ته خپل تجارب په پوری تفصیل وړاندی کړل اوس نو د دوی کار دی چی دا بلنه نورو لری کسانو ته ورسوی،په محبت د خپلو نزدی کسانو سره مصافحه او روغ بړوکړی او یوتر بله په هغه حال او احوال پوه شی کوم چی دین او ملت ته ئی فائده رسوی اویا ویریږی چی ورته تاوان به عائده کړی تر څو دوی په دی وسیله خپل ستر عمل او وظیفه اداء او د سعادت په لیاره کی کوښښ وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلګی پاتی ده، هیلی راتلونکی دی او الله پاک ته ارو مروګدځیدنه شته ده[1] (تر اوسه لیا ژوندی یو، د کامیابی امید شته دی او د ټول واک خاوند الله پاک دی چی هغه آخر ضرور د مکافات او مجازات قانون تطبیقوی.)

**«په پاریس کی دسید جمال الدین افغانی د کارونو په حقله اجمالی کتنه »**

«په پاریس کی سید جمال الدین افغانی دری کاله پاتی شو او په دی موده کی ده د شرق او اسلام او انسانی خلکو د پاره خدمت کولو. ده هلته په کال ۱۳۰۱ هجری قمری کی د اروپائیانو او په خاص ډول د انګلیسانو د سیاست په مقابل کی او د دی له امله چی اسلام او شرقی عالم د استعمار د اور او سکروټو څخه خلاص کړی د (العروة الوثقی) جریده تاسیس او خپرو کړه.

دا جریده اسلامی او شرقی ټولو مناطقو ته مجاناًلیږلی او توزیع کیدی شوه لکه چی د دی جریدی او له ګڼه کال ۱۳۰۱ هجری قمری د جما دی الثانی په پنځلسمه ورځ په اته دیرش صفحو کی نشره شوه په دی ګڼه کی د علمی اصلاح د پاره پروګرام او نقشه خپره شوه چی مهم او اساسی نقاط او نکات ئی په لاندی ډول دی:

۱-دی جریدی په خپله او له ګڼه کی  د شرقیانو وظایف او واجبات بیان کړی دی او دائی واضع کړی ده چی  ددوی په باکی څنګه د دوی د ضعف او سقوط موجب شوه. له دی څخه وروسته یی هغه لیاری روښانه کړی دی کومی

---

1. العروة الوثقی والثورةالتحریریة الکبری د (۳۵-۳۱) صفحو څخه خپرونکی ؛دارالعرب؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی بیرته د خپل عزت لاس ته راوړلو د پاره لازمی ده چی حرکت ورباندی وشی.

۲-کوښښ ئی کړی دی چی د کامیابی او بریالیتوب له امله په زړونو کی د امید عقیده پیدا او تقویه کړی تر څو دنا امیدی اثرات لری په شوق او ذوق فعالیت منځ ته راشی.

۳- بلنه ئی کړی ده چی په هغواصولو منګولی کړی ګوم چی

په هغو د شرقیانو اسلاف او پلرونه پابند او ولاړؤاو لکه څنګه چی اجنبی دولتونو کوم چی قوت او پرمختګ ته رسیدلی دی د دی وسیلی څخه کار اخستی دی.

۴-دی جریدی په ایمان، قوت او پوره میړانی هغه تهمتونه نړولی او لیری کړی دی کوم چی استعمار په ټولو شرقیانو او په خاص ډول مسلمانانو پوری تپلی دی.

۵-دی جریدی شرقیان د سیاسی حوادثو په وړو او غټو ضروری مسائلو پوه کړی دی.

۶- دی جریدی په پوره تفصیل د اسلامی و لسونو او دولتونو تر منځه د روابطو د تقویه کیدو اهمیت بیان کړی دی او د مسلمانانو په مابین کی ئی د محبت او اخلاص د محکمیدو ضرورت توضیح کړی دی.[1]

باید ووایو چی د (العروة الوثقی) جریدی کوم چی د اسرافیل د شپیلی په سانی تاثیر در لوده. په اسلام ټولو مناطقو او متوسطه طبقه کښی سخته هنګامه او آوازه

---

[1]. د دکتور (ابراهیم العدوی) د کتاب (رشید رضا) (۷۷-۷۸) صفحو څخه د اعلام العرب سلسله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کړه او د اسلام دولتوپه وجود کښی یی د پرمخ تګ د ذهنیت روح پوکړه.

د دی جریدی شاته لکه چی مخکښی یاده شوه یوی پټی سری ټولنی او حزب هم موجودیت در لوده د احزب په ټولو اسلام منطقو کښی تیت ؤ او غړی یی د هغو پوهو مسلمانانو څخه نیول کیدل کوم چی د خپل دین سره یی قوی علاقه در لودله.

د دی سری حزب د قوی ارتباط دیاره د لوړی د نص او متن مطلب مو په خوا توضیح کړو چی د اول ځل د پاره به چی څوک په دی حزب کښی داخلیده ور باندی به یی قسم خوړه او دا تعهد به یی کولو چی د اسلام د تقوییی د پاره به عقلا او قدر تا وسایل برابروی او د توان په اندازه به له هری خوا څخه د مسلمانانو د پیژندني او د حال او احوال څخه د پوشتنی په لیاه کښی خپلو معلوماتو ته وسعت او پراختیا ورکوی.

دی سری حزب په اسلام مختلفو منطقو کښی فرعی څانګی او حوزی در لودلی چی هری حوزی به غونډه کوله او په خپلو کارونو به یی غور کولو او د غونډی څخه و روسته به د حذب غړو څه پیسی په یووړو کی صندق کښی چی تنګ سری یی در لوده اچولی، هر غړی به د توان سره برابر په سری ډول او په داسی قسم سره چی په زیات اولږیی نورڅوک پوه نشی مرسته کوله،دا مال د العروة الوثقی په جریدی او د دی جریدی په کار کونکو مصرفیده.د دی جریدی اکثره ګڼی مفتی او مجانی مناسبو ځایوته استولی شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاهد امام (رشید رضا) وایی ما د خپل استاد شیخ (حسینا الجسر).[1]

څخه اوریدلی دی چی هغه ویلی: ټولو په دی باور در لوده او هیچا شک نه کولو چی که د (العروة الوثقی) جریده ډیره موده پاتی شی دا به په اسلامی نړی کی د یو عظیم اولوی انقلاب موجب شی.[2]

د «محمد بیک علی المؤید » څخه می اوریدلی دی چی ویلی:

د (العروة الوثقی) د خپریدو په وخت کی زه په (بغداد) کی وم هغه وخت دا جریده په عراق کی عربی لوی رهبر او د ساداتو معزز نقیب او مشر سید (سلمان الګیلانی) ته استول کیدله او هغه به د دی جریدی په حلقه ویلی: کله چی به د دی جریدی یوه ګڼه ورسیدله دومره تاثیر به یی واچوه دا به په خواله دی چی بله ګڼه ورسیږی نژدی ده چی انقلاب جوړ کړی.

همدا سبب و چی ارو پایی دولتونه زیات وارخطا شول او سخته ویره ور سره پیدا شوه.

هو: دوی ویریدل چی د دی جریدی د تحریک په اثر به اسلامی مستعمره وطنونه د دوی په ضد و پاریګی او په عملی اقدام به پیل وکړی نو د دی جریدی د نفوذ د پرا خیدو څخه و ډاریدل او د دی دمخ،پندیز، تعطیل او دا چی

---

[1]. د دکتور (ابراهیم العدوی) کتاب (رشید رضا) (۷۰-۶۹) صفحو څخه د اعلام العرب سلسله.

[2]. دی په خپل وخت کی په اسلام او سیاسی عصری علوموکی د سوریی د مملکت ممتاز عالم ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

انګلیسی مستعمرو ته ونه رسیږی له هری خوا او د ټولو وسایلو د لیاری یی اقدام وکړه.

د فرانسی حکومت هم د انګلیسانو تایید وکړه، نتیجه داشوه چی د دی علمی، حقوقی،سیاسی،ادبی او انسانی جریدی لمر په ښکته کیدو شو (یعنی د لړی مودی و روسته دا معصوم طفل د استعمار په تیغ حلال او د ظلم په برچی و وهل شو. اناللّٰه و انا الیه راجعون)

د دی جریدی د خپریدو کوم چی هلته په کی سید جمال الدین افغانی سره د خپل ملګری شیخ محمد عبده د دی خپریدو کارکولو یوه تنګه او ضیقه حجره وه چی د تعمیر په پاس منزل کی واقع وه دا حجره د پاریس د ښار (الما دلین) میدان ته نزدی د (سیز و ماتل) په پس کوڅو تعمیر کی وه خو دغه تنګه حجره دشرقی او غربی دلوبو شخصیتو نو دیو ځای کیدو مرکز ګرځیدلی ده.

هغه وخت فرانسوی اخبارو نود شرقی سیاست په حلقه د سید جمال الدین افغانی ځینی مقالی نشرولی او انګلیسی اکثر و جریدو به د دغو مقالو مهمی برخی خپرولی خصوصآ هغه وخت چی د اسلام او علم په معلق په پآریس کښی د سید جمال الدین افغانی او د فرانسی مشهور عالم (آرنست رینان) تر مینځه مباحثی او مناقشی روانی وی.

دی مباحثی زیات اهمیت پیدا کړی ؤ او علمی او استدلالی اړخونه ئی د ډیر و لوستونکو د خوند او استفادی موجب ګرځیدلی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

**په مصر کښی د وطنی حزب او په پاریس کښی د العروة الوثقی په نامه سری حزب تر مینځه مقایسه او مقارنه :**

کله چی دسید جمال الدین افغانی حزبی فعالیت چی په مصر او پاریس کښی و د مقایسی او مقارنی لاندی نیول کیږی نو په لاندی ډول تحلیل منځ ته راځی.

۱:- په مصر کښی سید جمال الدین افغانی خپل حزبی فعالیت د اسلام د دین د لیار ښونی په اساس د استعمار او زور زیاتی په مقابل کښی د مصریانو د خلاصون په حلقه شروه کړه،دا فعالیت که څه هم پوره مؤثر واقع شو خو سرعت او تیزی یی در لودله، د مصر دهغه وخت د حکومت د نقشو په ضد صراحتآ مقابله او د انګلیسانو د هغو ګټو او منافعو په مقابل کښی قیام ؤ کوم چی د ډیر و کلو را هیسی یی په مصر کښی په پوره عاملیت اساس ایښی ؤ، هلته د دوی شرکتونه تولیدی موسسی بحری قوتونه او د استعمار کولو له امله بنیادی نقشی پرتی وی دوی  د مصر د حکومت د مدنی او سیاسی کمزور تیا څخه استفاده کولو نو په داسی شرایطو کښی د مصر وطنی حزب تیز حرکت د کامیابی او بریالیتوب پوره امکانات نه در لودل.

په پاریس کښی د سید جمال الدین د حزب فعالیت سری او عاملانه ؤ او ذهنی افق یی وسیع د ټولو مسلمانانو او شرقیانو د پاره ښکاری، د ده دا تحریک د فرانسی په مرکز پاریس کښی د فرانسی او پاریس په خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښی د تحریک تاثیرنه در لوده بلکه د دی فعالیت زیات مؤثریت په اسلامی ممالکو کښی زیات ښکاریده او د العروة الوثقی حزب او جریدی د انګلیسی استعمار په ضد شرقیان او مسلمانان پارول.

۲:- په مصر کښی د سید جمال افغانی د وطنی حزب د مرام، مرام نامی او فعالیت څخه څرګندیږی چی هغه وخت د ده تجربه پوره پخه شوی نه وه او د فکر وسعت یی زیات نه ؤ او لکه څنګه چی هغه وخت د ده د حزبی مرام نامی ټکی، کلمی او جملی کتل کیږی د العروة الوثقی د جریدی په اساس خامی او محدودیت لری او ادبی، علمی او فلسفی اړخ یی په واضع ډول نسبتآ کمزو ری ښکاری او د دی مدعی دا نبات د پاره یوازی د العروة الوثقی د لوړی او قسم نص او متن لوستل کفایت کوی څه خاصه چی د دی جریدی ټولی مقالی او مطالب د نظر لاندی ونیسو.

۳:- په مصر کښی حزبی فعالیت او د حزبی حرکت به کار اچول صریح ؤ او په پاریس کښی د حزبی فعالیت څه برخه سری شوی ده. داسی ښکاری چی سید جمال الدین افغانی په مصر کښی د حزبی فعالیت څخه تجربه او عبرت اخستی دی.

۴:- د مصر او د پاریس شرایطیو شانته نه دی، په مصر کښی د هغه وخت مصری حکومت د ترکانو په اختیار کښی ؤ خود ترکانو اختیار د انګلیسانو دعا ملانه لاس وهنی په اثر کمزوری ښکاری، په پاریس کښی د پاریس حکومت د دنیا په سویه قوی ؤ او د ذهنیت ساحه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدنیت انکشاف یی د ستاینی ور ؤ حتی چی د انګلیسانو په مقابل کښی یی خپل د استعمار ساحه ارتوله.

۵:- په مصر کښی د سید جمال الدین افغانی د وطنی حزب غړی په عمومی لحاظ کمزوری او احساساتی ساتی ؤ مګر په پاریس کښی د العروة الوثقی د سری حزب په غړو پوره غور کیده، شرایط یی کلک او تعهد یی محکم ؤ.

دا ؤ د سید جمال الدین افغانی د دوه حزبونو تر مینځه یو څه لړشانتی مقایسه او مقارنه چی په عمومی لحاظ ور څخه د پوره دقت او تحلیل د پاره لیاربښونه کیدی شی.

بریطانیا غواړی چی سید جمال الدین افغانی ته د سودان عرش او سلطنت ور کړی

هغه وخت چی سید جمال الدین افغانی په مصر کښی او سیده د ده او د (المهدی)[1] سودانی تر مینځه قوی رابطه پیدا شوی وه، د سید جمال الدین ویناؤ او تحریک په ده باندی زیات تاثیر اچولی ؤ، دی به د سید جمال الدین د درس او مجلسونو جذابه حلقوته حاضر یده او ور څخه به یی د پوهی او تعقل برخه اخستله.

(المهدی) په مصر کښی د سید جمال الدین افغانی په مقابل کښی انګلیسی دسیسو پا رولی ؤ او پوره مصمم ؤ چی خپل خلک او ولس د استعمار او استثمار د مداخلو او

---

[1]. دده اصلی نوم (محمد احمد دی دی یو پوه عالم مجاهد او روحانی شخصیت ؤ، ده د اخری زمانی د مهدی توب دعوی د دی د پاره وکړه چی د سودان مسلمان خلک د انګریزانو د استعمار په ضد جهاد کولو ته را پاڅوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استفادو څخه خلاص کړی همدا وجه وه چی دی خپل وطن سودان ته لاړه او هلته یی د انګلیسی استعمار په ضد سخت تحریک را و پار وه او په عملی اقدام یی لاس پوری کړه، دا وخت د سید جمال الدن افغانی او د ده تر مینځه دلیک او خط په واسطی مفاهمه موجوده وه، په سودان کښی دی وضعی انګلیسان سخت متاثره کړی او داساسی چاری غور کښی شول همدا وجه وه چی په دغه سلسه کښی یی وغوښتل چی سید جمال الدین افغانی د دوی او د المهدی ترمینځه د صلحی وسیله شی نو د بریتانیا دولت لارد (سالسبری) سید جمال الدین افغانی ته واستوه اوله ده څخه یی د (لندن) د کتنی غوښتنه وکړه تر څو له ده څخه د المهدی د تحریک او اقدام په حقله د ده درایی او نظریی پوښتنه وکړی لکه چی په دی ترڅ کښی لورد(سالسبری) سید جمال الدین افغانی ته د بریطانیا له خوا د سودان تخت او سلطنت وړاندی کړه او وویلی: بریتانیا له خوا د سودان تخت او سلطنت وړاندی کړه اوو ویلی: بریتانیا د ده په اهمیت پوهیږی او د ده د نظریی او رایی پوره تقدیر او مننه کوی او بریتانیا غواړی چی د اسلامی حکومتونو سره د دوستی او اخلاص رویه ولری نو همدا وجه ده چی غوا ړوتاسودان ته د سلطان په صفت واستوو تر څو د المهدی فتنی له مینځه یوسی او په سودان کښی د بریتانیا د اصلاحاتو د پاره زمینه برابره کړی.

سید جمال الدین افغانی پیشنهادونه منه او دایی ونه غوښتل چی د بریتانیا په دم او پو کښی ولویږی بلکه د انګلیسانو په هغه تعقل یی خندا او مسخره وکړه کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی دوی بی د خپلی جزیری څخه په دنیا کښی په نورو آزادی غوښتنو نکو او اشرافو باندی عقیده نه لری نو ویلی:
سودان د بریتانیا وطن نه دی چی د سودان په تخت او سلطنت باندی څنګه چی وغواړی تصرف وکړی.[1]
له دی څخه په واضح ډول معلومیږی چی سید جما ل الدین افغانی په خپل نه ستو مانیدونکی فعالیت، هڅه او جهاد کښی یوازی د ځان د پاره د شخصی منافعو او دمادی اغراضو د جلب او جذب اراده او تصمیم نه در لوده بلکه د ده ټول کوښښو نه د اسلام مبادیو په وسیله شرق او انسانیت د خدمت د پاره ؤ.
خو افسوس څه موده وروسته په سودان کښی د (المهدی) تحریک او انقلاب د ناکامی سره مخامخ شو او انګلیسانو خپل قوت د سودان جنوبی خوا ته ارت او متوجه کړه.
دا وخت استعماری ممالکو په ګډه د استعمار او استثمار د مخالفینو سید جمال الدین افغانی او د ده ملګرو په ضد په مختلفو حیلو او نومو فعالیت شروع کړه او له هری خوایی د مجاهدینو د فعالیت دائره تنګه، د شکنجو او فشارونو سره یی مواجه کړل همدا وجه وه چی د مجاهدینو او د شرق د بیداره کونکو په زړو کښی نا امیدی پیدا شوه او دا استعماری فعالیت د دی موجب شو چی د سید جمال الدین افغانی څخه زیات ملګری جدا شول او یوی خوا او بلی خوا ته لاړل او په همدی تاریخ کښی د سید

---

[1]. له د (العروة الوثقی و الشورة التحریر یة الکبری) له کتاب (۳۵) صفحی څخه خپرونکی دار العرب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

جمال الدین افغانی ګران او پیاوړی ملګری محمد عبده هم مجبوراً بیروت ته لاړه او هلته یی د تعلیمی نظم د اصلاح د پاره په کار پیل وکړه خو د ځینی عواملو په وجهپه خپل دی کار کښی بریالی نشو او په دی یی باور پیدا شوچی د عثمانیانو دولت د جهل په بحر کښی غرق شوی دی نو ځکه د ده په یوی نا امیدی بله نا امیدی زیاته شوه همدا وجه وه چی د بیروت څخه د مصر په خوا روان شو او د ۱۳۰۶ هجری قمری کال په اوایلو کښی مصر ته ورسیده او هلته یی دا تصمیم ونیوه چی د سیاست څخه لری ژوندو کړی.

**د فرانسی څخه د سید جمال الدین افغانی وتل او دایران پخوا د ده توجه او تلل**

څنګه چی مخکښی و ویل شول استعماری دسیسو د سید جمال الدین افغانی او دده د ملګرو د آزادی د فعالیت او تحریک مخه ونیوله، د العروة الوثقی جریده بنده، کار کونکی او لوستونکی یی د مشکلاتو سره مخامخ شول او له هری خوا په دوی باندی فشارونه د دی موجب شول چی دسید جمال الدین افغانی فعاله ملګری یو دبل پسی دپاریس دښار څخه لاړل اوکومه نقشه چی سید جمال الدین افغانی په پاریس کښی داستعمار په ضد سنجولی وه دناکامی سره مخامخ شوه نو په دی اثر دغه لوی اسلامی او شرقی مجاهد او رهبر دناکامی سره مخامخ او په پاریس کښی ژوند کول ورباندی ګران او مشکل شول ځکه چی نور ده په پاریس کښی داوسید لو فایده ونه لیدله نویوځل بیایی دشرق په خوا دتللو تصمیم ونیوه ترڅو دخپلو افکارو او اهدافو دپاره دتطبیق لیاره پیداکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيد جمال الدين افغانی داروپاڅخه دوتلو ترتيبات نيول اولياپوره دی ته برابر شوی نوه چی دشرق کومی خواته لاړشی، دی به هم دی فکر کښی وچی دعجمود امپراطور «ناصر الدين» شاه څخه ورته تلګرام ورسيده او په دی تلګرام کښی يی دی ايران ته غوښتی ؤ نودی په ۱۳۰۳ هجری، قمری کال کښی دايران په خواروان شو اوکله چی ايران ته ورسيده په تهران کښی «ناصرالدين» شاه ورسره وليدل او دکتلو په وخت کښی يی سيد جمال الدين افغانی ته داسی وويلی: ته له ماڅخه څه غواړی؟ سيد جمال الدين افغانی ورته په ځواب کښی وويلی: زه له تاڅخه دوه اوريدونکی غوږ ونه غواړم (يعنی فقط همدو مره چی خبری می واوری ا وکه دمنلو وړوی وی منی) دايران پاچا دده تعقل او جرئت ته حيران او په تعجب کښی شو. په هرحال دايران پاچا دده سره ښه خوږ ملاقات وکړه او زښت زيات يی دده اعزاز اکرم او مننه وکړه او وروسته يی بيا دايران دحربيی وزير په حيث مقرر کړه.

سيد جمال الدين افغانی ليا په ايران او تهران کښی زياته موده نه وه تيره کړی چی دايران خلکو دده دنبوغ اندازه وپيژندله، دده دعلم او ادب احترام او تعظيم يی کولو دټولو خلکو توجه ورته وا وښتله، له هری خوا څخه ولس، لويان او علماء ورباندی مات شول، ورته به تلل او راتلل او دده دمجلس اومرکی څخه به يی استفاده کوله، دوی په دی پوه شول چی دی دژوند په مختلفو برخو کښی پوره معلومات لری، په سياسی مسايلو کښی واردی، تاريخی موثوق او ټکول شوی زيات معلومات لری، دمدنيت او آبادی په مختلفو دورو خبر دی، دی دنوی اداری

(c) ketabton.com: The Digital Library



او حکومت کولو په چمونو پوره پوهیږی، همداشانی په پخوانو اونوو علومو کښی پراخه مطالعه او معلومات لری، ورسره دادیانو دمقایسی او مقارنی قدرت او طاقت شته دی او دایران خلک په دی پوه شول چی دده سره ښه جیده قریحه او قوی استعداد شته دی، دقناعت ورکولو پوره قدرت او طاقت لری او دفیصله کونکی منطق او استدلال خاوند دی همدا وجه وه چی خلکو ورباندی مخه وکړه او ورسره یی محبت پیدا شو خوتر کومی اندازی چی دخلکو په زړونو کښی یی مقام اومنزلت پورته کیده اوترکومه حده چی خلکو دده احترام او تعظیم کولو ترهمغی اندازی دایران دپاچا په زړه کښی ویره پیدا کیدله او داد سید جمال الدین افغانی په تیر ژوند کښی ثابت حقیقت او واقعیت دی چی هرچیرته اوهرکله چی په خلکو کښی دده محبوبیت زیات شوی دی دهمغه وخته دامحبوبیت دده اودبی کفایته امراؤ اولویانو ترمینځه دجدایی اونفرت موجب ګرځیدلی دی نو دایران پاچا «ناصرالدین»شاه دسید جمال الدین افغانی څخه پټ په زړه کښی په ویری او ډاری اخته شو سیدجمال الدین افغانی دایران دپاچا «ناصرالدین»په ویری اوډاری وپوهیده اوپه دی پوه شوچی په قومی اصلاحاتو خوښ نه دی نویی په خواله دی چی وضع ورانه شی او مناسبات خطرناک وګرځی دپاچا څخه دایران نه دوتلو اجازه وغوښتله او هغه ورته اجازهه ورکړه چی په دی اثر سید جمال الدین افغانی دایران څخه مخ په روسیی روان شو او هلته یی دځینی خدمتونو دترسره کولو دپاره اراده درلودله.

**په روسیی کښی دسید جمال الدین افغانی ژوند او فعالیت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کال ۱۸۸۶ ميلادى کښى سيد جمال الدين افغانى له ايران څخه د روسيى په خوا روان شولو کله چى دروسيى مرکز «بطرسبورج»ته ورسيده دروسيى قيصر يعنى دروسيى لوى واک لرونکى دده اعزاز او اکرام وکړه.

بايد ياده کړو چى روسيى ته دسيد جمال الدين افغانى دتګ هدف او مطلب داؤ چى دهغوى په مرسته به وکړى شى چى په شرق کښى دانګليسى استعمار پلانونه اونقشى له مينځه يوسى همداوجه وه چى ده هلته په اخبارونو کښى مقالى خپرولى او په هغو خپرونو کښى يى په افغانستان،فارس او عثمانى دولت کښى روان سياسى حالات تحليلول او دانګليسانو استعمارى سياست يى غنده. هلته دسيد جمال الدين افغانى اساسى پلان داؤ چى داسلامى مناطقو ديو والى دپاره مرسته پيداکړى او دبريطانيا داستعمار له ځنځير او زولنو څخه يى خلاص کړى، په دى اساس ده کوښښ وکړه چى د روسى او انګليس ترمينځه دجګړى احساس وپاروى لکه چى ده څو وارى د«زينوف» دروسى دخارجه وزارت مقتدر سياسى مدير سره وکتل او په شرق کښى يى په روانو حالاتو او په عمومى ډول دانګليسانو په استعمار هڅو او خطرونو وغږيدل خودغه مدير ديته ميلان نه درلوده چى بلى جګړى ته اقدام وشى ځکه چى دوى په نزدى وختو کښى دعثمانيانو دجګړى څخه وزګارشوى ؤ، که څه هم سيد جمال الدين افغانى به دى دعواملو او حقايقو دتحليل دليارى زيات پاروه خوبياهم هغه نه توديده لکه چى يو وارسيد جمال الدين افغانى د«زينويف» سره دمقابلى او کتنى څخه وروسته وويلى:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

«ځومره او هرکله چی زه د ی هواته الوزوم دی لکه پشکی غوندی په ځمکی باندی منګولی خښوی »

یعنی هیڅ نه غواړی چی له انګلیسانو سره دجګړی او مقابلی دپاره زړه ښه کړی او نه دسید جمال الدین افغانی تحلیل او تحریک ورباندی تاثیر اچولو.

روسیی ته دسید جمال الدین دتللو بل عامل او سبب داؤ چی دقیصر په متصرفه مناطقو کښی په مسلمانانو باندی تجاوز کیده او هلته مسلمانان دمشکلاتو سره مخامخ ؤ نوده وغوښتل چی هلته د مفاهمی دلیاری دمسلمانانو وضع ښه شی هغه وخت تقریباً دیرش ملیونه مسلمانانو په روسیه کښی ژوند کولو او دروسی حکومت چی یو مسیحی مشریی واک درلوده دمسلمانانوسره ښه معامله نه کوله په دغه لیاره کښی دسید جمال الدین افغانی مساعی دمسلمانانو څخه دزور زیاتی دلری کیدو په خوامتوجه ؤ لکه چی ده دهغه وخت د روسی حکومت څخه غوښتنه وکړه چی مسلمانانو ته دقران او دینی کتابونو دطبع کولو اجازه ورکړی او د ده داغوښتنه ومنل شوه.یو وخت داسی وشوه چی قیصر وغوښتل چی دسید جمال الدین افغانی سره وګوری نودی یی خپل قصرته وغوښته او هلته یی دبحث په ترڅ کښی له ده څخه دایران دحال او احوال او دده او دایران د پاچا داختلاف دسبب او منشی پوښتنه وکړه سید جمال الدین افغانی د ایران د پاچا مستبدا نه وضع بیان کړه، دده داسراف او ناپوهی څخه یی یادونه وکړه او دایی ښکاره کړه چی دایران پاچا نه غواړی چی په ایران کښی قانونی حکومت مینځ ته راشی. قیصر په ځواب کښی وویلی: زه وینم چی دایران پاچا دحق

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جانب دی ځکه چی چیرته یو پاچا دپاچایانو څخه په دی راضی کیږی چی دوطن یو بزګردی هم دده په کارونو کښی درایی اونظر ورکولو حق ولری سید جمال الدین افغانی دده په رد کښی داسی وویلی: ای جلالت لرونکی ښاغلی قیصره !زه په دی عقیده یم که خلکوته درایی اونظرحق ورکړی شی دابه دپاچا دپاچایی دقدرت دمحکمیدو دپاره ښه وسیله وی ځکه چی په دی اثر درعیت په ملیونو خلک دده دوستان او مخلصان ګرځی اوددی په ځای چی دښمنی وکړی، دبدو فرصتونو انتظار وباسی او په خپلو سینو کښی دکینی زهر اودکراهیت اور پټ کړی دمرستی دپاره حاضریږی دقیصر سره دسید جمال الدین افغانی داصراحت او جرئت ددی موجب شو چی قیصر خپلو عسکروته وویلی چی دی دروسی څخه وباسی.

سید جمال الدین افغانی وایی: ماځلور کاله په «پترسبورګ» (لیننګراد) کښی تیرکړل او په دغه موده کښی یوځل دایران پاچا «ناصر الدین»ددی ښار کتنه وکړه اووی غوښتل چی دسید جمال الدین افغانی سره وګوری خوده دده غوښتنه ونه منله.

کله چی سید جمال الدین افغانی د «پترسبورګ »(لیننګراد) څخه و وته دی دغرب په خوا روان شو او «میونخ» ته ورسیده او هلته دایران پاچا هم ورسیده اوله ده څخه یی د ملاقات کولو غوښتنه وکړه ترڅو چی دډیر الحاح اوبیا بیاغوښتنی څخه وروسته دسید جمال الدین له خوایوتربله کتنه او ملاقات ومنل شو او دملاقات په ترڅ کښی ده داقبوله کړه چی دایران پاچا سره ایران ته بیرته وګرځی.استاد «عبدالقادرالمغربی»په خپل روایت کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نابغه (سید جمال الدین افغانی)

وایی چې ده دسید جمال الدین افغانی څخه او ریدلی دی چې هغه داسی ویلی زه «پترسبورګ »(لیننګراد) ته لاړم او هلته زیات دځلور وکلوڅخه واوسید لم په دغه موده کښی دایران پاچا دی ښارته راغی اوزما څخه یی دملاقات کولو هیله درلودله خوما دده غوښتنه ونه منله اوورسره می ونه کتل، بیازه دالمان ښار «میونخ»ته لاړم او هلته دایران پاچا هم راغی ده دملاقات کولو غوښتنه وکړه او مادده غوښتنه ونه منله اخر زما او د ده ترمینځه دالمان څه لویان اونور خلک واسطه شول ترڅو چې مونږ سره وکتل او زما څخه یی ایران ته دتلو هیله وکړه او دا ددی دپاره چې هلته ماخپل صدراعظم وټاکی ماپه اوله کښی ایران ته دتللو غوښتنه ونه منله اوومی ویلی زه غواړم چې پاریس ته لاړشم او هلته د ۱۸۸۹ میلادی کال نندار تون وګورم خود ایران پاچا ایران ته زما دتللو ژښت زیات الحاح او کوښښ وکړه ترڅو چې زه دیته مجبوره شوم چې دده غوښتنه او ایران ته دده سره تلل ومنم.

سید جمال الدین افغانی وایی: دایران دپاچا دوینا ؤ څخه چې زما دصفت په حقله یی وکړی یوه داهم وه چې وویلی: داسیاسی او حربی انسان ددی وړدی چې صدراعظم شی اودولس دښیګڼو کارونه وکړی.

ایران ته دسید جمال الدین افغانی بیرته ګرځیدل او هلته دده فعالیت، ناکامیدل او په بدحالت کښی دایران څخه دده شړل

کله چې سید جمال الدین افغانی ایران ته راغلی داځل دخلکو مخه ورته داول ځل څخه زیاته شوله، ده په عمومی اصلاحاتو پیل وکړه او دده خطبی، مجلسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومقالى ټولى دولس دخير او عمومى ښيګڼو دتامينيدو دپاره وى نو دقانون خلكو له ده څخه وغوښتل چى د فيصلو كولو دپاره دوى ته دستورى او قانونى اساسونه برابركړى اوداسى قوانين او فارمولونه جوړكړى چى دهغو په وسيلى دخلكو څخه ظلمونه لرى شى او حاكمان او فيصله كونكى ورته داحترام كولو اومنلوله امله مجبوره شى ترڅوپه ايران كښى هغه عدالت تحقق پيدا كړى كوم چى ددى دكمزور تياپه وجهى نزدى ده چى دحق اوخير معيارونه له مينځه لاړشى، همداشانى دسيد جمال الدين افغانى څخه وغوښتل شول چى دحكومت ادارى مقررات تنظيم كړى او ادارى چارى دمفاسدو اوبى نظميوڅخه پاكى كړى ترڅو په دى وسيلى دظالمانه تقليدونو تجاوز لرى شى اوله بلى خوا هغه پارلمانى قوانين جوړكړى چى دهغو دتطبيق په وسيلى دايران دپاچا دزورزياتى قدرت محدو ده شى ترڅو وطن دخرابى په خوا تباه او دده داسراف او تبذيرپه وجهى وران نشى په دى اساس دخلكو عمومى هڅى د اساسى قانون دجوړولو په طرف شدت درلوده خودغه حالت په خپل حال باندى زيات پاتى نشو چى په اوضاعو كښى تحول راغى او دشرعلايم او نښى ښكاره شوى همداوجه وه چى مرتجعينو دايران دپاچا اوسيد جمال الدين افغانى ترمينځه په شيطانت او چوغلى پيل وكړه چى په دغه جمله كښى دايران صدر اعظم «ميرزاعلى اصغر خان» دټولو څخه زيات دسيد جمال الدين افغانى په ضد كينه او حسد درلوده ځكه چى دى پاچا ته دسيد جمال الدين افغانى دنزدى والى اومرتبى څخه ډاريده نودى صدراعظم پاچا ته دنصيحت په ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

یاده کړه چی خلکو ته دپارلمانی ژوند ښښلوپه کار کښی بیږه ونه کړی ځکه چی دغه شانی حکومت او نظام جوړول ددی معنی لری چی قدرت دپاچا دلاسه لاړشی او یالږ به ورباندی دقدرت دایره تنګه کړی. دایران دی صدراعظم کوښښ کولو چی انګلیسانو او روسانوته اقتصادی امتیازات ورکړی شی.

مرحوم استاد «مخزومی » په خپلو خاطراتو کښی دسید جمال الدین افغانی څخه وایی:

دایران پاچا سید جمال الدین افغانی ته داسی وویلی: ای محترم سید دا معقوله او جوړه ده چی زه دی دفرس دپاچایانو پاچا (شاهنشاه)یم او بیا دی دبز ګرود افرادو څخه یو فردشم؟سید جمال الدین افغانی په ځواب کښی ورته داسی وویلی: ای محترم پاچا ته په دی پوه شه چی ستا تاج، ستا دقدرت عظمت او دتخت ستنی به په قانونی حکومت سره داوس څخه زیاتی ښی قوی محکمی او ثابتی شی، ای محترمه پاچا بزګر، کارکونکی او دصنعت خاوند په مملکت کښی ستا دعظمت او درئیسانوڅخه زیات مفید دی و اجازه راکړه زما داخلاص وینا په خواله دی چی موقع یی ضایع شی واوره هغه داچی تاسو به لیدلی او اوریدلی وی چی یوولس کولی شی بی له دی چی په سریی پاچا وی ژوند وکړی مګراياتا چیری لیدلی دی چی پاچا یی دولس او رعیت څخه وجود ولری؟

له دی څخه وروسته سید جمال الدین افغانی په دی پوه شو چی دمخالفت او مجادلی مرحله نزدی ده چی پیل شی نو دایران دمرکز څخه لاړه او هغه ځای ته ورغی چی ایرانیان یی زیات تعظیم کوی هغه د «عبدالعظیم» شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمشهد ځخه عبارت دی داځای دتهرا ن ځخه دولس میله لری پروت دی، داځای ته ایرانیان خاصه عقیده لری دپناه ځای او حرم یی ګڼی او ځوک چی ورته ننوځی هغه په امن کښی وی خو سید جمال الدین افغانی دی ځای ته ددی دپاره ورنغی چی هلته غلی پاتی شی همداوجه وه چی ده هلته دایران دپاچا په ضد عمومی نظراو رایه پاروله او په خپلو خبرو کښی یی دقانونی اصلاح په ضرورت باندی زیات زور اچوه کوم چی په هغی کښی دایران دپاره داستعمار دشرځخه نجات لیدل کیده.

سید جمال الدین افغانی په دغه مزار او دربار کښی اته میاشتی او ځینی وایی چی اوه میاشتی پاتی شو اوپه دغه موده کښی دده شان ملی عزت او خطر زیاتیده ترداسی اندازی چی اخر دایران پاچا «ناصرالدین»شاه ورپسی پنځه سوه مسلح عسکر ولیږل، هغوی د«عبدالعظیم شاه» په مزار حمله وکړه او سید جمال الدین افغانی په داسی حال کښی چی سخت مریض هم ؤ ونیوه، دی یی دخپل دپناه ځای ځخه ؤ باست او پنځو سو عسکرو د ۱۸۹۱ میلادی کال په اوایلو کښی دعثمانی حدود و «خانقین »پوری کش کړه.

سید جمال الدین افغانی خپله دغه قصه په دی ډول کړی ده: زما قصه اوزما سره چی ظالمانو او بی خیره کسانو کومه معامله وکړه هغه داسی سخته وه چی دایمان خلکوورباندی لړمونونه ټوټه کیدل اودپوهی اویقین خاوندانو زړونه ورباندی شکیدل او کافرانو او بت پرستان هم پری لړزیدل په ماباندی دی لئیم او بدبخت امر وکړه چی بندی شم اودا په داسی حال کښی چی ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



«عبدالعظیم » شاه زیارت ته پناه وړی وه او په یخه واوره کښی په سخت مرض مبتلاوم زه دوی حکومتی تعمیر ته په ډیر زلت، بی عزتی او رسوایی بوتلم چی دبدی اندازه یی هیڅ تصور او خیال نشی کیدلی او داټول وروسته له دی چی چور او چپاول...یی وکړه او بیاله د ی ځخه وروسته دده ظالمو او احمقو عسکرو چی زه مریض وم په مست او بد اسپ باندی په ژمی سختو واورو اوتندیخ بادکښی دزیاتو عسکرو داداری اومراقبت لاندی «خانقین » ته بوتلم اوڅه پلوسان هم راسره ملګری ؤ.

**په بصره کښی دسید جمال الدین افغانی استوګنه او حالات :**

سید جمال الدین افغانی د ۱۸۹۱ میلادی کال په اوایلو کښی دایران ځخه وشړل شو او دسفر په لیاره کښی کله چی «بصری »ښارته ورسیده دبصری والی «هدایت »پاشا چی یوزوړسړی او صالح انسان ؤدده اکرام واعزاز یی وکړه.

سید جمال الدین افغانی په بصره کښی تقریباً اوه میاشتی پاتی شو،په دی موده کښی ده دایران دپاچا «ناصرالدین » شاه په ضد په مخالفت او جهاد پیل وکړه نوکوم څه چی اول ده وکړه هغه داؤ چی په ایران کښی یی دینی روحانیون دده په خلاف تحریک کړل اوداپه دی ډول ؤ چی ده په (سامراء) کښی دشیعه ؤ دمجتهدینو مشر میرزا محمد حسن »شیرازی ته یوخط اولیک واستوه سید جمال الدین افغانی په خپل دی لیک کښی دده زیاته ستاینه کړی وه اودستاینی ځخه وروسته یی ده ته دده دلویی وظیفی دمسؤلیت یادونه کړی وه اوپه خلکو کی یی دده مقام اومنزلت بیان کړی ؤ اودی یی دیته متوجه کړی ؤ چی که دولس اود خلکو دحال ځخه یوه لحظه غافله شی دخلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشاعر او احساسات به مختل، زړونه به په لړزید واو عقاید به تباه شی نوله دی امله ورته لیک استوی چی ترڅو دغه مجتهدینو امام خپله وظیفه او امانت اداء کړی په دغه سلسله کښی سید جمال الدین افغانی دی دایران داوضاعو په خوا ملتفت کړه چی هلته څه تیریږی او دخلکو عملی اوعقیدوی ژوند څومره دتباهی سره مخامخ دی له دی څخه وروسته سید جمال الدین افغانی ده ته په خپل لیک کښی داسی یاده کړی ده چی دلوی مجتهد صاحب یوه کلمه کوی شی چی دایران خلک دبی نظمی څخه پاک او ایران دهغه خاینانو څخه خلاص کړی کوم چی دوی پیل کړی چی دخلکو وطن یعنی ایران په لړو پلیتواوبی اهمیته پیسو خرڅ کړی. سید جمال الدین افغانی میرزا «محمد حسن» شیرازی ته دایران په مسایلو او اقتصادی کارونوکی دانګلیسانو مداخلی یادی کړی او ددوی اغراض متل او مقاصدیی ښه تحلیل او تجزیه کړی ؤ.

سید جمال الدین افغانی دخپل لیک په اخر کښی لیکی: دهغه حال دی چی دایران دپاچا او امین ناصح وزیر په برکت دایران دخلکو په برخه شوی دی نوکه دمجتهدینو لیار ښونی قاطع اقدام ونه کړی ایران به تباه او اسلامی منطقه به دپردود تسلط لاندی راشی اوکه ددی ستری تباهی په ضد دمقابلی دپاره دافرصت له ده څخه ضایع شی بیابه ددی وړنه وی چی خلک یی په ښه نوم یادکړی.

دی لیک دامام شیرازی غیرت وپاروه اومیړانه یی ورته تحریک کړه نو یوه داسی فتوی یی صادره کړه چی دهغی په اساس دسګرتو سکل حرام شول کوم چی د۱۸۹۰ میلادی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

کال څخه انګلیسانو په ایران کښی دسګرتو جوړول یی دځان دپاره اختصاص کړی ؤ.

امام شیرازی خپله دغه فتوی دایران واعظانو او علماؤ ته واستوله او هغوی په خلکو کښی خپره کړه چی په دی اثردایران خلکو دسګرتو استعمال بس کړه اودایران پاچا «ناصر الدین » شاه دیته مجبوره شو چی دنیم ملیون پونډ وپه بدل ددی انګلیسی شرکت قرارداد فسخه کړی په دی ډول سید جما ل الدین افغانی وکړی شول چی ایران انګلیسانو داقتصادی استعمار څخه خلاص کړی.

کله چی سید جمال الدین افغانی دمرض څخه شفا موندله او ښه شونو دعربستان دجزیری په خوایی دتللو اراده ښکاره کړه خود بصری والی ورڅخه ځخ لږ مهلت وغوښته ترڅودترکیی دسلطان «عبدالحمید » څخه اجازه واخلی چی هغه اجازه کوی اوکه نه غواړی چی دځانه سره یی وساتی؟ همغه ؤ چی دترکیی دمرکز استامبول څخه امر وشو چی پری یی نږدی، په دی اساس سید جمال الدین افغانی عربستان ته دتللو نه منع شو خونه په داسی ډول چی ورته وویل شی دامنع کیدل دسلطان عبدالمحید له خوا دی مګردی په خپل ذکاوت په دی پوه شو چی دامنع کیدل دترکیی له خوا څخه دی، سمدستی سید جمال الدین افغانی وغوښتل چی دته انګلیسان ته دتللو اجازه ورکړی مګربیاهم له ده څخه والی مهلت وغوښته ترڅو دترکیی دمشرانو څخه اجازه واخلی خوداځل ده ته دسفر کولو اجازه راغله نو په چالاکی سید جمال الدین افغانی په خواله د ی چی دا اجازه ماته شی دتللو دپاره ځان برابر کړه او دی په دی سرعت کولو کښی په حقه ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې لږ وخت لیانه ؤ تیر شوی چې دترکیی څخه بل امر او حکم راغی چې دبصری څخه د ی له وتلونه منع کړی خودی ددی ورستی امرڅخه په خوا وتلی ؤ.

وایی: هغه وخت چې سید جمال الدین افغانی دبصری څخه سفرکولو ده سره بی دلسو پوښو څخه نور څه نه ؤ نوددی ښارمشرانو په خپلو کښی سره مشوره او مصلحت وکړه چې دی پری نږدی چې په دی لږ مال سفر وکړی نودده دپاره یی مرسته ټوله کړه چې دغه مرسته پنځه سوه پونډ وته پورته شوه او په دی کښی پنځوس پونډه والی هم مرسته ورکړه او دا ټولی پیسی ده ته وسپارل شوی، ده د بصری دوالی «هدایت »پاشا څخه دامرسته قبوله کړه ځکه چې ده دده احترام او عزت کولو اوکه نه دده همت اوغیرت دانشوه منلی چې ورڅخه دمرستی په ډول څه واخلی لکه چې دمرستی داخستو څخه وروسته سیدجمال الدین افغانی وویلی: زه امید لرم چې د دی مرستی بدله یو ورځ در کړم همغه ؤ چې ده ته دا موقع برابره شوه چې ددی والی د اولادی سره احسان وکړی او دا هغه وخت ؤ چې سید جمال الدین افغانی د ترکیی په مرکز استانبول کښی د دوم ځل دپاره اسیده او هلته مرحوم استاد «عبدالحمید رافعی» د بصری قاضیی راغلی ده ده سره د ملاقات کولو په وخت کښی د هر څه نه اول د هدایت پاشا د حال او احوال پوښتنه وکړه هغه ده ته د بصری دوالی د مړینی خبر ورکړه سید جمال الدین افغانی د هغه څخه د مرحوم د اولادی د ژوند پښتنه وکړه هغه ورته وویلی ژوندیی تنګ دی او په اقتصادی فشار میتلا دی نو په دی اثر سید جمال الدین افغانی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د ژوند دښه کیدو دپاره کوښښ وګړه تر څو چی وی کړی شول چی د مرحوم «هدایت» پاشا لسمی یی د اشرافو او پخوانو خدمتدګارو کورنیو د اولادی په د دفتر کښی داخل کړل او په میاشت کښی دیرش پونړه تخصیص یی ورته واخیسته او په دی شانی یی دا هم وکړی شول چی د مرحوم «هدایت» پاشا کونډی ته په میاشت کښی د پنځو سو پوندو د ورکولو تخصیص ورکړی.

**سید جمال الدین افغانی په انګلستان کښی او هلته د ده فعالیت:**

سید جمال الدین افغانی د انګلستان مرکز لندن ته لاړه او د ده سره زیات مقدس اهداف ؤ هغه داچی که وکړی شی د انګلیسانو استعماری افکارو ته تغییر ورکړی او دوی په دی پوه کړی چی د دوی او خلکو واقعی خیر په دی کښی دی چی د حق تایید وشی او سلامتیا او روغه عمومیت پیدا کړی او ده دا هم اراده درلوده چی د شرق او غرب دخلکو تر مینځه اتفاق، یو تر بله پیژندنه او ښه ژوند کول تحقیق پیدا کړی نو په همدی اساس سیدجمال الدین افغانی په لندن کښی د «ضیاءالخافقین» په نامه د یوه میاشتی اخبار په تاسیس کښی ګدون وکړی.

دا اخبار په دوه عربی او انګلیسی ژبو خپریده او یو انګلیسی شرکت چی غوښتل یی د شرق او غرب تر مینځه د اتفاق او پیژند ګلوی د تحقق دپاره خدمت وکړی نشرولو ددی اخبار او له ګنه په ۱۸۹۲ میلادی کال د فبروری په میاشتی کښی خپره شوه او په دومه ګنه کښی یی دسید جمال الدین افغانی هغه رساله او لیک خپورشو کوم چی ده دبصری څخه د ایران مجتهدو علماؤنه استولی ؤ. سید

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمال الدین افغانی په «ضیاء الخافقین» اخبار کښی یو داسی مضمون خپور کړه چی په هغی کی یی د ایران بد اقتصادی حالت رسوا کړه او ویلی: تباهی د ایران په اقتصادی حالت مسلطه ده خلک یی د فقر او عاجزی په بد حالت کښی شپی سبا کوی حال دا چی حاکمانو او واک لرونکی یی د رعیت په تعذیبولو او زورولو کښی کوښښ کوی او دوی په دی لیاره کښی د ټولو وحشیانه وسایلو څخه کار اخلی لکه چی دوی د جزاء په نامه د خلکو پزی پریکوی، غوږونه یی قطع کوی، ګیډی یی چیروی او سرونه یی اولوځوی تر داسی اندازی چی اوس هلته داسی اوضاع خلکو ته دادی ښکاری،هلته اوس فیصله د قانون او تعقل په اساس نه ده بلکه د قهر او توری په قوت تطبیقیږی او څنګه چی هلته په هغو مناطقو کښی سیاسی او اجتماعی اوضاع ګډوډ شوی دی خلک د خپل وطن څخه هجرت کولو ته مجبوره دی همدا وجه ده چی د ایران څه خلک د ترکانو او عثمانیانو دولت او وطن ته کښتیدلی دی او څه نور یی روسی ته فراره شوی دی. که ددوی حلت هلته او دلته د مطالعی لاندی ونیول شی ثابتیږی چی دوی په خپل وطن کښی د کرم او شرافت خاوندان ؤ او اوس هلته په ټیټو او پستو کارونو لکه جوالی توب، چټلی پاکولو او جارو کښی مشغوله دی او څوک چی اوس هم په ایران کښی اوسیږی هغوی بیچارګان د چور چپاول، د بی نظمی او جګو مالیو ورکولود حکم تابع دی، اوس هلته کوم دستور نظام او قانون نشته.

دا ټولی ورانی په دی اثر دی چی هلته مامورین معین کافی معاش نه لری نو هر یو په خپل مادون او مراجعه

(c) ketabton.com: The Digital Library





کونکی باندی ظلم او استبداد کوی، هلته اوس د رشوت ورکولو او خوړولو په مختلفو لیارو او چمونو عادت پیدا کړی دی، همدا شانی عسکر هم کافی معاش نه لری بلکه حکومت دوی پری ایښی دی چی ځومره یی د چور کولو او غصبولو توان او قدرت ورسیږی صرفه دی نه کوی.

سید جمال الدین افغانی خپله مقاله په دی وینا ختمه کړیده : آیا دا هغه فارسی ملت او ولس نه دی کوم چی په اسلامی نړی کی یی علوم ژوندی کړل د حق ستنو یی د استدلال په زور دیانت و دروه او عربی ژبه یی په عالی تالیفاتو او تصانیفو محکمه کړه. هی افسوس په حال ددی امت او ولس چی ظلم ځنکه تباه کړل او تجاوز ځومره ټوټه ټوټه کړل؟حتی چی د لویو دولتونو دشمار څخه ولویدل او نږدی دی چی ننبی به یی زړی او نوم به یی محوه شی... چیرته دی علماء؟ چیرته دی قرآن صاحبان؟ چیرته دی شریعت ساتونکی او او د ولس کارونو ولاړ کسان؟ چیرته دی د حق او عدالت تایید کوونکی؟

ددی مقالی او ددی په شانی د نورو مقالو تاثیر د ایران د پاچا په زړه کښی دیر سخت ؤ نو سید جمال الدین افغانی ته یی په لندن کښی خپل سفیر واستوه له ده څخه یی هیله وکړه چی خپل ضرر رسول بس کړی خودی د دی هیلی په مقال کښی نور هم وپاریده او دا هغه وخت ؤ چی ده ته د چپ کیدو په بدل کښی زیاتی پیسی وړاندی شوی په دی توګه سید جمال الدین افغانی په غصه شو او دایران دسفیر په ځواب کښی یی داسی وویلی: دی به تر هغه وخته د پاچا څخه لاس وانخلی تر څو چی ژوندی وی نو په دی سبب د ایران د پاچا ویره نوره هم زیاته شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتی د ترکیی د سلطان ته یی پناه ویوړه او د مرستی دپاره یی چیغه ورته ورسوله نو په دی اثر د ترکیی سلطان «عبدالحمید» په لندن کښی خپل سفیر «رستم پاشا» ته ولیکل چی سید جمال الدین افغانی په یی قانع کړی چی د ایران پاچا او د هغه د ډیسانو د غندلو څخه لاس واخلی او دغه کوښښ په سلسله کښی یو ورځ په لندن کښی د ترکیی سفیر سید جمال الدین افغانی ته د ترکیی د سلطان «عبدالحمید» لیک راوړه چی مضمون یی داؤ. مونږ ستاسو د ملاقات او کتنی په زیات شوق کښی یو او له ده څخه یی استانه (استانبول) ته د سفر غوښتنه کړی وه.

سید جمال الدین افغانی د سفیر څخه د بلنی د سبب پوښتنه وکړه چی مطلب، غایه او هدف په دی بلنه کښی څه دی؟

سفیر په ځواب کښی وویلی: سلطان عبدالحمید غواړی چی د ستاسو په معاونت او مرستی اسلامی اتفاق او اتحاد جوړ کړی، علاوه له دی څخه د ځینی قوانینو په تدوین کښی غواړی چی ستاسو د ارزښتناکه افکارو او نظریو څخه استفاده وکړی خو دغه شانی رسمی بحثونو او غوښتنو په سید جمال الدین افغانی باندی کوم تاثیر وانچوه نو سلطان عبدالحمید بی له دی څخه بله چاره ونه لیدله مګر دا چی یو دینی عالم یی په ده باندی د چل او حیلی کولو دپاره استخدام کړه همدا وجه وه چی سلطان عبدالحمید «ابی الهدی» ته چی په هغه وخت کښی یی د ترکیی «شیخ الاسلام» لقب درلوده وویلی چی سیدجمال الدین افغانی ته لیک واستوی او په خپل لیک کښی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته داسی وعدی او د ده دذوق په تناسب هیلی او امیدونه وړاندی کړی چی د هغو په اثر د ترکیی مرکز آستانه (استانبول) ته راشی.

باید یاده کړو چی سلطان عبدالحمید په دی حال کښی د ایران په پاچا باندی شفقت او زړه سوی نه درلوده بلکه دی په خپله د ځان دپاره د سید جمال الدین افغانی د خطر څخه ډاریده او دا ویره ورسره وه چی د ده د دولت د سیاست په اړولو کښی مداخله کوی خصوصاً هغه وخت چی سلطان عبدالحمید په دی خبر شو چی سید جمال الدین افغانی په «پاریس» کښی د ترکیی د «فتاة» (ځوانانو) د حزب دڅه غړو سره غونډه کړی وه او د هغوی سره یی په دی بحث او مشوره کړی وه چی د عثماتی دولت د اصلاح دپاره خپل وظایف او مسؤلیتونه اداء او ترسره کړی نو همدا وجه وه چی سلطان عبدالحمید غوښتل او هڅه یی درلوده چی د خپل ځان سره یی نزدی وساتی ترڅووه کولی شی چی د ده مراقبت او ساتنه وکړی.

**ترکیی ته دوم ځل دپاره د سید جمال الدین افغانی تګ او هغه زړه لړزونکی حادثی چی ده ته هغه پیښنی شوی :**

سید جمال الدین افغانی د«ابوالهدی» په لیکونو تیروته او ډاډه شو ځکه چی ده په خپلو لیکنو کښی د ده د اهدافو څخه تعبیر اویا دونه کوله او د پوره عاملیت او ترک څخه یی کار اخیسته، په دی لیکنوکښی تاییدات او وعدی په دی خبره وی چی ترکیه اوس د سید جمال الدین افغانی د افکارو د خپرونو او تطبیقولو دپاره مستعده ده نو همدا سبب شو چی سید جمال الدین افغانی ونیوه او د ترکیی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خوا روان شو کله چې دی د ترکیې مرکز آستانه (استانبول) ته ورسیده سلطان عبدالحمید د ده ښه استقبال وکړه خپل یاوریې د ده د استقبال دپاره واستوه، کله چې دی په بندر کښې ښکته شو یاور له ده څخه د ده د سامانونو پوښتنه وکړه و ویلې: د کالو او سامانو صندقونه او بکسونه دې چیرته دي؟ ده په ځواب کښې و ویلې:

زما سره بې د کالو د صندق او بکس او بې د کتابو د صندق او بکس څخه نور څه نشته دی یاورو ویلې چیرته دی چې واخستل شي سید جمال الدین خپلې سینې ته اشاره وکړه و ویلې دکتابو صندقونه او بکسونه دلته دي او خپل ځان اوخواته یې اشاره وکړه و ویلې دا دکالو صندق او بکس دی.

سلطان عبدالحمید سید جمال الدین ته په میاشت کښې پنځه اویا پونډه معاش تخصیص ورکړه، په ښه ښایسته قصر کښې یې ښکته کړه، ګاډې یې ورته مقرره، دعزت فرش او ظرف سامانونه یې ورته ورکړل او نوکران یې په ظاهر کښې د ده د خدمت کولو دپاره موظف کړل مګر حقیقت داؤ چې دې نوکرانو به ځینو د ده خدمت او ځینو به یې جاسوس کوله له دې څخه وروسته ورته پیشنهاد وشوچې د یوې ښې معززې کورنې د انجلې سره ازدواج وکړه خو سید جمال الدین افغانی دا پیشنهاد و نه منه لکه چې دا موضوع د سیدجمال الدین څخه حکایت شوی دی دی وایې: سلطان عبدالحمید غواړې چې زه ازدواج وکړم، زه او ازدواج کول سره لرې یو، ما ددې ټولې لویې ښایسته دنیا سره ازدواج ونه کړه نو څنګه به د ښځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ازدواج وکړم؟ سید جمال الدین افغانی پیل وکړه د مدارسو د اصلاح دپاره یی پروګرامونه جوړول تر څو نوی نسل ددی لوی دولت د خدمت کولو د پاره برابر کړی او داسی اصول اساسات یی برابرول چی د هغی په وسیلی د ترکیی، عربی ممالکو افغانستان او ایران ته اسلامی پوهنتون او دګډ حرکت کولو مرکز جوړ کړی، دی په دی وخت کښی چی په ترکیی کښی د ده داستوګنی ابتداء وه سلطان ته نزدی او مقرب ؤ، کله چی یی غوښتنه ورته او د جمعی لمونځ یی ورسره یو ځای اداء کولو.

سید جمال الدین افغانی د سلطان عبدالحمید رسمی وظیفی، رتبی او چوکی ونه منلی، د اسلام د شیخانو او علماؤ رسمی مشری یی قبوله نه کړه او نښانونه یی وانښستل او د عذر په ډول یی داسی وویلی: د عالم وظیفه په لوړو منصبو او رتبونه پوره کیږی بلکه په ښی لیارښونی، تعلیم او روزنی یی مسؤلیت اداء کیږی، د اساسی عالم وظیفه داده چی په علومو ښه واقعی پوه شی او په خپل علم پوره عمل وکړی.

سیدجمال الدین افغانی کوم وخت چی د ترکیی په مرکز استانه(استانبول) کښی اوسیده ده به د رمضان دمیاشتی شپی تر چرګ بانګی پوری د پاچا د میلمستیا په ځای اوخونه کښی د شرق د سیاست مدارانو، فضلاؤ، ادباؤ، علماؤ او پوهانو سره په فلسفی تحلیلونو او علمی بحثونو تیرولی، دا وخت د ده رابطه په ظاهر کښی د سلطان عبدالحمید سره زیاته قوی وه او دوی به یو تربله خاصی غونډی درلودلی حتی چی په یوه خاصه غونډه کښی چی د دواړو ترمیځه دایره شوه سلطان عبدالحمید سیدجمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



الدین افغانی ته داسی وویلی: زه دستاسی ښاغلی څخه هیله لرم چی خپل ټول کوښښ مصرف کړی تر څو وکړی شو چی د ستا په مرسته په ګډه یو داسی قوی او محکمه اتفاق او اتحاد برابرکړو چی داسلامی ولسو نو ترمینځه نقصان او خلل قبول نه کړی حتی چی د دی یوالی په برکت د اسلامی ټولنی ولسونه یو بل ته دوستی او ورورولی لاس ورکړی د اسلامی اتحاد او قامی او ولسی استقلال په وسلی علم او صنعت وده کړی او مخ په وړاندی لار شی او د الله پاک په مرسته دی مطلب او هدف ته ورسیږو تر څو په خوانی لوی او عظیم قوت لاس ته راوړو او د سعادت او پرمختګ  د قافلی څخه بیرته پاتی نشو څنګه چی دغه لوی او مقدس هدف ته دسیدجمال الدین افغانی هڅه وه او د ده دسیاسی ژوند د اوله څخه تر آخره داصلاحی ارمانونو اخری ارمان یی همداؤ کوم چی سلطان عبدالحمید ده ته ښکار کړه او هیله وکړه    وکړه چی په دی لیاره کښی د رسیدو اوعملی کیدو جهاد او کوښښ ته دوام ورکړی نو ځکه یی په ډیری خوښی او هرکلی دسلطان عبدالحمید غوښتنه قبوله کړه او دا وعده او تعهدیی ورسره وکړه چی خپل نهایت کوښښ به صرفوی او د دغه لوی هدف په لیاره کښی به خپل روح قربانوی ترڅو دغه مهمه او عظیمه هیله ترسره شی.

وروسته د یوخاصومرکوچی د ترکیی په مرکز استانبول کی دسید جمال الدین افغانی اوسلطان عبدالحمیدترمینځه د افکارو د تبادل دپاره دایری شوی د سیدجمال الدین له خوا په خپلو پلانو کښی داسی پلان طرحه شو: هر اسلامی مملکت حکومت دی خپل نماینده

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب او هر اسلامی ولس دی د خپلو لویو علماؤ څخه یوتن تعیین کړی چی ترڅو چی د ترکیی په مرکز آستانه (استانبول)کښی «الموتمرالاسلامی الاعلی» (اسلامی اعلی کنفرانس)په نامه لوی سیمینار کښی غونډه وکړی.

سیدجمال الدین افغانی ددی اسلامی لوی کنفرانس، سیمینار اومرکز د جوړولو په وسیلی دا غوښتل چی د پرمخ تګ،تکامل او داسلامی عظیم قوت او طاقت د بیالاس ته راوړو دپاره د مسلمانانوترمینځه داسی تعاون اونساند پیدا کړی چی د هغی په واسطی که چیری کوم اروپایی دولت په اسلامی مملکت باندی تجاوز وکړی دا اسلامی اعلی مرکز به د دنیا ټولو مسلمانانو ته دمقدس جهاد کولو او امر او فتوی صادره کړی او ددی متجاوز دولت په مقابل کښی به په پوره قوت ودریږی او له دی څخه علاوه به له هغه څخه خپل اقتصادی او تجارتی علایق او روابط بند کړی.

وروسته له دی چی په دی ټکو باندی دسیدجمال الدین افغانی اودسلطان عبدالحمید اتفاق شو نو سیدجمال الدین افغانی دا فیصله خپلو خاصو ملګرو او پیروانو ته ښکاره کړه او په دی مناسبت یوه موثره خطابه د خپلو پاکو اهدافو ترسره کیدو دپاره ایراده کړه.

دسیدجمال الدین افغانی د دی خطابی حاصل په لاندی ډول دی [1]

---

[1]. دهغه کتاب (۱۰۰ـ۱۰۶) صفحو څخه اخستل شوی دی کوم چی د فارسی څخه «صادق نشأت» او «عبدالنعیم حسین» ترجمه کړی دی او دنورو منابعو څخه هم تایید لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامی ديانت په دی وخت کښی د يوی بيړی مثال لری چی چلونکی يی محمد صلی الله عليه وسلم د عبدالله ځوی دی او ددی بيړی سپاره کسان ټول مسلمانان خاص او عام (يعنی بايد ټول مسلمانان او په خاص ډول علماء او فضلاء د بيړی دسليمو وساتلو دپاره پوره خدمت وکړی).

څنګه چی داوضاعو تحليل کيږی دا بيړی په اوس وخت کښی د غرقيدو د خطر سره مواجه ده، دا غرقيدل دجهانی سياست په بحر کښی دی چی دسخت طوفانی خطر سره مواجه دی، بين المللی دسياسی دپلوماتی مانوری هم ددی بيړی غرقيدل اوله مينځه تلل غواړی نو دبيړی سپرلو چاره څه ده؟ او په داسی خطرناکه مرحله کښی څه تدبير بايد وشی؟

آيا دا لازمه ده چی د بيړی سپاره کسان کوښښ وکړی چی بيړی د طوفان د غرقيدو څخه خلاصه او بچه کړی؟ او که نه بيړی په خپل خطرناک حال باندی پريږدی او دوی د خپلو شخصی اغراضو او نفسی تمايلونو په وجهی يو تر بله مختلف اوسی؟

د مجلس ټولو حاضرينو په ګډه ځواب ورکړه چی بايد هر وطنی ملی مسلمان په خپل ټول توان او طاقت داسلام عزت وساتی او ددی مقدس بيړی دنجات دپاره دی پوره کار او خدمت وکړی نو په دی اساس ټولو تعهد وکړه چی په خپل ټول قدرت به او دټولو ممکنه وسايلو دلياری مرسته کوی او دسيدجمال الدين افغانی دسترو اراؤ او پاکو هيلوپه لياره کښی به په سرښندولو او قربانی ورکولو نه دريږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

په دغه ډول داسلامی وحدت د کارکولو له امله دسیدجمال الدین افغانی او د ده دمخلصانو، شاگردانو او ملگرو ترمینځه په محکم ډرون تصمیم ونیول شو.

په دی اساس سیدجمال الدین افغانی فیصله وکړه چی داسلامی مناطقو لویو علماؤ او مشرانو ته په متحد ډول د یو والی او یو تربله دمرستی کولواساسی مبادی به قاطعو دلایلو او قوی اسنادو او مدارکو ولیکل شی او داسلامی دولتو هغو کسانو ته واستول شی کوم چی د لوستلو اوتصمیم نیولو وړوی او هغوی په دی لیاره کښی داقدام دپاره تحریک کړی شی نو له همدی کبله تقریباً پنځه سوه لیکونه په مختلفو ژبو ولیکل شول او ټولو مناطقو هند،مصر، الجزایر،طرابلس، شام، حجاز او نورو اسلامی علاقو واستول شول او له بلی خوا سیدجمال الدین افغانی د خپلو پوهو ملگرو اوپیروانو څخه کوم چی په شرقی ژبو پوهیدل هیًت جوړ کړه او هغویی ځه خاصو ځایوته د هیأت په ډول ولیږل تر څو دوی د مسلمانانوو د یو والی او وحدت داهدافو ضرورت په هقله بلنه او تبلیغ وکړی. له دی اقدام څخه وروسته ډیره موده لیانه وه تیره شوی چی ښه تاثیر یی واچوه اوله هری خوا څخه ښه په زړه پوری ځوابونه راغلل او دټولو لیکونو ځوابونه دټولو طبقاتو څخه،د ټولو اسلامی ټولنود علماؤ او نوروڅخه ورسیدل او د سیدجمال الدین افغانی د دی بلنی څخه په زیاتی خوښی او سرور تو د هر هر کلی وشو، ځینو هدیی او تاریخی تحفی هم د اسلام د فیلسوف سیدجمال الدین افغانی په واسطی سلطان عبدالحمید ته لیږلی وی او ځینو بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو ځوابونو سره یوځای عثمانی سلطان ته دعاګانی او تعویذونه هم استولی ؤ.

سیدجمال الدین افغانی امر وکړه چی دا ټول لیکونه او ځوابونه دی د مختلفو ژبو څخه په ترکی ژبی ترجمه او د اصل ځواب سره دی مل شی او بیا دا ټول دی سلطان عبدالحمید ته وړاندی شی.سیدجمال الدین افغانی داسلام دخدمت په لیاره کښی په خپل دغه بریالیتوب زیات خوښ شو.

کله چی دغه لیکونه،ترجمی او ضمایم سلطان عبدالحمید ته وړاندی شول ده ټول لیکونه او ځوابونه په دقت ولوستل او سید جمال الدین افغانی ته یی په دی ستر بریالیتوب باندی مبارکی ورکړه او په عین حال کښي دده په نفوذ او په دی خطرناک کار کښی د ده په بریالیتوب باندی زیات حیران او دتعجب سره مخامخ شو خو بیا هم ده سیدجمال الدین افغانی ته و ویلی: اوس د الله پاک په معاونت او ستاسو ښاغلی په مرسته د خپل مطلب او هدف په لویه برخه بریالی شو نو له دی څخه وروسته په مونږ لازمه ده چی په دومی مرحلی پیل وکړو هغه دا چی ټاکلی نقشه او پلان عملی شی. سلطان عبدالحمید و ویلی :

مصلحت دادی چی دومی مرحلی مهم مطلب د«باب عالی » یعنی د عظمی صدارت په غاړه ولویږه او شیخ الاسلام د تا سره په دی کار کښی متفق او متحد وی همغه ؤ چی سیدجمال الدین افغانی دسلطان عبدالحمید دا مصلحت اومشوره قبوله کړه خو همدا چی داسلام او مسلمانانو د یو والی نقشه شیخ الاسلام او صدر اعظم ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



حواله شوه: اسلامی اتحاد موضوع دهغو اختلافاتو او دسیسو په اثر چی پیدا شوی خپل رنګ او قواره بدله کړه او له دی ځخه وروسته اختلافات او دسیسی ورځ په ورځی زیاتیدل او په دی ترڅ کښی د ترکیی دځوانانو د حزب غړو د موقع څخه استفاده وکړه او د پارلمانی حکم غوښتنه او مطالبه یی وړاندی کړه او دا ټول اوضاع ددی موجب شول چی ملګرو او پیروان سخت مراقبت او باندنی بارزو شخصیتونو دمراقبت او څارنی دپاره موظف شول او لسو جاسوسانو ته په خاص ډول وظیفه ورکړی شوه چی سیدجمال الدین افغانی او دده د دوستانو، مخلصانوملګرو او پیروانو سخت مراقبت او څارنه وکړی لکن سره ددی هم سیدجمال الدین افغانی د شوری په حلقه خبری کولی او د عمومی ښیګنو د تامین په منظور یی ده ته د اجتماعی او سیاسی اصلاحاتو نصیحت کولو، سلطان عبدالحمید په ظاهره کښی ځان داسی ښکاره کوه چی ګوندی دا خبری ورباندی ښی لګیږی خو په زړه کښی د سیدجمال الدین افغانی د نفوذ او اهدافو څخه ډاریده نو په همدی سبب سلطان عبدالحمید ده او د «ابی المهدی» ترمینځه اختلاف تحریک کړه حتی چی ابی المهدی دی ته حاضر شو چی په پټه یی دسیدجمال الدین افغانی په ضد بدی ویناوی کولی او دی یی په کفر او زندیق تهمتی کوه. له بلی خوا څخه دسیدجمال الدین افغانی لهجه صریحه او زیات جرًت یی درلوده چی په دی اثر سلطان عبدالحمید ورڅخه ډیر ډاریده او په همدی وخت کښی سید جمال الدین د ایران پاچا «ناصرالدین» هم په خپلو خاصو مجالسو کښی بد یادوه او اعتراضونه به یی ورباندی کول نو دایران سفیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان عبدالحمید ته شکایت وکړه چی سیدجمال الدین افغانی دایران پاچا په بدی یادوی په دی اثر سلطان عبدالحمید سیدجمال الدین افغانی وغوښتنه ورته وویلی دعجمو سفیر زماڅخه هیله کړی ده چی تاسو دایران دپاچا بدو ویلو څخه بس کړی او ما په دی سبب می اعتماد درلوده هغه ته وعده ورکړه چی نو به د دی کار څخه بس کړی او ما په دی سبب چی په تا باندی می اعتماد درلوده هغه ته وعده ورکړه چی به ددی کار څخه بس کړی دسلطان عبدالحمید دا هیله له ده څخه په نهایت لطف او پوره نزاکت کی وه دا وخت د سیدجمال الدین افغانی په لاس کښی تسبیح وی ده خپل تسبیح په موټی او ارغوی کی راټولی کړی او په جګ آوازیی و ویلی: دامیرالمومنین دلیارښونی په اطاعت می سر د اوسه د ایران پاچا «ناصرالدین» عفو کړه.

سلطان عبدالحمید ده ته و ویلی: حقیقت دادی چی دایران پاچا درڅخه زیات داریږی. سیدجمال الدین په دغه ورځ دسلطان عبدالحمید له درباره په خپل عادت د دفتر د رییس کوټی ته ننوته هغه ورته په ډیر لطف او مهربانی وویلی: ای محترم سیده نن دسلطان احترام او عزت د تاسو څخه بی حده او بی اندازی ؤخو تاورسره په غریبی لهجی خبری کولی اودا په داسی حال کښی چی د خپلو تسبو سره دی مستی هم کوله سیدجمال الدین افغانی په ځواب کښی وویلی: سبحان الله ! جلالة السلطان (لویی دبدبی خاوند سلطان ) په خپلی خوښ دمیلونو ولس او خلکو په مقدراتو لوبی کوی او هیڅوک ورباندی کوم اعتراض نه لری نو آیا جمال الدین دا حق نه لری چی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

خپلو تسبو څنګه چی وغواړی لوبی وکړی؟ دا دی وینا په سبب اوله زیاتی ویری په اثر ددفتر رییس په منډه له خپلی کوټی څخه ؤ تښتیده هو: دی ووریده چی نه چی څوک سلطان ته دغه بحث څخه جاسوسی وکړی (یعنی دا چی د دفتر رییس داسی اوسیدجمال الدین افغانی داسی و ویلی چی شاید دا به د نورو دتحریک د پوه کولو دپاره د دواړو په مصلحت کومه دسیسه وی اویا به دسید دداسی وینا موجب دده د پوښتنی تحریک احساس شی).

څنګه چی سیدجمال الدین افغانی د ایران په پاچا «ناصرالدین شاه) باندی زیات غصه ؤ نو سره دادی چی ده دسلطان عبدالحمید سره ددی وعده وکړه چی نور به یی بد نه وایی خو بیا هم دی دایران د پاچا رسواکولو او دده په ضد دتحریک څخه تر څو چی لحد ته یی ښکته نه کړه لاس وانخسته او په خپل اولی قسم او تصمیم وفاداره پاتی شو. وایی: په استانبول کښی دسیدجمال الدین افغانی سره یوه ایرانی ملګری یی ملاقات وکړه او دی د ده هغه ملګری و چی په ده باندی دایران د پاچا د غضب او قهر په وخت کښي د ایران په بندی خانه کښی بندی ؤ دی دواړو د ایران د پاچا او د هغه د ناپوهو ملګرو دلاسه د ایران د بد حالت او هغه څه چی په ایرانیانو تیریږی بحث اویادونه وکړه، دی بحث او مجلس د ده دملګری د زړه په اعماقو او پردو تاثیر واچوه، دی «محمد رضا » نو میدی نو وویلی چی زه حاضریم چی د ایران دپاره خپل ځان قربانی کړم. وایی افغانی د ده سره په دی تصمیم کښی چی لری یی موافقه وکړه او له دی څخه وروسته محمد رضا ایران ته لاړه او په کال ۱۸۹۶ میلادی د مارچ د میاشتی په یولسمه یی دایران

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا په مشهد یعنی د عبدالعظیم شاه په مزار کښی مړکړه او ده په داسی حال کښی چی دایران پاچا یی وهی داسی و ویلی: د جمال الدین دلاس څخه یی واخله. کله چی استانبول ته دایران د پاچا د وژل کیدو خبر راغی سیدجمال الدین افغانی خپله خوښی پټه نه کړه بلکه د خوښی اظهار او د وژونکی ستاینه یی وکړه.[1]

کله چی د ترکیی سلطان «عبدالحمید» ته دایران دپاچا د وژل کیدو خبر ورسیده نو د سیدجمال الدین څخه یی نوره هم ویره زیاته شوه امر یی وکړه چی نور هم وربانڍی فشار راوستل شی تر څو دی هم ونه وژنی نو په دی اساس دسیدجمال الدین مراقبت،څارنه او کنترول نور هم ډیر اودی په خپل قصر اوداوسیدو په ځای کښی بندی شو، څوک ورته نه راتلل او دلیدو او کتلو څخه منع شو.څنګه چی دغه شانی حالت د هر پاچا دپاره او په خاص ډول د داسی آزاد منشه انسان دپاره ګران تمامیږی نو د

---

[1]. په پاریس کښی د «تام»جریدی لیکلی دی چی په استانبول کښی د «تام » جریدی نماینده د ناصرالدین شاه دوژلو څخه وروسته د سیدجمال الدین افغانی سره وکتل او ورڅخه یی داسی پوښتنه وکړه «ستا نظر په دی کښی څه دی چی خلک وایی د ناصرالدین شاه قاتل تا لمخولی ؤ؟ سیدجمال الدین افغانی په زیات قهر داسی وویلی: زه تر داسی اندازی پستی نه کوم چی په داسی پستو او دنی کارونو څپل لاس ملوث کړم تباه دی وی داسی خلک او تباه وی دی د دوی پاچا په هر صورت ددی عمل د پاره موافقه او لمخول ؤ اویا نه ؤ خو سیدجمال الدین افغانی دایران دپاچا په وژلو د خوښی اظهار کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزلت او جدایی تریخ والی یی احساس کړه او مجبورایی په ترکیه کښې د انګلستان د سفارت له مستشار څخه وغوښتل چې د ترکیې له مرکز استانبول څخه یی وباسی.[1]

کله چې سلطان عبدالحمید دده په تصمیم او اقدام خبر شو نو د اسلام په نوم یی د ده د نرمیدو دپاره احوال ورولیږی دا جنبی دولت حمایی او ساتنی ته پناه وی نسی همدا وجه وه یوځل بیا د ده غیرت او همت وپاریده، په خپل بندی توب باندی راضی او دانګلستان د سفارت مستشار یی په دی خبر کړه چې د خپل سفر د تصمیم څخه اوښتی دی.

سیدجمال الدین افغانی په استانبول کښې بندی پاتی شو او د زیات غم او غصی په اثر څو میاشتی وروسته ورباندی په خوله کښې یی دسرطان دمرض علایم ښکاره شول، وربادندی جراحی عملیات وشول چې په دی اثر د کوما او بی هوښی په حالت مبتلا شو او داهم ویل شوی دی چې قصد ابی حاله شو، اخر دده صحی وضع ورانه شوه چې په نتیجه کښې کال ۱۸۹۷ میلادی د مارچ دمیاشتی نهمه نیټه وه چې د کال ۱۳۱۴ هجری قمری کال د شوال د میاشتی د پنځمی نیټی سره سمون خوړه وفات

---

[1]. ده د بریتانیا حمایی ته ځکه رجوع وکړه چې دی په دی پوهیدی چې د ترکیې په ظالم دولت باندی د بل چا وسعه او قدرت نه رسیده نو مجبورا د خپل رسالت او عالی او مقدسو اهدافو ته د رسیدو له امله یی د خلاصون چاره غوښتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. انا لله وانا الیه راجعون.[1] وایی: دمرحوم سید جمال الدین افغانی جنازه په مناسب احتفال پورته شوه اودده مبارکه جثه په « شیخ لرمزار لغی » یعنی دمشائخو او علماؤ په ادیره کښی خښه شوه لکن د «المقطم » جریدی دمارچ دمیاشتی په اتلسمه ګڼه کښی[2] داسی لیکل شوی دی:

کله چی دسلطان عبدالحمید پیروان دسید جمال الدین افغانی په مړینی پوه شول نودده دکاغذ واوترکی په حقله ضبطیدو او قبضولو اوامر صادر شول او لکه دیو عادی انسان په ډول خښ شو.

باید ووایم چی دا دډیر تاسف مورد دی چی دسید جمال الدین قبر دیو څه مودی د تیریدو څخه وروسته دیاده ووته او دهیریدو په مرتبه کښی واقع شو ترڅوچی دامریکا یو مستشرق عالم کشف کړه او مقبره یی ورته جوړه کړه، دقبر په یوه خوایی کال ۱۹۲۶ میلادی کښی داسی ولیکل:

دامزار په دنیا کښی دمسلمانانو صمیمی او مخلص دوست او دامریکا خیر غوښتونکی عالم مستر "«شارلس کرین"» جوړ کړی د ی.[3] دډیر وکلو تیریدو څخه وروسته اسلامی نړی په دی پوه شوه چی باید ددی مرحوم انسان

---

[1]. سید جما ل الدین افغانی داځل په ترکیی کښی څلورکاله دمرګ تراخری سلګی پوری پاتی شو.

[2]. داګڼه دسید جمال الدین افغانی دمړینی په کال کښی خپره شوی ده.

[3]. د "دکتورمحمود قاسم" له کتاب جمال الدین افغانی د (۸۴-۸۵)صفحو څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعزاز وشی کوم چی خپل ټول عمر او ژوندیی دختیړی او مسلمانو خلکو دژوند دښه کیدو دپاره وقف کړی ؤ نو د ده د یادونی دپاره یی احتفالونه جوړاو دده د جهادونو احترام یی وکړه چی په دی ترڅ کښی کال ۱۹۴۴ میلادی ؤ چی تابوت او خاوره یی افغانستان ته نقل شوه او د افغانستان په مرکز کابل ښار کښی د علی آباد په منطقه کښی خاوروته وسپارله شوه او ښه مجلله ځګه او په زیات مصرف ګنبده او دپوره قدر د یادونی مزار ورباندی جوړ شو.

سید جمال الدین افغانی په استامبول کښی دنا امیدی اومایوسی په په ورځو کښی مصر اومصریان زیات یادول اوداسی به یی ویلی:

دالله پاک په ځمکه او وطنونو کښی مصر راته ډیر ګران دی، ما ورته دمحکم او دقوی علم یوه ډیری شیخ «محمد عبده» پری ایښی دی..[1]

دمرحوم «المخزومی پاشا » څخه کوم چی په استامبول کښی دسید جمال الدین افغانی ملګری او ورسره ګډ ژوند یی کولو روایت دی چی دی داسی وایی:

سید جمال الدین افغانی دمحمد عبده په شخصیت قایل، ورته ډیر ګران او دده د اخلاقو ستاینه یی کوله، سید جمال الدین افغانی هر کله به چی محمد عبده یادوه نو به یی ویلی: زما مګری محمدعبده او یازمامګری شیخ

---

1. دعثمان امین له کتاب «محمد عبده » د (۳۶-۳۷) صفحو څخه د اعلام الاسلام سلسله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد عبده، دده له دغه ډول یادونی څخه د «عبد الله »[1] ندیم په زړه کښی څه غیرت پیداشو په دی سبب یی یو ورځ داسی وویلی: ای سیده ته تل دشیخ محمد عبده دنوم سره د صدیق (ملګری) کلمه زیاتوی دا داسی ښیی چی ته په خلکو کښی بی له ده څخه بل صدیق (ملګری) نه لری ځکه ته نور په داشانی نه یادوی سید جمال الدین افغانی ددی خبری په اوریدو موسکی شو اوویلی: «ته هم ای عبدالله زما ملګری یی خوستا او دشیخ محمد عبده ترمینځه فرق دادی چی هغه زما په مشقت اوسختی کښی ملګری ؤ او ته می په آسانتیا او راحت کښی ملګری یی ددی تحلیل په اوریدو سره عبدالله ندیم غلی او چپ شو.[2]

استاد «احمد امین » په خپل کتاب «زعماء الاصلاح فی العصر الحدیث » کښی دا لاندی مطلب لیکلی دی: دسید جمال الدین افغانی د مړینی څخه یو دیرش کال وروسته کال ۱۹۳۸ میلادی ؤ چی دترکیی مرکز آستانه (استامبول) ته لاړم، هلته می په ځان لازمه وګڼله چی ددی لوی انسان دقبر زیارت وکړم او دده دکارونو سلسله او عظمت را په یاد کړم نودده دزیارت په حقله می دډیرو څخه پوښتنه وکړه چانه پیژنده مګر یو افغان ؤ چی هلته یی د «علی » په کتاب تون کښی دتحویل داری کارکولو هغه راته دده دقبر ځای او ښودنو د «جولای » دمیاشتی اتمه او دیکشنبی دورځی ماځیګر ؤ چی زه دخپل ملګری

---

[1]. ((عبدالله ندیم”» په استامبول کښی دسید جمال الدین افغانی علمی مجلسوته حاضریده او ورسره یی پوره مینه لرله.
[2]. (ا)داستاد ((عثمان امین”» له کتاب ((محمد عبده » د(۲۶-۲۷) صفحو څخه داعلام الاسلام سلسله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«العبادی» سره «ماجقه » اویا «متشکه » ته چی هلته یوځای ۇ لاړو او په هغه ځای کښی د «بوسفور» دننوتو ځای ته نزدی په هغه برخه کښی یوه مقبره او قبرستان پیداکړه چی ددی قبرستان قبرونه خواره واره شوی، ۇ هلته دقبرستان مشر مونږ ته دمرحوم سید جمال الدین افغانی قبر اوښوده، هلته مونږ پوه شلو چی قبریی تیت شوی ۇ او هیڅا ورته کومه اعتنانه کوله، نزدی ۇ چی ننبی او نشانی یی ورکی شوی وی او شرقیانو کوم چی ددوی دخدمت دپاره ده خپل ټول عمر دلاسه ورکړه ۇ هیڅ په دی کښی فکرنه کولو چی قبرو به یی څنګه وی؟بلکه یو امریکایی مستشرق او عالم په کال ۱۹۲۶ میلادی استانه (استامبول) ته راغلی دی اودده دقبر پلیټنه کړی ده ترڅو چی یی موندلی دی اوبیایی ورباندی د رخامو له ډبری څخه ښایسته قبر جوړه کړی دی اودا سپنی دیوال یی ورباندی احاطه کړی دی، دی مستشرق دقبر په یوی خواد ده نوم او دده دولادت اومړینی تاریخ لیکلی دی او دقبر په بله خوایی په ترکی ژبه داسی مطلب لیکلی دی: دا مزار په ټوله دنیا کښی دمسلمانانو صمیمی او مخلص دوست امریکایی خیر پالونکی مستر «شارلس کرین » په کال ۱۹۲۶ میلادی کښی جوړ کړی دی.

مونږ دده په دغه قبر ودریدو اودځانه سره مو وویلی: دلته یو داسی څوک ویده دی کوم چی عقلونه او فکرونه یی آزادول، زړونه یی تحریکول، دولسونو پارونکی ۇ، دتختونو لړ زونکی ۇ، هغه څوک ۇ چی دسلاطینو به دده په عظمت اولویی رخه راتله، دژبی اوقدرت څخه به یی ډاریدل، دلویی دبدبی دولتونه به دده حرکت څخه په ویره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې ولیدل او دآزادی ارت ممالک به ورڅخه تنګیدل.دلته هغه ځوک غلی پروت د ی کوم چی هر چیرته چی تلی دی هلته یی دآزادی اوربل کړی او په شعلو یی راوستی دی. دده دفعالیت مراکز مصر-پاریس، هند، فارس، لندن،افغانستان، ترکیه او ځینی نور عربی، شرقی اواسلامی ممالک ؤ، دلته هغو ځوک پروت دی چی په مصر کښې یی دعرابی دانقلاب تخمونه وکرل دفارسی انقلاب دپاره یی خلک وپارول، ده داجنبی استعماری دولتو په ضد ټوله اسلامی نړی وښوروله، ده داجتماعی اصلاحاتو غوښتنه وکړه، دلته هغه ځوک خښ دی کوم چی په مصر کښې یی داستبدادی حکم په مقابل کښې جګړه وکړه په فارس کښې یی د«ناصرالدین شاه» ظلمونه محوه کړل، په انګلیستان او پاریس کښې یی داستعمار او استثمار په مقابل کښې مجادله وکړه، ده په شرق او ختیزه کښې دزلت، بی سوادی، جهل او ناپوهی په ضد او دترکیی په مرکز استانه (استامبول) کښې یی دجاسوس اونفاق په خلاف جګړه وکړه اوبی دمرګ او میړینی څخه نور هیڅ ځیز ورباندی کامیاب اوبریالی نشو.[1]

**دسید جمال الدین افغانی رنګ او قواره :**

امام محمد عبده وایی: دسید جمال الدین افغانی قد متوسط، غنم رنګه، قهری مزاجه، بی د اندازی غټ والی څخه یی سرغټ، وچلی یی مناسبه پراخه، سترګی یی ارتی دمخ دواړه خواوی یی غټی، پراخه سینه او دکتنی او ملاقات په وخت کښې ځیره او قواره یی خوښه او روښانه

---

[1]. د زعماء الاصلاح فی العصر الحدیث”» کتاب د (۱۱۵-۱۱۶) صفحو څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

وه ځینی نورو داهم زیاته کړی ده چی پزه یی ښایسته اوموزونه، زنه یی غټه، شونډی یی پلنی او غوښنی اوګیره یی له پاسه خواځخه نری اواخر طرف ته ګڼه وه.دسید جمال الدین افغانی سترګویو عجیبه شانتی روښانتیا درلوده لکه چی په سخته تاریکی کښی شدید نورو ځلیږی.

همداشانی وایی: وجود یی قوی او غنم رنګه لکه دحجاز دعربانو غوندی ؤ، سترګی یی ارتی او ورځخه سخت تاثیر او جاذبیت پورته کیده.

**دسید جمال الدین عادات :**

سید جمال الدین افغانی ددنیایی شخصی لذایذو او مادیاتو ته اهتمام نه کوه، ښځه یی نه وه کړی، ژوندیی نهایت ساده ؤ، ده به تل ښی جامی اغوستلی او اکثر ده افغانی جامی په افغانستان،هند،مصر، او اروپا کښی اغوستی دی. ده به دخولی دپاسه یوه سپینه ټوټه چی د اعزاز ننښه وه هم ګردچاپیره تړله. سید جمال الدین افغانی که څه هم دخپل ژوند زیاته برخه په اروپا کښی تیره کړی وه خوبیاهم دهغوی په عاداتو او تقالیدو نه ؤ اوښتی، ده په چای زیات څکلو، سګرت یی څکول، دی په زیاتو علومو اوژبو ښه پوهیده، ده په افغانی، فارسی،عربی، ترکی، هندی، فرانسوی، انګلیسی اوروسی ژبو خبری کولی او هر قوم ته به یی دهغوی په ژبه تعلیم او لیارښونه کوله.

سید جمال الدین افغانی دترکیی په مرکز آستانه (استامبول) کښی دخپلو کلیو نظافت او پاکی ته زیات متوجه ؤ او دصحت دشرائطو لحاظ یی پوره ساته نو په دغه مقصد ده دخپل طبیعت په تناسب دغذایی خاص رژیم مراعات کولو لکه چی ده به ډوډی لږه خوړله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشیرینو اوخوړ وخوړو لونه یی زیات میلان دترشو شیانو په ده به په خپلو لاسونه خوراک کولو او دمیلمنو دپاره به یی دمیلمنو په خوښه قاشق پنجی هم راوړلی او دده په مخکښی به هغوی خوراک په عصری سامانونو کولو او ده ورسره کوم مخالفت نه لرلو ځکه چی ده په دی برخه کښی دزمانی دروا ادابو او عاداتو څخه باک نه درلوده او نه ددغه شانی عاداتو او مسایلو په خلاف کښی یی خپل قیمتی وخت ضایع کولو.

***

**دسید جمال الدین اخلاق او رویه :**

شیخ محمد عبده دده داخلاقو او رویی په حقله اجمالا داسی وایی[1] په ټولو حرکاتو او رویو کښی یی قوی زړه درلوده، دډیری نرمی او حلم خاوند ؤ، دالله پاک دلورنی په اساس یی پراخه حوصله لرله مګر که چا به دده شرف او دین ته تعرض کولو هغه وخت به بیادده حلم او حوصله په غضب او قهر بدلیدله، دی سخی ؤ او څه چی به په لاس ورتلل مصر فول،په الله پاک باندی یی قوی اعتماد درلوده

---

[1]. د سید جمال الدین افغانی په دغو اخلاقو او او صافو باندی کوم چی مرحوم استاد محمد عبده یادکړی دی دده ټول شاګردان او هغه کتابونه چی دده په حقله یی څه لیکلی دی اتفاق لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

او دزمانی دحوادثو پروایی نه کوله امانت یی ډیر ښه ساته، چاچی به ورسره نرمی کوله او ښه به چلیده ده به هم ورسره ښه ګذاره او داخلاص ژوند کولو او که چاورسره د زشتی او سختی نه کار اخسته دی هم په مقابل کښی سخت دریده دسیاسی مقاصد واو اهدافو په خوایی زیاته هڅه درلودله نو که یوخه لږه روښنایی به یی ولید له ځغرده به هغی خواته –درسید لوله امله زیات چالاکه شو چی اکثر دده دغه زیاته چالاکی دده دناکامی او حرمان موجب ګرځیدله.

مرحوم استاد «محمد المخزومی پاشا » دسید جمال الدین افغانی د اخلاقو په حقله داسی روایت کوی:

سید جمال الدین افغانی په اول پیژند ګلوی کښی دمحبوبیت څخه زیات مهیب او هیبتی ښکاریده دی شجاع، میړنی، زړور او سخی انسان ؤ حتی چی دده سخاوت اسراف اندازی ته رسیده، دی دده څخه دلاندی کسانوسره متواضع ؤ او اکثر به دده تواضع په ظاره کښی دذلت په درجه کښی ښکاریدله خود پاچایانو او غټوخلکو سره ده افراطی زیات کبر او غرور درلوده، دده داصفت او ضعه په حقیقت کښی دیو انسان دلویی صفت او وضعه ده کوم چی دعاجزانو په مخ کښی عاجز اودزور ورو په مقابل کښی شدید اوسخت وی، دده ذهن تیز، دلیل یی قوی، په خبره ځغرده پوهیده او خپل مخاطب یی زیات جذبوی همدا شانی دده زړه قوی، همت یی لوړ او دخیر رسولو دکارو سره یی مینه درلودله.

دسید جمال الدین په حقله داهم ویل شوی دی چی دخپل مطلب او مقصد په حقله دده صراحت او جرئت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی موجب شوی ؤ چی مطلب ته درسیدو په لیاره کښی یی وځنډوی او یایی دناکامی سره مخامخ کړی. سید جمال الدین افغانی په منافقت اودلویانو سره دخیانت کولو په کار متاثره کیده او زړه به یی ورته تنګ شو، دی د ظالمانو سره د رسمی علماؤ اودینی کسانو په معاهدی او موافقی باندی په قهر او غصه ؤ نو هرچاته یی په ښکاره ډول دده اصلی حقیقت څرګندوی چی په دی اثر دده دښمنان او مخالفان زیاتیدل.

دسید جمال الدین افغانی محقق شاګردان وایی چی دده صراحت په حقیقت کښی دده دمړینی څخه وروسته دده هیلو او غوښتنو د کامیابی موجب شو ځکه که ده دنورو چاپلوسو علماؤ او شیخانو په شانی وضع او رویه درلودلی چی دحق دڅرګندولو په وخت کښی غلی پاتی شی او یا د ناروا تائید کولی نو آواز به یی غلی، بلنه به یی مړه او دده د اهدافو دپوره کیدو په لیاره کښی به دده شاګردانو کوم فعالیت نوی کړی.

سید جمال الدین افغانی دخپلو اوریدونکو په زړونو باندی عجیب او حیرانیدونکی تسلط درلوده اودده داهغه طاقت او استعدادؤ چی محمدعبدهورباندی غبطه اورخه کوله او په دی یی اعتراف کولو چی دی دخپل استاد په شانی داسی طاقت او استعداد نه لری ځکه چی شیخ محمد عبده باندی دمجلس حالاتو، اوضاعو او شرایطو تاثیر اچوه اوترڅو چی به په چاکښی داوریدو استعدادنه ؤ څه به یی نشو ویلی خو بالعکس سید جمال الدین افغانی به که چا د اوریدو اراده درلودله اویایی نه درلودله ده دخپل حکمت، پوهی او خیر رسولو وینا کوله او که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوريدونكى به داوريدو دپاره حاضر او برابرنه وه خوده به په خپل قوت اوريدونكى دمطلب دپاره جذبوه اوداسى ښكاريده چى دى لكه مقناطيسى قوت اولوى روحى طاقت لرى.

ددى تفسير اوتوضيح دا شانى كيدى شى :

چى سيد جمال الدين افغانى د نادر او كميابه ذكاوت خاوند، دژورى پوهى قريحه اوسليقه يى درلودله ده په عجيب ډول مطالب تحليول چى په هغو كښى به يى اول تعمق كولو او ټول دقيق او باريك رمزونه به يى په نظر كښى نيول او بيا به يى په دى شانى عرضه كول چى دپوهيدلو وړ او كوم شك او تردد په كښى پيدا نشى.

شيخ محمد عبده د ده دا عالى اوصاف په لاندى ډول ترسيم كړى دى وايى :

ده په دقيقو او باريكو مطالبو او مقاصد وباندى داسى تسلط درلوده چى هغه به يى په نوى رنګ واړولا اوپه داسى مناسبه او ښكلى څيره به يى ښكاره كړل لكه چى ده ابتكار كړى دى نو دحل كولو دپاره يى پوره قوت او قدرت لرى، داسى ښاريده چى دى په خپلى وينا پوره حاكميت لرى، دده تحليل به غوټى خلاصولى اوهره موضوع چى به ورته وړاندى شوه داسى بحث به يى په كښى پيل كړه لكه چى دده خپله موضوع ده نو دهغى موضوع ټولى خواوى به يى وسپړلى، له هرى خوا څخه به يى درباندى احاطه وكړله او پټى پردى به يى ورڅخه پورته، اصلى مطلب به يى څرګنده كړه.

سيد جمال الدين افغانى به چى دكوم فن او علم په حقله څه ويل لكه دهغه علم او فن دپيداكونكى په شانى

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاریده، ده په شعر کښی د اختراع قدرت درلوده او داسی معلومیده لکه چی دده ذهن دصنع او ابداع دپاره جوړ شوی دی.

دی په جدل او بحث کښی پوره رسیدلی ۇ او په دغه برخه کښی دده مهارت اندازی ته څوک نشورسیدلی او یا شاید مونږ به څوک داسی شانی نه ۇ پیژندلی.

روایت دی چی یو وخت د اروپا یو لوی شخصیت دده سره دشرق او غرب دفضیلت او بهتری په حقله خبری او بحث کولو ده هغه په دی خبره ملامت کړه چی وویلی: دشرق د فضیلت او بهتری دپاره دا کفایت کوی چی له دی ځایه څخه یو داسی انسان پیدا شو چی ترننه پوری یی د اروپا خلک عبادت کوی یعنی حضرت مسیح عیسی علیه السلام.

د استاد «سعد زغلول » څخه روایت دی[1] چی هغه په یوه مجلس کښی داسی حکایت وکړه :

سید جمال الدین افغانی وایی: زه یوخت په یوی بیړی کښی وم دا بیړی طوفانی شوه او دغرقیدو په حالت کښی وه نو ده ولیده چی واړه، ښځی او ډارند خلک وارخطاشول داوخت ده ورته په تاکید وویلی چی دابیړی داخل په دی سفر کښی هیڅ نه غرقیږی، دی وایی چی خلکو په ده باندی دبزرګی او ولایت عقیده وکړه او داهغه وخت ۇ چی ددی تاکید او جرئت سره یی زما پګړی یی شنه ولیدله نوګمان یی وکړو چی زه به دهند دملنګانو څخه یم کوم چی غیبی

---

[1]. ددکتور محمود قاسم له کتاب ((سید جمال الدین الافغانی » د (۹۰)صفحی څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





ویناوی کوی حال داچی داموضوع زیاته اسانه او ساده وه ځکه که بیړی غرقه شوی وی هیڅوک به نه ؤ پاتی چی زه یی په خپلی وینا کښی دروغجن کړی وم او که بچه شوی وی دډیری نزدی لیاری او وسیلی څخه د بزرګی او ولایت په عقیده بریالی کیدم.

**هغه فکر او نظر چی سید جمال الدین افغانی یی وپاروه او په حرکت یی راوسته :**

سید جمال الدین افغانی وایی: دکائناتو په حقله زما اوله توجه چی زیات دقت او غورمی په کښی وکړه هغه داوه چی ځمکنی کره می په خپل مخ کښی کیښود له او دځینی نورو اجسامو او اجرامو (ستورو، لمر او سپوږمی) سره می مقایسه کړه، په دی مقایسه کښی داسی موجودات او کائنات هم ولیدل شول چی په سلهاؤ میلونو واری دځمکی څخه غټ ؤ له دی څخه وروسته دځمکی په سرانسانانوته متوجه شوم چی تقریبا دیوزر او پنځه سوه ملیونو څخه زیات نه ؤ او دا اندازه د ځمکی دسطحی په لحاظ ډیره لږه ښکاری (یعنی ځمکه دنور وډیر انسانانو دژوند کولو دپاره استعداد لری) بیا می داسی فرض کړه چی که په دغه بله کره کښی چی دځمکی دکری څخه دوه سوه میلیونه غټه ده چیری کوم انسان زرکاله ژوند وکړی او د ډیرو پراخو ځمکو خاوندوی او دا خیال وشی چی دځمکی دکری د مساحت په اندازه دی ځمکه ولری نو که چیری دغه انسان دسلها ؤ ښځو سره ازدواج وکړی امکان لری چی د ده د دومره عمر په اوږدوالی کښی به دده ځامن لمسی او دلمسیو اولاده او نبیره د ځمکی د موجوده خلکو د شمیراندازی ته او یا له دی څخه زیات حساب ته ورسیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوخت داسی فکر پیدا کیږی چی که دغه چورت دعمل جامه واغوندی او دمریخ دقریبی په کره کښی څوک ټوله ځمکه په واک کښی ولری او اولاده یی دځمکی دانسانانو په اندازه وی ایا په دی قریبی کښی چی ټول خلک دیوه تن اولاده ده (یعنی پلار او اصلی نیکه دټولو ژوندی او ارته دنیا لری) همدا ډول یوتر بله اختلاف کوی لکه چی دلته دا ددی ځمکی انسانان ورسره مواجه دی؟زما خیال او تصور راته ځواب راکړه چی نه بلکه د دی قریبی خلک به ټول په امن کښی وی وی مطمئن ژوند به لری، د دوی په مینځ کښی به حسدنه وی اونه به کوم غم او غوصه ولری، دوی به کښت زراعت اوکرل کوی، حاصل او میوی به یی په لاس راوړی اوخوری به یی، دجنګ اوجګړی معنی به نه پیژنی اونه به کوم وسواس ورسره وی ځکه څوک دښمن به وربااندی مسلط نه وی او په دوی کښی به دطمعی اونا وړه هیلو خاوندان نه وی، پراخه ځمکه به لری، څه چی غواړی ورته به تیار او اماده وی او دوی ټول به دخپل پلار یعنی ددی قریبی داصلی مالک سره ګډ دیو الله پاک عبادت کوی کوم چی دټولو خالق او دکائناتو اصلی پیداکونکی دی. له دغه خیال او تصور څخه ددی ځمکی داوسیدونکو په خوا متوجه شوم او د دوی په مهم اختلاف کښی می غور او څیړنه وکړه او دا راته ثابته شوه چی ددوی داختلافو نو یو لوی عامل دین دی نو دا موجوده دری ادیان می په نظر کښی ونیول او په کښی می دقیقه مطالعه او څیړنه پیل کړله داسی څیړنه او مطالعه چی دتقلید څخه مجرده او د هرقید او بست څخه دفکر او تعقل حرکت آزادوی نو ددی بحث دقت او څیړنی څخه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

راته ثابته څرګنده او واضح شوه چی دا دری د موسویت ، عیسویت اومحمدیت دینونه په اخری تحلیل کښی په یوی مبدی او غایی پوره اتحاد او اتفاق لری (یعنی دالوهیت په عقیده او دخلکو دښیګڼو د تامین په منظور دا ټول دری دینو نه متحد او متفق دی)

کله چی په یوه دین کښی دمدنیت دانکشاف په اثر څه نقصان راغلی دی دوم دین دانقصان لری کړی دی اوکله چی په خلکو باندی زمانه ډیره تیر شوی ده، په خپل طغیان اوسرکښی کی ځنډیدلی دی او روحانیونو یی دینی لیارښونی (الهی نوامیس) بد تعبیر کړی اود دین اصلی ماهیت ته یی نقصان او تاوان رسولی دی داوخت دوی ته بل رسول او استاځی راغلی دی چی دپخوانی رسول او استاځی تائید وکړی او دپیښ شو و تاوانونو، نقصانونو او بی غوریو جبیره وکړی ترڅو خلکو ته کامل او پوره الهی دین وړاندی شی نو په دی اساس ماسره زیات قوی امید پیدا شو چی که ددی دری واړو دینونو حرکت متحد شی ځکه چی ددی دری واړه دینونو اصل، جوهر او غایه یوه ده ترڅو ددی مبارک اتحاد په برکت بشر په دی لنډ ژوند کښی دروغی او سلامتیا په خوامهم قدم پورته کړی.

سید جمال الدین افغانی وایی: ددی مطلب دپاره می فکرو کړه او په دی فکر کښی قدم په قدم اوخط په خط وړاندی تلم غو ښتل می چی دخلکو دبلنی دپاره څه ولیکم اودا په داسی حال کښی چی دټولو ادیانو دخلکو سره دنزدی څخه بلدنه وم اونه می یوازی دیو دین دپیروانو داختلافاتو په عواملو کښی پوره غور کړی ؤ چی ولی دوی په فرقو فرقو او مختلفو طائفو ویشل شوی دی خوکله چی پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم چی ددی ادیانو د پیروانو د اتفاق او اتحاد په مخ کښی دومره ژوری کندی پرتی دی اودی بی دینانو هریو دخپل ځان دشخصی ګټودپاره ددین څخه ددکان کاراخستی دی او هری ډلی ځان ته ددین څخه دسرو او سپینو زرو د معدن فابریکه جوړه کړی ده او ددوی دټولو دتجارت سرمایه دینی، مذهبی اونژادی اختلافات دی لکه چی عربی شاعر ددی مطلب دپاره داسی وایی:

**قدیفتح المرء حانوناً لمتجره وقد فتحت لک حانوتا فی الدین**
**صیرت دینک شاهینا تصید به ولیستفلح اصحاب الشواهین**

دترجمی حاصل:یوسړی دتجارت دپاره دکان پرانځی، تاته په دین کښی دکان پرانستل شوی دی. ددین څخه دی شاهین جوړ کړیدی او په دی وسیلی ښکارکوی داسی دشاهین خاوندان نشی کامیابیدلی .

سید جمال الدین افغانی وایی: ددی تحلیل په وسیلی پوه شوم چی هرڅوک که دتفرقی او داختلافاتو دلری کولو په مقابل کښی زړورتیا او جرئت وکړی او دحقه دین اصولوته درجوع په لیاره کښی دپیوندیدو او اتفاق دضرورت په لحاظ دخلکو افکار وپاروی دی سړی ته دفاسدو خلکو په اصطلاح او عرف کښی کافر، منکر، متجاوز، ددین تعلیماتو مخالف اوفتنه اچونکی...وایی.

سید جمال الدین افغانی وایی: کله چی زما پوهه دی حدته ورسید له نو په خیال او چورت کښی زما خوښی په غم بدله شوه او دخپل نظر اوفکر څخه پوره نا امیده شوم خوبیا می کوښښ وکړه، خپل تیت افکار می راټول کړل او جدا شوی چور تونه می سره یوځای کړل او داخل می په شرق او دشرق په خلکو نظرواچوه نو په دغه نظر کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

افغان متردد او ځنډولم (یعنی ددوی په حالاتو متاثره شوم) دافغان منطقه هغه ځمکه ده چی داول ځل دپاره زما وجود ته ددی خاوری رسیدلی دی، بیاپه هند کښی پاتی شوم کوم چی زما فکریی روزلی دی، بیاد ګاونډیتوب دروابطو په اساس ایران ته متوجه شوم او دایران دښیګڼود تامین پاره زما څه کوښښ صرف شوی دی عربی جزیری حجاز ته لاړم کوم چی دوحی دنازلیدلو مرکز او د مدنیتونو دپلوشو منبع دی، بیا دیمن په خوا اودیمن داوسیدونکو «تبابعه» او «اقیال حمیر» په خوا متوجه شوم د نجد، عراق، بغداد، هارون او مامون، شام او د امویانو کورونو او ابادیو په خوا، داندلس او داسلام او دشرق هرمملکت، منطقی او دولت او هغه چی په دوی باندی نن ورځ تیریږی او ورسره مخامخ دی ټولو جوانبوته متوجه شوم.

سید جمال الدین افغانی ددی ټولو فکرونو څخه دا نظر او فکر را باسی وایی: الشرق: الشرق: (شرق ! یعنی دشرق جنجالونه)

مادشرق دمرض دتشخیص په حقله خپل ددماغ جهاز په کار واچوه او ددی علاج دپاره می پوره فکر وکړه نوپیل می وکړه چی د وحدت او یووالی له لیاری څخه یی خنډونه اوموانع لری او محوه کړم باید ووایم چی پدی موانعو او خنډونو کښی ددی خلکو دتقسیمیدلو درد د اراؤ اختلاف، اتفاق ئی په اختلاف او اختلاف ئی په اتحاد کښی ؤ،دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی متفق دی چی اتفاق به نه کوی او په دی قوم باندی کوم یو پروګرام نشی تطبیقیدلی.[1]

داهغه اجمالی فکر او نظر ؤچی سید جمال الدین افغانی ئی پرحرکت او جذبی راوسته او دهغو کارونو او اقداماتو مصدرئی وګرځوه کوم چی ده په خپل ژوندکی کړی دی له دی ټولو څخه داسی څرګندیږی چی دسید جمال الدین افغانی افکار داسی درجی ته رسیدلی ؤ چی دهغه وخت دتاریکو افکارو څخه وچت ؤ.ده هیله درلودله چی انسان دی په ملکی صفاتو موصوف شی اودی له دی څخه زیات په تنګ شوی ؤ چی خلک یوتربله په مفاسدو اختلافاتو مبتلا او مواجه دی نو ځکه ده کوښښ کوه چی دمذاهبو او ادیانو پیروان پدی پوه کړی چی آسمانی ادیان یو تربله په اصل هدف کی چی هغه د انسانی رسالت تکمیل دی اختلاف نه لری.

په دی مقاله کښی په واضحه توګه ده خپل اصل او نسب ښودلی دی چی وائی: «ان الافغان اول ارض مس جسمی ترابها ».

ژباړه دافغان علاقه هغه ځای چی زما جسم او وجود داول ځل دپاره ددی ځمکی خاوره مسه کړی ده.

سید جمال الدین افغانی دعلم، سیاحت او تجربی څخه وروسته ښکاره کړی ده چی دی په شرق کښی داسلامی دولتو په ویجاړ حالت باندی متأثر دی اوعموما

---

[1]. داستاد ((محمود ابوریه »له کتاب ((صیحة جمال الدین افغانی » د (۲۷-۳۰)صفحو څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشرقیانو کمزوری او بدبختی زورولو حتی چی ددوی په حقله وایی: «قد اتفقوا علی الایتفقوا »

ژباړه دافغان علاقه هغه ځای دی چی اتفاق به نه کوی خوسره ددی هم سید جمال الدین افغانی په خپل ژوندکی خپله وظیفه ترسره او اداء کړه، کوښښ یی وکړه چی دمسلمانانو او شرقیانو یووالی او اتحاد راولی او دوی د غربی نزدی راتلونکی خطر په خوا پوره متوجه کړی.

**«د انسانی سعادت او نیکمرغی په حقله د حقیقی سبب او عامل پلټنه.»**

داسلام ستر حکیم سید جما ل افغانی دپاس عنوان دمطلب لاندی داسی لیکی: په امکان خاص سره ممکن (یعنی هغه ممکن چی په وجود اوعدم یی محال نه راځی او په دی اثر عمومی نه کیدونکی حالت نه پښیږی) هغه دی چی هستی یی دعلت او سبب دهستی او وجود پوری ارتباط لری او عدم یی دعلت او سبب په عدم راځی په دی اساس سعادت اونیک مرغی دامکان دجملی څخه یو ممکن دی.(یعنی داسبابونو او عواملو په اساس وجود پیداکوی چی باید پوره پلیټنه وشی چی اسبابونه اوعوامل یی برابر شی ترڅو افراد او جوامع دسعادت اونیک مرغی خاوندان وګرځی.)

وایی: سعادت دانسان دهر فرد دحرکت دپاره غایی علت دی چی حسی او معنوی دواړه حرکتونه دسعادت اونیک مرغی دلاس ته راوړو په اساس مینځ ته راځی څکه که په ټوله شپه او ورځ کښی دانسان کوښښونه دنظرلاندی ونیسو او داچی انسان داوبدلو زراعت، کرنی، صنعت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجارت وسایلو څخه کاراخلی، دعلو مواوفنونو دتحصیل دپاره سعی کوی دمنصب مرتبی دلاسته راوړو له امله مشکلات زغمی دا ټول بیلدی بل باعث او عامل نه لری چی انسان سعادت اونیک مرغی غواړی خو بیاهم داسی څوک نه لیدل کیږی چی ورته رسیدلی او یا ورته نزدی شوی وی ددی وجه داده چی دسعادت اونیک مرغی اصلی علت او عامل نوی متحقق شوی نو په مونږ باندی لازمه ده چی ددی علت پلیټنه وکړو او هغه سبب پیدا کړو کوم چی دسعادت او نیک مرغی دعامل مانع ګرځی ترڅو داڅرګنده شی چی دسعادت او نیکمرغی غوښتونکی سعادت ته درسیدو دپاره ولی بی لیاری دی؟ نو په دی حقله زه داسی وایم:

دسعادت او صحت ترمنځ زیات مشابهت او ورته والی لیدل کیږی څکه لکه څنګه چی دوجود اوجسم صحت او جوړښت دییته احتیاج او ضرورت لری چی دجسم او وجود داعضاؤ او غړو ترمنځه باید طبیعی تناسب موجودوی په داسی ډول چی دغړو داجزاؤ او موادو ترمنځه پوره اعتدال برابر، هرغړی خپله وظیفه ښه اداء د خارجی شرایطو او لوازمو دپاره لکه، زمان مکان، خوراک څښاک، اولباس باید پوره لحاظ او پام لرنه وساتل شی او که چیری دغه شانی زمینه برابره نشی اوفرصت دلاسه ورکړی شی دجسم او وجود صحت او جوړښت ورانیږی.

په همدا قسم دانسان سعادت او نیکمرغی داجتماعی او فردی اوضاعو او حالاتو دتناسب معلومول او مولوددی چی باید مدنی وضعه ښه اوفامیلی او کورنی ژوند دخلکو جوړاو په زړه پوری شی، دکورهرغړی خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وظیفه وپیژنی او ادائی کړی، دګډژوند دپاره باید مدنی پیوند او ارتباط پوره تعادل ولری او دا په داسی ډول او تنظیم چی خلکو ته دومره دکار کولو زمینی برابری شی چی په دی وسیلی تنګسی لری بی له نقص او تاوانه هرڅوک وکړی شی چی دمرفه ژوند کولو لیاره خلاصه کړی، دکارګرو ترمنځه ښه رویه او نیک تعامل پیدا او یو دبل دلیاری دخنډپه ځای دمرستی او تعاون وسیله شی، مدنی او اجتماعی ژوند باید دعدالت دقانون دتطبیق لاندی داسی چلند ولری چی دټولو خلکو وړو او غټو، آمراو مامور او دهری طبقی او صنعت دکار کوونکو حقوق تامین او دټولو بی عدالتیو مخه ونیوله شی، بین المللی تعادل او ښه ارتباط باید داسی سویی ته ورسیږی چی هردولت خپله اندازه وپیژنی او دهغی پوره لحاظ وساتی، دولتونه یو په بل تجاوزونه کړی او دحقوقو د پایمالیدلو سبب نشی بلکه باید یو تربله داسی زمینی او فرصتونه برابر کړی چی ارتباطات تقویه او دپوره تعاون، تساند او مرستی موجب شی حقیقت چی سعادت اونیک مرغی ددی ټولو یادشوو موضوعاتو پوری توقف او اړتیا لری چی بی ددی ټولو او یا ځینو څخه دسعادت اونیک مرغی هیله خرابیږی او په دی لیاره کښی امیدواری دمایوسی پړاوونه وهی.

سید جمال الدین افغانی دسعادت اونیکمرغی دعواملو او شرایطو دبرابرولو په دقیق تحلیل او تفصیل کی دی سرحد ته رسیږی چی وایی: دسعادت اونیکمرغی اسبابونه، عوامل او شرایط چی یادشول که څه هم دپیداکیدو، حاصلیدو اولاس ته راوړو امکان یی شته دی خوبیاهم ورته درسیدو په لیاره کی موانع او خنډونه پراته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی هغه داچی هرڅوک په دی باور لری چی دی کامل اونور ناقص دی، هرچاته خپل کارونه ښه ښکاری او دنورو اعمالوته په قهر او غصه ګوری، هریو ددی ادعا کوی چی ده داعتدال داندازی څخه تجاوز نه دی کړی، خپل کارونه، واجبات او وظائف ئی نه دی خراب کړی او نه دده همت او میړانه په انسانی نړی کی دخپلی وظیفی او مسؤلیت داداء کولو په لیاره کی بیرته پاتی شوی ده همداوجه ده چی ددی مدعی او ادعا د اثبات دپاره کوښښ کوی څومره ئی چی دلاسه وشی دلائل اوبراهین برابروی،دارنګه خلک که چیری مشقت او بدبختی پیداشی هغه دنورو دبی غوری، اهمال، سستی او بیباکی نتیجه ګڼی، خپل ځان پاکوی او دنورو په سر که څه هم پاک وی مسؤلیت اچوی حتی چی که په خپله دده څخه واضح هم کوم کار وران شی وائی دا د نورو تاوان دی ځکه هغوی دده په مخ دښه کیدو دروازی وتړلی نودی مجبوره دی چی داسی وکړی او که چیری یو ډیر خطرناک کارته هم اقدام وکړی ادعا او پلمه کوی چی دا اختیار نه درلوده او مجبوره شوی ؤ مجبوریت دیته واداره کړه اوده په خپلواک او خلاصون نه درلوده خوکه فرضاً بل چا بیا داسی کارکړی او یا وی کړی دهغه دپاره دمعذرت او مجبوریت دلیل نه منی که څه هم هغه په واقع کی معذور او مجبوره وی همدا سبب دی چی دآراؤ، افکارو او نظریااتو ترمنځه شدید اختلاف لیدل کیږی، یو تربله په اقدام، حرکت او عمل کی ضدیت او تناقض موجود، تناسب پورته شوی، عدالت قطعاً نشته او ارتباط له منځه تللی دی.سید جمال الدین افغانی وائی: دځامنو سره دپلورونو حال اودنوکروسره دبادارانو حال ته ځیرشی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

چی ځنګه یوپه بل ملامتی اچوی حال داچی هریو پوهیږی چه دیوکور سعادت اونیک مرغی په دی پوری مربوطه ده چی دکور ټول غړی خپل فرائض او واجبات په ځای یو دبل کارونه تقویه او تائید کړی خو بالعکس یو دبل په ضد حرکت کوی او دهغه اراؤ اونظریاتو ته تاوان رسوی او ادعا لری که دابل په خپلو حقوقو اوفرائضو کښی تقصیر نه وی کړی دکورژوند او راحت به تامین شوی او تکلیف اوزحمت به لری وی.په همداشانی دیو ښار داوسیدونکو او دیووطن دګړ اجتماعی ژوند کونکو حال لیدل کیږی هغه داچی هریو په دی باورلری چی راحت اوبریالیتوب په دی کی دی چی کارونه پیدا، تقویه اوکره شی او دکارګرو ترمنځه دنیک تعامل اوښی ګذاری په اساس دشر اوخیانت مخه ونیول شی، دټولو وطنوالو ترمنځه دګړ اوښه ژوند کولو له امله کلک تعهدات، پیمانونه او تړونونه موجودوی ددروغوځخه ځان وژغوری اوټول دوفاء صدق او اخلاص په اصولو او مبادیو کلکی منګولی خښی کړی خوبیاهم هیڅوک په دغه لیاره کښی که څه هم هرڅه وکړی ځان نه ملامتوی او دا ادعا لری چی دخلکو مدنی او اجتماعی سعادت اونیک مرغی د نورو دسستی اوبی همتی په وجه زیان منه شوی ده.

له دی ځخه وروسته سید جمال الدین افغانی په دی ډول تحلیل وړاندی کوی وائی:

درعیت سره دپاچایانو او لویانوحال ته وګوری هریو ددوی بل منحرف، داعتدال او عدالت ځخه ئی وتلی ګڼی اویو تر بله دا اتهام تړی چی د حقوقو د احترام په ضدئی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکت کړی دی او خپل ځانته د دغه اتهام څخه برائت ورکوی.

پاچایان اولویان ادعا کوی چی رعیت او ولس بی له دوی څخه ژوند نشی کولی او دخلکو قوام او پایښت ددوی پوری مربوط دی ځکه چی دوی دهغو مالونه ساتی، ژوند ئی دپام لرنی لاندی لری، دهرچا حقوق ورکوی، دظالمانو څخه د مظلومانو انتقام اخلی او دیر غلانو دیرغل او ضرر ددفع کولو له امله سرحدونه او سنګرونه ساتی نوله دی جهته دوی درعیت او دخپل ولس په مالونو کی دتصرف کولو حق لری او د ژوند د مقدراتو واک او اختیار ئی لری، په خلکو باندی لازمه ده چی ددوی اطاعت وکړی، ددوی تسلط او سیطری ته تابع اوسی، اوامرئی، قبول کړی اوله نواهیو څخه ئی اجتناب ولری مګر دوی سره ددی ټولو بیاهم قانع نه دی وائی: رعیت او ولس په خپلو کارونو کی مقصر دی او خپل فرائض او واجبات ئی ندی په ځای کړی.

بالعکس رعیت دخپلو مقتدرینو په مقابل کی داسی وائی: تاسو په مونږ باندی لکه څنګه چی ادعا کوی کومه بهتری او فضیلت نه لری، تاسو زمونږ څخه پاک عنصر او اصل نه یاستی اونه موذاتی ختِه زمونږڅخه ښه ده بلکه مونږ ګورو چی تاسو یوازی په خپل ځان باندی مین یاستی ترداسی اندازی چی دخپلو شخص شهرتونو په دائره کی ګیرشوی او دخپلی هوا او هوس غلامان اونوکران ئی حتی چی همدغه ذهنیت او صفت په دی باعث کړی یاستی چی دخپل ځان او درعیت ترمنځه اعتماد موله منځه وړی دی او داددی دپاره چی دحرص مرض پسی اخستی یاستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

هڅه لری چی دخپلی سلطی او قدرت دائره مو ارته شی اوغوړی چی خلک په تاسو افتخار وکړی.

داچی تاسو ادعا کوی چی بی له تاسو څخه زمونږ پایښت نشته دی نه پوهیږو چی دا ادعا موله کومی خوا ثابتیږی؟ مونږ چی ګورو تاسو خو زمونږ د اوږو بارګرځیدلی یاستی ځکه مونږ ئی خښوو، کرو، وریشو، ووبو، برشوو، ګنډو آبادوو او محکمووئی، مونږ د صنعت اختراع کوو او رنګارنګه پوهنی منځ ته راولو. داچی تاسو دخپلی ادعا داثبات دپاره وائی چی زمونږ مالونه ساتی، زمونږ دبقا ساتنه کوی اوداسی نوری دخدمت ادعا لری دا ټولی ادعا ګانی ستاسو دغرور اوکبر څخه نشأت کوی کوم چی مبدأ او اساس ددی واړو ادعا ګانو ستاسو په نفسونو او فکرونو کی دی او په دی باندی نه پوهیږی چی حافظ او ساتونکی خو زمونږ خپله خلک دی او انتقام اخستونکی خو حقیقی شریعت او قانون دی چی تاسوئی په سرولاړ او په خلکوئی تطبیقوی نوکه چیری تاسو په خپله وظیفه باندی استقامت وکړی هغه وخت بیاپه مونږه باندی دومره حق لری چی ستاسو ضرورت اداء او دژوند کولو وسایل مو برابر کړو نه داچی تاسو زمونږ په اموالو طفلانه لوبی وکړی، ومو وژنی او دبدبختی په کندوکی موواچوی اوبیاددی سره هم زمونږ څخه اطاعت غواړی اوهرڅه چی موخوښه وی باید مونږ ئی قبول کړو او که نه مونږ مقصر ګڼی او راته وایی چی په خپله وظیفه کښی سستی کوی. داټول اوضاع چی یاد شول دهغو پاچایانو او دقدرت خاوندانو اودعا مه خلکو ترمنځه روان دی چی استعماری نوم نه لری ځکه چی په استعماری نظامونوکی بیا دخلکو او مقتدرینو ترمنځه بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګه نخری او لوبی روانی وی او هلته بیابی اندازه دسیسی، پلمی مانوری، سیاسی او دپلوماتی چالونه او چانسونه استعمالیږی.

سید جمال الدین افغانی وائی: دعقلاؤ، حکماؤ پوهانو او دمذهب صاحبانو په کارونو کی دقیق فکرو کړی چی دوی ټول په دی متفق دی چی حق په حقیقت او واقع کی یودی متعدد کیدی نشی همدا شانی ټول دامنی چه منطقی قواعد او قوانین د نظر دفیصلی ترازو ده چی صحیح دفاسد څخه بیلوی خو بیاهم ددوی ترمنځه اتحاد او وحدت ورک دی هر یوځان ته پروګرام لری او په داسی لیارو روان دی چی یو دبل څخه مخالف او نقیضی ښکاری او هریو دا ادعا کوی چی دده دلائل ترمطلبه رسیږی او په ترازو برابر دی او دنورو دلائل سمون نخوری.

سید جمال الدین افغانی وائی: د غلو قاتلانو او په انسانی نړی کی د نورو بدکارانو او تباه کارانو حال ته ځیرشی داسی څرګندیږی چی دا ناوړه کارونه په اتفاق سره بد او قبیح دی خو دبدوکسانو څخه ددوی د ذاتی بدخصلت اوعادت په سبب صادریږی هغه داچی په ځان غره او یواځی ځان ګوری، خپل بداعمال ورته ښه ښکاری او ورباندی راضی وی ځکه هرعمل دارادی اثر دی اواراده کول دنه کولو څخه غوره کوی او په کولو کی خیر ګوری چی داپه واقع کی دخوښی او رضا معنی ورکوی.

سید جمال الدین افغانی وائی: ددی بد خصلت او عادت داثارو څخه یو عجیب او غریب اثر دادی چی یوازی یو ه شخص ته دکارونو او مرتبو په اختلاف تنها یو حقیقت په مختلفو صورتونو او شکلونو ښکاری مثلا «ریدی ګل »

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

په یوه حالت او مرتبه کی په عاجزانو مهربان په ضعیفانو زړه سواندی، دمظلومانو ملګری، دبخل اوسختی مخالف، دسخا، او کرم طرفدار، کوښښ کوی چی دمحتاجو خلکو حاجت پوره کړی، دعفت او پاکی ادعا کوی، دشهوت دتاثیر لاندی راتلل ورته بدښکاری په ډیرو ویونکو اوفخر کوونکو باندی استهزاء کوی، کبر او غروربد ګڼی، رشوت نه په کرکه او نفرت کی دی متاثر کیږی چی دعامه ګټو دتامین په کار کی بی غوری وشی اویا په وظیفه کی سستی اولټی راشی په خپل فکر باندی مین او مستبد کسان کوم چی یواځی خپل کار اووینا ورته ښه ښکاری داسی کسان بدګڼی او ورباندی خاندی، دابده ګڼی چی نااهلوته کاروسپارل شی او دکار مستحق خلک بی کاره پاتی شی، قهر غضب او په سزاء ورکولو کی چالاکی اوسرعت بدګڼی، ظلم اوبی عقلی رسواکوی، دوطن سره مینه لری، دآزادی ساتونکی دی او ادعاء کوی چی که واک او اختیار ده ته وسپارل شی نو په خلکو کی به داصلاحاتو دوره راولی خوهمداچی یوی لوئی رتبی ته ورسیږی بیابه ګوری چی هغه سی به نوی لکه چی چی دبابی به ئی کولی بلکه په فقراؤ او عاجزانو به سخت زړی او قسی القلب وی وائی سوال کول دی بیکارو او تنبلانو خپل ځان ته یوکار اوکسب ګرځولی دی غواړی چی په دی وسیلی دکارکولو دزحمت څخه ځان خلاص کړی، ته به ګوری چی په مظلومانو به ئی چورت نه خرابیږی بلکه وائی به مظلومان مکر او حیله کوی او خلاف دهغه څرګندوی چی په زړه کی ئی لری هغه داچی ځان عاجز اومظلوم ددی دپاره ښکاره کوی چی دنورو په حققو سینه واچوی، دډیر بخل څخه به کاراخلی وائی به

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهوښیاری ده چی مال او پیسی دضرورت دپاره وساتل شی اوخزانی ددی دپاره جوړی شی چی په لازم وخت کی ورڅخه استفاده وشی...

سید جمال الدین افغانی وائی: دداسی خلکو یوه عجیبه نښه او علامه داده چی سره ددی چی دوی په ناوړه اورذیلو اخلاقو او اوصافو مبتلاوی خو خپل ځان نه وینی او دخپلو اعمالو او اوصافو دکتلو څخه وړوند او غافله وی مثلا: زړه ئی سخت د ی خو ادعا کوی چی رحیم دی متکبر دی مګر ځان ورته متواضع ښکاری او په همدا شانی دی خپلی ټولی بدی په نیکی حسابوی خوکه بل څوک یوادنی او لږ انحراف وکړی اویاخطاشی سمدستی ورباندی پوهیږی او رسوا کوی ئی.

سید جمال الدین افغانی وائی: که څوک انصافاً پوره غوروکړی او حقائقو ته دبصیرت، پوهی او واقعیت په نګاه وګوری هغه ته دا ثابتیږی چی دانسان دغه خصلت چی خپل ځان ورته کامل او پوره ښکاری او یوازی دخپلو کارونو څخه خوښ وی دابی له دی څخه چی یوازی په ځان مین او عاشق دی بل کوم سبب او علت نه لری، داخصلت او خوی دعقل په سترګو پردی اچوی او عقل نه پریږدی چی په واقعی ډول حقائقو باندی پوه او په سمه لیاره روان شی. حقیقت دادی چی یوازی په خپل ځان د مینیدلو او عاشقیدلو خوی اوخصلت دداسی بدو انسانانو د پاره تل د بدبختی او زیار موجب دی اوترڅو ژوندی وی ورڅخه نه جدا کیږی، مګر یوازی دخلاصیدو دپاره ئی چاره داده چی دعقل څخه کار واخستل شی او په هرڅه کی په واقعی ډول یوټکول شوی تعقل او انصاف ته ځان وسپارل شی یعنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقل په کار واچول شی، په هرڅه کی عقل ته رجوع وکړی شی، په خپل ځان کی دپاتی کیدو دتسلط څخه ووځی ناروا او شخصی هیلی پریږدی اوخپل ځان دنورو په آینه کی وګوری او دیته پوره ځیر شی چی نور خلک دده په حقله څه نظر لری.

حقیقتاً چی دځان څخه وتلو دپاره واقعی علاج همدا دی چی سړی خپلو معایبو ته هم پوره متوجه وی ترڅو خپل حد او اندازه وپیژنی اودځان داصلاح کیدو او روزنی دپاره سعی او کوښښ وکړی.

سید جمال الدین افغانی وائی: مونږ دځان د دوستی احساس په ټولو انواعو بد نه ګڼو ځکه چی دځان دوستی ځینی برخی انسان دسعادت سره مخامخوی او د یو قوم ولس او ملت دنیک مرغی وسیله ګرځی هغه داچی په نیکه او حقه لیاره کی دځان خیر، ګټه او ښه نوم غواړی او ډیر کرته دهمدغی لیاری څخه دانسان افکار او اعمال دعمومی منفعت دتامین دپاره رهبری کیږی حتی ترداسی اندازی چی دځان دپاره په اجتماعی مساعیو کی یی دیوازی ښه نو م او نیکی یادونی څخه نور کوم مادی لذتونه نه غواړی.

ژوندی دی وی هغه چی دسمی لیاری پیروی کوی او د هوا اوهوس څخه منطق او تعقل ته ترجیح اواهمیت ورکوی.

ددی مقالی دبحث او تحلیل څخه پوره ثابتیږی چی سید جمال الدین افغانی اجتماعی امراض اودردونه په دقیق نظر دمطالعی لاندی نیولی ؤ او دخلکو ترمنځه داختلاف اصلی منبع ئی کشفه کړی وه هغه داچی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسړی په افراطی اندازی دخپلو منافعو لیونی شی، یوازی ځان ګوری او په خپلو خبرو او کړو اووړومین شی له دی څخه وروسته ده ددی مرض دمعالجی اوورڅخه دخلاصون په خواهم پام کړی دی ترڅوانسان دتباهی خسران اوهلاک څخه بچ شی نو ځکه توصیه کوی چی دهوا او هوس او دحرص دبدخوی اوخصلت څخه دخلاصون چاره یوازی همدا ده چی انسان خپل تعقل په کارواچوی او دخپلو ټولو کارونو فیصلی دعقل حاکمیت ته وسپاری.

سید جمال الدین افغانی په دی ډول غوښتی دی چی انسان دسعادت په خوا متوجه اودتباهی په خوائی ملتفت کړی.

دسعادت او نیکمرغی دتحلیل څخه معلومیږی چی دسید جمال الدین افغانی فلسفه په اسبابونو او عللو اتکاء درلودله او غوښتل ئی چی دښه تعقل دلیاری خلک حقائقو ته ورسیږی او په دغه لیاری کی داسی قوی او متین حرکت شروع شی چی واقعاً دانسان د سعادت او نیکمرغی موجب وګرځی.

«سید جمال الدین افغانی داختلاف په حساب دسنی او شیعه دنومونو څخه بد وړل »

سید جمال الدین افغانی وائی: دنبوت دکورنی دمینی په سلسله کی مختلفو وختونو او زمانو کښی احزاب، ډلی او ټپلی پیداشوی دی چی په دی نوم ځینی ګمراه اوبی لیاری دی لکه «مؤلهه » کوم چی وائی علی کرم الله وجهه د «ابی طالب » زوی الله او خدای ؤ، ځینی ئی «مفضله »دی چه وائی: حضرت علی کرم الله وجهه په نورو ټولو صحابه ؤ باندی فضیلت درلوده، ځینی ئی

(c) ketabton.com: The Digital Library



«غلاة » دی چه دنبوت دکورنی په مینه کی ډیره مبالغه کوی دغه طبقی ددی وینا دحکم لاندی راځی چی وائی «یهلک فینا اهل البیت اثنان محب غال و عدو قال »ژباړه زمونږ دنبوت دکورنی دمنسوبینو په متعلق دوه طبقی هلاک او تباه شوی دی یوه طبقه هغه ده چی ددوی په مینه او محبت کی له اندازی څخه زیاته مبالغه کوی او بله هغه طبقه ده چی ورسره دښمنی لری او د دوی په متعلق دادب څخه لری وینا کوی.

دشیعه ؤ څخه «مفضله » (کوم چی مخکی توضیح شول) هغه دی چی دامام «جعفر صادق » دمذهب تقلید کوی، دی په نبوی کورنی کی دلویو فقهاؤ څخه ؤ نو دا طبقه مسلمانان چی دامام جعفر صادق علیه رحمة متابعت او تقلید کوی لزوم نه لری بلکه ښه نه ده چی دمسلمانانو دډلی څخه ئی په دی اثر خارج کړو چی دوی ګوندی دپیغمبر دکورنی داولادی په محبت کی مبالغه کوی او علی کرم الله وجهه دنورو صحابه ؤ څخه بهتر ګڼی او لزوم نه لری چی ددی طبقی دشیعه ؤ سره په فروعو کی اختلاف غبټ او چاق شی ترڅو چی داسی مرتبی ته ورسیږی چی دزیاتو جګړو، دښمنیو، مرګونو او وژلو موجب شی، دارنګه اوضاع ناپوهو خلکو اوبی منطقه پاچایانو ته کوم چی دخپل قدرت دارت والی طمع لری آسانه اوساده ښکاری همداوجه ده چی دشیعه ؤ پاچایانو او دقدرت خاوندانو ددغه شانی ذهنیت دتقویه کولو دپاره اهتمام وکړه او دشیعه توب مفکوره ئی لویه کړه ترڅو چی عوام اوناپوه خلک دپیغمبر داولادی دمحبت په نامه په عجیبو اوغریبو او هامو مبتلا کړی او دا ددی دپاره چی پدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسیلی دوی داستبداد په ضد احزاب اوډلی له منځه یوسی اولښکری ددی دپاره برابری کړی چی مسلمانان یو تربله د (شیعه اوسنی) په نوم وجنګوی او دخپلو شخصی اوناروا هیلو دپاره لیاره خلاصه کړی حال دا چی ټول په قران او محمد صلی الله علیه وسلم باندی ایمان او عقیده لری.

که ومنو چی دعلی کرم الله وجهه فضیلت او مرستی دپاره دمعاویه په جنګ کی چی په علی کرم الله وجهه ئی تجاوز کړی ؤ په هغه زمانه کی ضرورت ؤ او یا د هغی شاته د حق د اثبات او باطل دمنځه وړو په مقصد کومه فایده موجوده وه خونن ورځ ګورو چی په دی آواز او په دی موضوع باندی ټینګار چی وخت ئی تیرشوی او دزمانی په تیریدو ئی اهمیت له منځه تللی دی بی له تاوانه او داسلامی وحدت او اتحاد دتجزیه کیدو څخه بله ګټه او فائده نه لری ځکه که نن اهل سنت اتفاق وکړی، دعربو او عجمود شیعه ګانو دمفضله ؤ سره ئی موافقه راشی او په دی اقرار وکړی او ومنی چی علی کرم الله وجهه دابی طالب زوی د ابوبکر رضی الله تعالی عنه څخه په خوا دخلافت مستحق ؤ آیا په دی به عجم پورته شی؟ اویا به دشیعه ؤ حال ښه شی؟ اویاکه داهل سنتو سره دشیعه ؤ اتفاق راشی چی ابا بکر رضی الله تعالی عنه په حقه د علی کرم الله وجهه څخه په خوا خلافت لاس ته راوستی دی نو آیا په دی عقیدی به سنی مسلمانان پرمختګ وکړی او په د ی اثر به دموجوده ذلت خواری او بدبختی څخه خلاص شی.

آیا ددی وخت نه دی رسید لی چی مسلمانان دغفلت څخه بیداره شی؟ او د دی مرګ څخه په خواله اجله نجات

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیداکړی؟ ای خپلوخلکو دحق په عزت می دی قسم وی چی علی کرم الله وجهه امیر المؤ منین د عجمو او ټولو شیعه ګانو څخه په دی نه خوښیږی چی دوی دی داهل سنت دخلکو په مقابل کی جنګ وکړی او ورڅخه دی په دی بانی چی ګوندی علی کرم الله وجهه ته په ابی بکر رضی الله تعالی عنه فضیلت ورکوی جدا شی همدا شانی ابوبکر رضی الله تعالی عنه په دی نه خوښیږی چی اهل سنت دی دده څخه دفاع وکړی اودهغه دفضیلت دپاره دی دشیعه ګانو په مقابل کی وجنګیږی هو: اوس ددی اختلافاتو وخت تیر شوی دی او دقران کریم دهغی روحی څخه مخالف دی کوم چی غواړی ټول مسلمان دی دیو محکم سنګر په شانی اوسی.

دفضیلت قضیه اوموضوع که وروسته ددو مره ډیری مودی د تیریدو څخه دبحث وړوی نویوازی همدو مره کفایت کوی چی دحل په حقله ئی وویل شی:«دراشدو خلفاؤ څخه کوم چی عمر یی لږ پاتی شوی ؤ په خوا له هغو څخه د خلافت مرتبی ته ورسیدل کوم چی عمر یی له دوی څخه اوږدؤ» نو که چیری د نبی صلی الله علیه وسلم څخه وروسته علی کرم الله وجهه د خلافت مرتبی ته رسیدلی وی ابوبکر، عمر او عثمان رضی الله تعالی عنهم به مړی شوی او داسلام اومسلمانانودخدمت هغه فرصت به ئی نه ؤموندلی کوم چی توان درلوره چی مناسب خدمت وکړی.[1]

---

[1]. د استاد محمود ابوریه له کتاب «صیحة جمال الدین الافغانی» د (۲۱۵-۲۱۷) صفحو څخه.عمل کولو په محکم او قوی اړخ به یی غور، دقت او اجتهاد کولو ضعیفه رایه او روایت به یی نه منه او کوم چی به صواب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دی بحث څخه معلومیږی چی سیدجمال الدین افغانی د سنی او شیعه ؤ داختلاف په موضوع کښی دقیق فکر کړی ؤ او په دی ئی یقین او باور راغلی ؤچی د مسلمانانو د اختلاف عامل د اسلام د دښمنانو او استعمارچیانو دسایس ؤ او له دی څخه ثابتیږی چی د میرزا لطف الله خان ایرانی هغه لیکنه حقیقت نه لری چی لیکی: سیدجمال الدین شیعه ؤ حقیقتاً چی دا لیکنه د استعمار او دسلام د دښمنانو افترا وه چی د سیدافغانی په حقله یی کوله او غښتل یی چی په دی وسیلی د مرګ څخه وروسته هم دده اعتبار او اهمیت ښکته کړی ځکه چی دوی دا عادت لری چی صالحو او نیکو خلکو په مقابل کی چی ژوندی وی مجادله کوی او دمرګ څخه وروسته یی پلانونه او نقشی تخریبوی لکه چی اوس هم په دی موجوده عصر کی استعمارچیان د سنی او شیعه د اختلافاتو څخه استفاده کوی او په ناروا دینی او مذهبی اختلافات زیاتوی په الله ج باندی ددوی د استعماری چالونو او بی حیایی څخه پناه غواړم.

**داجتهاد په حقله دسیدجمال الدین افغانی نظر :**

سیدجمال الدین افغانی په دی شهرت درلودلو چی د تقلید او د جمود څخه به یی نفرت کولو،ده به په بهتری او اسانه نظریی او ویناوی

یووخت ده ته و ویل شول چی قاضی «عیاض) داسی وایی (یعنی هغه په دی عصر کی اجتهاد نه منی) دمجلس حاضرو خلکو دهغه په وینا باندی استدلال نیوه او ورباندی

---

نزدی ؤ،هغه چی صراحتاً به عقل ته منظور او دصحیح روایت سره به یی سمون درلوده هغه به یی اخسته او قبلوه به یی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

یی زور واچوه سیدجمال الدین افغانی ددوی په ځواب کی داسی وویلی: یا سبحان الله ! قاضی عیاض خو د خپل عقل د توان سره برابر څه ویلی دی د هغه وینا د هغه فهم په اندازه وه او دهغه د زمانی د ذهنیت سره یی سمون خوړه نو آیا بل څوک دا حق نه لری چی د هغه څه اظهاروکړی کوم چی حق ته نزدی او دقاضی عیاض او نورو امامانو دوینا څخه صحت او معقولیت ولری؟ آیا دا لازمه ده چی سړی دی دخلکود وینا په مقابل بی دلیله غلی او ساکت پاتی شی؟ حال دا چی دوی په خپله د هغو خلکو په نظریاتواو آراؤ باندی غلی او ساکت پاتی شوی نه دی کوم چی له دوی څخه مخکی تیرشوی دی بلکه دوی ځان ته اجازه ورکړی ده چی د خپل عقل بندیزونه لری،نوی مسایل کشف تحلیل او بحث وکړی او په دی وسیلی دعلم په لوی بحر کښی د استفادی کولو وسایل په کارو اچوی تر څو چی داسی مطالب لاس ته راوړی چی ددوی دعصر سره مناسب او د خپلو خلکو دذهنیت سره یی نزدیوالی ولری ځکه چی (فرعی) دینی احکام دزمانی په بدلون تغیر او بدلون پیدا کوی.

کله چی سیدجمال الدین ته وویل شول چی دیته خوا جهاد ویلی شی او داهل سنتو په نزد داجتهاد دروازه تړلی ده ځکه چی د اجتهاد شرایط برابریدل ګران کار دی دا وخت ده سخت او سیلی وویسته او وویلی ددی معنی او مطلب څه دی چی د اجتهاد بند دی؟ او په کوم نص(ایات او صحیح حدیث)کی اجتهاد دی بند شوی دی کوم امام ویلی دی زما څخه وروسته مسلمانانو ته هیڅ اجازه نه شته ده چی د دین د نفقه او پوهی له امله دی اجتهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړی او د قرآن او صحیح حدیث د لیاربنونی دپاره دی هاند وباسی؟

هو: د موثوقو امامانو په ویناؤکی داسی څه نه لیدل کیږی چی هغوی خلک له دی څخه منع کړی وی چی د آیات او صحیح حدیث څخه دمطلب د ښه روښانه کیدو دپاره کوښش وکړی او یا دنوی عصری علومو په مطابق د نص د اصل سره مخالفت ونه لری د زمانی او د عصرد ایجاباتو او اقتضاءاتو په برابر دی د قیاس څخه استسفاده ونه شی او دا ځکه چی هر پیغمبرد خپل امت په ژبه استول شوی دی او الله پاک حضرت محمدصلی الله علیه وسلم یی خپل امت دپاره په عربی ژبه رسول واستوه تر څو چی دی هغوی په خپل مطلب یوه کړی او هغوی ددی په وینا پوه شی.

الله پاک فرمایی: «وما ارسلنا من رسول الا بلسان قومه» ژباړه مونږ کوم رسول نه دی استولی مګر د قوم په ژبه یی.

په بل ځای کی فرمایی: «انا انزلناه قرآناً عربیاً لعلکم تعقلون» ژباړه مونږ دا په عربی ژبه قرآن ددی دپاره نازل کړه چی پری پوه شی.همدا شانی په بل عبارت فرمایی «انا جعلنا قرآناً عربیاً لعلکم تعقلون» ژباړه دا مو عربی قرآن ددی دپاره وګرځوه چی تر څو وربا‌ندی پوه شی. نوله دی څخه معلومیږی چی قرآن کریم یوازی د خلکو دفهم او دقت دپاره نازل شوی دی تر څو خلک ددی د معانیو د غورکولو او ددی دمطلب او احکامو دپوهیدلو دپاره خپل عقل په کار واچوی نو په دی اساس هغه څوک چی په عربی ژبه پوهیږی، عاقل وی، لیونی نه وی، د پخوانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلاقو او رویو عالم وی، داجتماع لیاره وپیژنی، هغه احکام چی په نص باندی مستقیماً ثابت دی ورباندی علم ولری او د صحیح حدیث د قیاس په ترتیب پوه شی دا رنګه شخص دپاره روا ده چی د قرآن په احکامو کی فکر، تعمق او دقت وکړی اودی دصحیح حدیث او قیاس څخه نور مسایل استخراج او استنباط کړی.

په دی کی شک نشته چی که د امام ابو حنیفه، امام مالک،امام شافعی او د امام ابن حنبل عمراوږده شوی وی او تر نن ورځی پوری ژوندی وی هغوی به تر اوسه خپل کوښښ او اجتهاد د ته دوام ورکړی وی او دقرآن صحیح حدیث څخه به یی د هری موضوع دپاره حکم پیدا کوه او څومره چی دهغوی څیړنه او تجربه زیاته شوی وی تر همغی اندازی به یی دقت او فهم هم وده کړی وی. هو: د امامانو د غوسترو لویانو او ددی امت لویوسړو اجتهاد وکړه او دخدمت په لیاره کی د ښو کارونو مصدر وګرځیدل الله پاک دی دوی ته د مسلمانانو د خدمت په حقله ثواب او اجر ورکړی خو دا نه ده صحیح چی مونږ په دی باور ولرو چی دوی ګوندی د قرآن په ټولو اسرارو احاطه درلودله او هغه یی په خپلو مذهبی کتابو کی دوی او یا پیروانو یی ثبت کړی دی نه خیر حقیقت دادی چی دوی سره ددی چی ښه علم او پوهنه یی درلودله اود تحقیق او اجتهاد مرتبی ته رسیدلی ؤ خو بیا هم ددوی ټولو پوهنه،اجتهاد او تحقیق نسبت هغو علوموته چی قرآن او صحیحو احادیثوورباندی احاطه کړی ده لکه بحر ته دقطری او زمانی ته د ثانیی مثال لری بی شکه چی فضل او بهتری د الله پاک په واک او قدرت کی ده چاته یی چی وغوړی ورکوی یی او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخلوق په هغه څه پوهوی چی وربالندی نه دی پوه (یعنی د الله پاک د لیارښو دنی دایره ارته ده تر څو چی د بشر د ژوند روان دی هغومره د نوو، نووپښنو انتظار کیږی چه دا ټول بیا داساسی او بنیادی قانون قرآنکریم په وسیلی رهبری کیدی شی).

سیدجمال الدین افغانی وایی:حرامیدل او روا کیدل بی د الله د امرڅخه نه شی کیدلی چی دا باید د قرآن او سنت د لیاری صورت ومومی....

پخوانو علماء او امّه ؤ به دا جرآت نه کولو چی ووایی دا درسول صلی الله علیه وسلم لیاره ده تر څو چی یی په هغه حقله پوره غور نه وی کړی، اتفاقی نظر ورته نه وی معلوم شوی او د راویانو په ثقه او معتمدو کسانو یی علم نه وی راوستی...... ترآخره ددقت او او څیړنی دټولو لیارو څخه به هغوی کار اخسته مګر بالعکس نن دا ناپوه او وړانده مشایخ او روحانیون دحلالو او حرامو په فیصله کی د زیات جرآت نه کار اخلی او بی دنص څخه حلال حراموی او حرام حلالوی او په دی نه دی پوه چی دا کار دشرعی وظیفه ده حتی چی رسول صلی الله علیه وسلم ته دده په حقله بی دلیارښونی دصراحت څخه اجازه نه ده شوی. الله پاک فرمایی: «یا ایها النبی لم تحرم ما احل الله لک....»

ژباړه : ته ولی هغه څه حراموی چی الله ج درته حلال کړی دی.

سیدجمال الدین افغانی وایی: دترکیی په مرکز استانه (استانبول)کی د «سلیمانیه» جامع مسجد سره می نزدی یو شیخ ولیده چی یو دریشی کړی سړی دګریوان څخه نیولی ؤ او د کشولو په حال کی یی داسی ویلی: د دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

کمیس اغوستل تاته حرام او کفر دی ځکه دا دفرنګیانو بافت او صنع ده، سید جمال الدین وایی: زما څخه نور څه ونه شول خو دومره چی دی جاهل شیخ ته وړاندی شوم او ورته ومی ویلی: ای شیخه ستا چپن او پګړی زما پګړی او چین هم د پرنګیانو صنع او جوړونه نو ولی دا خپله پګړی دی نه لری کوی او چین دی ایسته نه اچوی؟ او که دا کار وکړه بیا کولی شی چی ددی سړی کمیس هم ورباندی وباسی.

سیدجمال الدین افغانی وایی: اوس هم په مسلمانانوکی ددی جاهل شیخ په شانی ډیر لیدل کیږی نوبله چاره بی له دی څخه نشته ده چی ووایو « ولا حول ولا قوة الا بالله».[1]

ژباړه له بدو کارونو څخه ګرځیدنه او په ښوکارونوباندی قدرت یوازی دالله پاک په مرسته کیږی (یعنی دجاهلواونا پوهو خلکو دشر څخه بچیدل د الله پاک په مرسته غواړم)

دسیدجمال الدین افغانی داجتهاد په حقله دی مقالی څخه ثابت او څرګندیږی چی دده دفکر ساحه وسیعه وه او اراده یی درلودله چی دمسلمانانو دافکار د اوهامو او خرافاتو دځولنو څخه خلاص او دنظری اوعملی ژوند په میدانو کی یی دجهاد کولو دپاره آماده او برابر کړی. ده تصمیم درلوده چی مسلمانان اوشرقیان دجمود،خمود او غفلت دخوب څخه بیدارکړی کوم چی ددوی په غاړو او لاسونو کی یی ځنځیرونه او ځولنی اچولی دی ترڅو په

---

[1]. داستاد محمود د ابوریه له کتاب د صیحة جمال الدین الافغانی د(۲۱۲_۲۱۵) صفحو څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علمی او عملی اختراعاتو او اکتشافاتو پیل وکړی او هغه جګ مقام او مرتبی ته ورسیږی کوم چی په اوله پیړی کی یی داسلام رهبرانو او پوهانو مبداء او اساس ایښی ؤ.

**سید جمال الدین افغانی هغه د ډیرو ښو معناؤ او د عالی اهدافو څخه ډکی جملی او ویناوی کومی چی ورڅخه روایت شوی دی :**

۱: «من سفه الرآی ان یعتقد الرجل افضلیته علی الغیر بالعمر والمشیب. الاقدمیة لاتجدی الأفضیلة غالباً»

د ترجمی حاصل: دا ساده توب او بی عقلی ده چی یو انسان په بل باندی دعمر اوزړښت په اساس عقیده او باور ولری. مشرتوب اکثر دفضیلت او بهتری موجب ته ګرځی.

۲ـ«الفخربالقول المجردیبطله المجد بالفعل»

ژباړه: دعملی اوسمدستی اقدام ارزښت اوقدر یوازی دشتی وینا افتخار محوه کوی (یعنی دوینا څخه عملی حرکت اواقدام ته زیات ضرورت دی او خلک دعمل دتاثیر لاندی راتلی شی)

۳ـ«احقرالناس من یطلب موت الناس لیحیا،و اعظمهم من یستمیت لیحیا ولو واحداً من الناس»

ژباړه: بد او پست هغه دی چی د خپل ژوند دپاره دخلکو مرګ غواړی او په انسانانو کښی دلوی شخصیت خاوند هغه دی کوم چی د خلکو د ژوند دپاره که څه هم دیوه تن ژوند برابر کړی ایثاراو قربانی ورکولوته حاضرشی.

۴ـ «الذل وصحیح العلم ضد ان لایجتمعان».

ژباړه: ذلت او صحیح علم سره یو تربله ضدیت اومخالفت لری دا دواړه سره نه یوځای کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

۵ـ «الفقرعدو الفضیلة والثراء نصیر الرذیلة»

ژباړه: عاجزی[1] دفضیلت دشمن دی اوعیاشی د رذالت سره مرسته کوی.

۶ـ «لاخیر فی حق لاتدعمه قوة»

ژباړه: په هغه حق کی فایده نشته ده چی قوت او طاقت ورسره مرسته ونه کړی.

۷ـ«تطویل المقدمات دلیل علی سقم النتایج»

ژباړه: دمقدماتو اوږدو الی په دی دلیل کیدی شی چی نتایج ښه نه دی.

۸ـ«من رهب الملوک بغیرجریرة فهو صعلوک»

ژباړ: هرڅوک چی د پاچایانو او قدرت دخاوندانو څخه بی دکوم جرآت کولو څخه ډاریږی دا ګدایګر دی.

۹ـ «لا تطیب نفس الانسان بالتواضع الا اذ ا علم بعض العلم»

ژباړه: یوانسان په تواضع سره ښه کیدی نه شی مګر چی څه علم هم ولری.

۱۰ـ «الافراط فی التواضع دلیل علی الادعاء»

ژباړه: افراط په تواضع کښی (یعنی چی یو سړی له اندازی څخه زیات خپله عاجزی ښکاره کوی) دا په دی دلالت کوی چی ادعاء لری (یعنی دکوم مطلب دپاره یی لاره جوړ کړی دی).

۱۱ـ «من فتح له باب و لم یدخل اولی بالطرد»

---

[1]. هغه عاجزی او فقر د فضیلت دښمن دی چی سړی ئی د تاثیر لاندی راشی او په دی اثر خپل معنویات د لاسه ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: څوک چی دروازه ورته وازه شی او داخل نشی ددی وړدی چی وشړل شی.

۱۲ـ«فلم یاتی الحق من غیر عناء»

ژباړه : حق بی د زحمت ګاللو څخه نه حاصلیږی.

۱۳ـ«ما مات احد فی حب امته الا و احیته»

ژباړه: هیڅوک د خپل ملت په مینه کی نه دی مړشوی مګر چی ملت یی بیرته ژوندی کړی دی.

۱۴ـ«من احب الحیاة فلیمت فی سبیل حیاة امته»

ژباړه: څوک که د ژوند سره مینه لری نو دخپل ملت د ژوند په لیاره کی دی مړشی.

۱۵ـ«لا امة بدون اخلاق ولااخلاق بغیرعقیدة ولا عقیدة بغیرفهم»

ژباړه : یومل بی داخلاقو پاتی کیدی نشی او اخلاق بی عقیدی ځان نه نیسی او عقیده بی د پوهی نه پیداکیږی.

۱۶ـ «خیر موازین الامم اخلاقها،خیرالاخلاق انکارالذات، اعظم دلایل الانکار علی الذات الاعمال».

ژباړه: دملتونو او ولسونو بهتر اټکل او اندازه معلومول په اخلاقو کیدی شی، بهتر داخلاقوڅخه هغه خلق حسابیدی شی چی سړی د ځان څخه تیرشی او دځان څخه دتیریدو دلیل په کار او عمل باندی اقدام دی.

۱۷ـ«الف قول لایساوی فی المیزان عملا واحداً»

ژباړه: د زرو ویناؤ د روندوالی په ترازو کی د یوه کار د دروندوالی په اندازه دروندوالی نه لری.

۱۸ـ«خیر ما یحتاجه الشرق من الملوک القوی العادل،لا خیر فی العادل الضعیف کما انه لاخیر فی القوی الظالم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

ژباړه : بهتر هغه چی شرق او ختیزه ورته احتیاج اوضرورت لری قوی او عادل پاچایان او دقدرت خاوندان دی په ضعیف عادل کی کومه فایده نشته ده لکه چی په قوی ظالو کی خیر نه لیدل کیږی.

۱۹ـ «الاستقلال امل یتبعه عمل »

ژباړه : د استقلال هیله دکار اوعمل دپاره ده.

۲۰ـ«اذا خلا المید ان من العقلا تسابقت الجهلاء»

ژباړه: میدان چی د پوهانو او عالمانو ځخه خالی شی جاهلان ورته دانګی او یو په بل سبقیت کوی.

۲۱ـ «العالم الفقیر غنی بعلمه والغنی الجاهل فقیر بجهله»

ژباړه: فقیرعالم په خپل علم باندی غنی دی او جاهل غنی دخپل جهل په سبب فقیر دی.

۲۲ـ«الحریة توخذ و لاتعطی»

ژباړه: آزادی اخستی شی ببنبل کیدی نه شی.(یعنی آزادی په زورلاس ته راځی ځوک یی چاته نه ببنی).

۲۳ـ«الاستقلال لا ینال بالاقوال»

ژباړه : استقلال او آزادی ته په تشو ویناؤ ځوک نه شی رسیدلی.

۲۴ـ«طالب الموت فی سبیل الوطن اما ان یموت بطلا شهیداً و اما ان یعیش سیداً عزیزاً»

ژباړه: دوطن دخدمت په لیاره کی چی که ځوک مرګ غواړی یعنی چی په مرګ هم ډیل نشی یا به مجاهد، سرباز او شهید مری اویا به دعزت او سرلوړی ژوند کوی.

۲۵ـ«من اعتقد ان لا حیاة الاهذه الفانیة فقد خسر الاولی والثانیة»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : څوک که عقیده لری چی بی له دی فانی ژوند څخه بل ژوند نشته دی نوهغه په دنیا او اخرت کی زیان او نقصان وکړه او اول او دوم یی دواړه له لاسه ورکړل.

۲۶ـ«من ثابر و کابر علی تجربة الضار اولی ان یتخذ عبرة»

ژباړه : څوک چی په ژوند کی متانت وکړی او د تنګسو په تجربو غالب او موفق شی دده دپاره بهتره دا ده چی د خپلوتجربو څخه عبرت واخلی.

۲۷ـ «الازمة تلدالهمة»

ژباړه :مشکلات همت ځیږوی.

۲۸- «انهزام العاقل امام الجهلاء اولا من الظفربهم»

ژباړه : دجاهل په مخکی چی عاقل شکست وکړی دا بهتره ده له دی څخه چی ورباندی غالبه شی.(ددی څخه یومطلب هم کیدی شی چی دجاهل په مقابل کی سکوت اوغلی توب له دی څخه بهتر دی چی ملامت شی ځکه چی دهغه ملامتیدل دهغه دعقیدی موجب ګرځی او دجاهل عقیده دډیرو خطراطو عامل او سبب کیدی شی همدا وجه ده چی دجاهل څخه ځان بچول په کار دی له داچی ورسره غیری ونیولی شی).

۲۹ـ«الصالح من یعبد الله لا خوفاً من جهیمه ولا طعماً فی جنته بل لکونه الهاً یستحق العبادة والتقدیس »

ژباړه: صالح هغه څوک دی چی د الله (جل جلاله) عبادت کوی او دا ددی دپاره نه چی له دوزخ څخه یی ډاریږی اویا دجنت دپاره یی امید اوطمع لری بلکه دی سببه چی الله دی یعنی په ټولوکمالیه اوصافو موصوف اود ټولو نواقصوڅخه پاک دعبادت اوتقدیس وړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

۳۰ـ«جمود بعض المعتمین اضر بالاسلام والمسلمین»

ژباړه: جمود او ناپوهی د ځینو پګړی والاو ؛ اسلام او مسلمانانو ته زیات تاوان رسوی.

۳۱ـ «امة ثبتت فی جهادها لاخذ الحق ساعة خیر لها من الحیاة فی الذل الی قیام الساعة»

ژباړه: یوملت چی دخپل حق دا خستلو په لیاره کی یوساعت جهاد وکړی دا ورته دقیامته پوری دذلت د ژوند کولو څخه ښه ده.

۳۲ـ«اذالم تتدرع[1] الامة بشکواها من ظالمیها بغیرا لکلام فاحکم علیها بانها اضل من الانعام »

ژباړه: یو ملت چی بی خبرو دظالمانو په مقابل کی ځان مسلح نه کړی نو وربانsee داحکم وکړه چی دچارپایانو او بی عقله حیواناتو څخه هم بدتر دی. (یعنی دهغه ظلم څخه چی په خبروئی چاره نه کیږی بلکه خبری نورهم د دښمن د استفادی موجب ګرځی دخلاصون یوازنی چاره ئی همداده چی په پټه خوله دمقابلی دپاره ځان مسلح کړی شی او که دلزوم په وخت کی مظلوم داسی کارونه کړی دحیواناتو څخه بدتردی)

[1]. درع په معنی د«زغر» د اسپنو جامو ته وایی چی دجنګ په وخت کی به اغوستل کیدلی مطلب ورڅخه مسلح کیدل دی، د شکوا عبارت څخه مضاف حذف شوی دی چی هغه د عامل او یا سبب څخه عبارت دی اویا (ب) په «بشکواها» کی سببیه ده یعنی دشکایت د عواملو په اساس ددښمن په مقابل کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۳- «امة تطعن حاکمها سراً و تعبده جهراً لاتستحق المحیاة»

ژباړه: یوملت چی په پټه دخپلو حماکمانو څخه شکایت کوی او په ښکاره دهغه عبادت کوی یعنی پوره اطاعت ورته لری داسی ملت دژوند کولو حق نه لری.

۳۴- «الایمان والیقین لیس معناهما عبادة رؤساء الدین »

ژباړه: دایمان او یقین دا معنی نه ده چی ددین دمشرانو او روحانیونو عبادت وشی.

۳۵- «شرالازمنة ان یتبجح الجاهل ویسکت العاقل »

ژباړه: بده زمانه او وخت هغه دی چی جاهل پړپړی کوی (لیارښونه ئی په لاس وی) اوعاقل چپ وی.

۳۶- «مهابة تصدرعن کرسی الحاکم لاعن عدله وفضله اقرب الی السخریة منها للاحترام »

ژباړه: کوم هیبت چی دحاکم دچوکی څخه دعدالت او فضیلت په اساس نه وی هغه داحترام په ځای دمسخرو کولو وړدی.

۳۷- «تحتجب الحقائق عن الملوک بقدر تحجبهم »

ژباړه: په کومه اندازه چی دقدرت خاوندان او پاچایان دخلکو څخه پټ وی په همغه اندازه دوی دحقائقو څخه هم لری پاتی کیږی.

۳۸-«من خبثت نفسه لان ملمسه و کثر ختله وخداعه»

ژباړه: څوک چی بداو خبیث شی نو دهغه ظاهری وضع به نرمه او چل اوفریب به ئی ډیر وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

۳۹-«الشباب جسر من جنون لا غنی للعقلاء من المرورعلیه»

ژباړه: ځوانان دلیونتوب یعنی داحساساتو پول دی پوهان او عاقلان مجبور دی چی په دی پله تیرشی.

۴۰-«الاحزاب السیاسیة نعم الدواء ولکنها فی الشرق تتقلب غالباً الی شر الداء»

ژباړه: سیاسی احزاب ډیره ښه اجتماعی دواء ده خو داپه شرق کی اکثر دبدی دوا خاصیت پیدا کوی.

۴۱- «نهض الغرب بالعلم والعمل وانحط الشرق بالجهل والکسل»

ژباړه: غرب په علم او عمل پورته شو او شرق په جهل او سستی بیرته پاتی شو.

۴۲- «ثمرة العقول لاتجتنی الا باطلاقها من قیود الاوهام»

ژباړه: دفکرونو میوه یواځی په دی لاس ته راځی چی فکرونه د اوهامو له قیودو څخه خلاص شی.

۴۳- «قید الاغلال اهون من قید العقول بالاوهام »

ژباړه: په اوهامو باندی دافکارو دتړلو قیدولو څخه دځنځیر او ځولنی تړل او قیدول آسانه وی.

۴۴- «من قال ان الدین یأمر بالعسر دون الیسر و بالضاردون النافع لمجرد التقلید والمالوف فهو کذاب »

ژباړه : څوک چی دتقلید او خپلی خوښی په اساس وائی چی دین په سختی امر کوی نه په اسانتیا په ضرر امرکوی نه په فائدی دا شخص ډیر زیات دروغجن دی.

۴۵- «المعوج الظاهر من الناس اقل ضرراً من المتلبس بالاستقامة »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : د ظاهری ګڼو خلکو ضرر دهغو خلکو دضرر څخه لږدی چی په استقامت ئی ځان ملبس کړی وی یعنی په واقع او حقیقت کی بی لیاری وی.

۴۶- «من ظن انه خدع الناس بالباطل یکون اول مخدوع »

ژباړه: څوک چی باور لری چی په ناروائی خلکو ته فریب ورکړی دی دی پوه شی چی دنورو څخه اول ده فریب خوړلی دی.

۴۷- «حاجة الملک الی الامة اشد من حاجة الامة الی الملک »

ژباړه: دپاچا او مقتدرو ضرورت اوحاجت خلکو ته د خلکو د ضرورت او حاجت څخه چی پاچا او مقتدرینو ته ئی لری زیات دی.

۴۸- «للعلم قشور و لباب فالواقف علی القشور یغرق فی بحر الغرور »

ژباړه: علم پوست او مقصد دواړه لری خو څوک چی ئی په ظاهر پوستکی کی مشغول شی هغه دغرور په بحر کی غرق شو.

۴۹- «المتبدی فی اولیات العلوم یظن انه تبحر فیها وانتهی اما الراسخ المحقق فیعتقد انه مازال فی الابتداء »

ژباړه: دعلومو په مقدمو کښی مبتدی داګمان کوی چی ده په علومو کی تبحر لاس ته راوړی دی اواخر ته ورسیده خو څوک چی بیا په علومو محقق شی او تجربه اورسوخ پیداکړی هغه په دی عقیده او باور پیداکوی چی لیا تر اوسه دی په ابتدائی مرحله کی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۰- «محدث النعمة بالمال یستعرضه فی کل مکان ومحدث النعمة بالعلم یلقیه علی کل انسان »

ژباړه: چاته چی نوی دمال نعمت په لاس ورغلی وی هغه ئی په هرځای کی ښکاره کوی او چاته چی نوی دعلم نعمت حاصل شوی وی هغه ئی هر چاته وائی.

۵۱- «لویحاسب الانسان نفسه کمایحاسب غیره لقل خطؤه و قرب من الکمال »

ژباړه :که انسان څنګه چی نور محاسبه او تفتیشوی همدا شانی خپل ځان هم محاسبه کړی نو خطائی به ئی لږه اوکمال ته به نزدی شی.

۵۲- «العقل اشرف مخلوق فهو عالم الصنع والابداع ولامعطل له الا الوهم لایقعده عن عمله الا الجبن وهو الذی یخیل المفقود موجوداً والقریب بعیداً »

ژباړه: عقل اشرف او بهتر دمخلوقاتو څخه دی، ددی په وسیلی سره انسان دصنعت او مبدئی پیدایښ په رمز پوهیږی ددی دفعالیت مانع یوازی وهم دی، دی دکار او عمل څخه یوازی ویره او بی زړه توب ټالوی او همداویره او بی زړه توب د ی چی انسان ته ورک شوی موجود ښکاره کوی اونزدی ورته لری بریښوی.

۵۳- «کل عناصر الوجود فی هذا العالم الفانی خاضعة للعقل المطلق الانسانی، فکل مستحیل الیوم فی الطب والصناعة سوف یکون غداً ممکناً »

ژباړه: د وجود ټول عناصر په دی فانی نړی کی دانسان اصلی عقل ته تابع دی نوهر هغه چی نن په طب او صنعت کی نه کیدونکی او محال ښکاری هغه نږ دی دی چی سباته ممکن شی او دعمل جامه واغوندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۴- «الفصل فی نزاع نساء البیت ینغص الحیاة »
ژباړه: دکور وښځو جګړی فیصله کول دسړی ژوند تریخوی.
۵۵- «اعقل الاباء من لایساکن اولاده بعد الزواج ویستعیض بالتزاور عن التجاور »
ژباړه: پوه او هوښیار پلار هغه دی چی دخپلو اولادو سره د ازدواج څخه وروسته یوځای ونه اوسیږی او په چل سره ئی دنزدی والی څخه ځان خلاص کړی.
۵۶- «قل من رایت من الرجال من یعرف النهاء بغیر النساء و ندرمنهم من لاینسب الشقاء الیهن »
ترجمه: ډیر لږ خلک لیدل کیږی چی بی دښځو څخه دخوښی احساس وکړی او ډیر لږ خلک د ی چی ښځو ته دشقاوت او بدبختی نسبت نه کوی.
۵۷- «القوی من الشجر لایعجل بالثمر »
ژباړه: قوی ونه ځغرده میوه نه راوړی.
۵۸- «یعوج الشرقی باعوجاج حاکمه ویستقیم اذا هو استقام »
ژباړه: دشرق خلک دخپلو حاکمانو په کوږ والی کاږه کیږی او کله چی حاکم ئی سم وی دوی هم ورسره سمیږی.
۵۹- «لاینطبق علی الشرقیین قول «مثلماتکونوا یول علیکم» بل حق علیهم قول «مثلما یول علیکم تکونوا ».[1]

---

[1]. د استاد احمد امین له کتاب ((زعماء الاصلاح فی العصر الحدیث » د (۱۱۹-۱۲۰)صفحو څخه اوددکتور محمود قاسم دتالیف ((جمال الدین الافغانی حیاته وفلسفته"» د (۹۹-۱۰۲) صفحو څخه اخستل شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

ژباړه: په شرقیانو باندی داوینا "«ځنګه چی تاسو یاستی هغه شانی ستاسو والیان هم دی نه تطبیقه کیږی یعنی والیان دخلکو په مزاق کار نه کوی، بلکه ددوی په حقله دا وینا مصداق پیداکوی چی وائی:ځنګه چی مو والیان دی تاسو هم همغه شانی اوسی یعنی خلک باید دوالیانو دښو او بدو اطاعت وکړی.

دایو څه د ښو او ټاکل شوو مطالبو او مقاصدو څخه ډکی نه هیریدونکی جملی او ویناوی وی چی دسید جمال الدین افغانی څخه ئی روایت شوی دی چی ددغو دکتنی او دقت څخه وروسته دده دعلم، فضل فلسفی تجربی، نبوغ او عبقریت اندازه او درجه ښه څرګندیدی شی اوکه دده په دی هره جمله او وینا کی پوره تحلیل او څیړنه وکړو دا ښه ثابتیږی چی دی دخپل عصر مجدد او نوی کوونکی ؤ.

دی داستعماراو استغلال د زور او شرڅخه دشرقیانو او مسلمانانو دخلاصون دپاره پیداشوی ؤ، ده په مړو افکارو کی د ژوند تخمونه وکرل او د صلاح او فلاح دپاره ئی لیاره خلاصه کړه.

همدا ډول ددی ویناؤ دکره مطالعی څخه معلومیږی چی سید جمال الدین افغانی دخپلی زمانی پیاوړی فیلسوف اولیارښوونکی ؤ په دی معنی چی ده ته حقائق روښانه شوی، خلکو ته ئی حقائق ښودل او زړونه او فکرونه ئی دناپوهی دخیری څخه خلاصول ترڅو خلک په هغو لوړو اوصافو موصوف کړی کوم چی دهغو په وسیله دیوداسی ژوند خاوندان شی چی په هغی کی حق، خیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسعادت ته د رسیدو په لیاره کی ددوی ترمینځه خلاف،شقاق او جګړی وجود ونه لری.

**آیا دا صحیحه ده چی ووایو  سیدجمال الدین افغانی فیلسوف ؤ؟**

علماء او پوهان وایی: پوهنه او زده کړه دری مرتبی لری.

۱ـ دعلم مرتبه.

۲ـ دفن مرتبه

۳ـ دفلسفی مرتبه

الف: دعلم په مرتبه کی قوانین او اصول په لاس راځی او دهغی په وسیله جزئیات دکلیاتو څخه معلومیږی چی دیته دبرهان او استدلال لیاره وایی او کله کلیات د ډیروجزیاتو دکتنی او مطالعی څخه په لاس راځی چی دیته استقرایی حرکت وایی.

ب: دعلم په اساس عمل او کار کول یعنی منظم او مفید کار کولو ته فن وایی اودغه ډول حرکت عیارول د فن مرتبه ده.

ج: د فلسفی مرتبه او درجه هغه ده چی د اسبابونو،عللو او عواملو سلسله دومره تحلیل او پلیټل شی چی د طبیعت څخه آخوا هم په مناشیو باندی غور وکړی شی دفلسفی په مرحله کی انسان کوی شی چی دمادی،معنی وجود او روح ترمینځه مقارنه وکړی او په دی وسیلی حقایقو او نتایجو ته ځان ورسوی.

مثلاً داخلاقو په برخه کی: د فضایلو پیدا کول ټولول او په علمی او عملی برخویی مرتبول او تنظیمول او بیا دفضایلو او طبیعی غرایزو او تمایلونو ترمنځه مقارنه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په کی یوه ښه ملایمه او متوسطه درجه ټاکل، دفضایلو او رذایلو دپاره اساس او ګراف جوړول او ورته علامه او نښه ایښودل او په فضایلو او رذایلو کی دغه ډول نور حرکتونه انجامولو ته د اخلاقو علم وایی. د اخلاقو په برخه کی کله چی دغه علمی مسایل تطبیق شی او دا تطبیقیدل په نیکی معاملی او دادب، نظافت صدق او امانت د مراعات او ملاحظی په اساس صورت ومومی دیته د اخلاقو فن وایی او دا کار د اخلاقو د فن وظیفه ده. د وحی په رڼا کی د الله پاک د الهام په اساس او دایمان او وجدان په تحریک دلوړو مبادیو او د آسمانی مقدسو لارښونو په اتکا چی کوم د حرکت او عمل ارتباط او تنظیم پیدا کیږی او د ادبی او طبیعی نظامونو په علایقو غور کیږی تر څو چی د الله د رضا متابعت وکړی اودده په اخلاقو موصوف شی نو داسی تحلیل،څیړنه او بحث د اخلاقو دفلسفی وظیفه ده.

په همدا ډول په هره موضوع او مساله کی د علم مرتبه،دفن مرتبه او دفلسفی مرتبه شته ده چی د انسان داستعداد ذکاوت او کوښښ پوری اړه او ارتباط لری او په اجتماعی ژوند کی د انسانانو مقام او منزلت او شخصیت ورباندی تخمین او ټکل کیدی شی په دی اساس چاچی دسید جمال الدین افغانی افکار، آراء، تحلیلات، پلانونه ویناوی او خطابی په افغانستان، هند، مصر،ترکیی، فرانسی، ایران،روسیی،بصری،لندن او نورو هغو ځایونو کی چی دی په کی اوسیدلی دی د دقیقی مطالعی او غور لاندی نیولی دی هغو ته دا ثابته شوی ده چی دی واقعاً د خپل عصرپیاوړی فیلسوف ؤ ده حق او جمال ته درسیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره فلسفی هڅه، نشاط او فعالیت درلوده او د خیر او سعادت د تامینیدو په منظوریی جهاد او کوښښ کولو حقیقتاً چی دی په ډیرومسایلو او موضوعاتو کی د علم،فن او فلسفی مرتبی ته رسیدلی ؤ، د فکری ذکاوت او طاقت او د قلبی ایمان او قوت د لویی مرتبی خاوندؤ ؛ لکه چی دا مطلب هغه بحثونه تاییدوی کوم چی دده او فرانسی مشهور فیلسوف (رینان) ترمینځه داسلام او عربو په حقله شوی دی،دا مباحثی په هغه وخت کی دفرانسی مشهوری جریدی «دیبا» خپری کړی دی لکه چی په دی جریدی کی د (رینان) هغه مقاله چی د سیدجمال الدین افغانی په حقله یی لیکلی وه په لاندی ډول نشره شوی ده: «تقریباً دا دوه میاشتی کیږی چی د شیخ جمال الدین سره می وپیژندل، زما په زړه او فکر کی یی دومره تاثیر واچوه چی په دغه اندازه په ډیرو لږو خلکو تلثیر اچولی وی، واقاً چی ده په ما باندی سخت قوی تاثیر واچوه،زما او دده په منځ کښی بحثونه وشول چی دهغو بحثونو په اثر ما دا تصمیم ونیوه چی د (سربون)په پوهنتون کی د «اسلام او علم د علاقی»تر عنوان لاندی کنفرانس ورکړم، شیخ جمال الدین زما د عظیمی نظریی چی تل می ویلی او اعلان کړی ده ډیر ښه مثال کیدی شی هغه داچی د ادیانو ارزښت د پیروانو د ارزښت په اندازه تخمین او اټکل کیدی ښی، ما چی په بحث کی دده د فکر آزادی دده غوره اخلاق او وضعه او صراحت دمطالعی لاندی ونیولو دا می خیال ته دده سره دبحث او خبرو په وخت کی راغله چی زه لکه چی مخامخ د پخوانو لویانو او پخو علماؤ سره بحث او خبری کوم او لکه چی د«ابن سینا» «ابن رشید» اویا یو د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سيد جمال الدين افغانى)

لويو رهبرانو سره ګورم کوم چى د بند څخه په قرنو قرنويى د انسان دآزادى دپاره کار او فعاليت کړى دى.

شک نشته چى سيدجمال الدين افغانى فلسفى خاص افکار او نظريات درلودل او دده ذهن او ذکاوت فلسفى ګرانو او مهمو مسايلو ته د ځينو مشهورو فلاسفه ؤ څخه زيات رسيده حتى چى استاد «رشيدرضا» دده د آراؤ او نظرياتو د ستاينى په حقله داسى ليکى:

دسيدجمال الدين افغانى صحبت دومره اهميت درلوده چى په هغه وخت کى سلهاؤ او زرهاؤ علمى مجلسونو او په فنونوکى دمتقدمينو او متاخرينو دکتابو مطالعى دومره حاجت نه شو پوره کولى او نه دده دصحبت د اهميت اندازى ته رسيدى شول.

بايد ووايم چى په مهمو شيانو او موضوعاتو کى دسيدجمال الدين افغانى مشغوليدل لکه چى ده په اجتماعى اصلاحاتو او داسلام دحقيقت په ښکاره کولوباندى زيات زور اچوه دا ددى موجب شوى ؤ چى ده ته يى په فلسفه او د کتابونو په تاليفولو کښى داسى فرست نه ؤ ورکړى لکه چى فنى فلاسفه او لويو مولفانو ته په ميتافزيکى (د طبيعت څخه آخوا) او په نورو علومو او فنونو کى کافى فرصت ور په برخه شوى ؤ خوبيا هم څه چى په اجتماعى او روحى فلسفه کى دده دوا که شوى دى هغه پوره ارزښت لرى او په ډاګه ورڅخه ثابتيږى چى دى دلوړى مرتبى خاوند فيلسوف، حکيم او لوى مصلح ؤ ده وچت نبوغ اوزبردست عبقريت هم درلوده.

«دسيدجمال الدين افغانى په حقله دعلماؤ او فضلاؤ هغه تبصرى او ستاينى چى ورڅخه دده د نبوغ عبقريت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسفی طاقت او په شرق کی دده دمجاهدو اندازه معلومیږی»په افغانستان،مصر، هند، ترکیی، فرانسی، ایران،روسیی،بصری،لندن،او نورو هغو مناطقو کی چی دی اوسیدلی اویا یی ورته دنبوغ او عبقریت آوازه رسیدلی ده په دی ټولو ځایو کی ډیرو علماؤ، فضلاؤ، ادباؤ، حکماؤ او مصلحینو دده په حقله لیکلی دی چی دی فیلسوف، حکیم او په شرق کی لوی مجاهدؤ خو څنګه چی ددی ټولو لیکنو او تبصرو راټولول طوالت پیدا کوی نو له همدی وجهی له دی جملی څخه مهم شیان اختصار راټولولم او په لاندی ډول یی وړاندی کوم:

۱ـ دسیدجمال الدین افغانی په حقله داستاذ محمد عبده څخه په لاندی مطلب روایت شوی دی:

زه دده د شاګردانو څخه یو تن یم (یعنی ده ډیر زما په شانی خلک روزلی دی) که زه ووایم چی ده ته په خپل وخت کی الله پاک دذهن قوت،دعقل وسعت او دفکر تیزی وروسته دانبیاؤ څخه په آخری اندازی ورکړی وه ده به زما څخه مبالغه نه وی.

همدا شانی استاذ محمد عبده دا هم وایی:

سیدجمال الدین افغانی سره ددی چی فلسفی حرکت یی درلوده او دتصوف په خوایی لږ تمایل هم ؤ بیا هم دی په حنفی مذهب باندی کلک ولاړو او د مذهب دفرایضو اداوته یی سخت اهتمام درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

بیا وایی: دی دمذهب د اصولو او فروعو په ساتنه کی ماته د هرچا څخه محکم ښکارید.[1]

داهم شیخ محمد عبده دسید جمال الدین افغانی په حقله ویلی دی:

دی په مصر کی دوطنی نهضت او پرمختګ محرک او منشا دی او په کال ۱۸۷۱ میلاد یکی مصر ته دده هجرت او په مصر کی دده اوسیدنه دمصر دملی سیاسی پاریدنی مبدعؤ اودتیر تاریک عصر او دموجوده روښانه دوری په منځ کی داسی فاصل حد دی چی دراتلونکی عصر او زمانی دپاره دحریت، آزادی اوکرامت زیری ورکوی.( د «مذکرات الامام محمد عبده » له کتاب (۱۰)صفحی څخه داکتاب په دارالهلال کی طبع شوی دی.)

امام محمد عبده د «سید جمال الدین سره ملاقات » ترعنوان لاندی داسی لیکی:

په کال ۱۲۸۷ هجری قمری کی دمحرم دمیاشتی اول ؤ چی دده سره ملګری شوم او دده څخه می په ریاضی، حکمت، فلسفی او کلام کی څه علوم یادول اوهمداشانی می نورو خلکو ته بلنه ورکوله چی له ده څخه څه زده کړی.

دازهر شیخانو اودا زهر عامو شاګردانو دده اوزما پسی پروپاګنډی کولی، ویلی به ئی ددی علومو یادول کله صحیح عقیده ورانوی او فکر په داسی ګمراهیو سرکوی چی ددنیا او اخرت دخیر او ښیګڼی څخه محروم شی نو زه به

---

1. د استاد«صادق نشات» او «عبدالنعیم حسنین» دکتاب «جمال الدین» د (۱۳۰) صفحی څخه اخیستل شوی دی. دا کتاب د فارسی څخه په عربی ترجمه شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چى كله خپل كلى ته لاړم هلته به مى شيخ «درويش » ته دا خبرى وكړى هغه به راته داسى ويلى: الله پاک عليم او حكيم ذات دى، دده دعلم او حكمت څخه پورته علم نشته دى، ډير سخت دښمن دعليم ذات جاهل دى، ډير زيات دښمن دحكيم ذات بى عقله دى او الله پاک ته بى دعلم او حكمت څخه په بلى لياری ځوک ښه نشى نزدى كيدلى نو الله پاک هيڅ علم بدنه ګڼى او هيڅ جهل دده خوښ نه دى مګر هغه چى ځينى خلک ورته علم وائى او هغه په حقيقت كى علم نه وى لكه سحر او جادواو داسى نورى بدى يادونى چى دخلكو دزحمت او تكليف موجب ګرځى.[1]

محمد عبده دسيد جمال الدين افغانى په حقله داهم ليكى:

په كال ١٢٨٨ هجرى قمرى[2] كى دى وطن ته يو داسى سړى راغى چى په دين كى پوره پوه، دملتونو په حال او احوال خبر، دپراخه معلوماتو خاوند، دپوهنى مجموعه او په زړه اوڅبى دواړو كى ئى جرات درلوده دا هغه ځوک ؤ چى په سيد جما ل الدين افغانى باندى شهرت لرى.

٢-استاد محمد رشيد رضا په خپل كتاب«تاريخ الشيخ محمد عبده» كى دسيد جمال الدين افغانى په حقله د «شرق او اسلام حكيم»تر عنوان لاندى داسى ليكى:

داهغه نبوى علوى (سيادت)روح ؤ چى دافغان په رنګ په انسانى كالبوت كى ښكاره شو، ده دعلومو دزده كړى دپاره تصميم ونيوه او د لسو كلو څخه په لږه موده كى ئى

---

1. د ((مذكرات الامام محمد عبده » له كتاب (٣۴) صفحى څخه.

2. داهغه تاريخ دى چى سيد جمال الدين افغانى ددوم ځل دپاره مصر ته لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

پخوانی نقلی او عقلی علوم اوفنون ښه یادکړل اوبیائی په هند کښی تقریباً دوه کاله داروپائی علومو مبادی ښه دخپلی فکری اداری لاندی راوستل.[1]

استاد محمد رشید رضا دسید جمال الدین افغانی داحوال په حقله داهم زیاتوی چی دی په کال ۱۲۷۳ هجری قمری کی حج ته لاړه اوداسلامی مناطقو کتنه ئی وکړه اوبیابیرته افغانستان ته وګرځیده. استاد رشید رضا دده هغه حوادث یادکړی دی چی په افغانستان کښی ورته پیښ شول اوبیا هند ته لاړه اوهلته ئی دهند په ولس کی داستقلال روح پوکړه.

دا استاد دسید جمال الدین افغانی په حقله لیکی:[2]

دی روح یعنی دسید جمال الدین افغانی روح په هغو لیکنو، دافکارو په تلقین او په جرائدو کی دمقالو په خپرونه غذا او خوند اخسته کوم چی په مصر، اروپا او نورو مناطقو کی ئی خلکو ته وړاندی کړل مونږ دامقالی د «المنار » په جریده کی خپری کړی او د«العروة الوثقی» دهغی جریدی په کتنه درته سپارښت کوم کومه چی نږ دی وه په دی ممالکو کی دانقلاب اوربل کړی.

سید جمال الدین افغانی باوردرلوده چی دوطنونه به دده دمړینی څخه وروسته آزاده شی حتی چی ده شیخ «عبدالرشید » تتاری ته وویل:ای بچیه څغر ده دی چی ته

---

[1]. داستاد رشید رضا دکتاب «تاریخ الشیخ محمد عبده » د (۶) صفحی څخه.

[2]. داستاد رشید رضا دکتاب ((تاریخ الشیخ محمد عبده »(۷)صفحی څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



به دروسیی په قیصر باندی دجنازی لمونځ وکړی او په هند کی به دانګلیسانو دامپراطوری دجنازی په مراسمو کی دګډون دپاره حاضر شی.

ځنګه چی استاد رشید رضا دهند دآزادی څخه مخکی خپل کتاب لیکلی دی نودی په خپل کتاب کی لیکی چی تتاری ته دسید جمال الدین افغانی اول بشارت اوزیری ترسره اوتمام شو او ددوم زیری دپاره په دی کلو کی اثره نښی اونښانی لیدلی کیږی.[1]

استاد محمد رشید رضا لیکی:[2]

مصر هیڅ کله ددوه مثبت تحول راوستونکو حکیمانو او مصلحو امامانو خاطرات نشی هیرولی چی یو ئی سید جمال الدین افغانی او بل ئی شیخ محمد عبده مصری دی همداوجه ده چی دینی، مدنی او سیاسی اصلاحاتو غوښتونکی کسان همیش دمنبر په سر او دجرائدو او مجلو په صفحو کی په شد او مدد دی دواړو نو مونه یادوی اوتل دوی دا دواړه په خپلو بحثونو او خبرو کی ضرب المثل ګرځوی.ددوی دخیر ویناوی اولوی کارونه یادوی بلکه ددی دواړو نیک نوم په ټوله ختیزه کی مشهور دی او دغرب په نړی کی نا آشنانه ښکاریږی ترداسی اندازی چی د «شرق حکیم» او د «الاستاذ الامام» لقبونه ددواړو په نومو پوری کلک نښتی دی اوکومی نوی یادونی ته ضرورت نه لری.

---

[1]. کله چی هند آزاد شونو هغه وخت دسید جمال الدین افغانی زیری پوره تحقق پیدا کړه.

[2]. د ((تاریخ الشیخ محمد عبده » کتاب له اولی صفحی څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

دنوی تاریخ ټول پوهان اولیکونکی په دی متفق دی چی دی دواړو په مصر، افغانستان، ایران او هند کی موجوده نهضت او پرمختګ راوسته.

استاد محمد رشید رضا داهم لیکی:

په مصر کی د «مصر» او «التجارة» اخبارونو د سید افغانی اوصاف اوستاینه په داسی ډول لیکلی ده: دی دحکمت داسرارو مرکز، دستورو دفلکی علومو دپاره اسطرلاب (دکشف آله) او دفلسفی دخاکی اصل ؤ.

دسید جمال الدین افغانی دوه مقالی د (مصر) په اخبا ر کی خپری شوی دی.

یوه مقاله ئی دشرقی حکومتونو او ضاعو او اقسامو په حقله ده او دومه مقاله ئی په ( البیان فی الانجلیز والافغان) نامه یاده شوی ده، دی دواړو مقالو دعلماؤ او پوهانو په زړونو او فکرونو سخت تاثیر واچوه اوله ډیره تعجبه ورته دمقتدر سیاست پوهانو توجه واوښته حتی چی په انګلیستان کی ددیمکرات د حزب مشر "«ګلادستون"» په یوه اخبار کی دسید جمال الدین افغانی دستاینی په حقله داسی لیکلی دی: «دی دشرق سترپوهانداو دعلماؤ مشردی » او دا په داسی حال کی چی انګلیسان دده سخت دښمنان ؤ.[1]

استاد رشید رضا په خپل کتاب کی د "«فلسفة السید جمال الدین"» ترعنوان لاندی داسی لیکی دعجمو په مناطقو او وطنونو کښی لیا دیونان او عربو په خوانی فلسفی او دحکمت نظریات لوستل کیدل خو په عربی

---

[1]. د « تاریخ الشیخ محمد عبده » له کتاب (۴۵) صفحی څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکو لکه مصراو شام کی ډیرو لږو کسانو لوستلی، سید جمال الدین افغانی عربی اویونانی په خوانی فلسفه او حکمت په خپل وطن کی لوستی اوزده کړی وه اوبیائی په هند کښی اروپائی فلسفه او ریاضی علوم په نوی سبک یاده کړی وه، ده په تصوب کی هم علما او عملا کارکړی ؤنو دده فلسفه په واقع کی د تصوف او پخوانی او نوی فلسفی سره خلته وه په دی ډول چی دده سره په عقلی علومو، علم نفس، اخلاق، دوجود اوتکوین په علومو کی څه خاص نظریات اواراء پیدا شوی ؤ چی په هغو به ده قوی استدلال کولو او دمخالفینو نظریات به ئی ورباندی باطلول نو په دی حساب فیلسوف بی له د ی کار څخه کوم بل فعالیت نه لری.[1]

استاد رشید رضا داستاد او امام محمد عبده څخه روایت کوی چی هغه ویلی سید جمال الدین افغانی یوه ورځ د «ابن سینا » په کتاب "«اشارات"» کی درس ورکولو اوداسی تحلیل ئی وړاندی کړه:

انسان دځمکی دحیواناتو څخه یوه نوع دی او ده دامدعی په دلائلو ثابته او روښانه کړه چی انسان دځمکی څخه د ی او داسی نه لکه چی دچینایانو او دفارسیانو په خوانی ئی توهم کوی اووائی چی انسان دآسمان د اولادی څخه دی.

له دی څخه وروسته شیخ محمد عبده په دی حقله پوره تفصیل ورکړه، دامدعی ئی ښه ثابته کړه او په لاندی ډول تحلیل ئی وړاندی کړه که مونږ دسید جمال الدین

---

1. د « تاریخ الشیخ محمد عبده » له کتاب (۷۹)صفحی څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

افغانی داوینا دده دهغه ردسره چی په «داروین» او په مادیونو باندی ئی کړی مقارنه او مقابله کړو څرګندیږی چی دده مذهب چی وائی انسان له یوی خوا مترقی حیوان دی اوله بلی خوا دځمکی ملک دی یعنی ددواړو جنسونو خواص لری یوداسی مذهب دی چی په دی حقله دمذاهبو ترمنځه متوسطه مرتبه لری یعنی نه داسی چی انسان ملک شی اونه دمادیونو دنظرپه شانی دی چی دانسان او دنورو حیواناتو ترمنځه فرق نه وی.[1]

استاد رشید رضا په خپل کتاب کی[2] دهغه لیک متن کوم چی سید جمال الدین افغانی ته ئی هغه وخت چی دی دترکیی په مرکز استانه (استامبول) کی اوسیده استوکی دی ثبتوی او وروسته دده داوصافو او فیوضاتو دیا دونی څخه داسی لیکی: زه تر اوسه پوری دخپل مولاد اخلاقو سره پوره اشنانه یم یوازی همدومره چی «سلیم افندی العنحوری» په خپل کتاب کی په دی حقله څه لیکلی دی او په هغی کی ئی خطا او صواب خلط کړی د همداشانی می د«ادیب بک اسحق» منتخبات او هغه چی فاضل استاد شیخ محمد عبده زما دمولا او محترم په هغی رسالی لیکلی د ی کومه چی دابادی په منظور دکفر او دین په نسبت او مقارنه کی ده لوستی د ی استاد رشید رضا په خپل لیک کی داهم زیاته کړی ده وائی: زه دده دنفسی تمایلاتو څخه یوازی همدا برخه لرم چی دده په

---

[1]. دمحمد رشید رضا کتاب د (۸۰-۸۱)صفحوڅخه.

[2]. دده دکتاب (۸۱-۸۷)صفحو څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقله می یاده شوی رساله، دافغان تاریخ او دالعروة الوثقی اتلس ګڼی کتلی دی او داټول هغه څه دی چی زه ئی دخپل مولا څخه روایت کوم او یا دوم یی، داکه څه هم دیوجل وهلی هغه چی په لړو اوبواکتفانه کوی دتندی دماتولو دپاره ئی لږ دی خو په دی حیث چی په کی ډیره زیاته فائده اوګټه شته ده لږ ورته ویلی نشی هو: په دی کی دومره څه شته دی چی دسلهاؤ او زرها ؤ علماؤ جلسی او په فنونو کی دمتقد مینو او متاخرینو دکتابو مطالعه دی اندازی ته نه شی رسیدلی نو دالله پاک په خاطر وایم چی ته دپاک نفس او قدسی روح دخاوندانو څخه ئی.

۳-که مونږ د «امیر شکیب ارسلان» ژوند اثار اوخدمتونه ولولو او دمطالعی لاندی ونیسوداراته ثابتیږی چی ده دسید جمال الدین افغانی دجهادونو، تلقیناتو اودمجلس دانوارو اوفیوضاتو څخه پوره استفاده کړی ده لکه چی دی دده دشاګرد او ګران ملګری استاذ محمد عبده دلیار ښونی څخه مستفید شوی ؤ. د دکتور «سامی الدهان » په کتاب «الامیر شکیب ارسلان حیاته و آثاره »کی داسی لیکل شوی دی: دامیر شکیب ارسلان سره داتصمیم پیدا شو چی دسید جمال الدین افغانی دلیدنی او کتنی دپاره سفر وکړی ترڅو دده دعلمی چینی څخه واخلی، ویسکی، تنده ورباندی ماته کړی روجی هڅه ورباندی قراره اود ډیرو هغو سوالونو دپاره ځواب پیدا کړی کوم چی دده په زړه اوفکر کی ګرځیدل نو دپاریس په خواروان شو اوله هغه ځایه دترکیی مرکز آستانه (استامبول) ته لاړه او په ۱۸۹۲ میلادی کال کی په داسی حال کی چی دی دوه ویشت کلن ؤ دسید جمال الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

افغانی په ملاقات بریالی شو، ده ورته خپل ټول هغه مشاهدات اومعلومات چی په مصر اوالمغرب کی ئی لاس ته راوړی ؤ او هغه څه چی دشرق اواسلام په حقله دده په زړه کی تیریدل او داستعمار موقف او پروپاګنډی چی دختیزی اواسلام په ضد ئی لری داټول وړاندی کړل.سید جمال الدین افغانی دده پوهی، تحلیل او ذکاوت ته په تعجب کی پاتی شو او ورباندی خوښ شو لکه څنګه چی په خواپه امام محمد عبده باندی قانع او خوښ شوی ؤ همداوجه وه چی سید جمال الدین افغانی امیر شکیب ارسلان ته داسی وویلی: زه داسلام هغی ځمکی ته مبارکی وایم کومه چی ته ئی ټوکولی اوروزلی ئی.

استاد امیر شکیب ارسلان وائی.

په ۱۸۹۲ میلادی کال کی کله چی زه داروپا څخه دترکیی مرکز استانه (استامبول)ته ورسیدم همغه ورځ ده ته لاړم، ده زما ډیر ښه نیک استقبال وکړه اوڅو مره موده چی هلته وم ورڅخه نه جدا کیدم ترڅو چی خپل وطن سوریی ته دسفر کولو دپاره مجبوره شوم نو په ډیر تاسف ورڅخه جدا شوم.

امیر شکیب ارسلان په ۱۹۳۳ میلادی کال کی دسید جمال الدین افغانی په حقله د دمشق دثقافت دمجلی په (۳۳۷) صفحه کی مقاله خپره کړه او په دی مقاله کی د ده افکارو او نظریاتو ښو دنه او ستاینه شوی ده.[1]

ددکتور (سامی الدهان) په کتاب کی دا میر شکیب ارسلان هغه قصیده د تبصری او توضیح په ترڅ کښی لیکل

---

[1]. د (الامیر شکیب ارسلان) په نامه کتاب د (۷۰) صفحی څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی ده کو مه چی ده د سید جمال الدین افغانی د ستاینی په حلقه ویلی ده چی مطلب ئی په لاندی ډول دی:[1]

دا دستاینی او حیرانتیا قصیده ده، دا دیو اعلی هغه صورت تمثیل او ترسیم دی کوم چی شکیب ورسره مینه او علاقه لری، د دی تصویر اصل ده ته داسی ښکاره شوی دی چی په هغه کی پوره همت او جرئت شته دی، هغه د خپل عصر په خلکو کی کامل فرد، دستورو د افلاکوعزت او د رحمت باران دی، د لوی طبیعت خاوند او ښایسته مخ او قواره لری، لکه باران په خپلو اورولو خړبو بول کوی، لکه داور په شانی ذکاوت ئی لمبه لری او دی داسی مطالب ا داء کوی چی که جماداتو ته وویل شی له ډیره شوقه او عشقه به ولړزیږی نو دی مسلمانانو ته د دوی په دین کی حجت او دلیل دی او د شرق او غرب د پاره د ځوار لسمی شپی د پوره سپوږ می مثال دی.

۴- د دکتور (علی الحدیدی) په کتاب (عبدالله الندیم خطیب الوطنیه) که د (علی الطریق مع الاحرار) تر عنوان لاندی داسی لیکل شوی دی: سید جمال الدین افغانی مصر ته په داسی وخت کی راغی چی مصر د اسماعیل د استبدادی حکم په ځنځیر کی بندؤ او دبحر په تاریکو چپو کی ئی غو ټی و هلی.....سیاسی تاریکی، اجتماعی تاریکی، دینی تاریکی، او اخلاقی تاریکی خو د دی ټولو

---

[1]. د (امیر شکیب ارسلان) په نامه کتاب د (۱۱۸) صفحی څخه په (دارالمعارف) مطبعه کی چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه سخته غلطیظه تاریکی د حکامو استبداد اوخپل سری وه.

افغانی مفکر ۱۸۷۱ میلادی کال ؤچی مصر ته راغی هغه وخت په مصرکی د عقل او بصیرت خاوندانو د ډیری حیرانتیا ژوند در لوده او د رڼا او لیاربنود انتظار او هڅه ئی لرله نو د ده اراؤ او نظریاتو جذب کړل، عبدالله،ندیم دده په ژورو افکار و مین شو او په همدی شان نور هغه مثقفین او پوهان چی د حقیقت د پیژندنی هیله ئی در لودله د دی په خوا مائل شول او ددی ټولو زړونو کی ئی د حیرانتیا تاثیر و اچوه همدا وجه وه چی عبدالله ندیم او نور مخلص ملګری ئی د خپل استاذ ځخه چارپیر شول او دی استاذ خپلو شاګردانو ته هغه څه ویلی چی د دوی عقلونه او فکرونه ورباندی رو ښانیدل، عقیدی ئی ور باندی پاکیدلی، دوی ئی د لویوا هدافو په خوا متوجه کول او دوی ئی پوره دیته ملتفتول چی د دوی په وطن کی ځنګه د غلامی د ذلت او استبدادی حکم دوره ده سید جمال الدین افغانی په خپلو ټولو خیړنو کی په دقیقو او باریکو معاینو او مطالبو باندی تسلط در لوده تر داسی اندازی چی ده به مطلب په لائق او مناسب ډول داسی ځرګندوه لکه چی دا هر لفظ د خپلی معنا د پاره پیدا شوی دی.[1]

سید جمال الدین افغانی په خپل هر شاګرد کی دهغه د ذهن، ضمیر او فکر استعدادونه بیدارول او د هغه په دننه طبیعت کی به ئی د توان په آخره اندازه د هغه د غور

---

[1]. د (عبدالله الندیم خطیب الوطنیة کتاب (۴۲-۴۳) صفحو ځخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجتهاد او همت استعداد د پاروه او همداشانی ده په خپل ځان باندی د اعتماد او باور اندازه چی دلویو کارونو د ترسره کولو د پاره مهمه وسیله ده پوره تقویه کولو.

د دی ټولو څخه آخوا کوم هدف چی سید جمال الدین افغانی ورته هڅه در لوده هغه دا ؤ چی اسلامی نړی د غربی لویو دولتو په مقابل او ددی مسلط و پاچایانو او دښمنانو په ضد د نهضت او پرمختګ سره مخامخ شی او دا پرمختګ د دی وطن د هغوبی همته اولاد و د پاره درس او عبرت شی کوم چی اصلاحات ورته لکه د مریض طفل په شانی چی د دواءځکل بد ګڼی ښه نه ښکاریدل او ورڅخه ئی کرکه کوله.

مصر کی ئی د ده د جهاد بیرغ پورنه کوه استاد امام محمد عبده، ابراهیم اللقانی،سعد زغلول، علی مظهر، حفنی ناصف، عبدالسلام المویلحی، د ده ورور ابراهیم، سلیم نقاش، ادیب اسحق، محمود سامی عبدالکریم سلمانی، عبدالله الندیم، احمد عرابی او نور هغه کسان ؤ چی مصرته ئی نوی نهضت، پر مختګ او مثبت تحول راوسته.

حقیقتآ چی دوی په مصر بلکه په ټولی اسلامی نړی کی د آزادی، ورور ولی، تساند، مرستی د حقوقو تامین ؤ ثقافتی اصلاح، د ژوند د مستوی او سطحی پور ته کولو او د هغو لویو مبادیو کم چی خلک ورته په خپل ژوند کی در فاهیت او سعادت ژوند کولوله امله ضرورت او احتیاج لری تخمونه وکرل او یو عمومی جهش او تپش ئی راوسته.

۵-کوم هغه څه چی د سید جمال الدین افغانی د فکر په دقت او په ډیرو معلوماتو تجربو دلالت کو دا هم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی د سلطان عبدالحميد څخه روايت دی چی ده اراده او تصميم در لوده چی د ترکيی د مرکز استانه (استامبول) څخه د علماؤ يوهيات د جاپان د امپراطور د غوښتنی په اساس جاپان ته ولیږی تر څو هلته د اسلام دين نشر او خپور کړی نو سلطان عبدالحميد د سيد جمال الدين افغانی سره په دغه حقله مشوره او مصلحت وکړه ده دی د دی عزم او تصميم څخه واړه ؤ او وويلی: د اسلام داموجوده علماؤ مسلمانان د اسلام څخه متنفر کړی دی نو د دی ور ښکاری چی کافران به هم د اسلام څخه متنفر کړی.

سيد جمال الدين افغانی وويلی: ز ما نظريه دا ده چی د جاپان امپراطوری ته څه هدئی سره د يو ليک واستول شی او له دی څخه وروسته کوښښ و شی چی د علماؤ يو داسی هيات تربيه او برابر شی کوم چی د اسلام د بلنی د پاره لياقت او کفايت ولری تر څو د معقولی لياری څخه داخل او خپله وظيفه ښه اداء کړی.[1]

د سيد جمال الدين افغانی په ذکاوت او دقت باندی دا هم دلالت کوی چی وائی:

کله چی مهدی په (ګور دون) باندی په او له مرحله کی کاميابه شو د هند د مسلمانانو په زړونو کی د اسلامی عزت او عاطفی له امله خوښی پيدا شوه نو انګليسانو دا وخت خپلو ځينو موظفو مسيحانو ته وويلی چی د اسلام په دين کی داخل شی ترڅو په هند کی مسلمانانو ته دا ښکاره کړی چی دوی متعصب نه دی بلکه دوی اسلام

---

1. د (خاطرات جمال الدين) کتاب (۶۷) صفحی څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبن ګڼی او دا ددی د پاره چی تر ځو په دی وسیلی په هغه وخت کی هند ته د اسلامی انقلاب لمن خپره نشی نو په دی سبب سید جمال الدین افغانی انګلیسان په لاندی ډول وستایل: د دوی په هر مصلحت (یعنی ظاهری ښو کارونو) کی فساد مضمر دی او په هره نیکی کی ئی بدی پټی دی،د دوی په هرا خلاص کی چل شته دی او په هره پاکی کی ئی د ننه څه شته دی نو دوی په واقع کی چل کوونکی خائنان دن بلکه دوی درو غجن منافقان دی. د انګلیسانو په دی صفاتو کی مسلمانان هیڅ کوم شک او تر د دنه لری.... او مونږ دیته ضرورت نه لرو چی مسلمانان له دوی څخه و ډارو و او منع ئی کړو[1]

۶-حقیقت دا دی چی شرقی ملتونه، قامونه او ولسونه په خپل سیاسی او فکری نهضت او پرمختګ کی د هغه جهاد او د احسان مرهون او ګرودوی کوم چی لوی رهبر او نابغه فیلسوف سید جمال الدین افغانی تر سره او اداء کړه.

لوی استاد مرحوم (عبدالرحمن رافعی) د سید جمال الدین افغانی د فضیلت او د رسالت د اداء کولو د اندازی په حقله داسی وائی:

شرقی ټول ملتونه په خپل سیاسی او فکری پر مختګ او نهضت کی دلوی رهبر او مشهور فیلسوف جمال الدین افغانی داحسان مرهون دی او دا ځکه چی ډیری پیری دشرق او ختیزی خلک په فکری جمود، علمی بیرته والی اوسیاسی غلامی ځولنو کی ګیر پاتی ؤ او په لویه کنده

[1]. د محمود قاسم له کتاب (جمال الدین) د (۹۶) صفحی څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

کی پراته ؤ ترڅوچی الله پاک وربآندی ورحیم ده او سید جمال الدین افغانی حکیم یی ورته بیداره کړه نو ده په کی د ژوند او بیداری روح پوه کړه چیغه یی کړه چی پورته شی او حرکت وکړی،په عقلونو یی آواز وکړه چی بیداره شی او ستلونواو ټولنوته یی غږ وکړه چی د آزادی او حریت پخوا اوګوری نوختیځی اوشرق ته دده رسالت د نوی نهضت او پرمختګ محرک شو او که وغواړو چی په یوه جامعه وینا کی دسیدجمال الدین افغانی دژوند درسالت داندازی داداء کولو څخه تغیروکړونو وایو چی دی په خپل ژوندکی دینی مصلح فیلسوف حکیم رهبر او سیاسی انسان اوشخصیت ؤ چی ده ټولی روحی، فکری او سیاسی رهبری راغوندی کړی وی او وربآندی یی تکیه کړی وه نو ددینی ناحیی او اړخ له خوایی دنوی تحول او اصلاح وظیفه اداء کړی اوترسره کړی وه لکه چی مسیحی عالم«مارتین لوتر»[1] د مسیحیانو دپاره خدمت کړی دی.

سیدجمال الدین افغانی اسلامی متلونه دیته برابر کړل چی داسلام په حقیقت اواصلی ماهیت یی پوه کړی، دوی داسلام دصحیحو مبادیو او په اصلی اول فطرت خلقت پخوا متوجه کړی،دخلکو افکار دهغو اوهومو او خرافاتو څخه پاک کړی کوم چی دمسلمانانو دتاخرا وبیرته پاتی کیدو موجب ګرځیدلی دی.

---

[1]. مارتین لوتر، دی په دین کی دتحول راوستولوی مصلح اورهبرؤ، دی ددین په نامه د روحانیونو د ناروا استفادو مخالف ؤ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیدجمال الدین افغانی دفکری ناحیی اواړخ له خوا خپله وظیفه داسی اداءاوترسره کړه لکه چی په اروپاکی فکری اونظری فلاسفهده«تورات» په ډیره ښه خوره آلمانی ژبی واړه ۋ دی په اصل کی المانی دی اوپه ۱۴۸۳ میلادی کال کی پیدا او په ۱۵۴۶ میلادی کی مړ شوی دی.

او«ژان ژاک روسو»[1] او«مونتسکیو»[2] اوداسی نورو خپله وظیفه اداء اوترسره کړی وه نو په دی اساس ده ددقت او بصیرت د پارونی کار وکړه او فکار اوذهنیتونه یی دحقایقو دپلټنی او دتقلید کرختیا دبندیز څخه د آزادی پخوا متوجه او رهبری کړل.

سیدجمال الدین افغانی دسیاست له نقطی نظره همتونه پورته او ارواحو او نفسونو کی یی دعزت کرامت، او دآزادی او حریت په خوا پارونه پیداکړه حتی په ټولو شرقی مناطقو کی یی دوطنی او ملی حرکتونو تخمونه وکړل اوداسی فعالیت یی وکړه لکه چی په غرب کی

---

[1]. جان جاک روسو په ۱۷۱۲ میلادی کال کی په جنیوا کی پیدا شوی دی اوپه ۱۷۷۸ میلادی کال مړ شوی دی. دی فرانسوی مشهور عالم او داجتماعی انقلاب محرک ۋ، دی ښه لیکوال ۋ او ورڅخه ډیر تالیفات پاتی شوی دی چی دده تالیفاتو په فرانسه کی انقلاب راوسته

[2]. مونتسکیو فرانسوی موًلف دی چی په ۱۶۸۹ میلادی کال کی پیدا او ۱۷۵۵ میلادی کی مړشوی، ده په قوانینو کی یو مشهور او مهم تالیف کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسياسی پرمختګونو رهبرانو «جورج واشنګټن»[1] جاربيلدی «مازينو» (کوشت) اوداسی نورو کړی ۇ.

په دی اساس هغه څوک چی دا ټولی مهمی او لويی وظيفی يی په غاړه اخستی وی او په ټول طاقت يی په داسی کی ترسره کړی وی چی دناپوهی او استبداد تاريکی ځخه خپره وه، داتفاق او اتحاد وجود متلاشا او جداشوی وی او دهوااو هوس مختلف رنګونه يی نيولی وی پوره دقدوړ دی او بايد دداسی شخصيت دعبقريت داحترام او مقام او منزلت دمراتبو دمعلومولو اوټاکلو دپاره دنفس او وجدان په قوت او طاقت اقدام وشی. زمونږ باور دی چی شرقی ملتونو تراوسه د خپل شرقی حکيم پوره قدر نه دی کړی او نه يی دده حق دوفا او تکريم په اساس اداركړی دی خو دده فضل او قدر به دکلونو په تيريدو کی ښه ښکاره او څرګنده شی.[2]

۷ـ«ګلديزهر» وايی جمال الدين لکه چی براون وايی دی فيلسوف ليکوال،خطيب او اخبارليکونکی ۇ او په دی زياتو وروستيوکلو کی چی په اسلامی حکومتونوکی کوم انقلابونه راغلل په هغوکی دده تاثير پوره ښکاره ليدل کيده ده غوښته چی اسلامی ممالک داروپايی تسلط څخه

---

[1]. جورج واشنګټن» دامريکا يو سياسی رهبرۇچی دمتحده ايالاتو امريکا آزادی يی په لاس راوسته وايی دی ډيرښه نيک انسان ۇ دی په ۱۷۳۲ ميلادی کال کی پيدا او په ۱۷۹۹ ميلادی کال کی مړ شوی دی.

[2]. د عبدالرحمان رافعی له کتاب «عصر اسماعيل»(۱۴۹ـ۱۴۸) (ج۲) صفحو او جلد څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزاد،داجنبی استقلال څخه یی خلاص کړی او داخلی کارونه یی د آزادی اداری او تنظیم پ وسیلی جګی مستوی ته ورسوی همدا شانی ده غوښتل چی داسلامی حکومتونو ترمنځه ګډ تنظیم برابرکړی ترڅو ددوی داتحاد او اتفاق په اثر ددوی په کارونوکی اروپایی مداخلی بندی شی.[1]

فاضل مرحوم استادشیخ مصطفی عبدالرزاق پاشا وایی دتیری بیری په وروستیو برخو کی کله چی سیدجمال الدین افغانی مصر ته راغی هغه وخت دده دفکر په مستوی اوداصلاح غوښتلو په په اندازی بلکه په ژوند کی دده په انډول په ازهر کی داسی څوک نه ؤ او نه ددی وړو چی دده سره یوځای شوی وی.(یعنی دده او هغوی استعدادونو او اهدافو ترمنځه زیاته فاصله لیدل کیدله)

سیدجمال الدین فیلسوف ؤ ده په دین او نورو مسایلو کی فلسفی کتنه کوله، دژوند په مسایلو کی دده رویه د حکماؤرویه وه نو دا طبیعی وه چی ددین سطحی خلکو دا بده ګڼله چی څوک دی فلسفی ژوندی هغه علمی بحثونه دبندڅخه خلاص کړی کوم چی د ډیری زمانی راهیسی فکری جمود او کرښتیاکرخنبکړی ؤ.

ازهریانو سیدجمال الدین افغانی بد ګڼه او دده په مقابل کی یی لکه د قدرت او سیاست دکسانو په شانی مجادله وکړه خو دکمال خاوندانو پرواکوله او له یی په ازهریانو جورت خرابوی.

---

[1]. د استاداحمد امین کتاب «زعماءالاصلاح فی العصر الحدیث» (۱۰۶ــ۱۰۵) صفحو څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

خو سره ددی هم ازهر په هغه تاریکه دوره کی د قوی عناصرو او پیاوړو ځوانانو څخه بی برخی نه ؤ داسی شخصیتونه په کی پیدا کیدل چی هغوی دپرمخ دپاره هڅه درلودله او غوښتل یی چی د تیرو تجربو او موجوده ضرورتونوڅخه د ژوند دجوړولودپاره استفاده وشی نوسیدجمال الدین افغانی څنګه چی ذکی او دقیق انسان ؤ په ازهر کی یی څه دغه شانی قوی عناصراو پیوړی ځوانان وپیژندل او هغوی د بصیرت په نور دده په خوا متوجه شول،سیدجمال الدین افغانی په ځوانان خوښ ګڼل او په احساساتو به یی راوستل او ځوانانو هم دسیدجمال الدین سره زیاته مینه درلودله او ددوی دتاثیر لاندی رتلل.

۹ـ دسیدجمال الدین افغانی په حقله په لاندی ډول لیکل شوی دی دی لیکوال،خطیب، دینی او اجتماعی مصلح او سیاسی انسان ؤ، دی فلسفی مهم تحلیلات لری ده اسلامی ملتونه داستعمار او اجنبی او پردی مداخلو څخه دنجات په خاطر دآزادی او استقلال د لاس ته روړو دپاره بللی دی چی په خپل اتحاد او اتفاق سره خپل سیاسی او اجتماعی ژوند په قانونی او دستوری نظم برابر کړی.

سیدجمال الدین ددی فکر او هدف په اساس چی د ټولو مسلمانانو دپاره مرکزیت پیدا شی په ټولو اسلامی مناطقو او دولتوکی بلنه او تبلیغ کولو او ددی مطلب ضرورت یی په غربی دولتو کی اوغربی ملتو ته هم څرګند وه، ده په قاهره کی خپل کور د خپلو شاګردانو او مخلصانو دملاقات او یو تربله دکتنی او مفاهمی مرکز ګرځولی ؤ او ده په دین،فلسفه،اخلاقواجتماعیاتو او سیاست کی د خپلو مقالو دلیاری چی په اخبارونو او مجلو کی خپریدلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددرس اوتلقين په وسيلی وکړی شول چی وطنی اوملی احساس وپاروی او دمسلمانانو په زړو کی دينی شعور او مينه ژوندی کړی.

**دسيدجمال الدين دليکل شوو آثاررو ځخه**

1ـ د «الردعلی الدهريين» رساله ده چی په دی کی دماديونو په فلسفی باندی رد دی.

٢ـ د العروة الوثقی جريدی دی چی دخپل ګران ملګری امام محمد عبده په مرسته يی خپرولی.

3- د «ضياء الخافقين» مجله کومه چی په انګليسی اوعربی ژبو خپريدليی او په ليکلو کی يی ده اشتراک او ګدون درلوده چی په هغه دده خپری شوی مقالی دی.

4ـ«تتمة البيان» کتاب چی دافغانستان دتاريخ مختصر دی. (د الموسوعة العربية المسيرة» کتاب ځخه داکتاب دارالقلم او دنشراوطباعت دپاره د«فرانکلين»موسسی خپورکړی دی.)

10ـ «ا ج.براون» په خپل کتاب دسيدجمال الدين افغانی په حقله داسی ليکی: د دقوی اخلاقو خاوند، لوی عالم او په خپل کار کی يی پوره نشاط،شوق او ذوق درلوده تر داسی اندازی دستومانتيا احساس په کی نشو کيدلی،ډير زړور ؤ اودخير په کار کی يی دهر چا ځخه وړاندی اقدام کولو، دده فصاحت ته هيڅ خطيب او ليکوال نشو رسيدلی او دده صورت او قواری دخلکو په زړونو کی دعظمت او لويی هيبت او ويره واچوله. (د (براون) کتاب له کتاب «الثورة الفارسيه» د(٢)صفحی ځخه.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نابغه (سید جمال الدین افغانی)

سیدجمال الدین افغانی فیلسوف لیکوال،خطیب او اخبار لیکونکی ؤ خو ددی ټولو څخه پورته سیاسی انسان ؤ.

11ـ«علی الهامی» دالجزایر پیاوړی عالم دسیدجمال الدین افغانی په حقله داسی وایی: په اسلامی ټولو مناطقو او دولتونوکی په دده نوم اویادونه باقی او دایمه پاتی شی لکه چی په پخوانی او قدیم یونان کی چی «هومیرویس تیرشوی دی اود هغه نوم او یادونه دایمی پاتی شوه. ددی ټولو یادولو او لیکنو څخه دا ثابتیږی چی سیدجمال الدین افغانی فیلسوف،دشرق نابغه او عبقری فکر خاوندؤ، ده په خپل ژوند کی لوی او عظیم جهادوکړه ددی ټولوویناؤ او لیکنو څخه دا هم څرکندیږی چی هغه څوک له دی څخه انکار کوی چی دی فیلسوف نه ؤ اویاوایی چی دی په خپلو کارونو کښی مخلص نه ؤضرور هغه دده داحوالو،افکارو او جهاد په متعلق مطالعه او معلومات نه لری،یا به متعصب وی اویا به دسیدجمال الدین د مرګ څخه وروسته به هم داستعمار نوکر او خادم وی تر څو په دی وسیلی ساده خلک داستعمار او استقلال په ګټه او لمځون ددی لوی رهبر اومجاهد سید جمال الدین افغانی په نسبت په شک او تردد کی واچوی. (یعنی دمرګ څخه وروسته هغه نقشی او پلانونه وران کړی کوم چی سیدجمال الدین داستعمار په ضد جوړی کړی دی، ده دهغو دپاره په ټولو مشرق کی عناصر روزلی دی او دتحریک داسی مبادی اودتحریک داسی مبادی اواساسات یی ایښی دی چی دژوندیو او آزادو حرکتونو دپاره همیش ورڅخه ښه په زړه پوری استفاده کیدی شی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

**سیدجمال الدین افغانی په خپل ژوند کی مهم هدف او اراده څه درلودله؟**

ددی سوال ځواب دهغه چا دپاره آسانه دی کوم چی دسیدجمال الدین دژوند دمسایلو څخه معلومات لری او دده په افکارو اونظریاتو کی یی پوره غور او دقت کړی وی په دغه سلسله کی کله چی ما دسیدجمال الدین په متعلق علاوه د«العروة الوثقی» دجریدو څخه څه باندی پنځوسو کتابونو لوستنه او مطالعه وکړه او په مطالبو کی یی ځیر شوم نو دا راته ثابته او څرکنده شوه چی سیدجمال الدین افغانی په حقیقت کی دټولو خلکو دخیر اوسعادت عاشق ؤ او ددوی آزادی، صلاح او فلاح یی غوښتله، دی هرچیرته چی ؤ او هر چیرته چی تلی دی دخلکو احوال یی د دقیقی مطالعی لاندی نیولی دی او داجتماعی ژوند دمفاسدو امراضو او عللو په خوا زیات متوجه شوی دی، ده په دغه څیړنه کی د علاج په خواتوجه اړولی ده او په ښه شان یی داجتماعی امراضو دعلاج دپاره هاند باستلی دی .

باید ووایو چی سیدجمال الدین دهیچا دښیګنومخالف نه ؤ او ده په افغانستان، ایران، ترکیی، هند، عربی ممالکو،یونان، افریقا، آسیا، روسیی، آلمان، شرقی او غربی ممالکو حتی په انګلیستان کی د هیچا دجایزو مصالحو په ضد اقدام نه دی کړی اونه یی دهیچا سره د شخصی اونا جایزو مقاصدو په اساس اختلاف درلوده بلکه ده دهرچا دپاره خیر رسوه او دټولو دپاره یی بنیادی اواساسی خدمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو همدا وجه وه چی ده د ولسونو د منفعو د ساتنی دپاره دمستبدو او مرتعو عناصرو په مقابل کی کښی سخته مجادله رونه کړی وه، ده دشرق او ختیځی دولسونو دخیر اوحقوقو دتامنیدو مطالبه کوله ځکه چی دده په عصر کی شرق دغربی دقدرت داستعمار ددسیسو هدف ؤ. همدا وجه وه چی ده کوښښ وکړه چی دشرق او غرب خلک په دی پوه کړی چی استعمار او دسایس صلح او سلم تهدیدوی، د انسانی کرامت په ضد دی اودخلکو دحقوقود تامنیدو مخالف دی.

سیدجمال الدین افغانی داسلام دین دخرافاتو څخه پاک تلقینوه ځکه چی دده په دی باورؤ دا مقدس دین دټول بشر دخیر اوسعادت تضمین کوی او که چیری داسلام ددین قوانین او دساتیر ښه عملی شی نو ټول دنیا،ټول دولتونه به کامیاب او موفق شی او بشر به لویو مرتبو او د انسانیت دکمال مدارجو او منازلو ته ورسیږی.

په دی اساس دا حقیقت دی چی سیدجمال الدین خپل ټول ژوند داسلام ددین دحقه دلیاربښونو دپلوشو او ړنایی لاندی دخلکو د خدمت او ښیګنو د تامینیدو دپاره وقف کړی ؤ او دژوند دعالی هدف یی دا ؤ چی دخیر او حق دپاره خدمت وکړی.(په رښتیا چی سید جمال الدین دهلو او ځلو او مسلسلو مجاهدو او کوښښ څخه د ا څرګندیږی چی په ژوند کی ده دژوند کولو څخه یوازنی هدف همدا درلوده چی دحق او حقانیت دپاره خدمت وشی او داسلامی اخلاقی،اجتماعی اومدنی لیاربښونوپه اتکاء دظلم زور زیاتی او بی عدالتی مخه په ټوله دنیا او پّ خاص ډول ختیځه او اسلامی مناطقو اوممالکو کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونيوله شى، دده سره د انسانيت احساس قوى ؤ او د تجاوز په مقابل كى پاريده، دده سره دخلكو تر منځه دوروړولى او برابرى ژوندكولو مفكوره، اراده او تصميم فولادى ؤ اوپه دغه لياره كى دپيدا شوو خندونو په مقابل كى يى دخلكو دپارونى كاركولو،دده آواز نعرى،كريكى او دحرارت څخه ډكى ويناوى او مستدلى خطابى، مقالى او ليكنييى دبشريت او دانسانيت دمباديو دتقوى او دتاييد په منظوروى) په دى اساس دسيد جمال الدين شخصيت دتل دپاره احترام او قدروړ دى او په هغه ممالكو او ولسونو چه ده ورته خدمت كړى دى اوپه خاص ډول افغانانو او مصريانو باندى لازمه ده او ورباندى حق لرى چى دده دنامه دتكريم او عزت او دافكارو او خدماتو دتقدير او احترام دپاره په كال كى يوه ورځ احتفال ونيسى. دالله پاك پراخه رحمت دى په ده وى او ترقيامته پورى څوک چى دده په ليرځى كامياب او موفق دى وى.

**دسيدجمال الدين افغانى دژوند مختصره يادونه :**

په كال (١٢٥٤هجرى مساوى د1838ميلادى) كى د افغانستان دكنړ په منطقه او د«اسعدآباد»په قريه كى پيداشوى دى اوپه كال ١٨٩٧ ميلادى ٩ دمارچ دمياشتى د سه شنبه په سبايى مساوى د١٣١۴هجرى قمرى د شوال مياشتى كى دتركيى په مركز استانه(استانبول) كى فوت شوى دى. نو په دى حساب ده شپيته كاله ژوند كړى دى، مرګ څخه وروسته دده جثه اول د تركيى په مركز استانه (استانبول) دمشايخو په مقبره كى خښه شوه او بيا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۹۴۴)میلادی کال کی دده خاوره او تابوت افغانستان ته نقل شو او د افغانستان په مرکز کی دفن او خښ شو.

**دسیدجمال الدین افغانی د ژوندمجمل تاریخ په هغو ممالکو کی چی اوسیدلی دی :**

۱ـ سیدجمال الدین افغانی دکال (۱۳۴۵هجری قمری مساوی د۱۸۳۸میلادی) څخه دځوانی پوری په افغانستان کی دظلم،استبداد او استعمار لاندی مضطرب او پریشانه ژوند تیر کړی دی.

۲ـ سیدجمال الدین د اول ځل دپاره هندوستان ته د تحصیل دتکمیل دپاره لاړه او هلته یوکال اوځو میاشتی او سیده او بیا بیرته افغانستان ته په (۱۲۷۳هجری قمری مساوی د۱۸۵۷میلادی) کال کی وګرځیده.

4ـ دی حجاز عربستان ته دحج دفریضی داداءکولودپاره لاړه او په دی سفر کی چی تقریباً یو کال یی دوام وکړه داسلام اوشرق زیات ممالک یی ولیدل او په کال ۱۲۷۴ میلادی کی بیرته کابل ته ستون شو.
په ۱۲۸۵هجری قمری کال کی په دی اثر چی په افغانستان کی داستبداد څه عوامل پیداشول او امپریالیستی دسیسی د هرسی خوا ده لیدلی او دچاری توان وسره نه ؤ نو مجبوره شو چی ددوم ځل دپاره دهند پخوا روان او هلته دیوی میاشتی څخه زیات پاتی نشو.

5ـ سیدجمال الدین دیته مجبوره شوچی دهند څخه خارج شی نو دهند څخه په یوه بیړی کی د«سویس»د ښار په خوا روان شو او هلته په ۱۲۸۶هجری قمری کال کی ورسیده اوبیا له سویس څخه داول ځل دپاره قاهری ته لاړه او هلته تقریباً څلویښت ورځی پاتی شو نو څنګه چی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پّ قاهره کی د ځینی دینی کسانو ددښمنی احساس وکړه نومجبوره شو چی ورته مصری منطقه پرېږدی.

6. په ۱۲۸۷هجری قمری کال کی چی مساوی د۱۸۷۰میلادی کال ؤ سیدجمال الدین دترکیی په خوا متوجه شو او هلته دیو څه مودی د تیریدو څخه وروسته دیته مجبوره شو چی دترکیی څخه لاړشی.

۷. کله چی دی دترکیی څخه وویستل شو دحجاز او عربستان په خوا متوجه اوهلته لاړه او دیو څه څهلږی مودی د تیرولوڅخه وروسته په کال (۱۸۷۱میلادی او دمارچ دمیاشتی په ۲۲د ۱۲۸۸هجری قمری کال په اوایلو کی ددوم ځل دپاره مصر ته لاړه او هلته اته کاله پاتی شو.

۸ ـ سیدجمال الدین مجبوره شو چی دمصرڅخه ؤ اوځینو داګست په ۲۲کال ۱۸۷۹ میلادی کی د«سویس»له بندر څخه دبیړه په وسیله هند ته لاړ.

۹. سیدجمال الدین د دریم ځل دپاره په هند کی دری کاله پاتی شواو دانګلیسی قدرت له خوا په هند کی دده اوسیدلو ځای محدود او دمراقبت لاندی ونیول شو.

10. په کال ۱۸۸۲ م کی دسیدجمال الدین دهند څخه روان شو او انګلیستان ته لاړه خو هلته ډیره موده پاتی نشو.

11. په همدی ۱۸۸۲ م کال کی دی دلندن څخه پاریس ته لاړه.

12. سید جمال الدین په ۱۳۰۳ هـ . ق کال کی د جمادی الاولی په میاشتی کی داول ځل دپاره «ایران ته لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

13. سیدجمال الدین دایران څخه دولتو دپاره مجبوره شو او په ۱۸۸۲ م کال کی روسیی ته لاړه اوهلته دځلورو کلوڅخه زیات پاتی شو.

14. سیدجمال الدین دروسیی څخه وویستل شو او په ۱۸۸۹ م کال کی د آلمان «مونیخ»ښارته لاړه.

15. سیدجمال الدین په آلمان کی دایران دپاچا «ناصرالدین شاه»سره وکتل ده ورته عذرو کړه او زیات زوریی واچوه چی ورسره بیرته ایران ته لاړشی همغه ؤچی دهغه عذریی ومنه اوپه ۱۸۸۹میلادی کال کی ددوم ځل دپاره ایران ته راغی.

16. سیدجمال الدین ددوم ځل دپاره په ایران کی اوسیده خو دیوځه لږی مودی وروسته اوضاع بدل شول او دی دایران څخه په ډیر بد حالت وشړل شو همغه ؤ چی په ۱۸۹۱ م کال کی بصری ته لاړ اوهلته یو څه لږه موده اووسیده.

17. دی په ۱۸۹۱ م کال کی له بصری څخه دوم ځل دپاره دلندن په خوا روان شو.

18. په ۱۸۹۲ میلادی کال کی دلندن څخه ددوم ځل دپاره ترکیی ته لاړ او هلته ډیره موده پاتی شو ترڅو چی په ۱۳۱۴ هجری قمری کال چی د ۱۸۹۷ میلادی کال سره سمون خوری وفات شو انا لله وانا الیه راجعون.

د سید جمال الدین افغانی علمی مقام او منزلت:

سید جمال الدین افغانی اول عربی علوم لکه نحو، صرف، معانی، بیان او بدیع ولوستل او په تاریخ کی ئی معلومات لاس ته راوړل او بیائی ددین او شریعت علوم تفسیر، حدیث فقه، اصول، کلام اوتصوف ولوستل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل عصر عقلی مشهور علوم منطق او نظری اوعملی فلسفه زده کړه، وائی ده دریاضیاتو او فلک علوم او څه نظریاب په طب او تشریح کی هم لوستی ؤ او هغه وخت چی په هند کی اوسیده دریاضیاتو علوم ئی دنوی اروپائی پروګرام په اساس یادکړل.

***

**سید جمال الدین افغانی په لاندی ژبو پوهیده**

۱- پښتو
۲- دری، او فارسی
۳-عربی
۴-ترکی
۵-اردو
۶-فرانسوی
۷-انګلیسی
۸-روسی.

ویل کیږی چی دی په آلمانی ژبه هم پوهیده او دالمانیانو سره به ئی په آلمانی ژبی خبری کولی خوماته په دی حقله کوم باوری سند لاس ته نه دی راغلی.

**د سید جمال الدین افغانی تالیفات :**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

۱- د «الرد علی الدهریین» رساله چی دفارسی او دری ژبی څخه استاذ محمد عبده په عربی ژبی د ابوتراب په مرستی واړوله.

۲- «العروة الوثقی» اتلس جریدی چی دپاریس څخه خپریدلی.

۳- «تتمة البیان» چی په کی دافغانانو مختصر تاریخ لیکل شوی دی.

۴-په «ضیاء الخافقین» مجلی کی دده خپری شوی مقالی.

۵- د «مصر» او «التجاره» په جریدوکی دده مقالی چی دده په نامه نشریدلی او کله دده په مستعار نوم «مظهر بن وضاح» خپریدلی.

۶- د فرانسی په مشهوری جریدی «دیبا» کی دده خپره شوی مقاله.

۷- دده مخطوطات کوم چی ملګرو او دوستانو ته ئی دلیک په ډول استولی دی او یا ئی په کتابو اوعلمی مسائلو باندی دتبصری په قسم لیکلی دی. اوس هم څه ددی مخطوطا تو عکس او تصویر پیدا کیږی.

**دشرق او اسلام بلکه دټول انسانیت دپاره په اجما لی ډول دده دمهمو خدمتونو یادونه:**

۱- په افغانستان کیده ډیرو اجتماعی اصلاحاتو ته اقدام وکړه حتی چی دی په حکومتی اودولتی ماموریتونو کی دامیر «محمد اعظم خان »په عصر کی دصدر اعظمی او مخلص مشاور مرتبی ته ورسیده خو سیاسی شرائط بدل شول او په دی اثر دی دمشکلاتو سره مخامخ شو ترڅو چی دی دیته مجبوره شو چی دافغانستان څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوځی اوکله چی په ۱۸۶۹ میلادی کال کی دافغانستان ځخه وته امیر شیر علی خان ته ئی یو څه اصلاحی پیشنهادونه وړاندی کړل چی دهغو په جمله کی په کابل کی دیوی جریدی خپریدل ؤ همغه ؤ چی امیر داپیشنهادومنه اوداخبار فنی کسانوته ئی امر وکړه چی په کابل کی یوه جریده خپره شی همغه ؤ چی د «شمس النهار » په نامه په اووورځو کی دیو مجلی دخپریدو کار برابر او خپره شوه.[1]

2- سید جمال الدین افغانی په افغانستان، هند، مصر او نورو هغو ځایو کی چی دی هلته اوسیدلی او یادسیاحت په ډول ورغلی دی دهغه ځای آزاد منشه ځوانان ئی دیته تحریک کړل چی دظلم استبداد، استعمار او استغلال په مقابل کی قیام او مقاومت وکړی.

3- په حجاز کی سید جمال الدین افغانی دحج دفریضی داداء کولو څخه وروسته داسلامی شخصیتونو سره وکتل او د «ام القری » په نامه ئی یو حزب جوړ کړه ترڅو په دی وسیلی داسلامی ټولنی دمفکوری دپاره لیاره خلاصه کړی.[2]

4- ده په «مصر کی دوه جریدی یوه د «مصر » اوبله د (التجاره)په نامه تاسیس کړی.

---

[1]. د افغانستان د ثقافة دمجلی څخه کومه چی په عربی ژبه په ۱۹۶۵ میلادی کال کی په قاهره کی خپره شوی ده

[2]. د ((الثائرالاسلامی جمال الدین الافغانی» درسالی څخه هغه چی دشبان المسلمین دهغی غونډی څخه اخستل شوی ده کومه چی په (۲۷ دربیع الاول ۱۳۷۷ ه ق ۲۱ داکتوبر ۱۹۵۷ – م ددوشنبی په ماښام) کی جوړه شوی وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

۵-سید جمال الدین افغانی په مصر کی اته کاله دخپلو تلقیناتو مجلسونو او مؤثرو خطبو او مقالو په وسیلی داجتماعی اصلاحاتو راوستو دپاره خدمت وکړه.

سید جمال الدین افغانی اول د «الماسونیه » حزب سره یو ځای شو اوبیائی ملی او وطنی حزب جوړ کړ او په مصر کی ئی دانقلاب تخمونه وکرل ترڅو خلک دظالمانو څخه خپل انسانی حقوق لاس ته راوړی.

۶- ده په هند کی د «الردعلی الدهریین » رساله ولیکله اوهلته ئی داستقلال داخستو دپاره دهندیانو افکار رابیداره کړل، په هند کی که څه هم دده په استوګنی اوفعالیت باندی بندیزونه ایښودل شوی ؤ خوبیاهم ده وکړی شول چی دانګلیسانو زیاتی نقشی شنډی کړی او ددوی په مقابل کی عمومی نفرت راوپاروی.

۷- سید جمال الدین افغانی به پاریس کی د «العروة الوثقی » په نامه یو حزب جوړ کړ او داستعمار په ضد ئی په قوی تحریک لاس پوری کړ اوله هغه ځایه ئی ټولواسلامی اوشرقی ممالکو ته دالعروة الوثقی جریده لیږله.

۸-په ایران کی ده دایرانی ولس دښیګڼو دتامین دپاره دظلم او استبداد په مقابل کی دمقاومت احساس وپاروه اودخلکو دخیر دپاره ئی په خپل ځان باندی دمشکلاتو او تکلیفونو تحمیلیدل ومنل.

۹-په روسیه کی ده داسلامی کورنیو سره مرسته وکړه ترڅو د روسیی حکومت څخه دمسلمانانو اجتماعی، اقتصادی اودینی حقوق په لاس راوړی لکه چی په دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلسله کی ده وکړی شول چی هلته قران کريم طبع، مساجد او مجلسونه جوړکړی.

۱۰- ده کوښښ وکړه چی په انګلستان او په غربی نورو ممالکو کی غربی سياست مداران، علماء او فلاسفه په دی پوه کړی چی دوی بايد دصلح اوسلم ژوند او انسانی تعاون اوتساند دپاره خدمت وکړی.

۱۱- سيد جمال الدين افغانی په ترکيی کی کوښښ وکړه چی داسلامی دولتو او ولسونو ترمنځ اتحاد او اتفاق پيدا اويو اسلامی مرکز اوټولنه جوړ کړی.

ده دخلکو سره خاصی مرکی علمی عمومی مجلوسونه، کتنی او خصوصی صحبتونه درلودل، ده به په مجلسونو او دمنبر دپاسه دحرارت څخه ډکی ويناوی او خطابی ايرادولی او شاګردانو ته به ئی په مختلفو علومو کی درس ورکولو.

دی دپخوانی اونوی فلسفی په مشکلو بحثونو پوهيده او دده علمی څیړنی ترداسی اندازی وده کړی وه چی دفلسفی او کلام په مشکلو مسائلو کښی دی خاصو افکارو او نظرياتو ته رسيدلی ۇ خو سياسی او اجتماعی نشاط او فعاليت ورباندی زښت زيات تاثير اچولی ۇ حتی چی دی په دی لياره کی مړ او شهادت مرتبی ته ورسيد.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ددی کتاب په لیکلو کی ددی لاندی مأخذونو څخه استفاده شوی ده:**

**شماره – مأخذ مؤلف - او یا دخپریدو ځای**

۱- «العروة الوثقی » دسید جمال الدین افغانی جریده.
۲- «الردعلی الدهریین » سید جمال الدین افغانی ترجمه دمحمد عبده.
۳- «صیحة جمال الدین الافغانی » محمود ابوریه.
۴- «جمال الدین الافغانی حیاته وفلسفة » دکتور محمود قاسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- «تاریخ الامام محمد عبده » استاذ محمد رشید رضا.
۶- «محمد عبده » استاذ عقاد.
۷- «الفکر الاسلامی الحدیث وصلته بالاستعمار الغربی »دکتور محمد البهی.
۸- «اقلام ثائرة » د المکتبة الثقافیة سلسله د استاد حسن الشیخه.
۹- «خاطرات جمال الدین »مخزومی پاشا.
۱۰- «جمال الدین » استاد عبدالقادر المغربی.
۱۱-«التاریخ السری للاحتلال الانجلینری لمصر» مستر بلنت.
۱۲-«گفتار خوش یارقلی» محمد محلاتی. داکتاب دنجف اشرف په مطبعه کی ۱۳۴۰ هـ . ق کال طبع شوی دی.
۱۳-«مجموعة الثلاثین» د«تام» له جریدی څخه په پاریس کی.
۱۴-د«مصر»له جریدی څخه چی دسید جمال الدین افغانی په وخت کی مصر کی خپریدله.
۱۵-د«التجاره» جریده دا هم هغه وخت په مصر کی خپریدله.
۱۶-د«جمال الدین»په نامه هغه کتاب څخه چی دفارسی څخه په عربی ژبی صادق نشات او عبدالمنعم حسنین اړولی دی.
۱۷-«مذکرات الامام محمدعبده» د دارالهلال د مطبعی طبع.
۱۸-«الامیر شکیب ارسلان» ددارالمعارف طبع.
۱۹-«عبدالله الندیم خطیب الوطنیة» دکتور علی الحدیدی.
۲۰- «عصر اسماعیل ۲ج » عبدالرحمن الرافعی.
۲۱- «الثورة الفارسیة »براون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲- «الموسوعة العربیه المیسره » ددارالقلم مطبعی دطباعة اونشر دپاره دفرانکلین مؤسسه.
۲۳- «مجلة ثقافة افغانستان» په کال ۱۹۶۵ کی په مصر کی طبع شوی.
۲۴- «الثائر الاسلامی جمال الدین الافغانی » داهغه رساله ده چی دشبان المسلمین دمرکز دهغی غونډی ثخه خپره شوی ده کومه چی ددوشنبی په مابنام ۲۷ دربیع الاول کال ۱۳۷۷ هـ ق داکتوبر دمیاشتی په ۲۱ کال ۱۹۵۷ م کی دائره شوی وه.
۲۵- «زعماء الاصلاح فی العصر الحدیث. استاد احمد امین.
۲۶-د «الدیبا» مشهوری فرانسی جریدی دنقل ثخه هغه ګڼه چی دسید جمال الدین افغانی او دفرانسی دمشهور فیلسوف "«رینان"» بحثونه ئی نشر کړی دی.
۲۷-«رشید رضا» دکتور ابراهیم العدوی.
۲۸- «محمد عبده » استاد امین عثمان.
۲۹- «العروة الوثقی والثورة التحریریة الکبری» د دارالعرب مطبعی خپرونه.
۳۰- «تاریخ الافغان فی احوال الملوک والامراء الافغانین ».
۳۱- «جمال الدین الافغانی باعث النهضة الفکریه فی الشرق » محمد سلام مدکور.
۳۲- «ضیاء الخافقین » له ترجمو ثخه.
۳۳- «المقطم » جریده دمارچ دمیاشتی کال ۱۸۹۷ میلادی ګڼه.
۳۴- «تتمة البیان فی تاریخ الافغان » سید جمال الدین الافغانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۵- «مجموعة المخطوطات السید جمال الدین » په کال ۱۳۴۲ هـ . ش، کی د تهران د دانشگاه طبع.
۳۶- «قاسم امین » دکتور ماهر حسن فهمی دعربی اعلامو سلسله.
۳۷- «احمد لطفی » دکتورحسین فوزی النجار.دعربی اعلامو سلسله.
۳۸- «احمد زکی » استاد انورالجندی.دعربی اعلامو سلسله.
۳۹- «مصر للمصریین » سلیم نقاش.
۴۰-«مشاهیر الشرق » جرجی زیدان.
۴۱- «حاضر العالم الاسلامی » شکیب ارسلان.
۴۲-«ام القری» عبد الرحمن الکواکبی
۴۳- «سعد زغلول » عباس العقاد.
۴۴- «تاریخ الماسونیة العام » جرجی زیدان.
۴۵-«مجلة المنار » رشید رضا.
۴۶-«مقدمة العروة الوثقی »استاد مصطفی عبدالرازق.
۴۷-«تطورالامام » فتحی زغلول.
۴۸-«مصر الحدیثة کرو مر فی مصر»کرومر.
۴۹- «تحریر المرأة »قاسم امین.
۵۰- «دائرة المعارف الاسلامیة »گولد سیهیر.
۵۱- «تاریخ الحرکة القومیة » عبدالرحمن الرافعی .

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهرست


| | |
|---|---|
| سریزه | 5 |
| دسید جمال الدین افغانی دعصر خصوصیات | 21 |
| دسید جمال الدین افغانی جنسیت اوملیت | 23 |
| دشرق نابغه سید جمال الدین افغانی | 44 |
| دتحصیل دپاره هندته دسید جمال الدین افغانی سفر | 37 |
| حجاز او بیت الله شریف ته د سید جمال الدین افغانی سفر | 37 |
| ترکیی ته دسید جمال الدین افغانی سفر او هلته هغه سیاسی مسایل چی دی ورسره مخامخ شوی دی | 52 |
| دترکیی څخه دسید جمال الدین افغانی وتل او اول حجاز اوبیا مصر به ددخ تلل | 60 |

(c) ketabton.com: The Digital Library





| | |
|---|---|
| مصر ته دوم وار سيد جمال الدين افغانى رسيدل او هغه حالات چى ده ته په مصر كى داخل پيښ شول | 60 |
| په مصر كى دسيد جمال الدين افغانى دمدرسى او مكتب ترتيب او پروګرام: | 85 |
| داختلاف مهم هغه اسباب او علل كوم چى سيد جمال الدين افغانى په مصر كى ورسره مواجه شو او دمصر څخه دده دفراريدو اصلى منشاء | 86 |
| دسيد جمال الدين افغانى څواب او په دهرينو باند دده رد | 90 |
| درى خصلتونه | 113 |
| لومرى خصلت | 113 |
| دوهم خصلت | 114 |
| دريم خصلت | 114 |
| (د شرق د هريان) | 118 |
| سيد جمال الدين افغانى په انګلستان كنبى او هلته د ده فعاليت | 178 |
| «دسيد جمال الدين افغانى رنګ او قواره" » | 198 |
| «دسيد جمال الدين عادات» | 198 |
| «هغه فكر او نظر چى سيد جمال الدين افغانى يى وه پاروه او په حركت يى راوسته» | 204 |
| « داجتهاد په حقله دسيدجمال الدين افغانى نظر» | 224 |


***

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library






(c) ketabton.com: The Digital Library



**الرد علی الدهریین یا د « نیچریه» رسالی عربی ژباړه ، چه د افغانستان د اسلامی جمهوریت د سفارت له خوا په قاهره کی د سید جمال الدین افغانی د یو سل او پنځوس کلو پخوا مصر ته د لومړی ځل سفر په ویاړ خپور شوی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



**العروة الوثقی د جریدی څلورمه گڼه چه له یوی پیړی وروسته ، بیا په قاهره کی خپور شو**

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library




**جرجی زیدان د «الهلال» د مجلی چلونکی او دسید جمال الدین افغانی ملگری**



العروة الوثقی

**د العروة الوثقی د لومړی گڼه ، لومړی مخ**



(c) ketabton.com: The Digital Library




**د سید جمال الدین افغانی په لاس لیکل شوی یو سند چه خپل هستوگنځی او نسب ته اشاره کوی.**

**دا سند د دایرانیانو له خوا د دانشگاه تهران ( د تهران پوهنتون) د نشراتو په لړ کی په 1342 لمریز کال کی خپور شوی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)



(c) ketabton.com: The Digital Library



**شیخ محمد عبده د سید جمال الدین افغانی، مخلص مصری شاگرد او نژدی دوست چه د العروة الوثقی په خپرولو کی دده مرستیال وه او همدا رنگه د سید اثر « نیچریه» د فارسی ژبی نه ، عربی ژبی ته ، ژباړلی وه.**



**افغانی محصلین د قاهری په نړیوال (بین المللی) هوایی دګر کښنی**

**تاریخ : شنبه 26 سنبله 1345 ش ( 17سپتمبر 1966م)**

ولاړ کسان له کین خوا نه : استاد برهان الدین ربانی ، مولانا جوهر صدیقی، حبیب الرحمن جدیر ، دکتور سعید افغانی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)
پوهاند وفی الله سمیعی ، حبیب الله غالب ، داکتر سید جان بیان

ناست کسان ؛ له کین خواته :
عبد الحکیم خان ، پوهاند نعمت الله شهرانی ، محمد اکبر ضیایی ، عبد الرشید ملاخیل ، محمد صدیق سیلانی ، داکتر احمد خطیبی ، یاقوت؛ محمد حبیب سراج او پوهنوال عبد الجیل یوسفی



**افغانی محصلین د الأزهر په پوهنتون کی . (1347 هجری لمریز کال)**

(c) ketabton.com: The Digital Library




**لومړی قطار :**

**(؟ ) دکتور سعید افغانی ، دکتور سید جان بیان ، مولانا جوهر صدیقی ، پوهاند نعمت الله شهرانی، پوهنوال عبد الجلیلی یوسفی ،....**

**دوهم قطار :**

**پوهاند عبد العزیر، استادبر هان الدین ربانی ....پوهاند دکتور سید محمد موسی توانا.......پوهاند عبد السلام عظیمی .....**

**دریم قطار: محمد صدیق سیلانی**




**داکتر سعید افغانی په 1361 کال په یو نړیوال کنفرانس کی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





دکتور سعید افغانی د حبیبیی  لیسه کښی د خپلو شاګردانو
ترمنځ (سپین پټکي سره)

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



**د « نابغة الشرق» عربی اصلی متن پوښ اوله مخ چه په 1967 م په قاهره کی خپور شوی دی .**

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library




نابغه (سید جمال الدین افغانی)

**د دکتور سعید افغاني د داکترۍ تیزس چه د خواجه عبد الله انصاري په ژوند او افکارو باندی، په عربی ژبه لیکلی اثر چه په 1968 میلادی کال په قاهره کی خپور شوی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library






خط السیر سفرهای سید جمال الدین افغانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دسید جمال الدین افغانی د سفرونو خط السیرونه ( له پیدایښت تر وفاته پوری )**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د کتاب ليکوال دکتور محمد سعيد سعيد افغاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نابغه (سید جمال الدین افغانی)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**